**عثماني امپراطوري او پر خلاف يې د صليبيانو سازشونه (۱)**

يادونه :
د لراوبر ويبپاڼې اداره د افغانستان د سياسي چارو کارپوه او څېړونکي ښاغلي قريب الرحمن سعيد څخه د زړه له کومې مننه کوي چې د جلاوطنۍ په سختو شرايطو کې يې بياهم په پرله پسې ډول دخپل هيواد د ښه راتلونکي د پاره د خپل ولس پوهاوي او هغه ته د خدمت ملا تړلې ده .
د لراوبر ويبپاڼه وياړي چې د ښاغلي سعيدپه لاس په خوږه او روانه پښتو ژبه ژباړل سوي تاريخي ناولونه خپل لراوبرافغان ولس ته وړاندي کوي .
له ښاغلي سعيد صاحب څخه د زړه له کومې مننه کوو چي د خپلي نوي ژباړي ( عثماني امپراطورۍاو د هغې پر خلاف د صليبيانو سازشونه : «يو تاريخي ناول ») د خپراوي وياړ يې لراوبر ته ورکړ .
لراوبر ويبپاڼه د ژبي د بډايني په برخه کي د ژباړي پلوۍ ده او پر ټولو هغو ليکوالو چي په بهرنيو ژبو پوهيږي ږغ کوي چي د خپلي ژبي د بډايني لپاره له بهرنيو ژبو مهيم او ارزښتناک اثار پښتو ژبي ته راوژباړي .

په درناوي
دلراوبر ويبپاڼې اداره

دمخلوقاتو دپالونکي ذات په نامه :

عثماني امپراطورۍاو د هغې پر خلاف د صليبيانو سازشونه : «يو تاريخي ناول »۱
لمر خپله وروستۍ ساه اخسته او د پريوتواخري پړاو ته رسيدلي و، د ماښام تورې لوخړې په راپورته کيدووې او سوکه سوکه يې هرشي په خپلو وزرونو کې را نغاړه. دخانقاګانو او عبادتځايو څخه پورته کيدونکي تور دود،د فضا په لوړو کې په خپلو فکرونو کې ورک ، دهجر د تورې شپې په څير خپريده . په همدې وخت کې يو زوړ سړې په يوې تورې تنومندې کچرې باندې سپور د بروصې د ښار څخه را ووت ، هغه د بروصې د ښار څخه لږ څه اخوا د يوه سراې تر مخ تيريده او د ښارڅخه لږ څه واټن لرې ديرتو غرنيو سيمو په لور روان و.
يوه ماښام دغه زوړ سپين ږيرې، د بروصې دښار تر څنګ د پروت سراې او د غرونود لړيو په منځنۍ برخه کې روان و چې دمخالف لورې څخه يې يو پوخ عمرې سړې په خپل آس سپور په ګړندۍ توګه راروان و ، هغه دغه زوړ سړې ته په را ورسيدو سره تم شو . زاړه چې کله د مخالف لورې په وګړې سترګې ولږيدې نو دخپلې تورې کچرې واګې يې را ښکودې او ودريد . د مخالف لورې را غلي کس د دغه زاړه ږيره ور په لور وکتل او ورته يې وويل :
« دروند برهان الدين صيب ! ته هره ورځ زما ددې سراې تر مخه تيريږې او زه هره ورځ غواړم چې له تاسره څه ووايم ، خو چپ پاته کيږم » .
Ketabton.com
د مخالف لورې راتلونکې همدومره پوهيده چې په تورې کچرې سپور دغه سپينږې ته برهان الدين ووايي، هغه سمدستي ددې خبرې غوڅې کړې او ورته يې وويل :
«ساروانه ! ستا د سراې کاروانه څه ډول پر مخ ځي ؟ ايا ته غواړې د خپل سراې په اړه زما څخه څه ګيله او شکوه وکړې؟»
د برهان الدين ددې خبرې په ځواب کې ، هغه راغلي سپور چې ساروان نوميده ، په خبرو پيل وکړ .
« درونده برهان الدينه ! زما د سراې کاروانه ډير ښه روان دي ، الحمد لله د سراې په برخه کې زه د ډيرې ښې برخې او ښه بخت خاوند يم . ډيره ښه ګټه لرم ، زه له تا څخه د خپل سراې په هکله کومه پوښتنه کول نه غواړم. بلکه زه چې له تا څخه کومه پوښتنه کول غواړم ، هغه دا چې، ته هره ورځ د بروصې له ښاره را وځې او زما د سراې تر مخ په تيريدو سره دغه غرنۍ سيمې ته ورځې ، نو ايا ستا هلته تګ کوم علت لري ؟ کوم راز په کې پټ دې ؟
د سراې د خاوند «ساروان» ددغې پوښتنې په اوريدو سره زاړه برهان الدين يو ځل بيا هغه ته په ژوره توګه وکتل بيا يې د خپلې کچرې په غاړه لاس و واهه او ويې ويل :
ساروانه ! هره ورځ ستا دسراې د مخه په تيريدو او د غرونو دغو لمنو ته زما ورتګ د علت پرته نه دې ، زه به تاته ددې تفصيل ووايم . نو واوره ساروانه ! زما يو دوست و چې ماته له ورور نه هم ډير نژدې او خوږ و. دهغه نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیرالدین و. هغه د اسلام ددین ډیر ستر عالم و او په نیکی او خیر کې یو بې ساري انسان و. دغه اوسني سلطان مراد چې کله د روميليا ولايت ونيوه اوهغه يې د خپل سلطنت په پولو كې را ننويست ، نو زما دغه دوست ، خيرالدين ، د روميليا دغه نوي سوبه شوي ولايت ته د اسلام ددين د تبليغ له پاره ولاړ . زه تاته دا هم بايد روښانه كړم چې د روميليا ولايت د يونان د تهريس او مقدونيه د رايوځاى كيدو څخه جوړ شوى دې . خيرالدين دخپلو څو نورو مسلمانو مبليغينو سره يو ځاى د تبليغ كار پيل كړې و ، خو يوائې څو مياشتې كيدې چې هغه د تبليغ ددغه ستركار د ترسره كولو له پاره هلته ولاړ خو يو شمير نامعلومو نصراني صليبيانو په هغه او دهغه په ملګرو يرغل وكړ او ټول يې له منځه يوړل .
دهغه وخته راهيسي چې د خيرالدين د شهادت خبر د هغه كورنۍ ته را رسيدلې، نو ښځې يې سوګند كړې او ويلي يې دي چې: « تر څومې چې د خپل ميړه د قاتلينو څخه بدله نه وي اخستې او دخپل خاوند قاتلين مې له منځه نه وى وړې تر هغې به هيڅ په ښنو نه كړم»
ساروانه ! زما د شهيد شوې دغه دوست ، خيرالدين ، درې زامن وو ، دهغو څخه تر ټولو ستر يې د خپل پلار د بدل د اخستلو په خاطر د وژنكو پسې ووت. هغه لمړى د سلطان مراد په لښكر كې عسكر شو او بيا يې د روميليا د ولايت په لور مخه كړه ، په دغه وخت كې د سلطان مراد د لښكر يو سالار چې شاهين نوميده د روميليا څخه په تيريدو سره يې غوښتل په نورو ولايتونو هم حمله وكړي . ددې يرغل علت داو چې د بوسنيا ، بلغاريه اويو شمير نورو صليبي ولسونو د مسلمانانو پر خلاف يو اتحاد جوړ كړې و او د مسلمانانو په سيمو يې يرغل ور وړې و. هغوى غوښتل چې په تركانو باندې حمله وكړي او دهغوى څخه سوبه شوې ولايتونه بيرته ونيسي . د صليبيانو په دغه لښكر كې د البانيې ، ګرې ، مكيار او پولينډ جنګيالي هم شامل شوى و. ددغې متحده لښكر د مقابلې له پاره سلطان مراد خپل سالار ، لاله شاهين ، تر قوماندې لاندې يو لښكر ور وليږه . لا له شاهين په ډيره هوښيارى سره دصليبيانو ددې لښكر مقابله وكړه . لاله شاهين په دې پوهيده چې ددې د لښكر په مقابل كې د نصرانيانو د لښكر شميره څو څو ځله ډيره ده. په دې اساس ، كله چې ددواړو لښكرو تر منځ جنګ په عروج كې و ، نو لاله شاهين په ناڅاپي توګه خپلې لښكرې شاته كړې او وروسته ولاړ . نصرانيانو فكر وكړ چې د تركانو لښكر ته يې ماته وركړې نو په دې خاطر يې هڅه كوله چې نور هم را مخته شي او فكر يې كاوه چې په دې تر تيب به وتوانيږي دتركانو څخه ټولې ولكه شوې سيمې بيرته تر خپلې ولكې لاندې راوړي . هغوى ددې سوبې په خاطر يو ستر جشن جوړ كړ ، ښه ډير شراب يې و څښل او دشرابو په همدې بدمستۍ كې د سوبې د خوشحاليو په اوج كې شول ، او دا داسې وخت و چې لاله شاهين ورته د ډيره پخوا څخه منتظر و . لاله شاهين د نصرانيانو له دې بدمستۍ څخه ډيره زياته ګټه پورته كړه . هغه وخت چې هغوى په نشې كې مست او ډوب وو، نو هغه پرې ناڅاپه ورپريوت . كله چې نصرانيانو د تركانو د عسكرى ډول او بيم باجې ويرونكې اواز واوريد نو اوسان يې ورخطا شول ، خو دا داسې وخت و چې تر څو چې هغوى د ځانونو د سنبالولو له پاره ځان خوځاوه ، نو لاله شاهين د هغې عام وژنه پيل كړې وه . هغه په دې جنګ كې داروپايانو متحد ځواك ته ډيره شرمناكه ماته وركړې وه . د خيرالدين مشر زوى هم په دې جنګ كې وركډ و. هغه ددې جنګ د پاى ته رسيدو وروسته په روميليا كې دخپل پلار د وژونكو په پلټنې پسې ولاړ . خو دهغه برخه هم ډير بده وه ، ځكه د هغه د پلار وژونكو هغه هم په خپل جال كې را ګير كړ او شهيد يې كړ . خو بيا هم معلوم نه شول چې وژونكى يې څوک دي ؟ »
برهان الدين د خبرو په جريان كې لږ څه ځنډن شو، دهغه پرمخ باندې د ټولې نرۍ انديښنې او ورانې ويجاړې را خپرې شوې . ترڅه وخته پورې يې خپل ځان كلک كړ، او بيا يې د خپلو خبرو لړۍ جاري وساتله او ويې ويل:
«ساروانه ! لكه څنګه مې چې درته وويل چې دخيرالدين د شهادت وروسته دهغې ښځې سوګند ياد كړ چې تر هغې چې دخپل ميړه د وژونكو څخه يې بدل نه وي اخستې نو هغه به پنې ښوته را نه وړى ، نو دخپلې مور د همدې سوګند د پوره كولو په خاطر ، او دخپل مشر ورور د وژل كيدو وروسته د خيرالدين بل ځوى د خپل پلار او ورور د وژونكو د پيدا كيدو او د هغوى د له منځه وړلو په خاطر ووت ، هغه هم د روميليا دولايت په لور مخه كړه، خو تر اوسه پورې د هغه په هكله څه معلومات نه شته ، چې هغه به د خپل پلار او ورور د وژنكو په پيداكولو او دهغوى څخه د بدلې په اخستلو باندې بريالى شوى وې او كه نه . خو د هغې مور دخپل دغه ځوى د بيرته راستيدو له پاره ستركې په لاره ده .
ساروانه ! ، زما دوست درې ځامن درلودل ، يو وژل شوى ، بل د وژونكو د پيدا كيدو پسې د روميليا ولايت ته ورغلى ، او دريم يې همدلته دې . ددغه دريم ځوى نوم يې علي دې . ته په دې خبر يې چې زما يو ځوى و چې نوم يې علي و او ما ور ته ډيره ښه عسكري روزنه وركړې وه ، هغه په لښكر كې شامل شو تر څو د قوم او ولس خدمت وكړي ، او بيا هغه دعلي څخه علي پاشا و ګرځي او د تركيې په افق باندې و ځليږي . خو زما بدقسمتۍ ته ګوره چې كله چې زما ځوى خپل عسكري روزنه پاى ته ورسوله او سلطان مراد دهغه په هكله په لښكر كې د داخليدو احكام وركړل ، هغه د آسپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

را پریوت او وفات شو . څرنګه چې زما ښځه لا تر مخه وفات شوې وه ، نو د ځوې د وفات نه وروسته زما په نړۍ کې هیڅ څوک پاته نه شو . نو دخپلي دغه بې څوکه والي نه د په څنګ کیدو په خاطر مې د خپل دغه دوست خیرالدین د زوې په لورتوجه وکړه . دخوښۍ ځاې داو چې ددې هلک نوم هم علي دې . دعلي کورنۍ د یوه کوچنۍ رمې خاونده ده ،د دې رمۍ پالنه د غرمې تر وخته پورې پخپله علي کوی ، بیا دعلي مور او خور ددې رمې د پالنی له پاره د غرو لمنې ته ځې اوعلي د عسکري روزنې له پاره دمدرسي په لور ور ځې .
زه تاته دا هم باید ووایم چې ما په خپل خرڅ علي ته د بروصې په مدرسه کې ددیني اوعسکري زده کړو له پاره داخله اخستي ده . نژدې یوه اونۍ کیږی چې هغه خپلې عسکري او دیني روزنې سر ته رسولي او زه په دې ویاړم چې په دې مدرسه کې علي نه یواځې خپلې روزنې سر ته رسولي بلکه په ټولو کې اول نمره هم راغلي دې .
نن هغه وخت چې ما سلطان مراد ته د علي د دې لاسته راوړنو په هکله وویل نو سلطان د خپلې ځانګړې مهرباني څخه کار واخست او یواځې دا نه چې علي یې په خپل لښکر کې سالار و ټاکه بلکه په عسکرۍ روزنې کې دهغه په لمړي درجه را خلاصیدو یې هغه ته د«پاشا» نوم هم ورکړ. اوس هغه یواځې علي نه دې بلکه د نن وروسته هغه علي پاشا دې او دهغې دپاشا کیدو نوم هم د سلطان مراد لخوا ورکړل شوې او سلطان خپل لښکرته دا حکم هم کړې چې څرنګه چې علي همدا اوس اوس سالار ټاکل شوې نو په دې خاطر ورته ددې وروسته علي پاشا وواياست . زه همدا اوس د غرود لمنو په لور رهي یم او هلته د علي د مور اوخور سره وینم او په هغوې دا زیرې کوم چې علي نه یواځې دا چې په لښکر د سالار په توګه و ټاکل شو بلکه د سلطان له اړخه ورته د پاشا لقب هم ورکړل شو تر څنګ یې هغه ته ویل شوې چې نن ماښام د سلطان په دربار کې حاضر شي . شوني ده چې هغه دسلطان له اړخه د پاشا د لقب په اخستو سره په کوم ازمیښت کې واچول شي . خو زما په فکر که هغه په کوم ازمیښت کې هم ور واچول شی نو هغه به ترې بریمند را ووځي ،په دې خاطر اوس نو د علي پاشا له پاره د راتلونکي پرمختګ او پر مختللو لارې پرانستل کیږی .
درونده دوسته ! زه ستا د سراې تر مخه هره ورځ د غرونو د لمنو په لور تیریږم او هلته د علي ، دهغه د مور او خور سره وینم . علي ما خپل زوې ، دهغه مور ما خپله خور او دهغه خور ما خپله لور ګڼلې . نن زه ډیر خوښ یم چې د علي د روزنې کوم کار چې ما پیل کړې و هغه په ډیره ښه توګه پاې ته ورسید . په دې ډیر خوښ یم چې نه یواځې دا چې علي ته د پاشا لقب ورکړل شو بلکه دسلطان مراد په لښکر کې د یوه تکړه سالار په څیر په دنده هم و ګمارل شو . اوس زه ځم چې د علي ددغه بریاوو په هکله علي ، دهغې مور او خور هم خبر کړم او زما په خیال چې ته به د خپل سراې په لور ورځې .
دبرهان الدین دې خبرو ساروان تر ډیر اغیز لاندې راوست . تر یوه وخته پورې خو چپ چاپ پاته شو بیا یې د برهان الدین په لور وکتل او په ډیره عاجزۍ سره یې وویل :
«درونډ برهان الدینه ! که ته یې بده و نه ګڼې او ماته اجازه راکړې چې زه هم ستا سره ملتیا وکړم نو ایا زه ستا سره هلته تللاې شم ؟ زه غواړم چې ددغه میرنۍ ښځې سره ، چې زوې یې علي پاشا او د سلطان په لښکر کې سالار ټاکل شوې ، او سوګند یې یاد کړې چې «تر هغې چې د خپل میره د وژونکو څخه بدله وانخلي پنې به پښو ته را نه وړي »، یوځل ووینم. درونده برهان الدینه ! دداسې میرنې ښځې سره کتل هم یوستر ویاړ دې او اوس خو هغه ستا خور ده ، نو سر له ننه هغه زما خور هم ده . ایا زه له تاسره یوځاې ددې ستړې ویاړلې ښځې سره د کتلو ویاړ تر لاسه کولی شم ؟
د ساروان د خبرو په اوریدو سره د برهان الدین پر مخ باندې د خوښې نښې را ښکاره شوې ، او په خوږه ژبه یې وویل . « ساروانه ! بې له ویرې ته زما سره تللاې شې ، را ځه ددغه مخته غرو لمنې لورې ته ځو . فکر کوم چې علي پاشا به لا تر اوسه پورې هلته نه وې رارسیدلې ، د خپلې روزنې د تر سره کیدو نه وروسته اوس هم هغه هره ورځ خپل ښوونځی ته ځي او خپل عسکرۍ تمرینات کوي ، خو زما زړه وایې چې زمونږ تر ورتلو پورې به هغه هم هلته راشي، ځکه چې د ماښام د رارسیدو تر مخه درې واړه مور، لور او زوې خپله رمه دکور په لور راوړي ، کور یې د بروصې د ښار په شمالي څنډه کې پروت دې . را ځه چې وخت له لاسه ورنکړو او د غرنو دلمنو په لور وخوزیږو .»
ددې خبرې سره سم برهان الدین خپلې کچر ته او ساروان خپل آس ته لښته ورکړه او د غرونو د لمنې په لور و خوزیدل .
کله چې د واړه د غره لمنې ته ورسیدل نو ویې کتل چې له یوه اړخه یو آس سپور په ځغاسته را روان دې ، دبرهان الدین مخې ته د را رسیدو سره سم هغه و درید د خپله اسه را ښکته شو ، احترام یې په ځاې کړ، برهان الدین دهغه په کتلو سره خندوني شو او ساروان ته یې وکتل او ورته یې وویل : «دا هغه علي دې چې په هکله یې ما له تاسره خبرې کړې وې .»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې خبرې وروسته برهان الدين د علي او ساروان تر منځ پيژندنه وکړه او بيا يې دعلي په لور په کتلو سره وويل :
«علي زويه ! نن مې تاته يو ډير ښه او خوشحالونکې خبر راوړی دی ، خو دا خبر به زه تاته ستا د مور او خور په موجوديت کې اوروم ، را ځه چې هلته د غره په لمن کې ستا دمور اوخور خوا ته ولاړ شو ، بيا به زه دا زيرې تا ته واورم ، دا يو زيرې نه دې بلکه ډير زيری دي چې ستاسې د ټولو له پاره خوشحالونکي دي . را ځه ، زما سره راځه . »
ددې خبرې په اوريدو سره علي په خپل آس سپور شو او چپ چاپ دهغو سره يوځاې روان شو . په دې وخت کې ساروان په ډيره ژوره توگه په علي کې خپلې سترگې ور ننويستې وې . هغه کتل چې علي د لوړ قد خاوند او نوې زلمې دی ، دهغه زړه لا تراوسه پورې پوره نه وه راوتلی ، بريت يې هم لا تر اوسه تور شوې نه و . ساروان دا هم وکتل چې علی د خپل وجود له اړخه دفکرونو په سمندر کې يو توپان دې ، هغه د خپل جسماني جوړښت له اړخه هم د عظمت يو ستره نمونه وه . دزغم ، صبر ، استقامت ، جرت ، ميرانې او همت ښې نښانې په کې ځليدلې . دهغه د خبرو ، دهغه د اواز او ځيرې څخه هم دا اندازه کيده چې هغه په خپل دغه کم عمر کې د وختونو دگرميو او يخنيو ، تنگيو او پراخيو ، ناهيلو او هيلو ، ترخو او خوږو څخه په پوره صبر سره را وتلي او د خپل کرچار پاکوالې يې سر ته رسولې . ساروان به کله کله علي ته په ډير شوق او ذوق سره کتل ، ان تردې چې دوې ټول يو ځاې د غرو لمنې ته ورسيدل ، هلته د يوې ستري غونډۍ د پاسه يوه ښځه د يوې لس يا دولس کلنې نجلۍ سره يوځاې ولاړه وه . هلته په ور رسيدو سره لمړۍ برهان الدين دخپلې کچرې څخه را ښکته شو ، همدا راز علي هم د خپل آس څخه لاندې را ټوپ کړ، دې دواړو ته په کتو سره ساروان هم د خپل آس څخه لاندې راغي ، برهان الدين د ساروان په لور و کتل او ورته يې وويل : « ساروانه ! دغه مخامخ چې کومه ښځه ولاړه ده دا د علي مور ده چې قيرات نوميږي ، اوکومه نجلۍ چې ته يې ويني هغه د علي خور ده او سريان نوميږي . ددې وروسته برهان الدين هغوې ته ساروان ور وپيژاند، اوس نو برهان الدين غوښتل چې خپلې اصلي خبرې ته راشي چې په همدې وخت کې درې سپاره د غرو په لمنه کې را ښکاره شول ، کله چې را نژدې شول نو ټولو کتل چې په دوې کې يوه نجلۍ هم ده او دا پاته دواړه سپاره په وسله سنبال دي ، د رانژدې کيدو سره سم دواړه ځوانان د خپلو آسونو څخه را ښکته شول خو هغه نجلۍ په خپل آس سپره پاتې شوه . علي دهغوې دواړو د ليدلو سره سم دهغوې په لور په چټکۍ سره ورغې او دهغوې سره يې بيا بيا غاړه ورکوله او تود روغبړ يې ور سره وکړ . دغه دواړه ځوانانو په داسې حال کې چې د احترام او درنښت په خاطر يې خپل سرونه ښکته نيولي و د برهان الدين سره هم تود روغبړ وکړ او بيا يې د ساروان سره لاس ورکړ .
علي او برهان الدين دهغوې دواړو سره داسې روغبړ وکړ لکه چې د هغوی دواړو سر يې د پخوا څخه پيژندگلوی درلوده ، په دې وخت کې نه يواځې د علي بلکه د هغه د مور قيرات او خور سريان او برهان الدين سترگې هم په دغه نجلۍ چې لا تراوسه په خپل آس سپره وه و ښښتې . ټولو وکتل چې د هغې په مخ په طلسمي غارونو کې د خوښيو د غړيدونکو نغمو او د سهار د ځوانۍ دښايست د جادو زړه وړونکې راښکود پروت دې . دهغې په سترگو کې لکه د گل په غيږ کې منتظره د سهرا لاله ، د وصل گلابي شونډو......او... د افسانوي ارايش او ښايست په ځير و .
ټولو دغه نجلۍ ته په ډير غور او جذبې سره وکتل ، ټول يې د ښايست تر اغيز لاندې راغلي و. خو دغه نجلۍ پټه خوله ددوې تر مخه په خپل آس سپره ناسته وه. په دې وخت کې برهان الدين دغه نجلۍ ته ورغږ کړ او ورته يې وويل :
«اې لورې ! زه نه پوهيږم چې ته څوک يې ؟ او نوم دې څه دی ؟ که چيرې ددغو راتلونکو سره ستا کوم اړيکی يا کومه خپلوی وي ، نو لورې ! راښکته شه ، ولې د پرديو په ځير په آس باندې سپره ناسته يې ؟»
د برهان الدين دشفقت نه په ډکو خبرو سره ...هغه نجلۍ وخوزيده ، له آسه را ښکته شوه ، او کراره کراره د برهان الدين په لور ورغله ، کله چې ور نژدې شوه نو برهان الدين ته يې مخ واړاوه او ورته يې وويل :
«درونده مشره ! زه هم نه پوهيږم چې ته څوک يې ، اوته ددغه خلکو سره چې دلته ولاړ دي څه ډول اړيکي لرې ، خو ستا خبرو ماته حوصله او جرأت راکړ ، تاچې ماته کله د لور په نامه غږ وکړ نو دغه غږ د ټولو هغه انديښنو په اړه چې تر اوسه پورې زما په ذهن کې را ټوکيدلي وې تر يوه ځايه پورې کمښت راووست او زه به اوس په دې هکله لږ څه ډاډ منه يم چې ووايم ،چې زه به په دې سيمه کې د بدبختۍ او ذلت په مرگ نه مرم .»
ټولو واريدل چې ددې نجلۍ اواز داسې و لکه چې په دغه دشتو او غرونو کې د بابل جادو ، سِحر...او دسهار د هيلو عناصر خپاره شوي وي ، دهغې په اواز کې دومره خوږلني او دومره خوند و لکه د بحر د څپو په طلاطم کې چې دکوم خوږ غږې غزل څپې اوريدل کيږي او يا لکه په بې خوبه شپو کې چې د ستورو د نغمو په ځواب کې د زمکي طلايي او نقرئي گنگرې په يوه وار اواز راپورته کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه تازه پيغله شوې نجلۍ ، ددښايست او جمال نمونه چې کله چپ شوه نو برهان الدين ورته وويل چې :
« ګوره لورې! زه خو ستا له نامه سره اشنا نه يم ، خو تا ته دا وايم چې دلته په شک او شبه کې پرې نه وځې . که ته په دې زمکو او سيمه کې پردۍ يې ، نو داپه خپل زړه کې ولیکه چې ته هسې په ناکاره روحونو ، وحشتونو او وهمونو کې نه يې را ښکيل شوې ، بلکه د انسانانو تر منځ يې . دوې به ستا درنښت کوي او ستا سره به د انسانانو په څير سلوک کوي . زما لورې : زه په دې هم نه پو هيږم چې ته د کومه ځايه راغلي يې ، کوم ځای پيژنې ، د کومو قافلو سره اړيکې لرې ، د کومو کاروانونو سره ستا رابطه شته ، خو ددې ټولو سره سره بيا هم زه تاته ضمانت درکوم چې ته دلته خپل ځان د اوبو د راپيدا شوو پوکنيو او يا د هوا د لمحاتو په ټال کې مه ګڼه ، دلته به ستا عزت ، وقار ، او درنښت کيږی . او دا وليکه چې لوڼې د پرينتو د زړونو څخه هم ډيرې د زړه ډاډ او د خوبو نو دحقيقتونو سره نزدې والي لري . او س ته مونږ ته دخپل ځان په هکله ووايه چې ته څه ويل غواړې ؟ ستا په زړه کې څه ډول انديښنې ، او څه ډول فکرونه اوړې را اوړی ؟ اې لورې ! ته څوک يې ؟ او دغه دواړه ځوانانو چې زما پيژندګلوې دي، ته ددوې سره ددغو سيمو لورې ته د څه دتر لاسه کولو له پاره راغلي يې؟
د برهان الدين ددې خبرو په اوريدو سره د نجلۍ په مخ کې د ځوانۍ زغم نور هم ډيريده ، هغه د پخوا څخه نوره هم په ډيره ډاډمنه توګه په خبرو پيل وکړ او ويې ويل چې لمړۍ تاسې وواياست چې تاسې څوک ياستئ؟ دهغې وروسته به زه به خپلو خبرو پيل وکړم »
پخوا له دې چې برهان الدين د خپل ځان په هکله په څه ويلو پيل وکړي دهغو دوو کسو وسله والو څخه چې دغه نجلۍ يې تر دې ځايه راوړې وه يوه په خبرو پيل وکړ او ويې ويل :
«واوره ريونا ! دا برهان الدين صيب دې چې د ترکانو د اوسنې سلطان ، سلطان مراد د زوې بايزيد استاد او مربي دي ، بايزيد وليعهد دهغه همدومره درنښت اوعزت کوی لکه څومره چې دخپل پلار ، د ترکانودسلطنت د سلطان عزت کوي »
کله چې دې ځوان خپلې خبرې بندی کړې نو هغه نجلۍ چې دلته د ريونا په نامه ياده شوې وه برهان الدين ته مخ واړاو ه او ورته يې وويلې ،« درند برهان الدين صيب ! تر هغې چې ما پورې اړه لري نو زه بايد تاته دا روښانه کړم چې زما نوم ريونا دې ، زه د يونان د روميليا د ولايت د تهريس د سيمې اوسيدونکې يم ، دا چې زه څوک يم ، ددوې سره ولې تر دې ځايه راغلې يم نو دا به دهمدې دواړو څخه کوم يو په تفصيل سره تاسې ته ووايي . زه به چپه خوله اوسم ، ګورم به او اورم به ، چې دوې زما به اړوند څه وايی . »
د ريونا ددې خبرو وروسته برهان الدين د هغو دواړو ځوانانو په لور په پوښتونکو سترګو وکتل ، بيا يې دپوښتونکي په توګه هغو دواړو ته په خبرو کې وويل . « ووايی چې دغه نجلۍ مو له کومه ځايه راوستې ؟ دا څوک ده اودې سيمې ته مو دهغې د راوړو څخه موخې څه دي ؟ ددې نجلۍ شکل وصورت ، کالي، د هغې مخ او جسماني جوړښت په ډاګه کوی چې هغه يوه نصراني مذهبه ده .»
برهان الدين تر دې ځايه په خبروکې و چې دهغو دواړو ځوانانو څخه يوه يې په خبرو پيل وکړ .
« درونډ برهان الدين صيب ! ته پوهيږی چې زه او زما دی ملګري د لښکر په هغې برخې کې دندې تر سره کولې چې د علي ورور هم په کې و . د جنګ نه د فارغيدو وروسته د علي ورور د خپل پلار او ورور د وژونکو د لټې له پاره ووت ، مونږ دواړه هم ورسره و . د تهريس په سيمه کې مونږه او د علی د مشر ورور د همغو قاتلينو سره مخ شو ، دهغوې سره دغه نجلۍ ، چې اوس ستاسې تر مخ ولاړه ده او ريونا نوميږي ، هم ملګرې وه . کله چې مونږ د هغو وژنکو سره ټکر وکړ نو څرنګه چې د هغوې شميره له مونږ ډيره وه نو دهغوې څخه مو يو څو له منځه يوړل او پاتې يې و تښتيدل . خو دغه نجلۍ زمونږ لاسوته راغله . د وژونکو سره د ټکر په وخت کې د علی مشر ورور سخت زخمي شو ، هغه ته دخپل ځان د پاتې کيدو په هکله هيڅ هيله نه وه ، نو مونږ ته يې دا مشوره راکړه چې مونږ دغه نجلۍ دهغې مور او ورور ته ور ورسوو ، او هغوې ددې څخه و پوښتې چې قاتلين څوک او څومره کسان دي ، هغه فکر کاوه چې دا نجلۍ به قاتلين پيژني. نو دعلي د مشر ورور د وينا په اساس مو دغه نجلۍ له ځانه سره تر دې ځايه راوسته ، خو مونږ په ډير خفګان سره دا خبره کوو چې د علي مشر ورور د زخمونو له لاسه و مړ او مونږ هملته په تهريس کې خاورو ته وسپاره .»
ددې خبرې په اوريدو سره د علي مور ، قيرات ، په زمکه را پريوته او په خپلو پښو يې لاس را ښکوده او واويلا يې پيل کړه . د علي کوچنۍ خور سريان ورمنده کړه اوخپله مور يې په غيږ کې و نيوله ، علي هم ورمنده کړه خپله مور يې په غيږ کې را واخسته او د هغې د ارامولو هڅه يې کوله ، خو قيرات په خپلو ورنونو باندې لاسونه وهل او دغم نه په ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library

اواز سره يې ويل چې : «اې زما زويه ! .... زما زويه !... هغه خو زما د زړه د زخمونو ملهم ، زما د زړه د ورانو ويجاړو د ابادۍ له پاره تللې و ، زه څه پوهيدم چې هغه به د خپل مشر ورور په څير دمرګ په پراخه سمندر کې غوټې خوري ، زه څه پوهيدم چې زما د رڼا هغه مينار به هم په تيارو توپانو اود سهرا په پراخه خړوبه کې ورکيږي .»

ددې خبرو تر څنګ به قيرات خپل دواړه لاسونه د پخوا څخه نور هم په کلکه په خپلو دواړو ورنونووهل او شور اوفرياد به يې کاوه. دخپلې مور دغه حالت علي ته د کتلو او زغم نه و نو سمدستي يې خپله مور ددواړو لاسو څخه ونيوله بيا يې هغه دخپلې سينې سره را يو ځاې کړه او په زړه دکې اواز يې په ژړا ژړا کې ورته وويل:

«اې زما مورجانې ! مه ژاړه ، تر اوسه خو ستا زوې علي ژوندې دې ، زه له تاسره ژمنه کوم چې ستا د زخمونو مرهم به زه لټوم ، زه به کوڅه په کوڅه ، کلي په کلي ګرزيږم او تاته دا ډاډ درکوم چې زه به لکه په سمندر کې د راپورته شوو توپانونو، د خت د لامبو وهونکو سيورو ، او د اوربلونکې لاوې د سيلاب په څير په خپلو دښمنانو باندې را پريوزم او د هغوې سرونه به پرې او ستا تر مخ به يې کيږدم. مورې ! که هغه وژونکي او قاتلان د زندان د اوسپنو د سيخانو تر شا هم پاته شي ، په يخو خوبونو او ګرمو سرابونو کې ورک هم شي ... نو بيا به هم ، اې زما مورې !زه به د مرګ د ګډيدونکې څپې ....د پرکيدونکې ، کړکيدونکې بريښنا د لمحو ...د وړو سترګو په څير پر هغوې ورپريوځم او په هر صورت به دهغوې په وژلو دخپلې بدلې اخستو خوب ريښتيا کړم .»

غملړلې قيرات دخپل غم په فرياد او اه و زارۍ کې ډوبه وه ، سريان ته يې غاړه ورکړې وه او په کوکو کوکو يې ژړل . خو علي خپلې مور او خور دواړو ته تسلي او ډاډ ورکاوه ، په دې وخت کې هغه دوه کسه وسله والو ځوانانو څخه يوه يې دهغې نجلۍ په لور مخ واړاوه او ورته يې وويل :

ريونا ! دغه زړه ښخه چې وينې دهغې نوم قيرات دې ، او دا د هغې، مجدالدين، مور ده چې ستا د خپلوانو سره د ټکر په وخت کې ووژل شو. هغه نجلۍ چې د قيرات سره غاړه ده هغه د قيرات لور او د مجدالدين خور ده او هغه ځوان چې قيرات او دغه ځواني نجلۍ ته ډاډ ورکوی هغه د مجدالدين کوچنې ورور دې ،مونږ دواړه اوس تا دغې درې واړو ته سپارو اوس نو دغه درې واړه چې له تا سره څنګه معامله کول غواړې همغسې به وکړې. خو تاته په کار دی چې هغوې ته د مجدالدين د قاتلينو په اړه معلومات ورکړې ، زمونږ له آنده په همدې کې تاته خير دې.

قيرات ، سريان او علي درې واړو دا خبرې اوريدې ، تردې وخته پورې قيرات تر ډيره ځايه خپل ځان سنبال کړې و او را پورته شوه او په ورو ورو يې ريونا ته ځان ور نژدې کړ. ريونا چې کله هغه د خپل ځان په لورى را نژدې کيدونکې وکتله نوپه ټول وجود يې لړزه و لګيده ، شونډې يې په رپيدو شوې . د قيرات شاته سريان او علي هم را روان و ، هغې ته په را نزدې کيدو سره قيرات غوښتل څه ووايي خو دهغې څخه د مخه ريونا په ژړغوني او لړزيدونکې اواز وويل :

« زما د وژلو تر مخه زما يوه خبره واورئ ، دهغې وروسته چې بيا تاسې څه ډول غواړئ همغسې مې ووژنئ، خو زه تاسې ته ډاډ درکوم چې هغه څه چې زه وايم هغه رښتيا دى ، زه به هيڅکله هم ستاسې ددرې واړو تر مخه درواغ و نه وايم . زه ډيره خواشينې يم چې په هغې ټکر کې مجدالدين ووژل شو . مجدالدين ما ډير ښه پيژانده ، دا چې څه ډول مې پيژانده دهغې په هکله به زه تاسې ته تفصيلي خبره وکړم ، دهغې وروسته تاسې پورې اړونده ده چې زما په خبرو باورکوئ او که نه . که ما ووژنئ او يا نه ، دا به ستاسې واک او اختيار وى خو هغه څه چې زه يې وايم تاسې يې په غور سره واورئ.»

قيرات، علي او سريان ريونا ته په رانزدې کيدو سره تم شول ، دهغوې په تم کيدو ريونا کې څه حوصله را پيدا شوه او يوځل بيا يې په خبرو پيل وکړ او ويې ويل :

«تاسې پوهيږئ چې څوکاله مخته مسلمانانو د يونان د تهريس ولايت سوبه کړ . زه دهمدې ولايت دتهريس اوسيدونکې يم ، د قاتلانو د لټون له پاره به ډير وخت مجدالدين زمونږ دکلي لورې ته را ته . هغه شکمن و چې قاتلان زمونږ دکلي سره اړيکې لري . يا دا چې وژونکی زمونږ کلي ته تګ را تګ لري ، زه په خپله نه پوهيږم چې قاتلين او وژونکي څوک دي ؟ او دا چې هغوې دمجدالدين سره څه دښمني لري ؟ نو اې درنې ښځې ! په همدې وخت کې ستا د زوې ، مجدالدين ، ليدنه کتنه د زمونږ د کلي د يوې نجلۍ سره وشوه ، هغه نجلۍ پخپله نصراني وه او د يوې کونډې ښځې لور ده ، ستا زوې ، مجدالدين ، د همدغې نجلۍ سره ليدنه کتنه پيل کړه ، اخر دا ليدنې کتنې په نژدې اړيکو باندې تبديلې شوې ، دغه نجلۍ هم مجدالدين سره مينه پيدا کړه او دهغې په خاطر يې نصرانيت پريښود او مسلمانه شوه او دهغې مور هم په اسلام باندې مؤمنه شوه . د واده کولو وروسته به ډير وخت مجدالدين هملته زمونږ کلي کې اوسيده .اوبيا به د همغه ځايه څخه د خپلو دښمنانو د لټون پسې بيرون ووت . دغه نجلۍ چې اوس ددې ښځه وه هم دهغه سره د هغه ددښمنانو په لټون کې بسپنه کوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څه چې زه تاسي ته وایم د څوکالو پخوانی پیښه ده ، په دې وخت کې ددې ښځې د ګیډې څخه ستا د زوې دوه کسه زامن پیدا شول ، بیا څور ورځې مخته زه د خپله کوره اوکلې څخه ووتم او نژدې یوه بل کلي ته چې زما د کاکا کور په کې دې ولاړم ، زما کاکا درې زامن لرې ، دهغوې له ډلې څخه د تر ټولو کشر سره زما کوژدن شوې ده ، او شونې وه چې په ډیرو نژدې ورځو کې ورسره زما واده هم وشي . زه د خپل کاکا په کور کې څو ورځې تم شوم ، بیا هغه ځوان چې زما واده ورسره کیدونکې و دخپلو دوه نورو مشرانو ورونو سره یو ځاې غوښتل له ماسره زما د خپله کوره پورې راشي ، هغه وخت چې زه دهغوې سره د خپل کور په لورې را روانه وم نو ستا زوې مجد الدین او دهغې سره دغه دواړه ځوانانو پر مونږ حمله وکړه ، او په دې ترتیب وسلوال ټکر منځته راغي ، ددې ټکراو په پایلو کې هغه ځوان چې زما واده ورسره کیدونکې و له منځه ولاړ او ستا زوې هم ووژل شو ، خو زما د کاکا دوه زامنو ځانونه ځنګ کړل او و تښتیدل ، زما کاکا هم په دغه ټکر کې له منځه ولاړ دهغې وروسته ستا د زوې په وینا دغه دواړو وسله والو کسانو زه و نیولم اودلته یې را ورسولم. په حقیقت کې دوې شکمن دې چې شونې ده چې زه قاتلین و پیژنم ، خو زه واحد او لاشریک خداې حاضر او ناظر ګڼم چې زه پخپله قاتلین نه پیژنم او نه ماته دا معلومات شته چې د مجدالدین ورور او پلار چا وژلی و . خو که چیرې مجدالدین ته شک وایې چې دهغه دپلار او مشر ورور په وژلوکې زما د کاکا او یا د هغې د زامنو لاس دې نو بیازه تاسي سره دا ژمنه کوم چې که چیرې زه ستاسي له خوا د وژلو څخه خوندي پاته شوم اوبیرته خپل کلی ته په تللو باندې بریالی شوم ،نو زه به حتما د قاتلانو پلټنه وکړم، دهغوې ځاې ځیګې به معلوم کړم او بیا به تاسي ته ووایم چې قاتل څوک دې ؟چیرې اوسیږي او ولي یې ستا میړه او دوه زامن وژلي دي ؟

تر دې ځایه د خبرو وروسته ،ریونا تم شوه ، ساه یې واخسته ، تر لږڅه ځنډه یې په ډیره ژوره توګه د قیرات په لور کتل او بیا یې په خبرو پیل وکړ.

«درنې مشرې ! که چیرې ته زما په خبرو باندې باور کوې نو بیا له تاڅخه غواړم چې ما ته ښنه وکړې ،زه به تاسې ته په دې اړه د څه معلوماتو د ترلاسه کولوپه خاطر خپلې هڅې پیل کړم . او تاته ډاډ درکوم چې زه به خامخا د قاتلانود ځاې ځیګې د معلومولو له پاره هاند و کړم او که چیرې تاسي دا سي فکر کوئ چې زه مجرمه یم او ستا د زوې په وژلو کې شریکه یم، نو بیا ته خپل زوې ته حکم وکړه چې خپله توره د تیکي را وکاږي او زما څټ ته یې را خلاصه کړی .»

ددې خبرې سره سم ریونا د زنګونو په سر پر زمکه کښیناسته او خپل څټ یې را ټیټ کړ.

په دغه وخت کې نه یواځې قیرات او دهغې لور سریان بلکه ټول ولاړ خلک حیران دریان ولاړ و او د ریونا په لور یې کتل . قیرات مخته راغله او په خپلو دواړو لاسونو یې ریونا له شا څخه ونیوله ، پورته یې کړه ، او بیا یې د ډیرې میني ، او محبت نه په ډک اواز ورته وویل :

«ګوره لورې ! ستا د وجود رګ رګ ددې ګواهي ورکوې چې ته درواغ نه وایې ، ته ریښتیا وایې ، ته بې ګناه یې. خو ګوره لورې ! ته دلته زمونږ په سیمه کې زمونږ تر مخه د ځانتوالي ، زوال ،بیلتون او هجر ښکار شوې نه یې ، ته خپل ځان ته د یوې بې وطنې او بې کوره نجلۍ خیال مه کوه . واوره لورې ! که چیرې ته وعده وکړې چې ته به زما د زامنو او میړه د قاتلانو نښې نښانې را پیدا کوې نو زه تاته ډاډ درکوم چې زه به ستا دغه کړچار ته سلام وکړم ، ګوره لورې! که چیرې ته زمو نږ له پاره دا زحمت وګالې او زمونږ سره په دې هکله بسپنه وکړې نو دا به ستا پر مونږ هغه احسان وی چې مونږ به یې په خپل ژوند کې هم بدله پوره نه کړاې شو. واوره لورې ! تر هغې چې ستا زړه غواړې له مونږه سره اوسیدې شې دلته به ستا پالنه د یوې ډیرې سترې او دروندې میلمنې لور په څیر و شي. دهغې وروسته به په پوره خوندیتوب سره تا ستا تر کوره پورې د ورسولو انتظام زه وکړم . »

دقیرات ددې خبرو په اوریدو سره ریونا بلکل بدله غوندې شوه ، لږ څه مخته د هغې حال د ونو د زیړو پاڼو په څیر و خو اوس یې په مخ او څیرې باندې د خوښۍ نښې نښانې را څرګندې شوې وې . نو هغه سمدستي مخته ورغله د قیرات سره غاړې غړۍ شوه او په خپل ژړغونې غږ سره یې هغه ته په وینا کولو پیل وکړ .

«ته یوه ډیره مهربانه او درنده مور یې ، زه ستا دغه شفقت او مهربانۍ ته سلام کوم .که چیرې ته ما د یوې لور په څیر دخپله ځانه سره ساتي نو زه به دا کار د خپل ځان له پاره یوه نیک بختي و ګڼم اوکله چې تاسي ما په پوره خوندیتوب سره خپل کور ته ورسوئ نو دا به ستاسي پر ما باندې ډیر زیات احسان وي چې دهغې بدله به زه په خپل ژوند کې پوره نه کړاې شم . اوس زه ډاډه یم ، ستا دخبرو د اوریدو څخه ماته دا ډاډینه را پیدا شوه چې زه دغه سیمې ته د مرګ له پاره نه ، بلکه د ژوندۍ اوسیدو له پاره راغلي یم .

د ریونا په دې خبرو سره تر هغې ځایه چې د قیرات اوسریان په څیرو کې خوښۍ را ښکاره شوې وه نو هلته د علي ، برهان الدین ، ساروان خولې هم له خندا نه را ټولیدې ، په دې وخت کې برهان الدین څو قدمه را مخته شو د قیرات تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه ودرید او ورته یې وویل :
« قیرات ! زما درنې خورې ! د ریونا نومې دغه نجلۍ سره خو ستا معامله جوړه شوه ، خواوس چې زه د کوم زیرې کولو له پاره تاسې ته راغلې وم نو غواړم هغه تاسې ته ووایم. خو دهر څه د مخه ، درنې خورې ! زه ستا د زوې په اړه ، چې اوس کوم معلومات ډاګیزه شو، د زړه له کومې خواشینې وړاندې کوم . هغه ډیر پوه او بیدار هلک و ، خو هغه زیرې چې زه تاسې ته در کول غواړم هغه دادې چې تر سلطان مراد پورې دا خبر ور رسیدلې چې ستا زوې علي د جنګ او حرب ، اوهمدا راز په دیني درسونو کې په مدرسه کې تر ټولو په لمړۍ درجه بریالي شوې ، کله چې د سلطان مراد تر مخه ستا د زوې ، علي ، یادونه وشوه نو په هغه وخت کې یوائې زه نه ، بلکه ولي عهد بایزید ، د هغه زوې ، د بروصې ټول رئیسان ،علماء او سالاران هم ناست وو ، دهغوې ټولو په شتون کې سلطان مراد یوه قاصد ته حکم وکړ چې نن ماښام علی د هغه دربار ته راولي ، بیا زما درنې خورې ! په دې وخت کې ما په خبرو پیل وکړ او سلطان ته مې وویل چې علي به زه پخپله د خپله ځانه سره یو ځاې دلته را ولم . زه تا ته دا زیرې هم درکوم چې علي ته د کوم مهم کار د ورسپارلو دمخه سلطان هغه ته د «پاشا» لقب ورکړې دې ، همدا راز سلطان په بروصه کې او هم په خپل لښکر کې دا حکم کړې چې علی به ددې وروسته یوائې علي نه وی بلکه هغه ته به «علي پاشا» ویل کیږي . زه به تا ته دا هم ډاګیزه کړم چې کله چې نن علي د سلطان مراد دربار کې دهغه تر مخ وړاندې شی نوسلطان به هغه ته یوه درنده دنده سپاري تر څو د هغې کړچار ، مهارت ، حربې پوهه ، جرءت ،د توری وهلو او جنګی وړتیاو اندازه ځان ته معلومه کړي . که چیرې علي په دې دنده کې بریالي شو نو ستا دزوې ارزښت او شان به د سلطان مراد په آند کې د خپل زوې بایزید نه وروسته دویم کس ته ورسیږی .
دخبرو تر دې ځایه پورې برهان الدین لږ څه ځنډنې شو او بیا یې دوباره خپله وینا پیل کړه او ویې ویل :
زما خورې ، قیرات ! زه غواړم چې ته دخپلې لور سریان او د دغې بلې لور ریونا سره یوځاې خپله رمه حویلۍ ته یوسې ، زه به علي پاشا له ځانه سره محل ته یوسم ، تر څو یې هلته د سلطان مراد تر مخ وړاندې کړم ، زه په دې هم و پوهیږم چې سلطان مراد به علي پاشا ته کومه درنه دنده و سپاري .
د علي پاشا مور قیرات د برهان الدین ددې وړاندیز سره همغږې شوه ، په دې وخت کې دهغو دوو ځوانانوڅخه ، چې ریونا یې تر دې ځایه راوړې وه ، یوه وویل چې :
برهان الدین صیب ! او زمونږ په اړه څه فکر کوې؟
برهان الدین د دې خبرې په اوریدو سره هغوې ته وویل:
« تاسې دواړه اوس خپلو کورو ته ولاړ شئ او ارام وکړئ ، ستاسې څخه ډیره مننه چې دغه نجلۍ ریونا مو په خوندي توګه تر دې ځایه را ورسوله ، اوس دهغې په هکله پریکړه زمونږ کار دې ، تاسې دواړه رخصت یاست ، تللاې شئ .»
ددې خبرې په اوریدو سره هغه دواړه په خپلو آسونو سپاره شول او دهغې ځایه څخه وکوچیدل .
دهغوې د تللو وروسته برهان الدین د سراې دخاوند ساروان په لور وکتل او ورته یې وویل :
« ساروانه ! ته هم دخپل سراې په لور ولاړ شه ، تاسره خوبه لیدنې کتنې کیږې راکیږی .» ددې خبرې په اوریدو سره ساروان هم په خپل آس سپور شو او ولاړ.
ددې درې واړو د تللو وروسته قیرات ریونا ته وکتل او دمورنې شفقت نه په ډک اواز یې ورته وویل :
«ریونا لورې ! ته هم په خپل آس سپره شه ، زه او سریان به خپله رمه سره را ټوله کړو او بیا به له دې ځایه کوچ وکړو .
ریونا ورته سمدستي په ځواب کې وویل چې :
« اې زما مینه ناکې مورې ! دا ته څه ډول خبرې کوې ، که چیرې ته رمه را ټولوې او زه په آس سپره اوسم نو زما څخه به ډیره بدبخته نجلۍ بله نه وي ، زه په خپله د رمې په راټولو کې له تاسره لاس کوم، ته دلته ودریږه، زه به دخپلې خور سریان سره یو ځاې د رمې حیوانات را ټول کړم ، بیا به ټول یو ځاې له دې ځایه وکوچیږو .
په دې وخت کې علي پاشا په خبرو کې راټوپ کړ او ویې ویل : له تاسې درې واړو څخه یو هم و نه خوځیږئ ، زه به رمه را ټوله کړم او تاسې ته به یې در وسپارم . تاسې درې واړه بیا هغه سنبال کړئ او تر کوره یې ورسوئ .»
بیا نو علي پاشا په منډه منډه ولاړ ، د رمې ټول ځناور یې سره را ټول کړل او قیرات ، ریونا اوسریان ته یې ورحواله کړل ، هغوې هم خپله رمه د بروصې د ښار په لور روانه کړه . ریونا په یوه لاس کې دخپل آس قیضه نیولې وه او بل لاس یې پورته پورته کاوه او رمه یې پرې کنترولوله . تر څنګ یې برهان الدین په خپله کچر او علي پاشا په خپل آس سپور شو او دوې هم د بروصې دښار په لورې روان شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

قریب الرحمن سعید

## عثماني امپراطوري او پر خلاف يې د صليبيانو سازشونه (۲)

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول (۲)

دعثماني امپراطورئ او صليبي متحدې اروپا ترمنځ کشمکش
په دې تاريخي ناول کې ډيرې داسي پيښې مخته راځي چې زمونږ دهيواد د اوسني کړکيچن حال سره سر خوري ، همداراز په دې ناول کې د يو شميرکسانو نومونه يادشوي دي چې شونې ده وي په تصادفي توګه ديو شمير وګړو د نومونو سره يو شانته والې ولري . خو ټول کړچار مثبت دې او د ليکوال خپل آند څرګندوي .
اوس تاسي ددې تاريخي ناول دويمه برخه لولئ:

علي د برهان الدين سره يو ځاى د بروصي شاهي ماڼۍ ته ور ننوت ، په دغه وخت کې د محل په خونه کې سلطان مراد ، دهغه زوى بايزيد ، د بايزيد زوې ارطغرل ، سليمان ، عيسي ، موسي ،محمد او دځونورو غټو وړو سالارانو په ګډون د ښار څو اميرين او دعدليې د امورو مشران هم ناست وو . کله چې برهان الدين اوعلي خوني ته ورننوتل نو سلطان مراد دخپله ځايه را پورته شو او هغوئ ته يې ښه راغلاست ووايه ، شونې ده چې دغه ښه راغلاست به د برهان الدين د تشويق له پاره و، په دې وخت کې برهان الدين دعلې په غوږ کې څه وويل ، نو علي ور مخته شو او دسلطان سره يې په لاس روغبړ وکړ . ددې وروسته يې د نورو ناستو خلکو سره دروغبړ کولو وروسته چې کله هغه د ولي عهد بايزيد لورې ته را ورسيد نو د روغبړ وروسته بايزيد هغه د خپل ځان تر څنګ کيناوه ، او هغه ته يې په غوږونو کې څه وويل :
په دې وخت کې سلطان مراد ډير خوښ ښکاريده ، خپل زوې بايزيد ته يې مخ کړ او ورڅخه يې وپوښتل : زما قدرمنه زويه ! ايا ته دعلې سره د په وا څخه پيژندګلوى لرې ؟»
بايزيد په ډير ادب سره خپل پلار ته مخ را واړاو او ورته يې وويل :
« عاليقدره سلطانه! ما د علي سره څو ځلي د حرب و ضرب په مکتب کې ليدنه کتنه کړې وه ، زه لا د په وا څخه د جنګی او حربي فن اوپوهې څخه پوره پوره خبر يم »
وروسته له دې خبرې بايزيد علي د خپل ځان تر څنګ په يوه خالي ځاې کې کيناوه،تر لږه وخته پورې د ماڼۍ په دې خونه کې چپه چپتيا شوه ، يو ناڅاپه د سلطان اواز را پورته شو او علي ته يې په وينا کې وويل : «دخيرالدين زويه ! تر هر څه دمخه زه تاته په دې خاطر چې تا دحرب و ضرب په مکتب کې ديني او عسکرې روزنه په ډيره ښه او اعلي درجه تر سره کړې د زړه له خلاصه مبارکي وايم ، ددې تر مخه زما د زوې استاد ، دروند برهان الدين ، به ماته کله کله ستا د وړتياو په هکله معلومات راکاوه ، همدا اراز هغه ستا دکورنۍ د حالاتو څخه هم وخت په وخت خبرولم ،او زه ستاسي د ټول حال احوال نه پوره خبريم ، زما زوې بايزيد هم په دې پوه دې چې څه ډول ستا پلار او بيا دهغي پسي ستا ورور د دښمنانو په لاسو وژل شوي دی ، او اوس خبر شوې يم چې ستا بل ورور هم د نوم ورکو دښمنانو په لټه کې دې .»
په دې وخت کې برهان الدين سمدستي وويل « دروندہ سلطانه ! علي ته لږ څه د مخه دا بد خبر راغي چې د هغه بل ورور مجدالدين هم دهمدې نوم ورکو دښمنانو په لاس وژل شوې دې . اوس علي د خپلې کونډې مور اوخور يواځنۍ هيله ده . دروندہ سلطانه ! ده هم اراده کړې چې په هر حال به د خپل پلار او دواړو ورونو ددښمنانو په لټې پسې وځي او هغوئ ته به دخپلو کړو سزا ورکوي . دروندہ سلطانه ! ددې مور سوګند کړې چې تر هغې به پڼې پښو ته رانه وړې تر څو يې چې د خپل ميړه قاتلانو ته سزا نه وي ورکړې . په دې خاطر قدرمنه ! ديخنۍ په دې موسم کې د هغې پښې د يخ له لاسه پړکې شکيږي . دې خپلې مور ته زاري کوي چې هغه دې پڼې په پښو کړي خو هغه په خپل سوګند کلکه ولاړه ده . د يخنۍ په دغسې موسم کې علي او دهغې خور سريان دخپلې مور د پښو د چاودنو او ټپونو د ډکولو له پاره د وازګې په ويلي کولو او دهغې په ټپونو کې د هغې د ور اچولو په واسطه علاج کوي ، قدرمنه سلطانه ! زه هيله من يم چې علي به د خپلو دښمنانو څخه د بدلې په اخستلو کې بريالي شي . »
د برهان الدين په دې خبرو د ماڼۍ په دې ستره خونه کې د لږ څه وخت له پاره يوځل بيا چپه چپتيا خپره شوه. بيا هر يوه په ډيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دردناکه ژبه دعلي سره د هغه د ورور د ښهادت په خاطر د زړه خواله وکړه ، په همدې وخت کې یو ځل بیا د سلطان اواز په خونه کې راغبرګ شو.
د خیرالدین زویه ! ته اوس یوازې علي نه یې بلکه علي پاشا یې . شوني ده چې محترم برهان الدین به تاته په دې هکله خبر درکړې وي ، ما تا ته د پاشا لقب درکړې ، او نه یواځې د ښار خلک په دې خبره خبر شوې بلکه مونږ په لښکر کې هم دا خبره ډاګیزه کړې ده . دنن څخه وروسته به تاته علي نه بلکه د علي پاشا په نامه غږ کیږی . نو علي پاشا ! واوره : زه تاته یو کار درسپارم ، زه هیله من یم چې هغه کار به ستا د جنګي وړتیاو سبب وګرځي او هم به ستا له پاره د تجربې اساس ثابت شي . همدا راز دهمدې عسکري دندې په ترسره کولو کې به ته د خپل پلار او دواړو ورونو د قاتلانو په پیداکولو کې هم بریالي شې.
د خیرالدین زویه ! د بلغاریې حکمران سیسمان دخپلو دوو شهزاد ګانو ، سائرکن او ایکسلا، سره یو ځای زمونږ په نوو سوبه شوو سیمو کې د شپیینیو یرغلونو یوه لړی پیل کړې ، دوی کله په مقدونیه کې وینه تویونکي عملیات تر سره کوي او کله د تهریس په سیمه کې . دهغوی ددغې یرغلونو په پایلو کې زمونږ لښکریانو ته زیان رسیدلی دې . زه به ستا په مشری تا ته یو لښکر درکړم ، تاته د یوې اونۍ وخت هم درکوم په دې وخت کې خپل ځان تیار کړه ، په دې لړ کې به زما زوی بایزید تا ته پوره لارښوونه وکړي. ددې وروسته به ته د خپل لښکر سره یو ځای هغې لورې ته کوچ کوې ، اود بلغاریې د حکمران سره به ټکر ته ورځي زه هیله لرم چې ته به هغې ته ماتې ورکړې ، داسې ماتې چې په راتلونکې کې هغه بیا زمونږ په سیمو باندې دشپیینیو یرغلونو جوګه نه شي .
د خیرالدین زویه ! زه پوهیږم چې ته د هغو سیمو سره اشنا نه یې ، خو زه به ستا سره خپل ځوکسه نائبین او دهغوی تر څنګ د لارې لارښود هم و استوم . دوی به په هغو سیمو کې ستا لارښوونه کوی ، او په دې کارو کې به ستا ملاتړې وي . واوره ! که چیرې ته په دې عسکري دنده کې بریمند شوې نو زما د زوی بایزید وروسته به ته دویم کس یې چې زما په وړاندې به د عزت او وقار خاوند اوسی . ایا ته ددې کار له پاره تیار یې ؟
علي پاشا د ځواب نه مخته د سلطان په لور په ژوره توګه او غور سره وکتل ، اوبیا یې سلطان مراد ته وویل :
محترم سلطان ! که چیرې د سیسمان حکمران د اوسپنې یا کاڼي څخه نه وي جوړ شوې نو زه به دهغه دغه سرکښي ، دهغه دغه ړوند غضب ، او دهغه ټوله بهادري ، اونارینتوب دهغه په سفالت ، رزالت او د هغې په حماقت باندې بدل کړم . دهغه ټوله تخریب کاري ، دهغه ټوله وران ویجاړ غوښتنه ، ظلم او تیرې به په تورو تیارو کې ډوب کړم . دروندە سلطانه ! زه تا ته ډاډ درکوم چې زه به د بلغاریه د حکمران سیسمان ، هره هنګامه او .....دهغه له پاره د مرګ په تحفه بدله کړم .
د علي پاشا ددې ځواب په اوریدو سره یواځې سلطان مراد نه ، بلکه هلته دناستو ټولو خلکو په څیرو باندې د خوښۍ نښې را ښکاره شوې ، په دې خاطر سلطان مراد یو ځل بیا علي ته مخ را واړاوه اوورته یې وویل :
«علي پاشا ! رښتیا چې ستا ځواب زما زړه خوشحاله کړ. زه ستا ددې جرأت ، وړتیا او اعلي فکر ډیره ستاینه کوم . ډاډه یم چې ته به دهمغه ځوانانو په څیر را مخته شي لکه څنګه چې دریاب اشنا ځاځکي په بحر باندې بدلیږي . زه هیله لرم چې ته به د بلغاریه د حکمران په لښکرو لکه د توپاني سیلیو په څیر یرغل وروړې او خپله بریا او لوړتیا به پرې ترلاسه کړې .
د سلطان مراد د چوپتیا وروست علي پاشا سلطان ته د ډاډ ورکولو په خاطر وویل :
دروندە سلطانه ! زه به هیڅکله هم تا ناهیلي نه کړم ، هغه هیلې چې تا زما له وجود سره تړلي ،زه به هڅه وکړم چې ستا دهغې هیلو په مطابق و خیژم .
سلطان په ډیرې میني سره وویل چې :
دخیرالدین زویه ! ستا د راتلو تر مخه مې چې تاته دکوم لښکر د حواله کولو هوډ کړې نو دهغې په هکله مې د بایزید سره هم خبرې کړې دي ، اوس ته د بایزید سره ولاړ ښه ، هغه به تاته دهمدې لښکر په هکله نور معلومات هم درکړي هغه به تا دلښکر سره او لښکر به له تاسره معرفي کړي .
د سلطان مراد دې خبرو ته د ځواب ورکولو په ځای علي پاشا دخپله ځایه پورته شو ځکه چې په همدې وخت کې د سلطان مراد زوی او ولي عهد بایزید هم دخپله ځایه پورته شوې و. خو د خوني څخه د وتلو تر مخه سلطان مراد علي پاشا او بایزید ته په ولاړه ولاړه وویل چې :
علي پاشا ! زه پوهیږم چې ته په عمر کې زما د لمسو په ځای یې ، ته د بایزید د زامنو هر یو ارطغرل ، سلیمان ، عیسي ، موسي او محمد په څیر یې . په دې ټولو کې محمد تر ټولو کشر دې او ته را ته دهمغې همزولې ښکارې . دعمر په دې وخت کې چې کوم عسکري دنده تا ته درسپارل کیږي که چیرې ته په هغې کې بریالي شې نو په سلطنت کې به ستا هماغه ځای وي دکوم په هکله چې ته تر اوسه پورې فکر هم نه شي کولي .
علي پاشا سلطان ته ددې خبرو ځواب په خوله ورنکړ خو خپل سر یې د هغه تر مخه ښکته کړ او دهغې وروسته هغه د بایزید

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره يو ځاى د خوني څخه ووت .

٣*****

قيرات او سريان دواړه مور اولور د ريونا په ګډون دخپلې رمې سره يوځاى د حويلې په لور روان و ، او حويلې ته ورننوتل ، ريونا وكتل چې د حويلى د اوسيدو برخه دومره پراخه نه ده ليكن ددې حويلى انګړ ډير پراخه دې . حويلى ته په ورننوتلو سره سم قيرات او سريان دواړو مور او لور خپلې وزې چې دشلويا پنځه ويشتو څخه ډيرې نه وې د انګړ په يوه برخه كې غوښتل و تړي ، په دې وخت كې ريونا يوه اړخ ته ولاړه وه ، تر يوه وخته پورې هغې هغوې ته كتل اوبيا په تيزى سره مخته ولاړه او د رمې د ځناورو په تړلو باندې يې پيل وكړ. قيرات ورته وويل :

« ريونا ! زما لورې ! پريږده ، ته خو دلته زمونږه سره يوه ډيره درنه ميلمنه يې او زمونږ سره نه ښايي چې مونږ د يوه ميلمه څخه دغه ډول كار واخلو » .

ريونا په ډير پراخه زړه او دخپلوى په توګه يې وويل :

« محترمې قيرات ! تا ماته خپله لور ويلې دي ، نو په دې خاطر ته زما مور يې ، نو ايا دا به ماته د شرم خبره نه وي چې زما مور دې د رمې ځناور تړي او زه دې د هغې سيل كوم. »

قيرات د ريونا ددې خبرې څه ځواب ورنه كړ . ېټه خوله پاته شوه ، ريونا خندل او د رمې د ځناور و په تړلو يې پيل وكړ .

كله چې ټولې وزې و تړل شوې نو بيا قيرات وويل :

« زه غواړم چې تا هلته په ميلمستون كې كينوم ، بيا به زه او سريان دواړه د وزو څخه يې را واخلو ، بيا به ماښامې تيار كړو ، واوره لورې ! زه غواړم له تا څخه ډير څه و پوښتم، زما لورې !ځه چې تا په ميلمستون كې كينوم ، بيا به نو زه اوسريان د وزو څخه د شيدو د اخيستو له پاره راستنې شو او د ډوډى انتظام به هم وكړو .»

قيرات غوښتل ريونا ميلمستون ته يوسي ،خو ريونا په خپل ځاى باندې ولاړه پاته شوه . تر يوه وخته پورې مسكى وه ، او بيا يې قيرات ته وويل :

«واوره مورې ! ته دا بده مه ګڼه ، اوس خو تاماته خپله لور ويلې دي ، په دې اساس زه د سريان په څير تاته دمور غږ كولې شم ، كه زه د لور په څير په ميلمستون كې كينم او ته كار وكړې دا به زما له پاره د زغم وړ نه وي ، نو په دې خاطر د يوې لور په څير له تانه غواړم چې ته ولاړه ښه او ماښامې تيار كړه ، زه او زما خور سريان به دواړه د وزو څخه شيده را واخلو . دهغې وروسته چې ته څه غواړې زما څخه و پوښتې بيا هغه و پوښته ، زه تاته ډاډ دركوم چې زه به ستا د هرې خبرې ، د هر سوال ځواب غلې درنه كړم . »

په دې وخت كې سريان هم په منډه د ريونا څنګ ته راغله ، په مينه يې دهغې لاس و نيو او پورته شول ، قيرات تر يوه وخته پورې مسكى او خندنى وه ، دا سې په ډاګه كيده چې هغې د ريونا مشوره منلې ده . په دې خاطر هغه د په لنځاى په لور ولاړه ، سريان ددې حال په كتلو سره منده كړه او د شيدو لوښي يې راوړل او د ريونا سره يو ځاى يې د وزو په لوشولو پيل وكړ .

د وزو د شيدو اخستلو وروسته ريونا او سريان دواړه د په لنځاى په لور ولاړې او د قيرات سره يې يو ځاى د ډوډى د په لې كار تر سره كړ .

د ډوډى د تيارولو وروسته درې واړه د په لنځاى څخه بهر را ووتې، ولاړې او په تشناب كې يې خپل لاسونه او مخونه پريمنځل ، په همدې وخت كې د بروصې د جوماتونو څخه د ماښام د لمانځه اذانونه هم پيل شول . د اذان د اوريدو سره سم قيرات او سريان دواړه ولاړې او اودسونه يې وكړل او بيا يې د ريونا تر مخه په ميلمستون كې لمونځونه اداءكړل . تر هغې چې سريان او قيرات لمونځونه ادا كول ريونا هغوې ته په ډير ذوق سره بلكه په حيرانونكې توګه كتل. د لمانځه د اداء كولو وروسته قيرات اوسريان دواړه د ريونا تر څنګ كيناستې او دعلې پاشا د راتلو په خاطر يې په خپلو منځو كې خبرې پيل كړې .

د لږ ځنډ وروسته على پاشاهم حويلى ته را ننوت ، خپل آس يې د رمې د ځناورو تر څنګ و تړه . كله چې هغه د انګړ څخه داوسيدو د ځاى په لور را ته ، مور يې ورته ور غږ كړ او هغه يې د ميلمستون په لور را وباله . علي پاشا ميلمستون ته ور ننوت ، او دخپلې مور تر څنګ كيناست ، موريې ورته وكتل او ويې ويل :

« زويه علي پاشا ! ما په ډيره بې صبرى سره ستا انتظار كاوه ، حويلى ته د راننوتلو سره سم مونږ د وزو څخه يې اخستې او دغو دواړو يو ځاى د ماښام ډوډى تياره كړې ده . ټولو په ډيره بې قرارى سره ستا انتظار كاوه . حقيقت دادې چې ما غوښتل د ريونا څخه ډير څه وپوښتم . خو ما غوښتل چې هر څه ستا تر مخه وپو ښتم . په دې خاطر مو په ډيره بيړه ستا انتظار كاوه چې تر راشې او بيا دريونا سره خبرې وكړو.

قيرات تر همدې ځايه خبرې وكړې چې علي پاشا يې په خبرو كې را ننوت او ويې ويل :

« مورجانې ! تا خو ريونا دلته د راتلو سره سم په كار لګولې ده ، دا خو په دې كور كې يو درنه ميلمنه ده . دا چې بيرته ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي ، هلته به خپل پلار ، مور او نورو دوستانو ته څه وايي ؟ ورته به وايي چې کوم مسلمانان چې هلته په بروصه کې اوسيږي هغوې ددې څخه کار اخست . »
په وا له دې چې قيرات د علي پاشا ددې خبرې ځواب ورکړي ، نو ريونا په داسې حال کې چې لړزيده ،شرميده او ژبه يې نښته په خبرو پيل وکړ . هغه علي پاشا ته مخ واړاوه او ورته يې وويل :
محترم علي پاشا ! زه ستا د فکر سره موافقه نه يم .تا ته به معلومه وي چې هغو دوو ځوانانوچې زه تر دې ځايه راوستم او دبروصې دښار بيرون يې تاسو ته وسپارلم او بيا هلته دغرو په لمنو کې ستا مور زما سره خبرې پيل کړې نو ستا مور ماته د لور په نامه غږ وکړ ، نو دلته حويلۍ ته د راتګ نه وروسته کله چې ستا مور د وزو څخه د پيود اخستلو له پاره ولاړه ، نو ما به دا څه ډول زغملي واې چې هغه ښځه چې ماته يې لور ويلي هغه دې د وزو څخه شيده را لوشي او زه دې ورته سيلاني ولاړه اوسم . په دې خاطر ما د وزو څخه شيده په خپله خوښه را لوشلي دي . زه دې کار ته هيڅا نه يم مجبوره کړې ، داسې و ګڼه چې په دې کار کولو زه ډيره زياته خوشحالي احساسوم . او دا چې ما په ميلمستون کې کومه ډوډۍ تياره کړې هغه هم ما د خپلې يوې دندې په توګه تياره کړې . ته ډاډه اوسه چې زه به د بيرته تللو په وخت کې هيڅ‌ګله او شکايت و نه کړم چې تاسې زما څخه کار اخستي دې.»
د ريونا ددې خبرو سره د علي پاشا په مخ دخوښۍ نښې را ښکاره شوې ،ددې وروسته يې د خپلې مور په لور وکتل او ويې ويل :
« اې زما مورجانې ! ته چې څه غواړې د ريونا څخه و پوښتې نو هغه وپوښته ، زه به يې هم واورم ، ته دهغې څخه څه پوښتل غواړې ؟
قيرات په ډيره غور سره د ريونا په لور وکتل اوبيا يې وويل :
«ريونا جانې لورې ! تر هغې ورځې چې زما ځوې مجدالدين دکوره څخه وتلې تر نن پورې نژدې شپږ کاله کيږي ، هغه د خپل پلار او ورور د قاتلانو د لټون او هغوې ته د سزا ورکولو له پاره وتلې و .د کومې ورځې څخه چې هغه له دې ځايه رخصت اخستي و په هغه وخت کې علي پاشا نا بالغه و ، علي د هغه په نه موجوديت کې بلوغ ته رسيدلې . لورجانې ! هغه وخت چې هغه له دې ځايه رخصت شوې نو له ما څخه غلطي شوې وه ، ما هغه ته ويلي و چې تر هغې چې ته دخپل پلار او ورور وژونکي پيدا نه کړې او هغوې ته سزا ورنکړې بيرته به نه را ګرزيږې . افسوس زما په بدقسمتۍ باندې ، ما خپل دا زوې هم له لاسه ورکړ . ګوره لورې ! تا ويل چې مجدالدين په روميلياکې د کومې نجلۍ سره واده کړې ، نو که ماته د هغه نجلۍ او دهغې د زامنو نومونه ووايې چې زما د زوې څخه ترې پيدا شوی دي .
ريونا په ډيره نرمه او ټيټه ژبه وويل :
«اې زما مورجانې ! دکومې نجلۍ سره چې ستا زوې مجدالدين واده کړې و ، هغه ډيره زياته ښايسته ، ډيره د نيک خوی او ښه اخلاقو خاونده ، دډيرې درندې او شريفې کورنۍ پورې اړه لرې . دهغې نوم «نريوس » دې . مجدالدين د نريوس سره نژدې پنځه کاله په وا واده کړې . ددې واده په پايلو کې د هغوې دوه زامن پيدا شول . دمشر نوم يې «کندان » دې چې اوس څلور کلن شوې دې . دکوچنی نوم يې «خيسار» دې او فکر کوم چې هغه به اوس د دوو کالو وې .
په حقيقت کې نريوس زمونږ د کلي د يوې ګُنډې لور ده ، ستا زوې مجدالدين ته شک پيدا شوې و چې دهغه د ورور او پلار وژونکې او قاتلان زمونږ د کلي اوسيدونکي دي ، په دې خاطر به هغه ډير وخت زمونږ دکلي په لور تګ را تګ کاوه ، دهمدې تګ را تګ په وخت کې هغه د نريوس او دهغې د مور سره ليدنه وشوه ، د نريوس د مور نوم « پربيسا» دې ، ډيره د نيکو اخلاقو خاونده ښځه ده . ددغو ليدنو کتنو پايلې دا شوې چې مجدالدين د نريوس د مور ډير خوښ شو . او په دې ترتيب يې ورسره د نريو س د واده پروګرام جوړ کړ.
دسلطان مراد تر څنګ د جنګيدو وروسته ، کله چې ستا زوې مجدالدين فارغ شو نو بيا هغه د خپلې ښځې سره يو ځاې همدلته زمونږ په کلي اوسيده ، او ډير وخت به د قاتلانو په لټون پسې ووت ، هغه ته دا شک هم و چې زما کورنۍ هم د قاتلانو په ډله کې شامله ده . زه نه غواړم چې دلته خپل پاکوالي بيان کړم چې زما کورنۍ په دې قتل کې شامله ده او که نه . او ما له تاسره وعده کړې ده چې زه به بيرته د ستنيدو سره سم په دې هکله تحقيق کوم . که چيرې زما کورنۍ هم ستا د زوې او ميړه په وژلو کې ګډون درلود نو زه به دهغې په هکله هم تاسې ته ووايم . بيا هم زه دا خبره منم چې ستا د زوې مجدالدين قاتلين زما د کاکا زامن دي . زه به دهغوې نومونه هم تاسې ته درکړم . او هڅه به وکړم چې کله چې علي پاشا دهغوې د لټون پسې وځي نو دهغوې د ځاې ځيګې په هکله به هم ورته پوره پوره معلومات ورکړم . که چيرې په دې لړ کې علي پاشا ته زما د نورې مرستې اړتيا وي نو هغه به هم ترې و نه سپموم . زه ستاسو د اخلاقو او کرچار څخه ډيره اغيزمنه شوې يم . زه په دې ډيره هم خفه يم چې ستا د ميړه د ښهادت وروسته تا هوډ کړې چې ته به تر هغې پنې پينوته را نه وړې تر څو چې د هغې قاتلينو سزا نه وی ليدلې او په دې لاره کې دا دې ستا دوه زامن هم په ښهادت ور رسيدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې ځایه ریونا خبرې وکړې او نوره چپ پاته شوه ، څه فکر یې وکړ، اوبیا یې خپلې خبرې پیل کړې .
« اې مورجاني !تا دخپل زوې مجدالدین د ښځې نریوس او دهغې د زامنو په هکله و پوښتل . نو ما چې دهغوې په اړه څومره پوهه درلوده تاسې ته مې وویله ، اوس به زه تاته د خپل ځان په اړوند هم خبره وکړ م. تاسې ټول پوهیږئ چې زما نوم ریونا دی . زه د خپل مور اوپلار یواځنۍ لور یم . په کوم کلي کې چې مونږ اوسیږو زما پلار دهمغې کلي سردار دی ، زما دپلار نوم رستاک دی ، او د مور نوم مې کیتهنا دې ، دواړه ژوندی دي او له ماسره ډېره زیاته مینه کوي ، کله چې هغوې ته ډاګیزه شي چې زه چا تښتولې یم ، نو په هغوې به ژوند کول ستونزمن شي ، په دې وخت کې ، اې مورجاني ! ، له تانه غواړم چې که چیرې ته ماته اجازه راکړې چې بیرته ولاړه شم نوهیله ده چې ما ژر تر ژره له چا سره یوځاې و لیږې تر څو زما د مور او پلار په غم کې کمښت راشي . خو یو څه باید ووایم چې ما له دې ځایه د کوم پردې سره مه استوه ، ما دخپل زوې علي پاشا سره یو ځاې ولیږه .
زه ستا په زوې باندې باور کولې شم ، ځکه چې ما ستاسې اخلاق او کړچار له نژدې وکوت ، اوتر څنګ به یې زه د علي پاشا سره د هغه د پلار او دواړو ورونو د قاتلینو په لټون کې بسپنه وکړم . زه هیله لرم چې علي پاشا به په خپل دغه مقصد کې بریالې شي .»
د قیرات د ځواب دمخه علي پاشا په خبرو پیل وکړ . هغه ریونا ته مخ کړ او ورته یې وویل :
«ریونا واوره !ستا وړاندیز په پله عملي بڼه نیسي ، زه همدا اوس د سلطان مراد ددرباره راغلې یم . هغه ماته یو عسکرې دنده راسپارلې ده ، خبره داده چې د بلغاریه حکمران سیسمان د خپلو دواړو شهزادګانو هریو سائرکن او ایکسلا سره یو ځاې د مسلمانانو په سیمو شپنې یرغل کوي . هغوې کله په رومیلیا باندې او کله هم په مقدونیه باندې را اوړي ، سلطان زما د قوماندې لاندې یو لښکر تیار کړې او ماته یې حکم کړې چې زه په یوه اونی کې دننه ددې ځایه څخه د بلغاریې د حکمران سیسمان د سرکوبۍ او ځپلو په خاطر ولاړ شم . زما سره به څه لاربښوونکې او مشران هم وي ، هغوې به له ماسره ددې فوځې دندې په تر سره کولو کې بسپنه کوي . زه نژدې یوه اونۍ وروسته له دې ځایه د خپل لښکر سره یو ځاې هغه لورې ته روانیږم . ته به هم زما سره په دې سفر کې ملګرې اوسې . زه به تا تر ستاسې تر کوره پورې و رسوم او دهغې وروسته به د خپلې دندې د اجرا په خاطر و خوزیږم .
دعلي پاشا په دې ځواب باندې ریونا خورا خوشحاله او ډاډمنه شوه . هغې غوښتل چې علي پاشا ته څه ووایې خو په همدې وخت کې قیرات په خبرو پیل وکړ .
علي پاشا زویه ! ددې نه دا په ډاګه شوه چې سلطان ته په خپل لښکر کې دتل له پاره شامل کړې یې . خو ګوره زما زویه ! زه ډیره زیاته خوشحاله یم چې سلطان مراد ته د خپل لښکر سالار ټاکلې یې او تر څنګ یې درته د پاشا لقب هم درکړې دې .
مورجاني ! ستا خبره سهي ده ، ما ته سلطان د پاشا لقب هم راکړې او تر څنګ یې زه د خپل لښکر سالار هم ټاکلې یم ، هغه ماته دا هم ډاګیزه کړې چې کومه دنده چې ماته را سپارل کیږي که چیرې زه د هغې دندې په اجرا کې بریالې شوم نو دهغه په وړاندې باندې زما حیثیت د ولي عهدبایزید نه وروسته تر ټولو ستر وي .
قیرات د علي پاشا ددې خبرو په اوریدو سره مسکۍ شوه ،هغه ددغې خبر په اوریدو سره ډیره زیاته خوښمنه وه . بیا هغه را پورته شوه او د ریونا په لور یې و کتل او ویې ویل :
« ریونا لورجاني !ته همدلته کینه ، زه او سریان به ډوډۍ را وړو ، او بیا به یې ټول په ګډه وخورو.» ریونا سمدستې له خپله ځایه پورته شوه د قیرات په اوږو یې لاس کیښود ، او بیرته یې په خپل ځاې کنیوله ، اوبیا یې په ډیره مینه قیرات ته وویل : اې مورجاني ! ته په خپل ځاې کینه ، اوس ستا یوه نه دوه لونې دي ، زه اوسریان ځو او دواړه به میلمستون ته ډوډۍ راوړو ، بیا به یې ټول په ګډه وخورو . » د ریونا ددې خبرې په اوریدو سره قیرات ډیره خوشحاله شوه ، بیا ریونا اوسریان دواړه را ووتلې ، په ډیره بیړه یې کار پیل کړ، دخوراک جښاک لوښې یې میلمستون ته راوړل او بیا څلور واړه کیناستل او یو ځاې یې ماښامې وخوړ .
پرلپسې لري....

دقریب الرحمن سعید ژباړه

**عثماني امپراطوري او پر خلاف يي د صليبيانو سازشونه (۳)**

مکمل غیر سیاسي : یوتاریخي په زړه پورې ناول . دعثماني امپراطورۍ او صلیبي متحدې اروپا ترمنځ کشمکش په دې تاریخي ناول ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره یو شانته والې ولري . خو ټول کرچار مثبت دې او د لیکوال خپل آند څرګندوي . اوس تاسې ددې تاریخي ناول دریمه برخه لولئ:

(۳) *****۴

علي پاشا به اوس هره ورځ د فوځ مرکز ته ورته . هلته به یې ډیر وخت د بایزید سره او د خپل هغه لښکر په پیژندګلوۍ کې تیراوه چې
چې مور یې په بستر باندې پرته ده او د درد او تکلیف څخه یې شکایت کاوه ، د سختې یخنۍ او توفاني هواو د لړیدو په اساس دهغې لوځ
کتل چې ریونا او سریان دواړه په لمڅي د پرتې قیرات په سر ولاړ ې دي ، د ریونا په لاسو کې د وازګې ډک لوښې و ، په داسې حال کې
د اور سکروټې را خیستې وې دهغې څخه واخست ، دواړه لوښې یې پر ځمکه کیښودل ، اوبیا یې د ریونا او سریان په لور وکتل او ویې
خویندو تیار کړیده ، اوس مونږ درې واړو ستا انتظار کاوه .›› په دې خبره ریونا اوسریان دواړه تر څنګ پروت لمڅي باندې کیناستې .
، دخپلې مور په دغه حال باندې دعلي د سترګو څخه اوښکې را رواني شوې ، د ریونا تر څنګ ناستې سریان هم دخپلې مور او وورور پ
په سترګو کې دغه اوښکو زما زړه سوري کړ ، زویه ! په دغه ناوړه حالاتو کې الله ماته یواځې ته ستره پانګه ګرځولې یې .، زویه ! که
تر هغې چې دهغوې د قاتلینو څخه بدله وانه خستل شي ،نو زما په مخ کې ددرد نښې او په سترګو کې د اوښکو ګوهر به په نظر درځي .
سره دا وعده کوم چې زه به تا هسې بې اسرې پرینږدم ، درنې مورجانې ! زه به د خپلو دښمنانو د لټون پسې وځم ، دهغوې په سترګو ک
قاتلین ، دا دمنافقت وارثین که په غارونو او سوړو کې ور ننوځي او یا په دښتو اوسهرا و کې خپاره شي بیا به هم زه رڼا په لاس دهغوې
کړي . دخپل زوې په خبرو او هوډ سره قیرات ډیره خوشحاله شوه ، هغې خپل تکلیف ، خفګان او اذیب ټول له یاده وویستل ، بیا یې په
؟ دخپلې مور دخبرو په اوریدو سره علي پاشا لږ څه ځان سنبال کړ. او بیا یې د خندا نه په ډکه خوله خپلې مور قیرات ته وویل : « مور
ډاډمنه او بې اندیښنې اوسی، زما په نه موجودیت کې نه یواځې برهان الدین بلکه په پله سلطان او دهغه زوې بایزید له اړخه به هم ستاسو
او دهغې د پوښتنو ځوابونه مې ورکول . هغې له ماڅخه پوښتل چې ایا زمونږ د کور مالي لاسته راوړنه یواځې همدا شل پنځه ویشت وز
زخمونه را پیدا شو چې له ما څخه یې د ریونا سره خبرې کول هیر کړل . په همدې وخت کې ته هم را ننو تې . ددې خبرو کولو وروست
ځان تیار کړه ، چې ته هم د هغه سره یوځاې هغه لورې ته وخوزیږې . خو ګوره لورې ! ما تاته تر اوسه پورې دا نه دې ویلي او یواځې
په دې خبره باندې ریونا سمدستې ځواب ورکړ او نیوکه یې پرې وکړه : « اې زما مورجانې! تا زه په خپل کور کې د یوې درنې میلمنې
هیڅکله هم له یاده و نه باسم . زه به تل په دې غه کور کې دغه څو شپې په خپلې سینې کې یادې ساتم. ددې خبرو وروسته قیرات همت و
پورته شول ، د ډوډۍ لوښې یې کینوول ، په میلمستون کې یې ډوډۍ وخوړه ، او د ډوډۍ نه وروسته څلور واړو یو ځاې د ریونا او علي
موجود باندې خپلې وړانګې غوړولې وې اوکله چې ډوبیدو ته ور نژدې شو نو رڼا یې هم سوکه سوکه په کمیدو شوه . د شپې تورو تیارو
د علي پاشا تر شا دهغه معاونین، دهغه واړه سالاران ، او نور لارښوونکې را روان وو، او د ټولو شا ته هغه ځواکمن لښکر را ته چې د
کلي تا ته ښکاري ، نوم یې «تولک » دي ، او دا زما پلرنې کلې دي . د ریونا په دې خبره علي پاشا د خپل آس واګې را ښکودې او بیا یې
دښخولو حکم وکړه ، او ته له ماسره زما تر کوره پورې ولاړ ښه .›› د ریونا اواز د ډیرې مینې او جذبې څخه ډک و . خو علي پاشا دری
یې د ځوانۍ په دهلیز کې قدم اینښودې دې ، د نسوانیت نښې د هغې په مخ باندې راښکاریدې ، د ځنډ په دغه ګړیو کې ریونا هم د صبح ک
پورې نه ځې ؟ علي پاشا محسوس کړه چې د ریونا اواز ډیر متین ، او په خپل ځان د باور څخه ډک دې . ریونا تر لږ څه ځنډه پورې چپ
چې مونږ به تا هیڅکله هم د ضرور ت بندې نه کړو . ځکه چې مونږه د هوس او حرص بندګان نه یو ، او نه خلک ته ازار رسونکې یو
بیا مومې ، زه پوهیږم چې ته زما ددې غوښتنې په هکله په تذبذب کې پریوتې ، خو زه تا ته یقین درکوم چې که چیرې زما د کلي کوم کس
ریونا ! ته به زما څه ساتنه وکړې ، ته په خپله د ځوانۍ خوب او د ګلاب د شاخ په څیر نازکه یې . زه غواړم ته تنها خپلې خویلۍ ته ولاړ
هغوې ستا ساتنه وکړه او بیا یې ته بیرته په خوندې توګه تر دې ځایه را ورسولې ، ګوره ریونا ! زه د خپل لښکر سره مخته ځم ، او کوم
سامان چې زما مور تا ته زما د ورندار او دهغې دکوچنیانو له پاره درکړې هغه له ځانه سره یوسه ، هغه سامان او نقدو روپیو کڅوړه به
کلي په لور حتما را ګرځم. ریونا د علي پاشا د خبرو په منځ کې را و غورځیده او دهغې خبرې یې ورغوڅې کړې ، او په لړزیدلي اواز
غوښتونکي او دخپل ځان له پاره مخلص مني نو بیا به ته حتما له ما سره زما تر حویلۍ پورې زما د پاکوالي او بې ګناهي د ثبوت په خاط
زما دا غوښتنه به او زما دا ارزو به ټکر نه کړې . ریونا چپ شوه ، اوعلي پاشا تر یوه وخته پورې په فکر کې ډوب شو او سوچ یې کاو
میوه یې چې تخم و نه لرې ، زه ستا په وفا ، خلوص اونیت کې هیڅ شک نه لرم ، اوس نو که ته په خپله خبره اصرار کوې نو زه له تاس
ته یې وویل : « زما دوستانو ! خپل لښکر ته د لته د پړاو کولو حکم وکړئ ، د ریونا په نامه دغه نجلۍ چې د بروصې د ښاره له ما سره
به دهغوې سره هم یو ځل وینم ، په دې دوران کې د لښکر له پاره د غذا د تیارولو حکم هم ورکړئ ، له هغې وروسته به مونږ دوباره کو
ډیره خوشحالۍ سره په خپل آس سپره د علي پاشا د آس تر څنګ روانه وه ، خپل کلي ته ننوته او بیا د یوې ډیرې سترې حویلۍ تر
پاشا د ریونا ددې خبرې ځواب ورنکړ ، هغه هم د آسه ښکته شو او د دروازې تر شا و درید . کله چې په یوه وار ټک ټک سره دروازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نه ځایده ، مخته راغله او په ډېره بې صبرۍ سره یې ریونا په غېږ کې و نیوله ، بیا یې دهغې مخ ، تندې ، سترګې او ان تر شونډو پ
«کیتهنا »ده. زړې کیتهنا په پلټونکو سترګو سره دعلي پاشا په لور وکتل ، بیا یې مخ د حویلۍ دانګړ لورې ته کړ او په لوړ اواز یې غږ
نه پوهیده ، هغه هم را مخته شو او ریونا یې په غېږ کې و نیوله او ډېره مینه یې ورسره وکړه ، دهغه څخه د را جدا کیدو وروسته ریونا
ځوک دې ؟ د کومه ځایه راغلې ؟ زه ولې ددې سره دلته راغلې یم ؟ زه به ستاسې ددې ټولو بوښتنو ځواب دلړ. څه ارام او کیناستو وروس
همستا ده ، او ته له مونږ. ه څخه ددا ډول اجازې اخستلو اړتیا نه لرې . ریونا په خندا سره دعلي پاشا سره یو ځاې حویلۍ ته ور ننوته ، ع
د علي پاشا د مور ،خور او په پله د علي پاشا د ښه سلوک او ښیګڼې اوبیا دهغه ځایه دبیرته د را تللو په اړه تفصیلي خبرې وکړې . رست
وروسته رستاک د خپله ځایه پورته شو او دخپلې لور ریونا او ښځې کیتهنا په لور په کتلو سره یې وویل : راځئ چې د علي پاشا څنګ ت
ددې غوښتنې په اساس ریونا او مور یې دواړه له ځایه را پورته شوې ، بیا درې واړه دهغې خونې څخه را وواتل او د میلمستون په لور
حال کې چې ریونا د علي پاشا په دغه درنښت باندې په ډېر ویاړ سره کله علي پاشا او کله هم خپل پلار او مور ته کتل . درې واړه مخته
نه لرم . ریونا زما یوازنۍ لور ده ، دا زما لور هم ده او زوې مې هم دې . ریونا ماته او زما ښځې ته زمونږ. له ځانه هم درنه او ګرانه د
په دې وخت کې زه تاته زوې ووایم ،نو تاته خو به کوم اعتراض نه وي ؟ په ځواب کې علي پاشا په پوره ممنونیت سره رستاک ته ور م
سره ریونا ، رستاک ، او کیتهنا درې واړه خوشحاله شو ل، لږه شیبه وروسته رستاک د لږ. څه ساه اخستلو سره سم بیا په خبرو پیل وکړ
زما کشر ورور دې ، او دهغې د ټولو کشر زوې سره د ریونا کوژده شوې وه ، خو کیداې شي چې هغه د کومې غلبې انګیرنې په واسط
پاکوالي د بیانولو څخه زه معذور یم ، که چیرې هغوې ستا د پلار او ورونو په وژلو کې شریک وي نو یاد ساته چې زه به د هغوې پر خ
کور کې د اوو ورځو د تیرولو وروسته زما لور د خپل ځان ، ابرو ، عزت او عصمت سره خوندي بیرته زما کورته را ورسیده ، نو زم
زما زویه ! که څه هم زه او زما ښځه په دې خبر شوې وو چې زما لور په داسې حال کې چې زما وریرونو له ځانه سره دلته کلي ته بیر
مونږ. ته دا خبر هم را ورسید چې ریونا چا له ځانه سره و تښتوله ، خو دا زمونږه قسمت ښه وه چې دلته په کلي کې هیچا ته په دې هکله
ورځې په مونږ. تیریدې نو دهغې ویل خو شونې نه دي ، زه او ښځه به مې تل په دې غم کې ډوب ناست و ، شپه او ورځ په دغه سور او
چمن داستان دې ، زما د کفن دټوټه ټوټه کیدو او خپریدو څخه خوندي کړې دې . د ریونا په را تلو سره زه او زما ښځې ته چې ځومره خ
. زما زویه ! تا زمونږ. د بدقسمتۍ زنځیرونه غوڅ کړل ، زمونږ. د زړه په کتاب کې دې د ډیرو ښایسته ټکي ولیکل. علي پاشا زما زویه
د ابرو او عصمت سره یوځاې دکوره تللې وه ، نو په هماغه توګه تا هغه بیرته را ورسوله ، تا په دې هکله پر مونږ. ډیر احسان وکړ او م
دریونا په لور کتل ، کله چې د رستاک خبرې خلاصې شوې نوبیا علي پاشا هغه ته وکتل او ویې ویل : دروند رستاک صیب ! هغه څه چ
دروند رستاک صیب ! ته خو زما داسې ستاینه کوې لکه ما چې تا ته د کوم غره نه په ټوپ وهلو سره ستا د ژوند پانګه تا ته بیرته راستن
چې در یونا سره مونږ. د داسې سلوک په کولو سره مونږ. خپله یوه ستر دیني فریضه تر سره کړې ده ، په دې هکله مو کوم احسان په تاس
فرائضو په ترسره کولو کې شامل و ، بلکه زما دغه کار زما د مور د خوښۍ سبب هم و ، په دې خاطر ریونا شاید زما د مور ، زما د خ
اوعلي پاشا ته یې وویل: علي پاشا ! ته د کومې غلبې انګیرنې او یا کوم فریب ښکار کیږه مه . ما خپل پلار او خپلې مورته ستاسې کوم ب
کړې او بیا بیرته تر دې ځایه د سفر داستان ، ما پرته د کوم زیادت او کمښت دوې ته ویلې دې . په هر صورت هغه څه چې زما پلار وو
سهي او سلامته را ورسوي ، او بیا کور هم دومره لرې چې واټن یې دسلونو کیلومترو پورې رسیږي ، هغه څه چې زما پلار ستا په اړه
ریونا وویل چې ته د خپل لښکر سره دې لورې ته راغلې یې او ستا سلطان ، سلطان مراد، ته د بلغاریه دحکمران سیسمان او دهغې د زا
ددې دندې د تر سره کولو دمخه ، زه تا ته د خپل زوې په توګه ، دا وصیت کوم چې د سیسمان پر خلاف پر ډیر احتیاط ، ډیرې هوښیار
تر اوسه پورې دکوم لښکر قومندانې کړې ده ، هغې لورې ته د تللو څخه یواځې یوه اونۍ تر مخه سلطان مراد تاته دپاشا لقب درکړې ، ا
ته د زړه له کومې مبارکي وایم . دا یو داسې اعزاز دې چې هر ځوک یې خاوند کیدې نه شي . ریونا ما ته دا هم ویلي چې تا خپل لښکرت
کړم . د رستاک په دې وړاندیز علي پاشا ټکان وخوړ او ویې ویل : « نه ! دورندرستاک صیب ! زه دلته له تاسې سره ټوله شپه نه شم تی
دا خبر ورکول غواړم چې زه دداسې یوې دندې د ترسره کولو همت او جرأت لرم .» د ریونا مور کیتهنا تر اوسه پورې چپه خوله ناسته
صورت زمونږ. سره یو ځاې خورې .» د کیتهنا په دې وړاندیز علي پاشا غوښتل څه ووایې چې ریونا پرې را مخته شوه ، او ویې ویل :
ستا مجبوریت وي ځکه چې ته د خپل لښکر سره کوچ کونکې یې ، خو دماښام ډوډۍ به دې په هر صورت زمونږ. سره یو ځاې وي . ګو
غواړم . په هر حال زه له تاسې سره وعده کوم چې د ماښام ډوډۍ به همدلته له تاسې سره خورم او بیا به خپل لښکر ته ورځم ، علي پاش
خورم نوبیا دهغې وروسته زه سمدستې خپل لښکر ته ورځم ځکه چې زه باید د لښکر د کوچ کولو تیارې هم په پله وکړم . نو زه غواړ م
دکولو اړتیا هم نشته چې ووایې د نریوس تر کوره پورې زما لارښوونه کولې شې او که نه . زه په خپله تا د دنریوس تر کوره پورې رس
پاره څه سامان را استولې دې چې هغه هم له ځانه سره راوړم . بیا به د نریوس کره یو ځاې ولاړ شو . ددې خبرې سره سم ریونا د میلم
څنګه مې چې درته په وا ویلي و چې د علي پاشا مور د خپلې نګور ،دعلي پاشا د مشر ورور مجدالدین د کونډې له پاره څه سامان را اس
را ښکاره نه شي . د ریونا د خبرو په اوریدو سره علي پاشا په ژوره وخندل او ریونا ته یې مخ کړ او ویې ویل : ګوره ریونا ! زه ستا دد
دلته راشو . ددې سره یو ځاې علي پاشا دخپله ځایه پورته شو او د ریونا سره یو ځاې دحویلۍ څخه ووت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقریب الرحمن سعید ژباړه :

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانوسازشونه (۴)**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .
زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دې ؟

په دې تاريخي ناول کې ډيرې داسې پيښې مخته راځی چې زمونږ دهيواد د اوسني کړکيچن حال سره سر خوري ، همداراز په دې ناول کې د يو شميرکسانو نومونه يادشوي دي چې شونې به وي په تصادفي توګه ديو شمير وګړو د نومونو سره يو شانته والې ولري . خو ټول کړچار مثبت دې او د ليکوال خپل آند څرګندوي .
اوس تاسې ددې تاريخي ناول څلورمه برخه لولئ:

(۴)
پرلپسې ....******
اوس نو لمر نور پريوتې و . ټوله فضاد تيارو تورو لوخړو را نغاړلې وه ، علي پاشاد ريونا په لار ښوونه ديوه کور تر مخه و دريد ، ريونا دهغې دروازه و ټکوله ، د لږځنډ وروسته دروازه پرانستل شوه . يوه ځوانه ښځه د دروازې ترڅنګ ودريده ، د ريونا په کتلو سره يي پر مخ خوشحالي راڅرنګنده شوه ، خو کله يې چې سترګې په علي پاشا و نښتې نو لږ څه شا کړې شوه ، خو بيا يې هم علي پاشا له نظره و غورزاوه . دا ښځه تر اوسه پورې د خپلې ځوانۍ په جوش کې وه ،را مخته شوه او ريونا يي په غيږ کې و نيوله او دهغې تندي يې ښکل کړ او ورته يې وويل :
ريونا! مونږ خو اوريدلې و چې ته دخپل کاکا کور ته تللې يې ، ته بيرته کله را ستنه شوې يې ؟
ريونا ورته په ځواب کې وويل : اول خو مونږ پريږده چې دننه را شو دهغې وروسته به بيا تاته به تفصيل سره خبره وکړم .
په دې خبره هغه ښځه يوې لورې ته و دريده ، کله چې ريونا دعلي پاشا سره يو ځاې انګړ ته ور ننوت ، نو هغه ښځې دخپل انګړ دروازه بنده کړه ، د حويلۍ انګړ پوره پراخه و، چې دوه رڼاوې په کې رڼې وې . دغو رڼاو انګړ روښانه کړې و .
دانګړ نه په تيريدو سره دوې يوې خونې ته ور ننوتل ، هلته دوه کوچنيان او يوه زړه ښځه ناست وو ، خونې ته د ور ننوتو څخه د مخه هغه ښځه چې دروازه يې پرانستې وه د ريونا په غوږ کې د هغې څخه و پوښتل چې :
له تاسره دغه ځوان هلک څوک دې ؟ ګوره که ته يې بده و نه ګڼې او په کوم فريب ،انديښنې او دوکې کې و نه لويږې نو زه دا ويلې شم چې ددې ځوان شکل او څيره زما د مرحوم ميړه مجدالدين سره ورته ده . ګوره ريونا خورې ، ماته ژر ووايه چې دا ځوان څوک دې ؟
د نريوس په دغې بې صبرانه پوښتنو باندې ريونا تر يوه وخته پورې مسکۍ وه بيا يې په لوړ اواز وويلې ، چې اواز يې هلته په خونه کې ناستو کسانو ، دنريوس مور او دهغې دوه کوچنيانو ، هم واوريده . هغې وويلې :
نريوس خورې ! ستا ګمان سهي دې دغه ځوان چې له ماسره دلته راغلې دې دهغې شکل او څيره په رښتيا هم ستا د خاوند مجدالدين سره يو شان ده ، دا په دې خاطر چې نوموړې د مجدالدين کوچنې ورور ، علي پاشا ، دې .
ريونا ددې څخه اخوا نور څه و نه شو ويلې ، ځکه چې دهغې ددې خبرې سره سم نريوس منډه کړه او دعلي پاشا سره يې روغ بړ وکړ او دهغې تندي يې ښکل کړ . دهغې وروسته هيڅوک نه پوهيږی چې څه وشول چې دهغې زړه ډک شو اودعلي پاشا په ولې يې سر کيښود او دکوچنيانو په څير يې سلګۍ وهلې او په زار وقطار سره يې ژړل .
څنګه چې د ريونا خبرې هلته په خونې کې ناستوکسانو هريو پربيسا، کندام اوخيسار هم اوريدلې وې ،نو په دې اساس ، کله چې نريوس علي پاشا په خپله غيږ کې ونيواوپه سلګيو وهلو ي پيل وکړ نو دهغې مور پربيسا او د هغې کوچنيانو کندام او خيسار هم په ژړا پيل وکړ . ريونا هم ددې حال په کتلو سره د اغيز لاندې راغله ، هغه مخته راغله او علي پاشا او نريوس يې يو له بله سره بيل کړل ، هغې وکتل چې لکه څنګه چې نريوس په ډکه خوله ژاړي په همدې توګه دعلي پاشا د سترګو څخه هم د اوښکو سيلاب روان دې .
نريوس اوعلي پاشا دواړه ورندار او ليور تر ډيره وخته پورې د يو بل مخته ولاړ و او سترګې يې وچولې ، بيا نريوس په ډيره مينه او محبت دعلي پاشا لاس و نيو او دهغې خونې په لور يې يوړ چيرې چې يې مور او کوچنيان ناست و، هلته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپلې مور پربیسا ته مخ و دراوه ، خپل ځان یې سنبال کړ او مور ته یې وویل :
اې مور جانې ! دا ځوان ووینه ، دا هغه علي پاشا دې چې زما میړه به یې زمونږ ته مخ تل ډیره ستاینه کوله . دهغې په دې خبره زړه پربیسا پورته شوه لمړئ یې د علي پاشا په سر لاس راښکود دهغه تندې یې ښکل کړ او دخپله ځانه سره یې کیناوه .
خو علي پاشا هلته کینه ناست ، لمړئ هغه د کندام په لور ورغې چې مشر وراره یې و . هغه ته یې غاړه ورکړه او ښه مینه یې ورسره وکړه . او وروسته یې خیسار سره هم همدا ډول مینه وکړه . بیا یې دواړه په غیږه کې کښېنول ، او د زړې پربیسا تر څنګ کیناست ، نریوس او ریونا دهغوې تر مخ کیناستل . بیا پربیسا په خبرو پیل وکړ ، هغې علي پاشا ته وویل :
« علي پاشا ! ستا ورور مجدالدین یو ډیر عجیب او ځانګړی انسان و ، په هغو حالاتو کې چې هغه زما د لور سره لیدنه وکړه هغه اوږده قصه ده . کیداې شي ریونا تاسې ته دا خبره کړې وي او که نه یې ویلې نو زما لور نریوس به تاته په تفصیل سره ووایي . هغه به تل زمونږ سره ښسینه کوله ، په دې ترتیب زمونږ دهغه سره لیدنه کتنه کیدله ، په همدې جریان کې نریوس او مجدالدین یو بل سره خوښ کړل ، او ددوې تر منځ واده وشو . په جنګوو کې دبرخې اخیستو وروسته به هغه همدلته ډیر ته را ته . ځکه چې هغه به ډیر وخت د خپل پلار او ورور د وژونکو پسې ګرځیده ، بیا ډیره بده پیښه منځته راغله ، هغو وژونکو د مجدالدین کار هم پاې ته ورساوه ،زما د لور په ځولۍ کې کونډتون و او دهغې دکوچنیانو د سر سیورې له منځه ولاړ او هغه دواړه هم یتیمان شول .
د زړې پربیسا خبرو علي پاشا ویلې کړ. هغه به بیا بیا د کندام او خیسار دواړو په سر لاس راښکود او ښکلول به یې ، بیا یې پربیسا ته وکتل او ویې ویل :
محترمې مشرې ! داسې خبرې مه کوه ، کندام اوخیسار یتیمان شوي نه دي ، زه د هغوې کاکا دهغوې د خدمت له پاره ژوندې او سلامت یم . زما مور ، زما خور ستاسې له پاره څه شیان را استولي هغه به ریونا تاسې ته تسلیم کړې .
ددې خبرې سره سم ریونا هغه کڅوړه پرانسته چې له ځانه سره یې راوړې وه . هغې هغه ټول کالي را وسپړل، څپاره یې کړل او هغوې ته یې ور وښوول ، بیا علي پاشا د خپل جیب نه د نغدو پیسو خلطه را وویسته ، دخپله ځایه را پورته شو ، کندام اوخیسار دواړه یې په لمځي کینول ، د نغدو پیسو کڅوړه یې د نریوس په غیږ کې کیښوده اوبیا یې هغې ته وویل :
نریوس خورې ! دا دنغدو پیسو خلطه له ځانه سره و ساته ، زه پو هیږم چې زما دورورااو ستا دمیړه مجدالدین د مړینې وروسته ستا سو د خوراک څښاک له پاره کومه ذریعه نه شته ، دا نغدې پیسې ما له کوره تاسې ته راوړې ، دا زما مور ستاسې له پاره راکړې . زه هیله لرم چې په راتلونکې وخت کې به زه د خپلې خور نریوس او دخپل ورور د دواړو زامنو په ښه ډول خدمت وکړای شم .
علي پاشا د لږ څه ځنډ وروسته بیرته چپ پاته شو ، او بیا وروسته یې یو ځل بیا اواز واوریدل شو .
نریوس خورې ! ایا زه له تا دا پوښتلې شم چې په دې کلي کې ستاسې د خوراک څښاک بله کومه ذریعه هم شته ؟
دهغه ددې خبرې په ځواب کې دنریوس مور پربیسا وویل :
علي پاشا زویه ! په دې کلي کې زه او زما لور بلکل بې اسرې نه یو که څه هم ډیر وخت و شو چې زما میړه مړ شوې خو دلته په کلي کې زمونږ یو ټوټه زمکه شته چې هغه مونږ د نریوس د پلار یو پیژندګلوې ته په کښت ورکړې ، نیمایې فصل هغه اخلي او نیمایي مونږ ته راکوي ، دهغې څخه دومره څه تر لاسه کیږی چې د لږ څه کمښت زیادښت سره زمونږ دکال ګذاره پرې کیږي . ددې نه اخوا زه په دې هکله د شرم احساس نه کوم چې ووایم چې د ریونا پلار او دهغې مور ډیر وخت زمونږ سره لاس کړې او اوس یې هم کوی .
کله چې پربیسا چپ شوه ، نو علي پاشا په خبرو پیل وکړ.
« زما درنې او محترمې خورې،نریوس ! دهغې وخته چې د ریونا له خولې زما مور او خور خبر شوې دې چې زما ورور مجدالدین دلته له تاسره واده کړې او له تا څخه یې دوه کوچنیان هم پیدا شوې دې نو د همغې وخته را هیسې هغه ستا او ستا د کوچنیانو د کتلو له پاره بې قراره دي . ایا دا شونې ده چې کله ته د دواړو کوچنیانو سره یو ځاې بروصې ته ولاړه شې او هملته زما د مور او خور سره و اوسې .
د علي پاشا په دې پوښتنې باندې نریوس د لږ څه ځنډ له پاره په فکر کې ډوبه شوه او بیا یې علي پاشا ته وویل :
زما دورنده وروره علي پاشا! زما هلته په تللو او همهلته په اوسیدو باندې هیڅ ډول اعتراض نه شته . ځکه چې زما کوچنیان همستاسې دي ، خو زما د مور حالت ووینه ، دا اوس زړه ده ، دسترګو دید یې کم دې ، ډیر واټن سفر نه شي کولې ، خو بیا هم زما درونده وروره ! زه ژمنه کوم چې یوه نه یوه ورځ به زه خپله مور د ریونا په کور کې پریږدم او د بروصې ښار ته به ستاسې د خلکو د لیدلو له پاره درشم خو هلته به زما دتللو یو شرط وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه شرط خورجاني ! علي پاشا ټکان وخوړ او د نريوس په لور يې وکتل ، په ځواب کې نريوس په ډيرمتانت سره وويل :
زما درونده علي پاشا جانه ! شرط دادې چې کله چې زه بروصې ته ستاسې د خلکو د کتلو له پاره درځم نو تاسې به زما دواړه زامن له مانه نه ستنوئ .
په دې خبره علي پاشا په تيزو سترګو سره د نريوس په لور وکتل او ورته يې وويل .
مونږ به کندام اوخيسار ولې هلته له ځانه سره ايسارو ؟ دا دواړه خو ستا امانت دې ، دهغوې د پالنې او روزنې مسؤليت زه له همدا اوسه په خپل سر اخلم . دوې به له هم تاسره اوسيږي ، تر څو چې ځوانان شي او بيا همستا خدمت وکړي . ما خو په دې خاطر دا خبره کړې وه چې ما غوښتل چې ستا په فکر کې را ونه ګرځي چې د بروصې دښار ، چې ستا ميره د هغه ځاي اوسيدونکي و ، له تاسره کوم پيوند نه لري .
نريوس خورې ! مونږ هلته ډير ستر باغ لرو ، او دهغې څخه مونږ ته هر کال ډير څه تر لاسه کيږي . مونږ د ښې ډيرې زمکې خاوندان هم يو او دهغې څخه دومره عايد مونږ ته لاس ته راځي چې د ټول کال د خرڅولو سره سره يې بيا هم نه شو تمامولاې او ذخيره ترې کوو. ما هلته يوه وړه رمه هم ساتلې ده ، هغه مو د تجارت له پاره نه بلکه هغه وخت چې زما خور سريان پيدا شوې وه نو دهغې د شيدو له پاره زما مور دوه وزې اخيستې وې هغه وزې مونږ بيا و نه پلورلې ، دهمغوې څخه الله پاک نور بچيان پيدا کړل او دومره برکت يې په کې واچوو چې دهغوې کال په کال ډيربښت اوس دادې دهغوې شميره پنځه ويشتو ته رسولې ده، زه هر سهار دا کوچنۍ رمه دڅرلو له پاره د بروصې دغرو لمنې ته وړم، زما مور او خور ددې وزو سره ډيره زياته مينه او محبت کوي ، ځکه چې هغه ټولې زمونږ په کور کې پيدا شوې دې . مونږ و پاللې او را لويې مو کړې ، بيا داسې وخت راغې چې ما به هر سهار دا رمه دغرو لمنې ته وړله او د ماسپښين په وخت کې به زما مور او خور دواړه دهغې د ساتنې له پاره هلته راتلې او زه به د حرب و ضرب د تعليم له پاره مکتب ته تللم . د لته د راتلو څخه يوه اونۍ تر مخه ما خپل مکتب پاې ته ورسوو او په ډيره ښه درجه بريالي شوم . په همدې خاطر سلطان مراد را ته د پاشا لقب راکړ او زه يې د علي نه علي پاشا کړم . اوس نو سلطان مراد راته يو لښکر راکړ او د بلغاريه د حکمران سيسمان د ځپلو له پاره يې را و استولم ، هغه هره شپه د مسلمانانو په سيمو کې د ځپلو دوو زامنو ، ايکسلا او سائرکن سره يوځاې شپيني يرغلونه کوي ، او دبې ګناه انسانانو وينې تويوي ، دکوم لښکر سره چې زه دلته راغلي يم هغه همدلته ستاسې د کلي څخه لږ لرې پړاو کړې دې . او زه د لږ ځنډ وروسته ستاسې څخه رخصت اخلم او دخپل لښکر په لور ځم ځکه مونږ د شپې له خوا خپل منزل ته رسيدل غواړو .
د علي پاشا په دې خبرو باندې نريوس تر يوه وخته پورې ډيره غمجنه او په فکر کې ډوبه کيناسته ، اوبيا يې علي پاشا ته مخ کړ او ورته يې وويل :
«علي پاشا ، زما ډير دروند وروره ! ايا دا شونې نه ده چې ته لږ تر لږه دا شپه زمونږ ه سره تيره کړې اوبيا سهار وختي خپل لښکر ته ور وخوزيږې .
د نريوس ددې مړاوې غوښتنې په مقابل کې علي پاشا په ډيره معذرت کونکې ژبه وويل چې :
« درنې خورې ، نريوس ! ستا وينا سهي ده ، خو دې کلي ته د راتلو تر مخه ما خپلو وړو سالارانو ته دا ويلي دي چې هغوې دې د لښکر د خوراک ښښاک انتظام وکړي اوکله چې شپه په ښه شي نو دخپل منزل په لور به خوزيږو. په دې خاطر خورې! زه دلته تم کيدې نه شم . لښکر ته ورځم ، د لږ وخت وروسته به لښکر د خوراک ښښاک وروسته څه ارام هم کړې وي ، بيا نو زه د خپل لښکر سره يو ځاې د خپل منزل په لور روانيږم . درنې خورې نريوس ! سلطان مراد ماته د پاشا لقب راکړې دې او ددې کار په سپارلو کې يې پر ما ډير زيات باور او اعتماد کړې دې . زه به ددې دندې په تر سره کولو کې دخپل ټول توان په اندازه هڅه کوم . تر څو زه دا ثابته کړم چې د پاشا کوم لقب چې سلطان ماته راکړې زه دهغې په معيار باندې پوره پوره دکيوتو وړ يم . کوم کار چې سلطان ماته راسپارلې زه دهغې د ترسره کولو اهليت او وړتيا په ځان کې وينم . بس ددې ځايه به زما دکوچ په وخت کې له تاسو څخه هيله دا وي ، چې زما څخه وروسته ، زما خورې ! ، ته او دغه دواړه کوچنيان او ستا مور زما له پاره لاس په دعا پورته کړئ .
او ګوره نريوس خورې ! که چيرې ته د ځينو مجبوريتونو له مخې له ماسره ژر د بروصې ښار ته نه شې تللاې نو کله چې هم ماته وخت په لاس راشي نو زه به خپله مور او خور دواړه دلته راوړم ځکه چې هغوې دواړه له تا او ستا د کوچنيانو سره د کتلو له پاره ډيرې زياتې ناقراره دي .
علي پاشا ، زما وروره ! که چيرې ته مور او خور دواړه دلته راوړې نو داسې و ګڼه چې تا پر ما ډير زيات احسان وکړ .داسې احسان چې زه به يې په ټول ژوند کې له ياده و نه باسم . زما وروره ! که چيرې دواړه دلته را تلاې شي نو زه به داسې وګڼم چې د نړۍ ټولې خوشحالۍ ، ټول راحتونه ، زما په برخه شوي دي . نريوس دا جملې په ډيره زياته خوښۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خولي را ويستلي .
بيا نو په وا تر دي چي علي پاشا د نريوس د خبرو په ځواب کي څه ووايي نريوس يوځل بيا په خبرو پيل وکړ .
علي پاشا ! زما درونده وروره ! که چيري ته د لته زمونږ سره دشپې نه شې تم کيدې ، نو لږ ځنډ وکړه زه به تاته ماښامي تيار کړم . ډوډۍ وخوره بيا ولاړ ښه . ريونا به هم همدلته ډوډۍ وخوري . زه به تاته د لاري له پاره هم څه تيار کړم . خو ګوره وروره ! تر اوسه زما په ذهن کې يو ه پوښتنه اوړي را اوړی ، چي ستا له اړخه به دځواب وروسته ډاډمنه شم او په خپل کار پسي به ولاړه شم .
علي پاشا د نريوس په دې خبره باندې تر لږ څه وخته پورې هغې ته په ډير غور سره وکتل او ورته يې وويل چي : خورې ! ووايه ته څه پوښتنه کول غواړې ؟
نريوس لمړۍ ريونا ته او بيا يې علي پاشا ته وکتل او بيا يې په ناست اواز باندې وپوښتل:
« تاسې دواړه يو بل د څه وخته او څه ډول پيژنئ ؟
دنريوس ددې پوښتنې سره سم د ريونا په څيرې کې د خوښۍ ګونځې را ښکاره شوې بيا يې په ډيره پټه ټوګه نريوس ته په وينا کې وويل :
نريوس خورې !که چيرې ته چاته و نه وايې نو زه به درته ووايم چي علي پاشا ما څه ډول پيژني ، زه دهغې سره څنګه مخامخ شوم ، دا يو راز دې ، ژمنه به کوې چي دا راز به همداسې راز پاته کيږی .
په ځواب کې نريوس هم په هماغسې ناست اواز او په رازلرونکې توګه وويل چي:
«ته ووايه زه تاته ډاډ درکوم چي دا راز به همداسې راز پاته شي ».
دنريوس د ډاډ وروسته ريونا په ډيره پټه توګه ، ددې ځايه دخپل ځان د پورته کولو ، دبروصې ښار ته د ور رسولو ، او هلته په بروصه کې دعلي پاشا په کور کې يوه اونۍ دپاته کيدو او بيا د علي پاشا سره يو ځاې دخپل کلي په لور تولو پيښنه په تفصيل سره وويله .
د ريونا په دې خبرو سره نريوس ډيره په فکر کې ډوبه شو او بيا يې وويل :
ريونا ! ستا ددې خبرو څخه داسې را په ډاګه کيږی چي زما خاوند مجد الدين ستا د کاکا په زامنو باندې دخپل پلار او ورور په وژلو کې د لاس د درلودلو په اړه شکمن و . خو هغه هيڅکله هم دا خبره زما تر مخه نه ده ياده کړې ، اوبيا په کومه ورځ چي نبنته وشوه او دهغې په پايلو کې هغه ومړ . نو ماته دا څرګنده نه شوه چي دا نبنته ستا د کاکا او دهغې د زامنو سره وه ، دهغې پيژندونکو او ملګرو چي دهغه لاش يې زمونږ ترکوره را وړستې و ، هم دا نه و ويلې چي هغوې ته نيولې يې او له ځانه سره بروصې ته وړې يې . بلې ! مونږ ته دا خبر ضرور را رسيدلې و چي ستا کاکا او هغه ځوان چي ستا کوژده ورسره شوې وه چا وژلې دي . بيا هم په دې کلی کی د چا غوږ ته هم دا خبره نه وه رسيدلې چي ته چا پورته کړې يې او د بروصې تر ښاره پورې يې رسولې يې . دکلي خلک همدومره پوهيدل چي ته دخپل کاکا کور ته تللې يې . ښه شو چي ددې راز څخه پرده پورته شو ه ، او هيچا ته دا و نه رسيده چي ته تر بروصې پورې رسيدلې يې .
تر دې ځايه د خبرو وروسته نريوس چپ شوه . په ځواب کې يې ريونا په خبرو پيل وکړ .
نريوس خورجانې ! هغه وخت چي ستا د خاوند او زما د کاکا او دهغې د زامنو تر منځ نبنته وشوه نو هغه وخت ستا د ميړه مجدالدين سره دوه کسه نور ملګرې هم و . او دا هماغه ځوانان و چي زه يې له دې ځايه تر بروصې پورې و رسولم . کله چي دا نبنته پاې ته ورسيده ، نو ستا د خاوند څو نور ملګرې هم د پيښې ځاې ته را ورسيدل . خو تر دې وخته پوې زما د کاکا دوه زامن په تيښتې بريالي شوې و . بيا ستا د ميړه مجدالدين څو ملګرو دهغه لاش ستاسې دکور لورې ته راوست . خو تر هغه وخته پورې چي مجدالدين ژوندې و نو هغه خپلو ملګرو ته ويلې و چي دهغه لاش ستاسې تر کوره پورې را ورسوي ، دهغه هغه دواړه ملګري چي په نبنته کې ورسره يو ځاې و همغوې زه د مجدالدين په حکم تر بروصې پورې ورسولم .
علي پاشا دغه ټولې خبرې په ډيره غمجنه توګه اوريدې . بيا هغه د خپله ځايه را پورته شو او وېې ويل : «نريوس خورې ! ايا داسې شوني نه ده چي ته همدا اوس ما دخپل ورور تر قبره پورې يوسې ؟ دهغې وروسته به زه د ريونا په کور کې د ماښامي د خوړلو وروسته د خپل لښکر په لورې ولاړ شم او بيا به د هغه ځايه کوچ وکړم .
نريوس سمدستې له خپله ځايه پورته شوه او دخپلې مور پربيسا په لور په کتلو سره يې په لوړ اواز وويل :
مورې ! زه علي پاشا تر هديرې پورې وړم . ډيره ژر بيرته را ګرځم .
دهغې د خبرې په اوريدو سره کندام اوخيسار هم له خپلو ځايو څخه را پورته شول او دنريوس سره يو ځاې يې هديرې ته د تللو ضد کاوه ، نريوس هغه دواړه هم له ځانه سره روان کړل ، بيا نو علي پاشا د نريوس دمورڅخه رخصت واخيست او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریونا ، کندام ، خیسار او نریوس سره یو ځای د حویلۍ څخه ووت .
د هدیرې په لور د تللو په وخت کې نریوس یو ناڅاپه علي پاشا ته مخ را واړوه او ورته یې وویل :
علي پاشا ! کله چې د لمرې ځل له پاره ستا ورور مجدالدین زمونږ کلی ته راغي نو هغه وخت زه او زما مور دواړو په کښت کې کار کاوه ، مجدالدین په یوه آس سپور و ، داسې معلومیده چې یو شمیر خلکو هغه ته دا ویلي و چې ستا دپلار او مشر ورور وژنکي قاتلان د همدې کلي اوسیدونکي دي . په دې خاطر هغه زمونږ د کلی شاوخوا ته چکر واهه ، هغه وخت چې ما او زما مور په پټي کې کار کاوه ، نو هغه زمونږ څنګ ته راغي او زمونږ څخه یې اوبه و غوښتې او ویې څکلې ، دهغې وروسته یې د کوم نژدې سراې په هکله و پوښتل ، ما ورته د سراې لاره و ښوده او چپ چاپ ولاړ .
بل ځل بیا هغه زمونږ د کلي په لور راغي ، کیداې شي چې هغه د قاتلانو په لټه کې ګرځیده ، په دې وخت کې ما د په ښو جوارو یوه ګیډۍ په سر ایښودې روانه وم . په دې ورځ زما مور دلته په پټي کې دکار کولو له پاره له ما سره نه وه راغلې ، زه یواځې وم . په لاره کې مې د مجدالدین سره لیدنه وشوه ، زما په لیدلو سره هغه سمدستي خپل آس و دراوه ، هغه ګیډۍ چې ما په سر ایښودې وه هغه یې له ما څخه واخسته او په خپل آس یې کیښوده ، او بیا یې زه د خپل کور تر څنګ پریښووم دا د هغه زما او زما د مور سره دویمه لیدنه وه. دهغې عادات او کړچار زما د مور ډیر زیات خوښ شول .
بیا به هغه دلته زمونږ تر کوره کله کله ته راته . په دغه تګ راتګ کې یواځې مانه بلکه هغه هم زه خوښه کړم . کله چې زما مور د دې خوښې څخه خبره شوه نو هغې زمونږ ددواړو تر منځ واده وکړ . په دې ترتیب مونږ دواړه ،ستا ورور مجدالدین او زه ، یو دبل په ژوند کې سره ورګډ شو. بیا دې الله د هغو کور وران کړی چا چې مجدالدین له ماڅخه بیل کړې زما زړه ګواهي ورکوي چې هغوې به هیڅکله هم زمونږ د بدلي څخه خوندی پاته نه شي .
نریوس غلې شوه . علي پاشا د هغې د خبرو په وخت کې بلکل چپ چاب لکه د بُت په څیر په لار روان و . بیا د زړه اواز د شپې په دغه تیاره کې واوریدل شو چې ویل یې :
نریوس خورجاني ! مونږ مسلمانان په جنګ کې لکه د غره په څیر کلک او په محبت کې لکه د وریښمو په څیر نرم یو . زه تاته ډاډ درکوم چې زه ستا ورور علي پاشا به د خپلو قاتلانو پسې ګرځم . دا قاتلان چې هر څومره زورور هم وي زه به د هغوې څخه د خپل پلار او ورونو بدله خامخا اخلم او دهغوې په وینو به زمکه لمده وم .
ددې خبرې په ویلو سره علي پاشا چپ شو ځکه چې هغوې اوس هدیرې ته ور ننوتي وو. بیا نریوس د شپې په تیاره کې د یوه قبر تر څنګ و دریده ، او په هغه لورې په اشارې کولو سره یې علي پاشا ته وویل چې :
« دا ستا د ورور مجدالدین قبر دې .»
تر لږ څه وخته پورې علي پاشا د قبر تر څنګ و درید ، نریوس ، ریونا ، او دواړه کوچنیان هم هلته ولاړ و د ټولو د سترګو څخه د اوښکو سیلاب را روان و . بیا علي پاشا د قبر تر څنګ کیناست، تر یوه وخته پورې یې د قبر په خاورو لاس را ښکوده ، او ژړل یې ، بیا یې د فاتحې د سورت په لوستلو سره دعاو کړه او په ډیره قهرجنه توګه را پورته شو ، داسمان په لور یې وکتل ، او ویې ویل :
اې لایزال ربه ! اې لازوال ربه ! ته جمیل او اجمل یې ، ته مکمل او اکمل یې ، زه مسلمان یم ، یواځې ستا بندګي او ستا عبادت کونکې یم ، د اړتیا و په وخت کې یواځې همستا څخه بسپنه اومدد غواړم ، اې زما الله ! ته د کن فیکون ، او د لوح و قلم مالک یې ، همدا ته وارث یې ، نو اې الله ! ما ته توفیق را کړه چې زه د مرګ د تیزو سیلیو په څیر د خپلو دښمنانو پسې ولاړ شم دهغوې د ژوند دروازې ور و ټکوم . اې زما الله! ماته حوصله او عزم را کړه تر څو زه د خپلو دښمنانو دروازی ا ودیوالونه ددیمک چینچې خوړلي لرګیو اوبامو په څیر کړم . اې الله ! زماسره کومک وکړه چې زه د هغوې د زړونو په لوحو باندې د مرګ حروف و لیکم ، او په هغوې باندې د قهر لاټې اود هغوې له پاره اغزی لرونکې غړوندۍ و ګرځم .
تر دې ځایه علي پاشا خبرې وکړې او د لږ څه وقفې وروسته هغه چپ شو ، بیا وروسته یې یوځل بیا په قبرستان کې اواز پورته شو او په لوړ اواز یې وویل :
اې زما ربه ! زما مالکه ، ته کریم او رحیم یې ، ټول صفت او صمدیت همتا لره دې ،تا د عربو په صحرا کې د انسانیت محسن ، دصفا اومروا د نوراني وادیو کې سعې کونکو ، د احد په ډیرو مبارکو غرونو کې د کفارو سره د ټکر کونکو او د بدر په مقدس میدان کې ستا د وحدانیت په خاطر دځان ځارونکو په طفیل ، ما ته د خپل دښمن په مقابل کې بریا او کامراني را په برخه کړه .
ددعا د غوښتلو وروسته علي پاشا غلې شو ، بیا یې نریوس ته بیا بیا وکتل اوریونا ته یې وویل چې « راځه چې ځو » .
هغه دواړه چپ چاپ ، دهغوې سره یو ځای روان و ، په لاره کې یې نریوس ته مخ واړاوه ، او ورته یې وویل:
نریوس خورې ! زه به همدا نن شپه د خپل لښکر سره یو ځای ددې ځایه کوچ کوم . ته بیا په دې هکله اندیښنه و نه کړې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به دغه قاتلین هیڅکله هم خوندی پرې نه ږدم . ولو که هغوې د زمکې په تل کې هم پټ شوی وي . په دې لړ کې زه د ریونا ، د ریونا د پلار او مور هم ممنون یم ، ځکه چې هغوې هم د قاتلانو په لټون کې له ماسره د بسپنې کولو ژمنه کړې ، ګرانې خورې ! که چیرې کله هم زما په راتګ کې دلته څه ځنډون راشي ، یا زه په جنګ کې و نښلم ، او یا د قاتلانو په لټون کې دلته را نه شم . اوتاته د پیسو اړتیا وی نو پرته له ځنډه د ریونا د پلار څخه یې و غواړه . دخپلو اړتیا و په مطابق دهغوې څخه رقم واخله ، څومره رقم چې تاسې ترې واخست هغه به زه ورته بیرته اداء کړم . په دې لړ کې تاسې ته د اندیښنې کولو اړتیا نه شته .

د علي پاشا ددې خبرو په اوریدو سره نریوس ډیره خوشحاله شوه . بیا یې دهمدې خوشحالی په حال کې علي پاشا ته وکتل او ورته یې وویل :

« علي پاشا! داسې وخت ته به نوبت و نه رسیږي ، ګرانه وروره ! د پیسو هغه کڅوړه چې تا ماته راکړې په هغې کې دومره زیاتې پیسې دې چې هغه تر ډیره وخته پورې زمونږ له پاره بسنه کوي . زما وروره ! او س خوتا کوچنیان او کوچنیانو ته د خپل کاکا په څیر و کتلې ، اوس به دوې ډیر وخت ستا په اړه زما څخه پوښتنه کوي ، په دې خاطر زما التماس دې چې کله هم ته وخت پیدا کوي نو دلته ضرور راښه .

ګرانې خورې ! دا څنګه خبرې کوې ؟ که ته و نه وایې هم ، نو دا زما فرض دې چې دلته راشم . علي پاشا په ډیر فرا خه زړه دا خبرې کړې وې . بیا په تلو تلو کې هغوې کلې ته ور ننوتي و ، علي پاشا نریوس او دواړه کوچنیان تر کوره پورې یوړل ، او بیا د ریونا سره یو ځاې د هغوې کور ته روان شو .

د ریونا په کور کې د ورننوتلو سره سم ، علي پاشا ریونا ته مخ را واړاوه او ورته یې وویل :

« ریونا ! زه په میلمستون کې کینم ، ته به زما سره یوه مهربانی وکړې چې ماته به ډیره ژر ډوډۍ تیاره کړ ، ترڅو چې زه د خپل لښکر په لور ولاړ شم او د تللو له پاره ځان تیار کړم .

په ځواب کې د ریونا په مخ باندې د خوښې لیکې راښکاره شوې ،بیا هغه د حویلۍ بلې برخې ته ولاړه .

د لږ څه ځنډ وورسته ریونا را ستنه شوه ، دهغې سره د هغې پلار رستاک اومور کیتهنا هم ملګری و. ټولو یو ځاې په میلمستون کې د ډوډۍ خوړلو لوښې کیښوول ، څلورواړو یو ځاې ډوډۍ و خوړه ، دهغې نه وروسته یې د علي پاشا د وینا په اساس د هغه آس د اخور څخه را پرانیست ،

دشپې په تیاره کې رستاک ، کیتهنا او ریونا علي پاشا ته الوداع ووایه ، بیا علي پاشا په خپل آس باندې سپور شو او په ډیره بیړه یې آس د لښکر په لور و ځغلاوه .

لښکر ته درسیدو سره سم هغه لږ څه ارام وکړ . لښکریانو ته یې هم د ارام کولو وخت او فرصت ورکړ . بیا یې د خپل لښکر سره یو ځاې د منزل په لور حرکت وکړ.

پرلپسې لري ......

دقریب الرحمن سعید ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف یي د صلیبیانوسازشونه (۵)**

مکمل غیر سیاسي : یوتاریخي په زړه پورې ناول .

زمونږ دهیواد ګوډ یتمور څوک دې ؟

اوس تاسې ددې تاریخي ناول پنځمه برخه لولئ:

(۵)

پرلپسې *****۷...

علي پاشا لا تراوسه پورې د خپل لښکر سره یو ځاې د بلقان غرنیو سیمو ته رسیدونکې و چې ډیر یو بد خبر ورته ورسید .او هغه داچې سلطان مراد په یوګوسلاویه کې د بوسنیا یې سیمې د سوبه کولو او هلته د امن و امان د را وستلو په خاطر شل زره د ترکانو عسکرې لښکر ټاکلې و ،نو هغه وخت چې دغه لښکر هلته ځاې په ځاې شو نو هلته د بلغاریه له اړخه د پاڅون یا بغاوت کومه هیله نه تر سترګو کیده ، په دې خاطر سلطان مراد ډاډ من و چې شل زره لښکر به په هغو سیمو کې امن امان ټینګ کړاې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په همدې وخت کې د بلغاريي حکمران سيسمان بغاوت او سرکشي وکړه او په ځاې ځاې يې د مسلمانانو د وينې تويولو لړۍ پيل کړه . د بلغاريي حکمران سيسمان د بلغاريي نه اخوا بوسنيا ، البانيه ، دلاچيه ، هنګرى او پولينډ څخه هم صليبي رضا کار د خپله ځانه سره يو ځاې کړل او ډېر ستر لښکر يي تيار کړې و. هغه به د مسلمانانو په هر ځاې او هرې سيمي دشپې يرغلونه کول او دمسلمانانو وينې به يې تويولې. هغه سيمې چې مسلمانانو سوبه کړې وې هلته د مسلمانانو لښکر ځاې په ځاې شوې و . نود سيسمان د حکم لاندې د صليبيانو يو ستر متحد لښکر په بوسنيا کې په دغو پرتو ترک توکمو لښکرو باندې يرغل ور وست .

دا يرغل د شپې له اړخه شوې و او دا ډېره وژونکې حمله وه ، د ترک توکمو لښکر هيڅکله هم دداسې يو بريد هيله نه شوه کولاى . دصليبيانو په دغه ناڅاپې يرغل کې د ترکانو د لښکر نژدې څلورمه برخه له منځه ولاړل ، ژوندي پاته شوي عسکر دبوسنيا څخه په تيښته و تښتيدل خو هغوې په لاره کې بيرته د علي پاشا سره يو ځاې شول.

کله چې علي پاشا ته د هغوې د راتلو خبر ورسيد او دا خبر هم ورته تر لاسه شو چې د بلغاريي حکمران سيسمان د ډېرو زياتو هيوادو څخه يو ستر صليبي لښکر تيار کړې دې او دهمغې لښکر په بسپنه هغه په بوسنيا کې په پرتو ترک توکمو لښکرو باندې شپينى وينه تويونکې يرغل کړې چې په دې يرغل کې نژدې پنځه زره مسلمانان شهيدان شول دهغې وروسته د هغه وينه تويونکې اود قهره او غضب نه ډک خوزښت نور هم ګړندى شوې .

هغه ترک لښکر چې د بوسنيا څخه ماتې خوړلې وه اود علي پاشا د لښکر خواته راغلي و دهغوې شميره نژدې پنځلس زره کسانو ته رسيده . هغوې هم د علي پاشا په لښکر کې د صليبيانو څخه د انتقام او بدلې اخستولو په خاطر رايو ځاې شول. علي پاشا د بلقان څخه د دريني ددرې له لارې وا وخښت ، او په شوميلا نومې پراخه ډګر کې يې خپل لښکر ته د پړاو کولو حکم وکړ . اوس نود علي پاشا تر مخه د ترانوا په نوم د بلغاريه يو ستر ښار پروت و چې د ۱۱۸۶ څخه تر ۱۳۹۴ پورې د بلغاريه پايتخت هم و.

علي پاشا په دې خاطر کې د شوميلا په ډګر کې خپل لښکر ته پړاو ورکړ چې د بلغاريه د حکمران سيسمان دواړه زامنو سائرکن اوايکسلا کې د صليبيانو يوه ډېر ستر لښکر دعلي پاشا د مخنيوې له پاره هلته ديره کړې و . هغوې د شوميلا په پراخو ميدانو کې پړاو کړې و او کله چې علي پاشا دغه ميدانو ته ور ننوت ،نو سائرکن او ايکسلا دواړو په خپل لښکر کې د جنګ ډول و ډباوه ،

علي پاشا هم سمدستي دهغوې په مقابل کې جنګ ته تيار شو . د جنګ د حکم د ورکولو سره سم هغه خپل لښکر ته د پړاو امر کړې و . صليبيانو د علي پاشا د ماتې په خاطر خپل لښکر په دوو برخو وويشه ، يوه برخه يې د سائرکن په مشرۍ او بله برخه يې د ايکسلا په مشرۍ کې ورکړه . علي پاشا هم د خپل لښکر صفونه سهي کړل ، او د صليبيانو د مقابلې له پاره يې خپل فوځونه په دوو برخو وويشل، يوه برخه يې د خپل ځانه سره او بله برخه يې د خپل معاون تر مشرۍ لاندې ورکړه او هغه ته يې د جنګ ټوله لاره چاره و ښووله . د يرغل پيلامه تر هر څه دمخه د بلغاريي د حکمران سيسمان زامنو سائرکن او ايکسلا وکړه ، دا ځکه چې هغوې د څو مياشتو را هيسې د مسلمانانو د وينو په تويولو باندې مصروف و اوبيا يې په څو لنډو تيرو شو و ورځو کې په بوسنيا کې دمسلمانانو په لښکر يرغل کړې و او دهغوې پر خلاف يې پوره برې تر لاسه کړې و .

او نژدې پنځه زره ترک توکمه مسلمانان يې دشپې په تيارو کې له منځه وړي و . دهغو د همدغوکاميابيو په واسطه د سائرکن او ايکسلا دواړو حوصلې هم زياتې کلکې او لوړې شوې وې. اوکوم لښکر چې د هغوې تر امر لاندې يې جنګ کاوه هغوې هم د همدې حوصلو د لوړوالى په خاطر هر ډول ځان ځارنې ته تياروول .

خو دبله اړخه علي پاشا هم دښمن ته د نه زغميدونکې زخم ورکولو له پاره ځان تيار کړې و . که څه هم په وا له دې هغه ته د جنګ کولو تجربه هم نه وه وريه برخه شوې، خو هغه څه چې هغه د بروصې د ضرب و حرب په مکتب کې تر لاسه کړى و هغه د هغې له پاره تر ټولو لويه تجربه وه اوبيا د پاشا د لقب د اخستو نه وروسته هغه يوه اونى دخپل لښکر سره يو ځاې د جنګى امورو په بحث او مباحثه کې مصروف و او خبرې يې پرې کولې او هغوې ته يې خپل نظر او خپله تجربه وړاندې کوله ، هغه هم د هغه له پاره يو تجربه حسابيده ، ددې نه اخو د بوسنيا څخه را تښتيدلي هغو پنځه لس زرو عسکرو ، چې د شپې له اړخه پرې نا څاپې يرغل شوې و، هغوې هم د سائرکن او ايکسلانه د بدلې اخستلو سوګند پورته کړې و او تر يوه ځايه يې دجنګ تجربه هم درلوده ، ور سره مل و.

د جنګ په پيل کې د بلغاريه شهزادګانو هر يو سائرکن او ايکسلا د جنګ د ډول د ډبولو په اساس خپل متحده لښکر د زمکې د حشراتو ا ويا د باران په شان د را وريدلو چينجيو په څير را مخته کړ ، او بيا دواړه ورونو د خپل متحده لښکر سره يو ځاې د علي پاشا په لښکر باندې توپاني يرغل راوست .

علي پاشا هم په ځواب کې دخپل ځان په ښوولو کې ځنډ و نه کړ ، هغه پوهيده چې ددوډ لښکر د شميرې په مقابل کې ددښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لښکر شمیره ډېره زیاته ده، او په ځای ځای کې یې دشپینیو یرغلونو او وینوتویولو په واسطه حوصلې هم ډېرې پورته دې ، په دې خاطر هغه د سمدستي ځوابي یرغل په واسطه ، لکه د خیرو شر په جګړه کې د باطل حال خرابونکي اجل د لاربنود په څیر ، سیلابي حمله وکړه ، دعلي پاشا تر مشرۍ لاندې د مرګ په سترګو کې سترګې ننویستونکي ترکانو هم د ځانګړو او بې مثله مجاهدینو په څیر په دښمن باندې په پوره مستۍ سره یرغل وروست .
د اروپا ددواړو شهزادګانو دا فکر کاوه چې دوی به د ترانوا د ښار په پراخه میدانو کې د مسلمانانو سالار علي پاشا ته په بدترینه ماته ورکولو باندې بریمنده را ووځي ، خو اوس برعکس د هغوی دکمبختۍ او بربادۍ پیلامه شوې وه . په دې خاطر چې په همهغه لمړنۍ حمله کې علي پاشا دخپل نائب سره یوځای د هغوی د لښکر لمړنۍ کرښې ماتې کړې او په ډېره چټکۍ سره دهغوی حالت د خرابیدو په لور روان شو او علي پاشا هره لمحه ددښمن مخته لیکې یو په بل پسې له منځه وړلې . دهغې وروسته هغوی د دښمن وروستۍ کرښې هم یو په بل پسې په ډېره تیزۍ سره له منځه یوړې .
هغه وخت چې د جنګ پیلامه وشوه نو سائرکن او ورور یې ایکسلا دواړه به دویمه درجه لیکو کې ولاړ و . خو کله چې علی پاشا د لمړیو صفونو بیخ وویست نو په دې لیکو کې دایکسلا او سائرکن نائبین له منځه ولاړ ل ، خو کله چې علي پاشا د دویمې درجې د لیکو صفا کول پیل کړل نو سائرکن اوایکسلا د ویرې او خوف په حال کې د خپل لښکر منځنیو لیکو ته په شا شول . دلمړیو لیکو څخه منځنیو لیکو ته د هغوی تیښتې د هغوی په فوځ کې هم بدګماني را پیدا کړه ، او هغوی هم اوس د علي پاشا او د هغه د لښکر سره د ټکر څخه په ویره کې راغلي و ، علي پاشا هم دهمدې فرصت څخه ګټه پورته کړه او ددښمن د شمیر دکمښت له پاره یې پر هغوی ډېرې تیزې حملې پیل کړې .
اوس نو هره ګړۍ د سائرکن اوایکسلا له پاره حالات د زغم نه وتل ، ددې حالت په کتلو سره سائرکن اوایکسلا دواړو مشوره وکړه او دې پایلو ته ورسیدل ، چې که چیرې دوی د شومیلا په پراخه میدانونو کې د مسلمانانو پرخلاف جنګ ته دوام ورکړی نو مسلمانان به دهغوی لښکر ټول له یوه مخې له منځه یوسي ، دهمدې پایلو په اساس دواړو ورونو ماتې و منله ، و تښتیدل او د ترانوا په ښار کې یې د ځانونو د محصوررولو اراده وکړه .
ددې پریکړې سره سم دواړو ورونو پاته لښکر د جنګ څخه ستون کړ او دترانوا د ښار په لورې یې دتیښتې حکم ورکړ . خو د هغوی تیښته هم دهغوی له پاره دافتونو او مصیبتونو نه ډکه وه . ځکه چې علي پاشا د شاهین په څیر د هغوی پسې روان و او د شا له خوانه یې د تیښتې به حالت کې پر هغوی حملې کولې او دهغوی تښتیدلي عسکر یې لکه د توتانو دپاڼو په څیر په زمکه را پریستول .
هغه وخت چې سائرکن اوایکسلا دواړه و تښتیدل او د ترانوا په ښار کې ور ننوتل نو دهغوی پسې تلونکي علي پاشا هم د خپل لښکر سره هغه ښار ته ور ننوت . سائرکن اوایکسلا دواړو دا غلطي کړې وه چې په ښار کې یې دننه دخپل ځان پسې کوم ساتونکي او ملاتړي لښکر نه و پریښي ، هغوی ته دخپلي سوبې اوبرې دومره ډاډ و چې هغوی خپل ټول لښکر د شومیلا په میدانو کې صف ارا کړې و. په دې خاطر هغوی ته د ښار دننه تازه دم لښکر په لاس ور نغي ، نو په دې اساس علي پاشا دښار دننه کې د هغوی پر خلاف داسې وینه تویونکي جنګ وکړ چې دهغې په پایلو کې سائرکن اوایکسلا دواړه د یو څو ساتونکو سره د ښار د شا له لورې و تښتیدل .
علي پاشا د دې سوبې په خاطر الله ته په سجده شو او په ډېره عاجزۍ او انکسارۍ سره یې دا دعا ولوستله:
اې زما الله !د مشیت په دغه پیمانه کې ، دمکان نه تر لامکان پورې اعلي حاکمیت یواځې او یواځې ستا دې .اې زما الله ! همدا ته د ځواک او عظمت ، او لویې مالک او څښتن یې ، همدا ته ددې کائناتوواکمن او مطلق العنان یې ، اې الله ! یواځې ستا ذات د عزت او وقار خاوند دې .
زما مالکه ! همدا ته ځینې په بل کړل شوې اور کې ورا چوې او چاته بیا د طور په غره کې سکون اوامان ور پربرخه کوې . څوک پر صلیب باندې او بیا بل ته د حرا په غار کې پیغام نازلوې ، اې زما الله ! یوازې ته ددې ور یې چې د کلي او حرم په مسجدو کې ، په کلیساګانو او صومعو کې ، په هیکلونو او معبدونو کې یوازې ستا عبادت وشي . او یوازې له تا څخه بسپنه اوکومک و غوښتل شي ، زما الله ! زه علي پاشا د ژوندانه په دې طلسم کې د یوې نالوستي پاڼې په څیر نوم ورکې وم . زما الله ! د شومیلا په میدانو کې اوبیا د ترانوا به ښار کې تا ماته د ا بخت په برخه کړ ، اې زما الله ، دا ټول ستا له اړخه رحمت او اعجاز دې . نو ایې الله ! زه ستا شکر کونکې او ممنون یم چې تا ماته داسې ستره سوبه او فتحه را په برخه کړه .»
له دې وروسته علي پاشا را پورته شو ، د هر څه لمړی یې خپل لښکر ته د ترانوا په ښار کې د پړاو کولو حکم وکړ اوبیا یې دښارد نظم ونسق په جوړولو پیل وکړ.
لا تراوسه علي پاشا د ترانوا په ښار کې و چې د سلطان مراد جاسوس ، چې دهمدې له پاره یې دلته کار کاوه او هره ګړۍ او هره لمحمه یې د دښمن په کړو وړو سترګې خښې کړې وې ، علي پاشا ته خبر ورکړ چې د بلغاریه حکمران سیسمان په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو لوی لښکر سره دترانوا د ښار په لور را روان دی ، په داسي حال کي چي خپل داواړه زامن یې د نائیکوپولس د ښار په لور استولي دي تر څو هغوی د هغه ځایه تازه دم لښکر دمسلمانانو پر خلاف را ټول کړي او په دی توګه مسلمانان د خپلود لاسه تللو سیمو څخه بیرته په ویستلو مجبور کړی .
ددې خبر د اوریدو سره سم علي پاشا د ترانواد ښار څخه د خپل لښکر سره یو ځای کوچ وکړ . د خپل ځان ترمخه یې د جاسوسانو یو جال خپور کړ تر څو یې هغوی د بلغاریه دحکمران سیسمان د نقل وحرکت څخه خبر وساتي ، علي پاشا د خپل لښکر سره یو ځای د ترانوا دښار څخه نژدې پنځه میله لرې تللی و چې د سلطان مراد جاسوسانو هغه ته بیا خبر ورکړ چي د بلغاریه حکمران دخپل لښکر سره یو ځای د توپان په ځیر مخته را روان دی او اوس نژدې پنځه میله واټن ته را رسیدلی دی . هغو جاسوسانو علي پاشا ته دا هم وویل چي سیسمان به د خپل راتلو سره سم په پاشا باندې یرغل کوی تر څو علي پاشا ته دخپلو لیکو د جوړولو مهلت هم تر لاسه نه شی . او ددې پلان نه په ګټې اخستو سره علي پاشا او لښکر ته یې پوره پوره زیان ورسیږي . دغو جاسوسانو دا خبر هم راوړې و چې سیسمان دخپل لښکر صفونه لا د په وا څخه جوړ کړې او په سفر یې پیل کړې . د سلطان مراد د جاسوسانو دا خبر د پاشا له پاره ډیر ګټور ثابت شو . کله چې هغه ته د سیسمان د دې وړاندې راتګ په هکله معلومات وشو نو هغه هم د خپل لښکر لیکي سره را جوړې کړې ، د مخته تللو رفتار یې کم کړ تر څودلیکو تر تیب خراب نه شي .
علي پاشا به دخپل لښکر سره یواځي دوه میله مخته تللي و چې مخکې ورته د سیسمان لښکر دتوپان د تورور تیارو په ځیر تر سترګو شو . ددښمن د لښکر د کتلو سره سم علي پاشا خپل لښکر ته ددریدو حکم وکړ ، دهغوې صفونه یې منظم کړل ، تر څو د بلغاریې دپاشاه د لښکر یرغل تم کړی او بیا په خپله کار روایي وکړي .
د بله اړخه د بلغاریه پادشاه سیمسان د راتګ سره سم د علي پاشا په لښکر د هوا د ملخانو په ځیر را پریوت ، خو څرنګه چې علي پاشا ددې ترخه دشومیلا په میدانوکي دسیسمان دواړو زامنو ته نه هیریدونکې ماته ورکړې و ه او د هغوی څخه یې د بلغاریه ښار ترانوا هم نیولي و . نو په دې خاطر سیسمان د علي پاشا پرخلاف د په وا څخه ډیر په غصه او قهر ډګر ته راوتلي و. په دې خاطر یې د راتللو سره سم په علي پاشا باندې حمله وکړه . په حقیقت کې دهغه ددې کار څخه مقصد داو چې که په ناڅاپې توګه په علي پاشا باندې حمله وکړل شي اودهغه په مقابل کې خپل برې ډاډمن کړي نو په دې توګه به د خپلو زامنو د ماتې بدله واخستله شي.
خو دا د بلغاریه د حکمران سیسمان ځان غولونه وه ، ځکه چې د هغه د حملې د تم کولو له پاره علي پاشا له مخه تیارو. علي پاشا په ډیر جرأت او پوره تجربې او جنګي مهارت سره تر هر څه د مخه د سیسمان د لښکر حمله تم کړه او په دې تر تیب یې خپله دفاع ټینګه کړه ، او دهغې وروسته علي پاشا هم په خپل اصلي رنګ سره ډګر ته راغې .
هغه تر هر څه د مخه د برق په ځیر د زوال ورکوني او ښا کونکې ذات نوم واخست او دهغه (د تکبیر ) غږ ئې پورته کړ .
کله چې دهغه د تکبیر غږ په فضا کې زمزمې پیل کړې نو د هغه لښکر هم دتکبیر په اوازونو باندې ټوله دښته را ونغاړله او ددې غږ وروسته علي پاشا لکه د سمندر د ویرونوکو توپانو په ځیر په خپل دښمن باندې یرغل وروست .
ددواړو لښکرو د ټکر څخه دا سې احساسیده لکه کوم اتشفشان یا اورغورځوونکې غرونه چې دډیرجوش څخه دچاودیدو په حال کې وي .مرګ هرې لورې ته په نڅا و، د ژوند په قفس کې د مرګ سیورې چاودېدلي و . په تیارو او نوم ورکو وادیو کې وینې بیونکو افسانو سر را پورته کړې و . د خپلولیو پیوندونه یو له بله سره شلیدلي و ، او د جمود او سکوت دوره په یوې بحراني نوې دورې باندې بدله شوې وه.
دبلغاریه پادشاه سیسمان هم د علي پاشا په مقابل کې د ډیرو دریدو توان را نه وست ځکه علي پاشا په ډیره تیزۍ سره د سیسمان او دهغه د لښکر حالت د خزان وهلي ونې د راتویدونکو پاڼو په ځیر کړې و. د سیسمان بدقسمتې وه چې هغه هم د علي پاشا په لاسو دخندونکې ماتې سره مخ شو او تښتید. علي پاشا د نه تم کیدونکو توپانو په ځیر دهغوې پسې تر شاو لاړ او دهغې په لښکر یې د پرلپسې حملو په پایلو کې دهغوې شمیره را و غورځوله .
په هغه وخت کې چې د علي پاشا دا تعاقب په پوره زور و شور سره مخته روان و او د بلغاریه پادشاه سیسمان د خپل لښکر سره په منډو و ، نو یو ناڅاپه د سلطان مراد جاسوسان د کومې لورې څخه را څرګند شول ، اوعلي پاشا ته یې ددریدو اشاره وکړه . د اشارې سره سم علي پاشا خپل لښکر ته ددریدو حکم وکړ ، کله چې سیسمان وکتل چې دښمن یې تعاقب پرېښې دی نو د ارامۍ ساه یې واخیسته ، او د مخکې په ځیر یې په منډه منډه خپلو پناه ځایو ته ځان ورساوه .
د بله اړخه کله چې هغه جاسوسان علي پاشا ته نژدې راغې نو علي پاشا ترې سمدستې وپوښتل . دوستانو ! تاسې چې زه ودرولم او سیسمان مو را څخه خلاص کړ نو ایا ستاسې په دې کار کې زما له پاره څه سلامتي او غوره والي شته ؟ دهغې په دې خبره د راغلو مخبرانو څخه یوه یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاشا!مونږ ته پرته له کوم مقصده نه يي درولي ، په حقيقت کي د بلغاريه د پادشاه دواړه زامن سائرکن اوايکسلا چي له تا څخه يي هلته د شوميلا په ميدانو کي ماته خوړلي وه هم ستاسو تر شا پر تاسو پسي را روان دی . دا دواړه ورونه په دې بريالي شوې چي د نائيکو پولس په ښار کي د خپل ځان له پاره ډير ستر لښکر را ټول کړي ، او دهغوې کړنلاره او وړانديز همدا دې چي کله چي د هغوې پلار سيسمان له تاسره ټکر شي نو دوې به د شا له خوا په تاسې يرغل راوړي تر څو ستاسي ماتې او خپل برې ډاډمن کړي .
خو دا د سائرکن اوايکسلا دواړو ورونو او دهغوې تر څنګ د هغوې د پلار سيسمان هم بدقسمتي وه چي دهغوې دا پلان د برياليتوب نه تر مخه، د هغوې د پلار په لاسو له منځه ولاړ اودهغوې درا رسيدو تر مخه يي پلار د علي پاشا په لاسو د ډيرې خرابي ماتي سره مخ شو اود جنګ دميدان څخه و تښتيد. دهغوې د ماتي دخبر وروسته ، څرنګه چي دهغي زامن سائرکن اوايکسلا دلته ډير نژدې رارسيدلي ونو هغوې ستاسو تر شا و لګيدل ، هغوې پلان لري چي د شپې له اړخه پر تاسي باندې يرغل راوړي ، او په دې تر تيب و توانيږي د خپل پلار د ماتي بدله واخستلاې شي .
د خپلو دغه مخبرانو د اطلاع په اساس دعلي پاشا په مخ باندې دخوښۍ نښې را وځليدې ، بيا يي په توصيفي توګه هغه مخبرانو ته وکتل او ورته يي وويل :
زما دوستانو ، زما ورونو ! زه ستاسي ډير زيات ممنون يم چي تاسي ما ته په ډير ښه وخت کي اطلاع راکړه ، زه پوهيږم چي د اروپا دا دښمن په مکارۍ کي د ګيدړې ، په خباثبت کي د مار ، په ګندګۍ کي د خنزير ، په حماقت کي د خره په څير ، په بې زړه توب کي د خرګوش او په نحوست کي د کارغه په څير . زه به دهغوې هيڅ تدبير برياليتوب ته پرې نږدم . لکه څنګه مي چي د بلغاريه پادشاه سيسمان ته ماتي ورکړې همداسي به دهغې زامنوهريو سائرکن اوايکسلا دواړو ته د شوميلا په ميدانو کي د هغوې په ټندو باندې د بدترينې ماتي داغ کيږدم .
ددې خبرې دکولو وروسته علي پادشاه د لږڅه ځنډ وروسته بيا دخپلو خبرو لړۍ جاري وساتله او ويې ويل :
زماورورنو ! ايا تاسي دا ويلي شئ چي دسيسمان د زامنو سائرکن او ايکسلا لښکر به له دې ځايه څومره واټن لرې وي ؟ د هغي په دې خبره مخبر انو په خپلو منځو کي صلاح و مشوره وکړه او بيا د هغوی څخه يوه وويل :
پاشا ! که چيرې مونږ غلطي نه وي کړې نو دهغو لښکر به ددې ځاې څخه د پنځه يا اوو ميلو په شاوخوا واټن کي را روان وي .
دهغوې ددې خبرې په اساس د علي پاشا په څيرې باندې خندا را پيدا شوه . په ډير ستايونکې انداز يې دمخبرونو په لور وکتل اوويې ويل :
« که چيرې داسي وي نو بيا تاسي ډاډمن اوسئ چي زما خداې ، زما الله که وغواړي نو زه به دسائرکن اوايکسلا حال هم د په زنځير کي د را نښتو بنديانو ، د ذلت اوپستۍ د کفن په څير وګرځوم او د هغوې ژوند به انشاء الله د ستونزو او مصائبو څخه ډک کړم .
ددې وروسته د علي پاشا سترګي دهغي ښي لورې ته په يوې غونډۍ باندې و نښتې، بيا يي خپل لښکر ته دهمغې غرنۍ اړخ په لور دکوچ کولو حکم ورکړ او د سترګو په رپ کي يي د غرنيو لړۍ تر شا سنګر و نيو .
له بله اړخه سائرکن اوايکسلا دواړو دخپلو لښکرو سره يو ځاې په ډيره ګړندۍ توګه دعلي پاشا تعاقب کاوه او هغه ځاې ته را ورسيدل چي علی پاشا او دهغې جاسوسانو يې په هکله دتعاقب خبر ورکړې و . نو علي پاشا د خپل لښکر سره يو ځاې د سنګرونو څخه را ووت اوبې له ځنډه د سائرکن اوايکسلا دواړو ورونو پر لښکرو باندې د سور توپان په څير را پريوتل .
دا يرغل دومره ناڅاپي ، دومره ځواکمن و چي ايکسلا اوسائرکن دواړو هغه و نه شو زغملاې ، په هماغه لمړۍ حملي کي علي پاشا هغوې د انحطاط او زوال سره مخ کړل. ايکسلا او سائرکن دواړو تر ډيره وخته پورې د علي پاشا مقابله و نه شوه کولې ، هغوې د ډير بدې ماتې سره مخامخ شول او بيرته د نائيکو پولس د ښار په لور و تښتيدل.
اوس نو علي پاشا يو توپاني شکل اختيار کړې و. دا هم نور ځنډيدونکې نه و . ايکسلا او سائرکن دواړو ته د ماتي ورکولو ورسته هغه د سيلۍ په څير دهغوې په تعاقب پسي ولاړ .
ايکسلام او سائرکن دواړو ورونو لومړۍ غوښتل چي دعلي پاشا په لاسو د ماتي وروسته د خپل ښار نائيکو پولس لورې ته مخ کړي ځکه هلته هغوې ډير ښه زيرمه کړې لښکر ساتلي و . خو دا د هغوې دواړو بدقسمتي وه چي علي پاشا دهغوې تعاقب پرې نښود . کله چي هغوې فکر وکړ چي علي پاشا د هغوې پسي را روان دې او که چيرې هغوې د نائيکو پولس ښار ته دور ننوتلو کوشش وکړي نو علي پاشا به هم د خپل لښکر سره يو ځاې ددوې دواړو پسي د نائيکو پولس ښار ته ور ننوځي ، او لکه څنګه چي هغه د ترانوا په ښار کي ددوې دواړو حالت ډير خراب کړې و نو د نائيکو پولس په ښار کي به يي هم حالت د هغي څخه بد تر کړي او دغه لښکر چي له دوي سره دي ددوې په شميره کي به هم کمښت راشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدې فکر په اساس ایکسلا او سائرکن دواړه نائیکو پولس ته ور ننه نه وتل ، بلکه د ښاره بیرون یې خپل لورې بدل کړ او بیا یې هغې لورې ته په تیښته پیل و کړ چې پلار یې سیسمان دعلي پاشا په لاسو د ماتې وروسته تښتیدلی و .
علي پاشا تر یو ځایه ددواړو ورونو پسې ولاړ او دهغوې د لښکر شمیره یې نوره هم را کمه کړه . بیا د خپل لښکر سره یو ځای د نائیکو پولس د ښار په لورې راوګرځید ، په دې وخت کې د نائیکو پولس په ښار کې کوم داسې ځواک او لښکر نه و چې دښاره دفاع وکړي په دې اساس دا ښار پرته له کومې ستونزې دمسلمانانو په لاسو سوبه شو. علي پاشا هملته په ښار کې پړاو وکړ . دښار خلک به ډلې ډلې علي پاشا ته راتلل او دخپل اطاعت څرګندونه به یې کوله . علي پاشا هم ټولو ښاریانو ته عمومي ښننه اعلان کړه او په دې اړه یې حکم او فرمان خپور کړ.

دقریب الرحمن سعید ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف یې د صلیبیانوسازشونه (۶)**

مکمل غیر سیاسي : یوتاریخي په زړه پورې ناول .
زمونږ. دهیواد ګوډ یتمور څوک دی ؟

اوس تاسې ددې تاریخي ناول شپږمه برخه لولئ:
(۶)
۸*****
د بروصې په ښار کې سلطان مراد دخپل زوی بایزید نه علاوه د بایزید ځوان زامن دخپلو یو شمیر نورو سالارانو ، امرانو او د عدلیې د محکمې د مسؤلینو څخه علاوه د ښار د علماؤ سره یو ځای ناست و او په کومه ډیره مهمه موضوع یې خبرې اترې کولې . په دې وخت کې د سلطان مراد ساتونکې راغې او سلطان ته یې وویل :
«دروند سلطان! زمونږ. څه مخبران را غلي دي هغوې غواړي ستا په خدمت کې حاضر شي . که چیرې تاسې اجازه راکړئ نو زه به هغوې له ځانه سره راړوم ؟
دخپل ساتونکې د اطلاع سره سم سلطان مراد او دهغې زوی بایزید دواړو ټکان وخوړ ، په دې وخت کې بایزید غوښتل چې څه ووایي خو سلطان مراد د هغه خبره غوڅه کړه او ویې ویل :
هغه مخبران چې له ماسره کتل غواړي هغوې سمدستي را حاضر کړئ ، کیدای شي چې هغوې کوم داسې عاجل خبر راوړې وي چې دسمدستي عمل کولو غوښتونکې وي .
ساتونکې بیرون راووت ، د لږڅه ځنډ وروسته بیرته راستون شو . دهغه سره یو څو مخبران هم و ، هغوې مخته راغلل او سلطان مراد ته یې تعظیم او احترام وکړ . بیا دهغوې څخه یوه یې سلطان ته وویل :
«درونده سلطانه ! مونږ. تا ته دوه ډیر مهم خبرونه راوړي دي ، یوه ته زیرې ویلې شي او بل لږڅه د اندیښنې وړ دی .
محترم سلطان ! زه لمړئ ښه خبر درکوم اود هغې وروسته به د اندیښنې وړ .
درونده سلطانه! لمړئ زیرې داد ی چې علي پاشا په خپله دنده کې پوره بریالې دی . ددې ځایه د تللو وروسته هغه د بلقان د غرونو په لورې مخه کړه ، ددربند ددرې څخه تیر شو او بلقان ته ورسید . هغه وخت چې هغه د هغه ځای د غرنود لړئ څخه تیر او د شومیلا میدانو ته ورسید نو د بلغاریه د حکمران سیسمان دواړو زامنو ایکسلا او سائرکن دهغه لاره و نیوله ، دهغوې سره یو ډیر ستر لښکر هم و . خو علي پاشا د شومیلا په میدان کې د سیسمان دواړو زامنو ته ډیر بده ماتې ورکړه او مخته ولاړ او د ترانوا ښار یې هم سوبه کړ .
د خپلو زامنو د ماتې د بدلې د اخستو له پاره د بلغاریه پادشاه سیسمان دیوه ډیر سترلښکر سره یو ځای د علي پاشا مقابلې ته راغې ، ددواړو فوځونو تر منځ ډیر سخت جنګ و نښت . په دې جنګ هم علي پاشا سیسمان ته ډیر خراب او خنده ونکی ماتې ورکړه او هغه په تیښته ووت ، بیا دهغه دواړو زامنو ایکسلا او سائرکن یو ډیر ستر لښکر تیار کړ هغوې غوښتل په علي پاشا باندې د شا لخوا غلچکې یرغل وکړي او هغه ته نه تلافي کیدونکې زیان ور ورسوې.
درونده سلطانه ! مونږ. په وخت علي پاشا ته ددې تعاقب اطلاع ورکړه ، نو علي پاشا د سیسمان تعاقب پرې ښود او سنګر یې و نیو اوکله چې دهغوې مورچو ته د سیسمان د زامنو لښکر راورسید نو د علي پاشا لښکر د مورچو څخه بیرون راووت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هغوی یې یو توپاني حمله وکړه ، دواړ ته یې ډیره سخته ماتي ورکړه او اوهغوی دواړو نایکو پولس دښار په لور تیښته وکړه ، علي پاشا دهغوی پسې وروسته ولاړ ،کله چې هغوی وکتل چې علي پاشا د هغوی پسې را روان دی او که چیرې هغوی نائیکو پولس ښار ته و رننوځي نو علي پاشا به یې حالت د ترانوا د ښار د حال په څیر او یا د هغې څخه هم بدتر کړي ، په دې خاطر هغوی ښار ته د ننوتلو پر ځای په هماغه لاره و تښتیدل چې پلار یې پرې تښتیدلی و. علي پاشا د فاتح په څیر ښار ته ور ننوت . او په دې تر تیب د بلغاریې هغه برخه چې د شمالي برخو څخه یې د ډینیوب دریاب تیریږي ، دعلي پاشا په لاسو زمونږ د سلطنت برخه وګرځیده .

د راغلیو مخبرانو په دې خبرو باندې نه یوائې سلطان مراد بلکه د هغه زوی بایزید او هلته ناست ټول خلک د خوښي نه په کالیو کې نه ځایدل ،د هغوی ټولو په څیرو کې د خوښیو او ډاډ نښې را ښکاره شوې وې، سلطان تر ډیره وخته پورې ددې خبر څخه خوند اخیست او په خپل ځای یې ډډه وهلي وه او خوله یې له خندا نه راټولیده . په همدې وخت کې یې مخبرانو او هلته ټولو ناستو خلکو ته وینا وکړه او په ډیر نرم اواز سره یې وویل :

« کله چې ما علي پاشا ته دغه دنده ورسپارله او ددې څخه مي هغه لورې ته استوو نو هماغه وخت زما په زړه کې دا تیریده چې نوموړې به د حرب وفن یو ډیر ستر ښهسوار ثابتیږي ، په هماغه وخت کې زما په زړه کې دا تیریدل چې هغه به ددښمن په مقابل کې د تیارو شپو د اوو سمندرونو د توپان ، دصبر او استقامت د غره ، د تیرې او ظلم پرخلاف سیلی ،او د مرګ او اور یو پرانستي دریاب ثابتیږي . » تر دې ځایه دخبرو وروسته سلطان لږڅه ځنډ وکړ او بیا یې وویل:

« د خیرالدین زویه ! تا څومره په میرانه او همت سره د بلغاریه حکمران ته ماتې ورکړه اودخپل شجاعت او بهادرۍ په واسطه دې ذلت او سپکاوی دهغې د غاړې طوق و ګرځاوه . دخیرالدین زویه ! زه ستا په څیر ځان ځارونکې ، او د نور او ویاړ دقافلې د سالار عظمت ته سلام کوم .

ګرانه زویه ! ته څومره په ښه او ګړندۍ توګه په دښمن باندې ، په تیارو سمندرونو کې د تیزالوتونکي توپان په څیر نازل شوې یې او دهغوی حالت دې په خپل مخکې ټوټې ټوټې بلکه د تیرو وختو دتاریخ په کندو کې ور وغورزاوه. زما زړه غواړ ي چې ته زما ددښمنانو په مقابل کې د اور غورزونکي لاوې ، او خپلو ته دمینارنو د رواني روښنایي ... په څیر ثابت شې .

دخیرالدین زویه ! زما دعا درته داده چې چې په راتلونکو ورځو کې هم دددښمنانو په مقابل کې د ترکانو د پلرني وقار د فطرت د زانګو په څیر محارب ثابت شې . زه یو ځل بیا ستا په دې سوبه تاته مبارکي وایم او ستا جنګي پوهې ته سلام کوم .

سلطان په خپلو خبر وکې لږځند وکړ او بیا یې دخپل زوی بایزید په لور په کتلو سره وویل :

بایزیده زویه ! ددغه مهم پسې د استولو نه وروسته به تا ډیر وخت زما تر مخه دهغه ستاینه او صفت کاوه، خو هغه وخت ما ستا دغه د،ل صفت او تعریف ته کوم اهمیت نه ورکاوه ، ځکه چې ما غوښتل چې د علي پاشا کړچار او مهارت په خپله ووینم . زما زویه ! نن علي پاشا دا ثابته کړه چې هغه صفت چې تا دهغه زما تر مخه کاوه هغه هسې نه و .

دسلطان مراد ددې خبرو په ځواب کې بایزید په خندا سره وویل :

محترم سلطان ! زه د ډیره وخته راهیسې علي پاشا پیژنم ، دهغه پلار دهغه مشر ورور هم زما د پیژندګلویانو څخه وو. خو دا په خپله کورنۍ کې یوائځې وګړې دې . د هغه وخته راهیسې چې هغه په مکتب کې تر روزنې لاندې و ما ته دا ډاګیزه شوې وه چې دا به یو ځانګړې حیثیت تر لاسه کوي ، په دې خاطر په مکتب کې د تعلیم په وخت کې هم د هغه سره چا د تیغ وهلو او حرب وضرب په فنونو کې مقابله نه شواې کولی ، کله چې تا هغه ته د پاشا لقب ورکړ نو تا ته به یاد وي چې ما تا ته هغه وخت هم ویلي و چې تا یو ډیر مناسب او وړ انسان ته دا لقب ورکړ. اې زما پلاره ! تا وکتل چې نن علي پاشا د خپل دغه منصب حق په ښه توګه ادا کړ .

بایزید ددې خبرو د ویلو نه ورسته چپ شو . په ځواب کې سلطان مراد هم تر ډیره پورې چپه خوله و او څه فکر یې کاوه ،خو تر څنګ مسکي مسکي کیده . کیداې شي چې هغه د علي پاشا په دغه کړنو باندې ډیر زیات خوښ شوې وي . دا ځل هغه یو ځل بیا مخبرانو ته مخ کړ او ورته یې وویل :

دوستانو ! کوم چې ډیر ښه خبر و هغه خو تاسي ووایه ، یقینا چې دعلي پاشا نه همداسي هیله کیدله . اوس راته هغه خبر هم ووا یاست چې ستاسي په ګمان زمونږ له پاره داندیښني وړ دې .

د سلطان په دې خبره هغه دویم مخبر په خبرو پیل وکړ اوویې ویل :

هغه بل خبر چې لږ څه د اندیښني وړ دې هغه دادې چې د علي پاشا په لاسو دبلغاریه د حکمران سیسمان او د هغې د زامنو د ماتي خبر ټوله اروپا زمونږ به خلاف را پاروليه ده . او تر ټولو زیات اغیز یې د سرویه په پادشاه لازارشاه کړې دې او هغه یې د بدلې داخیستلو له پاره د اور په څیر لمبه کړې دې . زمونږ پر خلاف د جنګ د پیلامې له پاره د سرویه پادشاه لازار شاه د اروپا مختلو سیمو ته هیئتونه استولي دي ، په دې سیمو کې بوسنیا ، بلغاریه ، البانیه ، دلاچیه ، هنګری ، پولینډ ، اسکټار ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولې او مګهیار خلک شامل دي ، دغه ټولو قومونو د قاصدانو په ذریعه د سرویه پادشاه لازار شاه ته د مسلمانانو په خلاف د صلیبي جنګ د ملاتړ ترغیب ورکړې . او ترڅنګ یې د خپلو قاصدانو په واسطه هغه ته خبر ورلیږلی دې چې هغه دې د مسلمانانو پر خلاف خپل لښکر د شینزا ددریاب په غاړه سترو میدانونو ته و استوي ، زما په فکر د سرویه پادشاه لازار شاه غواړي زمونږ پر خلاف همدغه ځایونه د جنګ او جګړې ډګر و ګرځوي .
درونده سلطانه ! د اروپا مختلفو اقوامو اوقبایلو ته چې د سرویه پادشاه لازار شاه کوم خطوط استولي دي د هغو پایلې ډیرې مثبتې دي ، او د اروپا ټولو هیوادونو او قبایلو خپل خپل لښکر ، د خپلو ښو روزل شوو سالاروانو په مشرۍ دشینزا ددریاب غاړې کې پرتو میدانو ته را لیږلي . لکه څنګه چې همدا اوس په هغه میدانو کې د اروپایانو لښکرې را ټولیږی نوکه چیرې دغه راټولیدل همداسې او په همدې تناسب دوام وکړي نو زه تا ته ډاډ درکوم چې په څو اونیو کې به د شینزا په میدانو کې د صلیبیانود را ټول کړل شوې لښکر شمیره څو لکو کسانو ته ورسیږې .
درونده سلطانه ! ددغه حالت په کتلو سره مونږ ستا تر مخه وړاندیز کوو چې پخوا له دې چې دښمن د خپل ټول توان او قهر سره د شینزا د دریاب څخه را تیر شي او هغو سیمو ته چې مونږ تازه تازه سوبه کړې را ننوځي نو مونږ باید دهغوې لاره بنده کړو او هغوې ته دا ثابته کړو چې په هغو سیمو چې ترکانو ولکه کړې دهغوې نیول خو لا پریږده چې په هغو سیمو کې به صلیبي سرتیري هم په هیڅ صورت د تباهۍ او بربادۍ د خپرولو له پاره پرې نه ږدي.
درونده سلطانه ! د بله اړخه علي پاشا ته هم ددې ټولو حالاتو په هکله خبر ورکړل شوې دې . مونږ دهغه سره د لیدلو وروسته ستا حضور ته را استول شوي یو. هغه تر اوسه پورې د خپل لښکر سره د نائیکو پولس په ښار کې دیره اچولې ده . او ستا له اړخه د حکم منتظر دې .
تر دې ځایه د خبرو کولو وروسته مخبر چپ پاته شو .نو سلطان مراد خپل زوې بایزید خپل ځان ته نژدې راوغوښت ، بایزید پورته شو او دسلطان په خوا کې کیناست. تر یوه وخته پورې پلار او زوې دواړو په ډیر راز سره خبرې کولې ، شاید چې هغوې په اروپا کې د راټولو شوو صلیبیانو د لښکر په اړه په خپلو منځو کې سلا مشوره کوله ، بیا هغوې کومې پایلې ته ورسیدل ، په دې خاطر چې بایزید بیرته خپل ناست ځای ته راغی او کیناست .د سلطان مراد په مخ باندې دخوښۍ نښې را ځرګندې وې ، بیا یې را غلي مخبرانو ته مخ را واړاوه او ورته یې وویل :
دوستانو ! تاسي نن شپه همدلته په بروصه کې تم شئ ، سبا سهر به له دې ځایه کوچ وکړئ او نیغ به علي پاشا ته ځانونه ور سوئ ، هغه ته وواياست چې د نائیکوپولس له ښاره خپل فوځونه را وکاږي او د رومیل د ولایت په کوم خوندي او مناسب ځای کې خپل لښکر ته پړاو ورکړی ، او همملته زما او د بایزید د لښکر انتظار وکړي .
علي پاشا ته هم وواياست ، چې الله دې په تا برکتونه نازل کړي ، ستاد بهادرۍ او جرأت پولې دې نورې هم و غځوي ، په هغه ذات مې سوګند چې په خپل توان یې اسمان درولي ، او تر ټولو ځواکمن اوپوه ذات دې ، د قومونو په تاریخ کې داسې حالات او واقعات ډیر ځله ځي راځي ، د قومونو څخه دا ډول حادثې او واقعات د امیدونو نه ډکو ساحلونو کې د رڼا غوښتنه کوي .
علي پاشا ته وواياست چې مونږ خو د وریښمو ، ووړیو او یا موم په څیر نرم نه یو چې دښمن چې څنګه وغواړی زمونږ جوړښت او زمونږ زینت اوښایست را خراب کړي .مونږ به د جنګ په ډګرونو کې که خدای مو وغواړي نو د اروپا په دغه متحده ځواک باندې دزماني د غم وریځې راو غوړو. که چیرې زما خدای ته منظور وي نو دا ځان ځارونکي سرتیري صلیبیان چې کله د ترکانو د ځان ځارنې اواز واوري ، اوکله چې هغوې زمونږ وسایل او جنګي سامانونه ووینې ،کله چې هغوې په خپلو وینو کې لت پت شي او د ترکانو ځواک ته ووینې ...نو زما هر فوځې به د صلیبیانو د لښکر بند بند ور مات او دهغې دریاب په څیر به وګرځي چې په خپل مخ کې هر خنډ د کچه ویالو په څیر پاش پاش کوي .
سلطان تردې ځایه پورې خبرې وکړې او بیا ودرید او مخبرانو ته یې وویل:
اوس تاسې ولاړ شئ... ځئ ارام وکړئ ، سبا د سهار د لمانځه وروسته دعلي پاشا په لور وخوزیږئ . اوکوم پیغام مې چې درکړې تر هغه یې ورسوئ .
ددې خبرې سره سم هغو مخبرانو سلطان ته تعظیم وکړ او دهغې د خونې څخه ووتل ، دهغوې د تللو وروسته سلطان دخپل زوې بایزید په لور وکتل او ورته یې وویل :
بایزیده ، زما زویه ! د همدا اوسه دخپل لښکر دکوچ کولو تیارې پیل کړه ، مونږ به په درې څلور ورځو کې د بروصې څخه د یوه باعزمه لښکر سره یوځای د شینزا د دریاب د غاړې میدانو ته ځانونه رسوو. مونږ به د خپل منزل په لور د رومیل د ولایت څخه تیریږو او دهغه ځایه به علي پاشا هم دخپله ځانه سره یو ځای کوو ،
زما زویه ! ددې سره سم زه ننې غونډه پاې ته رسوم . ته ولاړ شه او دخپل لښکر د تیارولو کار پیل کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا نو سلطان مراد خپله غونډه ختم کړه ، او هر څوک دخپلو خپلو کارونو پسې دکوټې څخه وووتل .
٩*****

نریوس په خپل کور کې د لمر د پریوتو څخه لږ تر مخه هلته په پخلنځي کې د غذا په تیارولو بوخته وه چې په همدې وخت کې ریونا لکه د یوې د سکونه ډکې اوسۍ په څیر په منډو او ټوپونو راغله اوکور ته را ننوتله.
هغه نیغه د پخلنځي لورې ته ورغله. نریوس هم هغه د پخلنځي څخه کتلې وه ، نریوس د پخلنځي څخه راووتله او د انګړ په لور ورغله ، په منډه راتلونکې ریونا د هغې تر مخه ودریده . د ریونا په کتلوسره د نریوس مور پربیسا او دواړه کوچنیان کندام او خیسار هم دباندې راووتل . په دې وخت کې ریونا په ډیره خوشحالۍ سره نریوس او دهغې مور پر بیسا ته وکتل او ورته یې وویل :
ما تاسې ته یو ډیر ښه زیرې راوړې دي . زه یواځې د همدې خبرې له پاره دلته راغلې یم او ددې خبرې د اوریدو وروسته تاسې ته دا ډاډ درکوم چې ستاسې د خوشحالیو پاې به نه وي .
د ریونا ددې خبرې په اوریدو سره نریوس او دهغې د مور پربیسا دواړو په استفهامیه توګه یو بل ته وکتل او بیا نریوس ریونا ته وویل : ریونا خورې ! د کوم خبر د ویلو له پاره چې ته دلته راغلې یې هغه زمونږ سره اړه لري یا ستا د ذات سره ؟
په دې وخت کې ریونا د لږ څه فکر کولو وروسته ، په داسې حال کې چې دحیا د جذبې نښې یې په څیره کې را ښکاره شوې وې ، په نرم اواز سره وویل : ډیرې درنې خورې نریوس ! دکوم خبر له پاره چې زه دلته راغلې یم دهغه ډیره برخه ستاسې خلکو پورې اړه لري . خو بیا هم دا خبر زما پر ذات باندې هم خپل اغیز لري . ځکه دا خبر ستا د ورور علي پاشا په اړه دې
.
د علي پاشا د نوم د اوریدو سره سم نریوس ، دهغې مور پربیسا او دواړه کوچنیان ، کندام اوخیسار ، ټول متوجه شول . بیا نو په ډیره بې صبرۍ سره نریوس د ریونا څخه وپوښتل : ریونا خورې !تا زما د ورور علي پاشا په هکله څه خبر راوړې دي ؟
ریونا یو ځل بیا دحیا نه په ډکه ژبه وویل :
« خبر دادې چې علي پاشا اوس بلکل پوخ پاشا و ګرځید. هغه ته دددې ځایه د تللو وروسته ډیرې زیاتې بریاوې ور په برخه شوي دي . هغه لمړۍ د بلغاریه د پادشاه سیسمان دواړو زامنو ایکسلا او سائرکن چې د یوه ستر اوقوي لښکر سره د شومیلا میدانو ته د علي پاشا مقابلې ته راغلي و ، سخته ماتې ورکړۍ ، چې هغوې ددې ماتې وروسته د ترانوا ښار ته و تښیدل او هلته هم علي پاشا په هغوې پسې ولاړ او د ترانوا ښار یې هم ترې لاندې کړ . ددې وروسته ریونا د علي پاشا په لاسو د بلغاریه د پادشاه سیسمان په خلاف بریا او یو ځل بیا دهغه دواړو زامنو ته ماته ورکول او د نائیکوپولس د ښار نیولو په هکله پوره تفصیل ورکړ .
د ریونا په دې خبره نریوس او پربیسا دواړو دخوښۍ نه په خندا پیل وکړ . کندام اوخیسار دواړو هم د خپل کاکا په بریاو باندې خوښې ښوولې ، په دې وخت کې ریونا یو ځل بیا وویل :
نریوس خورې ! ددې خبر بل اړخ هم شته ، دعلي پاشا دغه بریاو ، داسې و ګڼه ، چې په ټوله اروپا کې اور بل کړې دې .نو د دې ماتو دبدلو د اخستلو له پاره د سرویه پادشاه لازار شاه غږ پورته کړې ، هغه د اروپا ټولو ځواکونو ته د مسلمانانو پر خلاف د راټولیدو غږ کړې دې . ددې بلنې په ځواب کې اوس د ټولې اروپا لښکرې د شینزا دریاب په میدانو کې سره ټولیږي . دمسلمانانو پادشاه سلطان مراد ته هم دا خبر ور رسیدلې دی. سلطان مراد علي پاشا ته حکم کړې دې چې هغه دې دخپل لښکر سره یو ځاې د نائیکوپولس د ښار څخه را ووځي او درومیلیا په صوبه کې دې پړاو وکړي . ویل کیږي چې سلطان مراد هم د خپل لښکر سره یوځاې د بروصې څخه راوتلې او د همدې سیمو په لور را روان دې . تر څو د اروپا متحده لښکر ، چې د مسلمانانو د له منځه وړلو له پاره راټول شوې ، سره ټکر و کړي او هغوې له منځه یوسي .
دریونا په دغه خبرو باندې نریوس او دهغې مور پربیسا تر لږځنډه پورې چپ خوله پاته شوې دهغې وروسته نریوس ریونا ته وکتل او ورته یې وویل :
ریونا خورجانې ! دا خبرونه چې تا وویل او په ځانګړې توګه هغه چې زما د ورور علي پاشا په اړه و هغه خو ماته د ډیرې زیاتې خوښۍ باعث شول ، اول دا چې دا خبرونه دعلي پاشاد سوبې او برۍ په اړه وو او بل داچې زه مسلمانه یم او دا سوبه ، د اروپا ب په زمکه دمسلمانانو سوبه ده نو د یوې مسلمانې په څیر په دې بریاو زما زړه ډیر زیات خوشحاله دې ، خو ریونا ! زما خو د علي پاشا سره یوه خپلولي شته نو زه به د هغوې په بریاو باندې خوشحالیږم . عام مسلمانان هم د یو مسلمان په څیر د علي پاشا په دغو بریاو باندې ډیر زیات خوشحاله شوي او ډاډ به یې تر لاسه کړې وې . خو زما خورجانې ! زه نه پو هیږم چې ته په داسې حال کې چې یوه نصرانۍ یې ، خو زما څخه زیاته د علي پاشا په بریو باندې ته خوشحاله یې ؟ ریونا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورجاني ! ايا زه ستا ددې خوشحاليو كوم علت پوښتلې شم ؟
د نريوس ددې پوښتنې د ځواب له پاره ريونا تر لږ څه ځنډه پورې په فكر كې شوه ، او دهغې وروسته يو ځل بيا دهغې په ځيرې باندې د خوښيو نښې را ښكاره شوې او په لوړ اواز يې وويل :
زما خورجانې ! تا چې كومه پوښتنه وكړه نود هغې ځواب خو ډير سخت دې خو ګوره نريوس خورې ! هغه وخت چې ته نصرانۍ وې ، او اسلام دې لا نه و منلې ، او نه دې د مجدالدين سره واده كړې و نو هغه وخت هم زه په ښه توګه پوهيدم چې ستا سره زما ناسته پاسته وه اوما اوتا دواړو به كله چې د مسلمانانو د برياو خبرونه اوريدل نو د غم او غصې ، انديښنې او افسوس او پريشانتيا څخه به مو ګُلمې خوړلې ، خو نن معامله بله ده ،، ته مسلمانه يې ، د علي پاشا خور يې په دې خاطر ستا خوشحالي په ځاې ده . اوس چې ته له ما څخه پوښتي چې ته په دې خوشحالي باندې ولې وياړې نو نريوس ! واوره : ما د علي پاشا په كور كې څو ورځې تيرې كړي او دلته را ستنه شوې يم ، دهغه مور ، دهغه خور او په خپله علي پاشا چې له ماسره كوم سلوک كړې دې ، د هغسې سلوک ، دهغسې ميلمستيا، د هغسې درنښت اميد ما دخپلو نژدې خپلوانو څخه هم نه شوكولې ، هلته د اوسيدو په وخت كې زما درنې خورې ! يوازې زما ځان نه بلكه زما عصمت ، زما ابرو ، او زما د حيثيت ساتنه هم په ډيره ښه توګه شوې ده . نريوس خورې ! دښځې سره د هغې د عصمت او د هغې ابرو د يوه نه پيداكيدونكې جوهر په څير دې او هغه خلک چې د خپلې آبرو ، عصمت او عفت ساتنه وكړي نو زه پوهيږم چې هغه ددې وړ ده چې د ټولې نړۍ نه زيات دهغې عزت ، د ټولو خلكو نه ډير د هغه درنښت او احترام وكړل شي . نريوس خورجاني ! زما حالت هم څه همدا ډول دې ، علي پاشا ، دهغه مور او دهغه خور چې په كوم درنښت سره زما ميلمستيا كړې او تر څنګ يې زما د ځان ، آبرو او عصمت ساتنه كړې نو زه به دهغوې ددې كړچار بدله هيڅ وخت پوره نه كړاې شم .
نريوس ! ته پوهيږې چې كومو وسلوالو ځوانانو چې زه له دې ځايه په زور بوتلې وم ، هغوې زه په دې خاطر بولې وم چې زه او يا زما كورنۍ د مجدالدين او دهغه د ورور او پلار په وژلو كې لاس لرو . ددې اړيكو د پوهيدو سره يو ځاې علي پاشا ، د هغه مور او دهغه خور درې واړو ، يا ددوې څخه يوه هم او يا درې واړو زما پر خلاف انتقامي عمل كولې شو . خو هغوې يوه هم داسې و نه كړل . برعكس يې زما سره دا سې سلوک وكړ چې مثال او نمونه يې نه شي موندل كيداې . د علي پاشا مور قيرات له ماسره داسې لاره خپله كړه لكه د يوې لور او مور تر منځ چې موجوده وي . د علي پاشا خور سريان زما سره داسې دوستې جوړه كړه لكه د مشرې او كشرې سكه خويندو تر منځ چې موجوده وی ، او پخپله علي پاشا ، زه به دهغه په هكله څه ووايم . كه چيرې زه د هغه صفت وكړم نو الفاظ به ورته پيدا نه كړاې شم . په بروصه كې د اوسيدو په وخت كې علي پاشا له ما سره داسې سلوک وكړ لكه زه چې د ډير ستر عزت خاونده او يو باوقاره اعلي شخصيت اوسم.
ګوره نريوس ! دهمغه حالاتو په كتلو سره چې زه د علي پاشا په برياو ، سوبو ، او كاميابيو باندې و نه وياړم نو بل به څوک پرې ووياړې ؟ نريوس خورې ! هغوې درې واړه ماته د ډير عزت او وقار خاوندان دی .
د ريونا ددې خبرو په اوريدو سره نريوس د لږ څه وخت له پاره په فكر كې ډوبه شوه اوبيا يې ريونا له لاسه و نيوله او د پخلنځي په لور يې له ځانه سره كش كړه او ورته يې وويل « را ځه چې هلته كينو ، زه به هلته د پخلي كار هم وكړم او خبرې به هم سره كوو. »
ريونا چپ چاپ د هغې سره يو ځاې روانه شوه ، نريوس او ريونا دواړه هلته په پخلنځاې كې كيناستې ، خو پربيسا خپل دواړه لمسې له لاسو و نيول او په انګړ كې په خپاره لمڅې باندې كينول . پخلنځاې ته د راتلو سره سم لږ څه چپه چپتيا وه ، او وروسته يو ځل بيا نريوس ريونا ته په خبرو خبرو كې وويل :
ريونا جاني ! كه بده دربانديې ونه لږي نو يوه پوښتنه كولې شم ؟
په ځواب كې ريونا لږ څه په تيز و سترګو نريوس ته وكتل او بيايې په ډيره ژولې ژبه نريوس ته وويل : نريوس خورې ! وايه ته څه پوښتنه كول غواړې ؟ زه به ستا هيڅ خبره په بده وا نخلم .
دريونا ددې خبرو څخه نريوس تر يوه ځايه ډاډمنه شوه او په ډيره درنه توګه يې هملته ورڅخه وپوښتل چې: « ريونا! دا چې ته زما د ورور علي پاشا په برياو باندې دومره د خوشحالۍ او وياړ خبره كوې نو ايا زه ستا د رد عمل اندازه دا ډول كولې شم چې ته د علي پاشا سره مينه كوی او هغه خوښوې ؟
د نريوس ددې خبرې په اوريدو سره ريونا په زوره زوره وخندل اوبيا يې د ډيرې خوشحالۍ نه وويل :
نه نريوس خورې ! داسې كومه خبره نه شته ، زه د علي پاشا سره مينه نه كوم او نه هغه د ځان له پاره غواړم. خو بيا هم زه په زړه كې دهغه سره خواخوږي لرم .داسې خواخوږي چې زه يې په الفاظو كې نه شم بيانولې . ځكه چې علی پاشا چې كوم ډول سلوک او رويه له ما سره كړې د همغې په اساس زما په زړه كې دهغې له پاره ځانګړې ځاې پيدا شوې دی . بلې زما په زړه كې يو كمښت ، او يوه خلا ضرور را پيدا شوې ده ، ډير وخت فكر كوم چې كاشكې زه هم ستا او دعلي پاشا په څير

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانه شوې واې ،اسلام مې منلې واې ، ګوره نريوس ! ما هلته په بروصه کې د اوسيدو په وخت کې نه يوازې د علي پاشا مور او دهغې خور په عبادت کولو ليدلې ، بلکه نور خلک مې هم کتلې چې په عبادت کې به مصروف وو. ماته د هغوې دعبادت دا طريقه ډيره خوښه شوه . او همدلته په بروصې کې د شتون په وخت کې مې دا فکر کاوه چې کاشکې زه هم دهغوې سره يو ځاې په عبادت کې شريکه واې اودهغوې په څير مې د کائيناتو مالک ته دبندګۍ سر ټيټولې .
ريونا تر لږ ځنډه چپه خوله پاته شوه ، په دې وخت کې نريوس هم هغې ته په ډيره عجيبه توګه کتل ، دلږ ځنډ وروسته ريونا يو ځل بيا په خبرو پيل وکړ او ويې ويل :
نريوس ! ډير وخت زه دا فکر کوم چې ما خو د زړه نه اسلام منلې دې ، زما ظاهرې حيثيت يوازې داسې دې چې زه بايد د اسلام په دايره کې ور ننوځم . خو زه ويريږم چې کله چې زما مور او پلار ته زما د مذهب د بدلون په اړه معلومات وشئ نو هغوې به ډيره زياته صدمه وومي ، او بيا خو ته پوهيږې چې زمونږ د کلي زيات خلک نصراني مذهبه دي . او زما پلار ددې کلي سردار دې ، نو زما د مذهب دبدلون په واسطه به د کلي خلک څه فکر کوي ؟ او زه په دې فکر کې يم چې دعلي پاشا پلار او دواړه ورونه په همدې خاطر ووژل شول چې هغوې مسلمانان وول ، په دې خاطر چې د علي پاشا پلار دې سيمې ته د داسلام د تبليغ له پاره راغلې و. نصراني راهبان او پادريان نه غواړې چې په دې سيموکې اسلام په دومره تيزئ سره خپور شي ، هغوې د اسلام د پيروانو ډير سخت دښمنان دي دا هغه حالات دي چې زما داسلام د اعلانيدو تر مخ خنډ دي . ريونا چې چپ شوه نو نريوس د لږ څه وخته پورې مسکې وه او بيا يې په ډير شفقت او ميني سره هغې ته وکتل او ورته يې وويل :
زه تا ته دعا کوم چې ستا تر مخ دا خنډونه په ډيره اسانۍ سره له منځه ولاړ شي . اوس خو را ځه دلته زما خواته کينه ، زما خوشحالي او زما غوښتنه ده چې ته به نن شپه زمونږ سره ډوډئ خورې . ريونا د نريوس ددغه د ميني نه ډک وړانديز سره توافق وکړ او بيا دواړو همدلته په پخلنځاې کې د ډوډئ په تيارولو مصروفي شوې
پرليسي لري ....

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانوسازشونه (۷)**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .
زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دې ؟

اوس تاسې ددې تاريخي ناول اوومه برخه لولئ:

پرليسي***** ۱۰
د سلطان مراد د حکم تر ورسيدو سمدستي وروسته علي پاشا د خپل لښکر سره يو ځاې د نائيکو پولس د ښار څخه ووت. هغه د سلطان د همدې حکم په اساس د روميل د ولايت په لور مخه کړه او خپل لښکر ته يې د ريونا او نريوس دکلي سره نژدې دپړاو کولو حکم وکړ.
کله چې د علي پاشا لښکر د روميل د ولايت په دغه برخه کې خيمې وهلې نو علي پاشا په خپل آس باندې سپور د خپل لښکر په ليکو کې دننه چکر کواهه ، د لږ وخت وروسته د هغه د سترګو لاندې د خيمو يو لوې کلي آباد شو . على پاشا د خپل لښکر له پاره دماښام د ډوډئ دتيارولو حکم وکړ ، ځکه په دې وخت کې لمر ډوبيدو ته ډير نژدې شوې و . کله چې علي پاشا د لښکر تر منځه د ګرزيدو او ځارنې وروسته بيرته خپل آس د خپلې خيمې په لور را و ګرځاوه نو خيمي ته د رارسيدو سره سم ډير حيران پاته شو. هغه وکتل چې دهغه د خيمي نه باهر نريوس ، کندام خيسار اود ريونا نه علاوه د ريونا پلار رستاک هم ولاړ دي ، علی پاشا ته دهغوې په کتلو ډيره زياته خوښې احساس شو . سمدستي دخپله اسه را ښکه شو ، د آس واګې يې پرېښودې او دميلمنو په لور يې ور منډه کړه . په دې وخت کې د لښکر يو عسکر را منډه کړه او دعلي پاشا آس يې و نيوه او يوه لورې ته يې يوړه . علي پاشا تر ټولو د مخه د رستاک سره روغبړ وکړ او بيا پر زمکه کيناست او دواړه وريرونه يې په ورنو باندې کينول . او دهغوې سره يې د زړه له کومې مينه وکړه . بيا پورته شو او د نريوس په لور په کتلو سره يې وويل « نريوس خورې ! ته څنګه يې ؟
نريوس په ځواب کې ورته په ډير شوق او مينه و کتل او بيا يې علي پاشا ته وويل :
علي پاشا زما وروره ! زه خو ستا داسې خور يم چې ستا په کتلو خوشحاليږم . زما وروره ! ته پوهيږې چې په دې دنيا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یواځي ته زما وروور یې چې ستا په کټلو مي سترګي یخیږي . مونږ ته معلومه شوې وه چې ته د خپل لښکر سره یو ځای دلته تم کیږی نو په دي خاطر مونږ ټول له تاسره د کتلو له پاره دلته راغلو .
هغه وخت چې د نریوس او علي پاشا تر منځ دا خبري کیدې نو ریونا هغوي ته د شک په سترګو کتل ، په همدې وخت کي علي پاشا ریونا ته وکتل او ورته یې وویل . ریونا ! زه افسوس کوم چې له تا مې لا تر اوسه پوښتنه نه ده کړې، وایه ته څنګه یې ؟ که څه هم ماستاسې سره ډیر لږ وخت تیر کړې و خو په هغوڅو ساعتو کې چې کوم سلوک ستا مور او پلار له ما سره وکړ هغه به مي هیڅکله هم له یاده و نه وځي .
ریونا تر لږ وخته پورې په ډیر شوق او مینه علي پاشا ته کتل بیا یې په ډیرې نرمې لهجې سره وویل
« علي پاشا! که چیري ته زما د مور او پلار د سلوک نه اغیزمن شوې یې نو واوره ، زما مور هم تا د خپل زوې په څیر ګڼي ، کله چې مونږ له تاسره د کتلو له پاره را تللو نو هغې څو ځله په تاکید سره وویل چې د هغې سلام تاته ورسوو . او دهغې له اړخه ستا د خیریت پوښتنه وکړو .
د ریونا په دې خبرو باندې د علي پاشا په څیرې کي خندا را وځلیده ، بیا یې د ریونا په لور په کتلو سره وویلې :
ستا مور ډیره محترمه او درنه ښځه ده . داسې مهربانه او مینه ناکې ښځې چې دهغوې کرچار په ژوند کي دهیریدو نه دې . ماته که وخت پیدا شو نو زه به دهغې خدمت ته یو ځل حاضریږم .
په دې وخت کې ریونا دهغه په خبرو کې را ټوپ کړ او ویې ویل:
« وخت خو در ته په لاس درغلي دې علي پاشا ! تا زمونږ دکلي تر څنګ پړاو کړې دې . ته چې کله او کوم وخت وغواړې په ډیره اسانی سره په آس نه بلکه په پښو هم هلته را تلای شئ او زما دمور سره کتلې شئ .
دریونا ددې خبرو په ځواب کې علي پاشا د لږڅه ځنډ او فکر وروسته وویل:
« ریونا ! ستا خبره سهي ده ، خو دلته د پړاو څخه زما اخوا دیخوا تلل مناسب نه دی . سلطان مراد او دهغه زوې بایزید دواړه د یوه ستر لښکر سره د بروصې د ښاره را روان شوي دي ، شاید چې تاسو ته به داپه ډاګه شوي وي چې د اروپائیانو متحده لښکر د شنیزه د دریاب په هغه غاړه په میدانو کې راټولیږي او دمسلمانانو سره د ټکر نه وروسته غواړې چې مسلمانان د فاسفورس د بحیرې نه اخوا ورټیل وهي . نو د اروپا ددې ځواک سره د ټکر له پاره سلطان په ډیره بیړه دغه لورې ته را روان دې . سلطان او دهغه زوې بایزید، ډیر ژر دلته رارسیدونکې دي، په دې خاطر ماته هر وخت دهغوې د استقبال او ښه راغلاست له پاره تیار دریدل په کار دي . خو که چیرې په دې ورځو کې زه ستاسې کلي ته ستاسې سره د کتلو له پاره درنه شم نو ته هم او نریوس خورې ته هم زما څخه ګیله او شکوده مه کوئ.
بیا یوناځاپه علي پاشا ټکان وخوړ او د ریونا د پلار رستاک ي لورې متوجه شو او ویې ویل : زه هیڅ متوجه شوې نه یم ما تاسې ټول د خیمي نه دباندې درولي یاست . راځئ زما سره ،چې خیمې ته ولاړ شو اوهملته خبرې اترې وکړو .
ددې خبرې سره سم علي پاشا دخپلې خیمې په لور روان شو او پاته خلک هم د هغه پسې وروسته خیمې ته ور ننوتل او په خپلو خپلو ځایو باندې کیناستل . دلږڅه چپتیا وروسته رستاک علي پاشا ته وویلې چې :
علي پاشا ! تر اوسه یواځې ریونا له تا سره خبرې کولې ، په حقیقت کې د هغې دمور غوښتنه وه چې ته باید هلته ولاړ شې ، هملته د شپې پاته شئ ، علي پاشا ! ته پوهیږې چې زمونږ کوم نارینه بچې نه شته نو په دې خاطر ستا د کتلو وروسته د ریونا مور ، داسې و ګڼه ، چې تا د خپل زوې په څیر غواړې ،ګوره علي پاشا زویه ! کله چې وخت در ته پیدا شو نو خامخا هلته راشې !
دا خو یوه خبره شوه . اوس غواړم ددې بلې خبرې لورې ته هم راشم او هغه ستا د پلار او دواړو ورونو د وژنکو پورې اړه لري . علي پاشا زما زویه ! ما خپلو څو کسو ته د معاملي د څیرنې له پاره حکم کړې دې ، هغوې دا دوه شپې او ورځې په خپلو کارونو کې مصروف دي . او ډیر ژر به ماته ووایي چې ستا د پلار او دواړو ورونو په وژلو کې څوک لاس لري . زه دا کار ځکه دومره ژر او په دومره اهتمام سره کوم چې په دې وژلو کې یې زما لور ریونا هم راښکودې ده. اوپه همدې خاطر هغه دوه وسله والو ځوانانو هغه له دې ځایه وړې وه . خوستا د مور ، ستا د خور ډیره ستره مهرباني اوښیګڼه وه چې تاسې خلکو زما د لور سره د خپل اولاد په څیر سلوک کړې دې او دا داسې سلوک دې چې تر اوسه زما لور ریونا له یاده نه دې ویستلې .
علي پاشا ! که ستا دپلار او ستا د ورونو په قتل کې زما وریرونه هم شریک وول نو دا ځای یاد ساته چې زه به دهغوې په هکله هم تاته ټولې نښې نښانې ووایم ، زه به د معاملي به تفصیل ځان پوه کړم او بیا به تا ته ووایم چې د چا لاسونه په دې پیښه کې ککړ دي او تا ته دهغوې سره څه ډول معامله کول په کاردي ؟ په دې لړکې که چیرې تاته زما دکومک اړتیا پیدا شي نو زه به دریغ و نه کړم . علي پاشا ! دا یواځې زما نه بلکه د ریونا د مور غوښتنه او هیله هم ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رستاک ددې خبرو څخه وروسته لږ څه و درید او بیا یې د څه فکر کولو وروسته وویل چې :
علي پاشا ! زه پو هیږم چې ستا په مصروفیاتو او بوختیاو کې ډیربنت راغلي دې او دا چې سلطان مراد څه وخت هم دلته را رسیدوونکې دې او دهغه په خاطر ته باید دلته په لښکر کې موجود واوسې ، زما زویه ! بیا هم ستا څخه غواړم چې کله هم تا ته فرصت او موقع په لاس درشي نو زمونږ ځای ته یو ځل ضرور راشه ، که چیرې تاته دلته داوسیدو په وخت کې موقع په لاس درنه شي نو د کوم جنګ پیلامه چې همدا اوس کیدونکې ده نو د هغې دپاې ته رسیدو سره سم ته یو ځل زمونږ کور ته ضرور راشه . زما ښځه ستا په لیدو باندې ډیره خوشحالیږي .
کله چې رستاک چپ شو نو علي پاشا د لږڅه فکر وروسته ورته و کتل او ورته یې وویل :
درونده مشره ! لمړۍ خو به زه دلته د تم کیدو په وخت کې هڅه وکړم چې وخت پیدا کړم او ستاسې کور ته راشم . او که اوس و نه توانیدم نو ژمنه کوم چې ددې جنګ دپاې ته رسیدو سره سم ستاسې خلکو خدمت ته حاضر شم .
ددې خبرو وروسته علي پاشا پورته شو ، هغه د خیمې څخه لږ څه مخته تللې و چې په همدې وخت کې یو وسله وال ځوان دهغه خیمې ته ور ننوت ، هغه دعلي پاشا د آس زین په یو کونج کې کیښود اوهغه خورجین چې د آس سره نښتې وه هغه یې علي پاشا ته ورکړه . شاید چې علي پاشا به د هغې څرمنې خورجین له پاره بیرون را وتلې و . هغه راغلي وسله وال ځوان بیرته ولاړ . علي پاشا خورجین را واخسته او بیرته خپل ځاې ته راغې او کیناست . بیا علي پاشا د هغې څرمنېزې خورجین خوله پرانسته لمړۍ یې دهغې څخه د نقدو پیسو یو کڅوړه را وویسته اوپه خپل مخکې ناستې نریوس په غیږ کې یې کیښوده او ورته یې وویل :
زما خورې ! په هغو جنګونو کې چې ما برخه اخیستې وه په هغوې کې څه د غنیمت مالونه زما لاسته راغلي دي دا د هغه غنیمت د مالونو څخه زما برخه ده . زما خورې ! په دې کې دومره نقدې شته چې ته یې په استعمالو سره خپل ژوند په پوره ډاډ او سکون سره تیرولې شې.
نریوس هغه کڅوړه پرانسته ویې کتله او بیرته یې دهغې خوله وربنده کړه اوعلي پاشا ته یې و کتل او ورته یې وویل :
علي پاشا ! سهي ده چې ته زما ورور یې ، تل ورونه د خویندو کومک کوی ، خو ګوره وروره دا نقدې ډیره زیاته ده . ددې څخه یوه برخه ماته پریږده او پاته دوه برخې خپلې مور او خور ته ورکړه .
دنریوس په دې خبره علي پاشا و خندل او ورته یې وویل : نریوس خورې ! دا نقدې یواځې تا لره ده ، د مور او خور برخه مې هلته جدا ایښودې ده . دهغوې په هکله ته فکر مه کوه .
علي پاشا یو ځل بیا په خورجین کې لاس ور ننویست ، او غوښتل یې څه ترې را وکاږې چې رستاک ورته مخ کړ او ورته یې وویل ؟
علي پاشا ! په نژدې وخت کې مونږ د ریونا واده تیاروو . زویه ! دهغې له پاره ما او زما ښځې د خپل کلي یو ځوان خوښ کړې دې . تر اوسه پورې مونږ په دې هکله چاته څه نه دې ویلي ، ځکه دا خبره یواځې زما، زما دښځې او ریونا پورې را نغښتې ده . او نریوس هم همدا اوس د لمړۍ ځل له پاره ترې خبریږي . زویه ! هغه ډیر ښه هلک دې ، که څه تر اوسه پورې ریونا دهغه د خوښیدو او نه خوښیدو په هکله څه خبره نه ده کړې خو ریونا هغه کتلي دې او هغه هم ریونا ښه پیژني ، ستاسره ددې خبرې د یادولو څخه زما مقصد دادې چې زویه ، ته به د ریونا په واده کې ضرور ګډون کوې .
د رستاک په دې خبره د علي پاشا رنګ والوت ، دهغه دغه حالت ته نه یواځې نریوس کتل بلکه ریونا هم متوجه وه . خو هغه ډیر ژر خپل ځان کنترول کړ او په داسې حال کې چې یو لاس یې لا د مخه په خورجین کې و او په خورجین کې د کوم شي لټون کاوه نو رستاک ته یې په وینا کې وویل :
داخبره تا ماته په ډیر ښه وخت کې وکړه . زه به د ریونا په واده باندې ډیر زیات خوشحاله شم ، څرنګه چې تا ماته دا ډیر ښه خبر واوراوه نو زه به هم په دې وخت کې ، که ته یې بده نه ګڼې ریونا ته یو تحفه ورکړم .
رستاک په ډیر محبت سره علي پاشا ته وکتل او ورته یې وویل :
په دې هکله خو تا ته زما څخه د اجازې اخستو اړتیا نه شته . ځکه ریونا پخپله ستا د مخلصینو څخه ده . په دې وخت کې علي پاشا د خورجین څخه یوه طلاې ګوته را وویسته، چې په کې جواهرات کارول شوې و ، علي پاشا هغه ګوته ریونا ته ور وړاندې کړه . او په ډیر مړژواندې او لړزیدلي اواز یې ورته وویل :
ریونا ! څرنګه چې ستا پلار ما ته ستا د واده زیرې راکړ نو زه د دې خوشحالی په وخت کې تا ته دا ګوته نذر کوم . دا قبوله کړه ، انکا ر مه کوه او که نه زما زړه به مات شي .
دعلي پاشا دې خبرو په نریوس هم ډیر زیات اغیز وکړ ، ریونا هم ورته په ډیر عجیبه توګه کتل ، بیا ریونا خپل سر ټیټ کړ او یو دم یې د علي پاشا څخه هغه ګوته را واخسته او په خپله ګوته یې کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې ريونا غوښتل د خپلو جذباتو او احساساتو رد عمل ښکاره کړي چې علي پاشا دخپله ځايه پورته شو او دهغې په لور يې په کتلو سره وويل :
تاسې همدلته کينئ ، زه به تاسو ته د ډوډۍ انتظام وکړم . بيا به ټول سره يو ځاې همدلته ډوډۍ وخورو .
ددې خبرې سره سم علي پاشا په ډيره چټکې سره د خيمې څخه را ووت .
د لږځنډ وروسته علي پاشا بيرته را ستون شو . دهغه وروسته يو څو ځوانان و چې د ډوډۍ لوښې ورسره و ، هغوې د ډوډۍ لوښې به خيمه کې کيښودل او بيا دوې ټولو يوځاې هغه ډوډۍ وخوړه . ددې وروسته رستاک ، نريوس ، ريونا ، کندام او خيسار ټول دعلي پاشا د لښکر ځاې څخه را ووتل او دخپل کلي په لور روان شول .
*****۱۱
شپه په تيريدو شوه او علي پاشا د سهار لمونځ ادا کړ او د سهارنۍ د خوړلو وروسته يو ځل بيا دخپلو لښکريانو د احوال د معلومولو له پاره د هغوې تر منځ گرځيده چې د لمر خاته د لورې څخه درې کسه آس سپاره په چټکې سره دهغه لورې ته را روان دي . علي پا شا دهغوې دکتلو سره سم و دريد . هغوې هم علي پاشا ته راغله او دخپلو آسونو څخه را ښکته شو علي پاشا غوښتل دهغوې څخه لږ څه و پوښتي چې ددې درې واړو څخه يوکس وويل :
پاشا! سلطان مراد او ولي عهد بايزيد دواړه دخپلو لښکرو سره يو ځاې ستاسې تم ځاې ته را رسيدونکي دي ، سلطان حکم کړې چې د هغه د رارسيدو تر مخه تاسې خپل ځانونه تيار کړئ او دکوچ کولو له پاره تيار اوسئ ، سلطان دلته نه پاته کيږي ، هغوې تاسې له ځانه سره اخلې اود شينزا ددرياب غاړې ته درومي او ددښمن تر مخه صفونه جوړوی . سلطان د زړه نه غواړې چې وخت يې ضايع نه شي او سمدستي ددښمن پر خلاف يوه قوې ضربه وارده کړي تر څو د هغوې ټول باد ووځي .
پاشا ! سلطان مراد او بايزيد له دې ځايه لږ تر لږه پنځه ميله لرې دې نو به دې خاطر د هغوې د راتلو څخه د مخه تاسې د خپل کوچ کولو له پاره ځانونه تيار کړئ .
د راغليو آس سپرو په دې خبره د علي پاشا په مخ باندې د خوشحالۍ نښې را ښکاره شوې او هغوې درې واړو ته يې وويل :
زما دوستانو !د سهار ناشته مو کړې او که نه دهغې له پاره درته څه تيار کړو ؟
د هغوې څخه يوه وويل : پاشا ! تاسې ته د زحمت کولو اړتيا نه شته ، د سلطان ټول لښکر د سهار ناشته کړې ده ، او بيا يې د سلطان د وخت د ضايع کولو پرته د شينزاد د درياب په لورې مخ کړې ده .
ددې خبرې سره سم علي پاشا سمدستي په پوره ځواک سره اواز وکړ او دلښکر د خيمو د را ټولولو او پړاو ختمولو حکم يې وکړ . د علي پاشا ددې حکم سره سم يو توپان جوړ شو ،د لښکر هر چا خپلې خيمې را ويستلې او هر شي په باروړونکو ځناورو باندې باريدل. او د پړاو هر څه را ټوليدل . دسترگو په رپ کې د پړاو هر څه را ټول شوي و او په کوم ځاې کې چې هلته پړاو شوي و د سلطان مراد او بايزيد لښکر تر را رسيدو پورې همهلته تم شول .
د لږڅه ځنده وروسته د شرق له لورې گرد و غبار او دوړې تر سترگو شوې . علي پاشا پوه شو چې سلطان مراد او بايز د خپلو لښکرو سره يو ځاې را نژدې شوې دې نو په دې خاطر د هغوې د ښه راغلاست له پاره يې ځان تيار کړ . د سترگو په کتلو سره د هغه گرد او دو ړو څخه د سلطان مراد را ښکاره شو ، پاشا د سلطان په کتلو ډير خوشحاله شو . د سلطان لښکر د رارسيدو سره سم په هماغه ځاې کې چې د علي پاشا لښکر پړاوکړې و همهلته تم شو . پاشا ور منده کړه چې د سلطان مراد د آس واگې و نيسي ،که څه هم سلطان مراد زوړ شوي و خو د ډير همت او ډيرې ځوانمردۍ څرگندونه يې وکړه ، هغه د آسه را ښکته شو د علي پاشا د لاسو څخه يې دآس واگې بيرته واخيستې او په غاړه يې ور سره روغبړ وکړ او ورته يې وويلې .
علي پاشا ! ته زما د آس د واگو د نيولو له پاره نه يې پيدا شوې . تا دومره ستر کارونه تر سره کړې چې زويه! زه پرې په ځاې وياړ او فخر احساسوم .
دسلطان مراد نه وروسته بايزيد علي پاشا د خپل ځان سره په غيږ کې و نيو . اود هغې وروسته علي پاشا بيا د نورو سالارانو سره روغبړ وکړ. لا تر اوسه پورې دسلطان مراد لښکر وروسته پاته و. د ټولو سره د روغبړ وروسته کله چې علي پاشا د سلطان مراد او بايزيد مخته راغې نو تر لږه وخته پورې سلطان مراد علي پاشا ته په ډيره مينه وکتل او په مخ يې دخندا لکيرې را پيدا شوې . بيا سلطان مراد علي پاشا ته وويل:
علي پاشا ! دبروصې نه ستاسې سيمې ته د را روانيدو په وخت کې چې کومه هيله ما ستاسې پورې تړلې نو سوگند په خداى چې لا شريک او قادر دې چې ته زما د هيلو څخه ډير پورته او ارفع و ختلې . تا په دښمن باندې څومره ښه د غيرفاني جذبو او تل پاتې هيلو په څير حمله وکړه او دخپلو آسونو د پښو سَمونو ، د غشو د توغولو ، د تکبير د اوازو ، او د تورو په هر ضرب باندې مو د دوښمن څيره ژيړه او دهغوې سترگې مو لمدې کړې .
علي پاشا ! دا چې ته زما زوي يې ، او د بايزيد د زامنو څخه هم تر ټولو کم عمره يې ، خو زه به تا ته د زوې په نوم خطاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم . نو اې زما زويه ! واوره ! ستا د سوبې ، اوبريا خبرونه ما ته را رسيدلي و ،زما زويه ! ستا په کار او کړچار زه همدومره خوشحاله او ډاډ من يم دا سې ډاډ من لکه څنګه چې دخپل کار څخه ډاډمن اوسم .
نو اې د خيرالدين زويه ! واوره : اوس يو ځل بيا دغه د الله د مخلوق دښمنان غواړي خپل ظلم او تيرې ته دوام ورکړي ، معراج يو انسان په خپل مخ کې د يو سوالګر ، د کوم بينوا او بې اسرې په څير را ټيټوي ، خو مونږ لاشريکه خداې خپل معبود او خپل مددګار ګڼو او د همغې تر مخه خپل سر ټيټوو . که چيرې د جنګ په دغو ميدانونو کې مونږ ته يو ځل بيا د اروپا ځواکونو چلينج را کړې ، نو د فطرت سترګې به ووينې چې مونږ به د هغوې سره په دې جنګ هم د الله دکتاب آيات او دالله د وياړلو په څير را څرګنديږو ، او په دې معرکه کې به هم مونږ د انسانيت څيرې ته روښنايي ور وبښو. او هلته به خپل نوي څراغونه روښانه کړو .
زما دوسته ! د هغو نوم ورکو واديو کاني به هم ووينې چې د زړو د نظام شوقينو دښمنانانو باندې مونږ څه ډول د مشيت د راز او ابن ادم دکمال په څير نازليږو . دښمن به په خپله ووينې چې مونږ به د هغوې د خوبونو لړی د توپانونو ترمنځ په ډوبولو کې لږ څه ځنډ هم و نه کړو . مونږ به د شنيزه د غاړو په ميدانونو کې هم ددښمن سترګې د وينو د اوښکو څخه ډکوو . څارونکې سترګې به ووينې چې د رښتيا وژونکې او د خپل برخليک او اخرت نه نه ويريدونکې به مونږ د مجوسيانو د اور په څير ومروړو . د بابل د بت په څير به دوې ټوټې ټوټې کړو او کله چې زمونږ ټکر را منځته شي نو و به وينې چې د جنګ ډګر کې مونږ دهغوې له پاره د اور په شعلو کې د انقلاب د بحر په څير را وخوټيږو .
تر دې ځايه پورې سلطان مراد لږ ځنډوکړ او وروسته يې د بايزيد په لور وکتل او ويې ويل :
بايزيده ! ته علي پاشا ته څه ويل غواړې ؟
د بايزيد پر مخ باندې مسکا راغله ، او ويې ويل : درونده پلاره ! هغه څه چې ما ويل غوښتل هغه ټول تا وويل : دعلي پاشا د بې مثاله کړچار ستاينه تا په پوره اخلاص سره وکړه . زه ، سوګند يادوم چې داسې ستاينه زه نه شم کولې ، خوبيا هم بايزيد د علي پاشا په لور وکتل او ويې ويل :
علي پاشا! دکومې ورځې څخه چې ته د بروصې څخه راغلي يې او کوم کړچار چې له تا نه يې هيله کيده . دهغه په اړوند زه په څه شک او شبه کې نه يم . ما هر وخت د سلطان تر مخه ستا ستاينه او تعريف کړې دې . کله چې ستا د کاميابيو او برياو خبرونه هلته بروصې ته راورسيدل نو محترم سلطان ته دا ډاډ پيدا شو چې هغه ستاينه او تعريف چې ما ستا کاوه هغه په ځاې او پر حقيقت باندې ولاړ و . زما دوسته ! اوس ته دعثماني سلطنت يو نيغ تير ، نه ټيټيدونکې او نه کږيدونکې توره ، او په دښمن باندې د مرګونو ضرب ورکونکې يو غښتلې يې ، او عثماني سلطنت به تل پر تا وياړي .
د بايزيد د خبرو سره لږ څه چپه چپتيا را پيدا شوه . دهغې وروسته سلطان مراد يوځل بيا علي پاشا ته مخ را واړاو او ورته يې وويل :
علي پاشا ستا د لښکرد حالت په کتلو سره زه دا ويلې شم چې ته همدا اوس په همدې وخت کې دکوچ کولو له پاره تيار يې . هغه سپاره چې ماتاته را استولي و لکه چې تا د هغوې د خبر سره سم خپل فوځ کوچ ته تيار کړې دې . په هر حال تاسې زمونږ سره همدا اوس حرکت کولو ته تيار ياستئ.
علي پاشا د سلطان مراد په لور په کتلو سره وويل :
درونده سلطان ! زه خو همدا ستاسې منتظر وم ، زما لښکر له تاسې سره يو ځاې کوچ کولو ته تياردې .
دهغې په دې خبره باندې سلطان مراد د خپل آس واګې په لاس کې و نيولې او ويې ويل : که چيرې داسې وي نو بيا په خپل آس باندې سپور شه ،او کوچ وکړه .
د سلطان دخبرې سره سم علي پاشا د آس په لور ور منډه کړه او په خپل اس سپور شو، په دې وخت کې سلطان مراد او بايزيد هم په خپلو آسونو سپاره شول . او د متحده لښکر سره د ټکر له پاره يې د شينزا د ددرياب لورې ته حرکت وکړ.
پرلپسې لري .....

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانو سازشونه (۸)**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دي ؟

عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانوسازشونه (٨)

اوس تاسې ددې تاريخي ناول اتمه برخه لولئ:

(٨)

پرلپسې ***** ١٢

ريونا لکه د يوې ويريدلې هوسۍ په څير د نريوس دکور دهليز ته ور ټوپ کړ او ور ننوتله . نريوس دکور او انګړ په پاکوالي کې مصروفه وه . د ريونا ددې بيرني حالت او په منډه په ورتلو سره نريوس خپله جارو په لاس کې ونيوله ، او دهغې په لور يې و کتل . دخپله ځايه را پورته شوه . خو ريونا د را تګ سره سم وويل چې :

نريوس خورې ! ستا کوچنيان او مور چيرې دي ؟

نريوس سمدستي وويل : هغوې درې واړه زمونږ ددغه ګاونډي کور ته ورغلي ، ولي ! خيريت خو دې ؟ ايا کوم ښه يا خراب خبر خوبه دي نه وي راوړې ؟

ريونا د يوې لحظې له پاره فکر وکړ او بيا يي د نريوس په لور وکتل او په ژولې ژبه يي وويل :

نريوس ، خورې ! ايا تاته معلومات شته چې علي پاشا د خپل لښکر سره يو ځاې د شينزا د درياب د غاړو په لور حرکت کړې ، ايا د تللو په وخت کې يې له تاسره کتلي و ؟

نريوس ددې خبر په اوريدو سره لږ څه غمجنه شوه ، هغې خو په خولې څه و نه ويل ، خو په نفي سره يې سر و خوځاوه ، په دې وخت کې ريوناورته وويل :

ما خو فکر کاوه چې علي پاشا به له تاسره کتلي وي او بيا به تللې وي . او زه د علي پاشا څخه دهمدې شکايت کولو په خاطر راغلي وم چې که چيرې هغه ستاسې د کتلو له پاره راغلي وي نو بيا خو به هغه زمونږ ځاې ته هم بايد راغلي واې اوبيا تللې واې ، خو ستا څخه په اوريدو سره چې علي پاشا دلته نه دې راغلي نو اوس زما د زړه څخه داشکوه او شکايت هم ووت .
هغه خبرونه چې زما پلار ته رارسيدلي و دهغوې په مطابق نو همدا نن سهار سلطان مراد د خپل لښکر سره يو ځاې دلته را رسيدلي و . دلته د رارسيدو سره سم سلطان خپل څو سواره علي پاشا ته را استولي و او علي پاشا ته سلطان دخپلو راتلو څخه د مخه دکوچ کولو له پاره دخپل ځان دتيارولو حکم کړې و .

ويل کيږي چې د سلطان مراد د راتلو د مخه علي پاشا د خپل لښکر خيمې را ويستلي وې او دکوچ له پاره يې تيارې کړې و . اوڅنګه چې سلطان مراد او د سلطان مراد زوې بايزيد هغه ځاې ته را ورسيدل چې علي پاشا په کې پړاو کړې و نو سلطان مراد د خپل زوې بايزيد اوعلي پاشا سره يو ځاې د اروپا دمتحده لښکر دمقابلې له پاره د شينزا په لور کوچ وکړ.

تردې خبرو وروسته ريونا دلږڅه وخت له پاره ځنډ وکړ او بيا يې نريوس ته مخ کړ او ويې ويل :

نريوس خورجانې ! ته خو دکور په کار کې نښتې يې . زه اوس ځم ، ما غوښتل د همدې موضوع په هکله خبرې وکړم .

نريوس په ډيره ترخه توګه د ريونا په لور وکتل ، هغه يې له لاسه و نيوله ، او ورته يې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریونا خورې ! د پردیو په څیر خبره مه کوه . ما دکور ټول کار ختم کړې دې . را ځه چې دواړه خوېندې سره کینو او خبرې وکړو ، زه هسې هم په کور کې ځانته یم . ستا سره په کیناستو به زما زړه لږ څه را ټول شي .

ریونا د نریوس خبره و منله ، بیا دواړه مخامخ خونې ته ولاړې ، او هلته په یوه لمڅې باندې کیناستلې اوپه خپلو منځو کې یې خبرې پیل کړې .

۱۳ ******

د شینزا د دریاب غاړې ته په رسیدو سره سلطان مراد خپل لښکر ته د خیمه کیدو حکم وکړ . اوس حالات داسې و چې دشینزا ددریاب جنوبی غاړه کې د سلطان مراد لښکر پړاو کړې و په داسې حال کې چې د شینزا ددریاب په شمالي غاړو کې د اروپا متحده لښکر تر ډیره ځایه پورې خپور ور پروت و . دهغوې د لښکر شمیره دومره زیاته وه چې ددریاب په غاړه چې تر کومه د سترګو نظر کار کولې شو دهغوې دلښکر خیمې تر سترګو کیدې . اروپاې ځواکونو څو لکه کسان د سلطان مراد د لښکرو سره د مقابلې له پاره راټول کړې و.

دا حال یواځې یوه ورځ پاته شو .، بیا سلطان لږ څه پورته ولاړ او هلته یې خپلو انجنیرانو ته د لرګیو د پُل د جوړولو حکم وکړ تر څو د شینزا دریا ب څخه د فوځونو دتیریدولو له پاره مناسبه لاره پیدا کړي ، څنګه چې دشینزا د دریاب په غاړه د لرګې پُل جوړ کړل شو سلطان مراد د خپل لښکر سره یو ځاې ددغه پُل څخه تیر شو اودډښمن مخامخ یې پړاو وکړ ، د اروپا په متحده ځواک کې چې څومره سالاران و، هغوې د سلطان مراد، دهغه د زوې او علي پاشا په جرأت او بهادرئ باندې هک حیران شول .

مشهور تاریخپوه (لین پول ) لیکي چې را روانه شپه سلطان دالله په دربار کې د خپلې سوبې او دخپل شهادت له پاره هیله او دعا وکړه ، هغه ټوله شپه ویښ و او په عبادکې مصروف او دخپل الله نه یې د بسپنې او اعانت غوښتنه کوله . لین پول دا هم لیکي چې هغه د یوه مؤمن په څیر د مشرکینو سره په جنګ کې د خپل شهادت هیله من و . لین پول مخته لیکی چې دا دسلطان مراد د دعاوو اغیز و چې سهار یې اثرات دمعجزې په توګه را څرګند شول . په سهار کې ډیر سخت توپان او باد وباران په را پیدا شو چې مخ یې ډیر د ترک لښکرو په لور و . د ترکانو تر څنګ ښه باران وشو . په دې تر تیب دهغوې سره د اوبو ډیره ښه پراخه ذخیره پیدا شوه او شاوخوا ته یې چې کومې شګې وې هغه هم اوس د شګو په ځاې په د ختو په څیر ګرځیدلې وې .

بل سهار سلطان مراد خپلو لښکرو ته د صف جوړولو حکم وکړ . کله چې سلطان مراد د جنګ له پاره دخپلو لښکرو صفونه جوړول نو سلطان خپلو ټولو سالارانو ته په یوه ځاې کې د راټولیدوحکم وکړ، کله چې ټول سالاران را ټول شو نو سلطان مراد هغوې ته مخ واړاوه او ورته یې په وینا کې وویل :

زما دوستاتو! واورئ ! د انسان کوچنیوالې یوه دردناکه بیداري ، ځواني یې یو طلاې خوب او زړښت یې دونې د زیړې پاڼې په څیر دې . او زه اوس په دې وخت کې دهمدې زیړې پاڼې ځاې ته رسیدلې یم . یعني په هر ه لمحه کې او د ژوند په هر موړ کې ، هیڅ انسان خپل ځان په مکمله توګه متوازن نه شي ساتلې . دا ژوند یو مکتب دې او د ټول ژوند له پاره د فطرت یوه معمه ده . خو بیا هم انسان د خپل پوره والي ، د خپلو غوښتنو د پوره کولو له پاره ټول ژوند په هڅه او هاند کې تیروي . نو د حالاتو د سختئ او تریخوالي ترمخه هره لمحه انسان خپل اصلیت باید له یاده و نه کاږي او د ژوند د قفس څخه هر وخت د مرګ منتظر و اوسي .

زما ملګرو ! په دې کائناتو کې هر شي د زوال او فنا پابند دې . یواځې غیر فاني الله او زمونږ رب ذات دې . هیڅ شي دهغه د ذات پرته لازواله نه دې . نو لکه څنګه چې سمندر نه ویده کیږي . دهغې بیداري دخوب نه بې برخې والې دې په همدې توګه ددې کشمکش په زمانه کې مرګ هم د لمر په څیر بیداره او هر وخت متوجه اوسي . دا جنګ چې مونږ به یې پیلامه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ څه ځنډ وروسته کوو . نوکه زه په دې جنګ کې شهيد شوم ، ووژل شوم نو زما وروسته به تاسې لکه د تيږو په څير جمود نه ګرځئ او نه به د څرونکو په څير په تفکر او چورتونو کې ډوبيږئ . لکه څنګه چې له ماسره دکار کولو په وخت کې صحرا صحرا د غږمبيدونکي اور ، د درياب د تندو موجونو په څير په خپلو دښمنانو باندې ور لويږئ او په همدې تر تيب د لمر د اچونکو وړانګو به څير زما د زوی بايزيد سره لا س ورکړئ ، زما وروسته به همدا ستاسې سلطان اوسي . زه تا سې ته داډ درکوم چې د تاريخ په رفتار کې به دا ستاسې سره د منصفانو روايت او د نقيبانو په څير اخلاص نه ډک سلوک و کړي او ستاسي تر منځ به د اخوت او ورورګلوی د نور په څير ..ستاسې خيال وساتی .

زما کار کوونکو وارئ ! ددين اصل عقل ، د عقل اصل علم او دعلم اصل صبر دی . که چيرې تاسې ددښمن په مقابله کې د صبر نه کار واخلئ ، د جرأت او استقامت مظاهره وکړئ نو ياد ساتئ چې تاسې به نه يواځې ستور و باندې خپل ډال خپور کړئ بلکه انساني زړونه به هم تسخير کړئ .

زما دوستانو! اسلام ټول وخت د سيم او زرو له پاره نه بلکه د انسان د عزت او کرامت لار مونږ ته را خولې ده . که چيرې تاسي ددې ترخو لمحو څخه ازاد شوی او د را نغښتې فکر زنځيرونه ما ت کړئ او جسمانې قيد له ياده و کاږئ اوخپل کړچار ، خپل ماحول پاک کړئ نو ياد ساتئ ، چې زما خدای به تاسي ته برياوې او خوشحالي درکړي . هغه څه چې زه يې تاسې ويل غواړم د هغې لنډيز دادې چې که زه په دې جنګ کې و مرم ، نو زما وروسته به زما زوی بايزيد ستاسې سلطان اوسي . بس همدا يوه مرکزې نقطه وه چې ما تاسې د هغې له پاره راټول کړي واست ، تاسې ټول اوس دخپلو خپلو دلګيو په لور ولاړ شئ . يوازې بايزيد اوعلي پاشا له ماسره پريږدئ . واورئ ! لښکر په درې برخو ويشل کيږي . يوه برخه يې زما سره ، بله برخه يې د بايزيد او دريمه برخه به يې د علي پاشا سره اوسي . اوس ټول ولاړ شئ او دجنګ دپيلامې انتظار وکړئ . ددې سره سم د بايزيد اوعلي پاشا پرته نور ټول سالاران د لښکر په لور ولاړ ل .

په دې وخت کې سلطان مراد خپل زوی بايزيد اوعلي پاشا ته وويل چې :

زما زامنو! د جنګ د پيلامې د مخه دخپل رب ، د خپل خدای دحضوره د ملاتړ ، او استعانت دعاوې وکړئ.

ددې خبرې سره سم سلطان مراد د خپل آس مخه د قبلې لورې ته واړوله اوپه خپل آس سپور شو . بايزيد او علي پاشا هم دخپل پلار په څير خپل اسونه د قبلې په لور کړل او پرې کيناستل . بيا يې د سلطان په لور وکتل او په دعائيه توګه يې لاسونه پورته کړل . سلطان په لوړ اواز پيل وکړ چې :

اې الله ! د لمر ګرمې څپې ستا په حکم باندې د سمندر د پراخيو څخه را وځي او خپله رڼا شيندې ، اې الله ! ستا په حکم باندې دستورو څرخيدل د انساني تقديرله پاره بنسټ ګرځي ، او د ژوندانه د يوې قطرې څخه قومونه اوولسونه منځته راوړي ، همدا ستا په اجازه پر اسمان باندې وريځې راخپريږي او يو په بل سې ځغلي او شپه په خپلې پوره تيارو سره نزول کوي .

اې خدايه ! همدا ته ژوند د جمال اوحرارت سره نوازش کوې ، همدا ته د هر ګل په پاڼه باندې خوشبو ، په پاڼه پاڼه باندې دتقدير کرښې باسې ، همستا په اجازه شفق د اسمان د نيلګونې سره غاړه غړی کيږي . د مڼو په ونو کې ميوه راپيدا کيږي او لمر د شعاعو څخه وريځې رنګينږې .

اې الله ! زه ستا عاجز بنده يم . تا واحد او لاشريک ګڼم ، او تل له تا څخه بسپنه اوکومک غواړم . اوس هم زه ددښمن ډيرو زياتو لښکرو تر مخه ولاړ تا ته لاس په دعا يم او يوازې له تا څخه بسپنه او کومک غواړم.

سلطان مراد دعا غوښتله او ورپسې وروسته بايزيد اوعلي پاشا دواړو امين وايه . دلږ څه ځنډ وروسته سلطان مراد بيا خپل خدای ته زارې اوعذر شروع کړ او ويې ويل چې :

اې الله ! دوې مکاری ته ذهانت ، بکواس ته علم ، کمرزی ته نرم زړې ، بزدلی ته بې نيازې ويونکي اوس د بدنصيبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيورو په ځير پر مونږ باندې يرغل کونکې دي . اې زما الله ! د وخت د سيلاب له پاره که ته وغواړې نو تيږه ورته آينه کړې . تيارو ته لمررا وکاږې ، د لارې غبار کهکشان و گرځوې ، يخې ځپې د طور په شعله باندې تبديلې کړې . اې زما الله ! ته چې کله وغواړې ذرې ذرې ته د صحرا پراخوالې ، شبنم ته ساگر ، اغزو ته گلستان جوړکوې ، اې زما الله . زمونږ تر مخه د تمدن دغه ړندې لوخړې ، د گناهونو ځالې، په وينه تويونکو هيکلو کې را نغښتې دښمن ، غواړې پر مونږ باندې يرغل راوړي اومونږ خپل غلامان و گرځوي ، ايې زما الله ! زه ستا عاجز بنده يم ، ماته همت را ، زما کومک وکړه چې زه ددښمن لاسونه د وينو نه ډک کړم اودهغوې په زړونوکې د ويرې او رعب تيارې خورې کړم ، اې زما الله ! ددغې دښمن په مقابله کې مونږ ته برې را. اې زما الله مونږ په خپل حفظ کې و ساته او بريمند مو و گرځوه .

تر دې ځايه سلطان مراد خپله دعا پاې ته ورسوله ، ددې وروسته درې واړو حرکت وکړ . سلطان منځنی برخې کې د ورېد ، په داسې حال کې چې بايزيد اوعلي پاشا خپلو خپلولښکريانو ته ورغلل .

هلته د اروپا په متحد لښکر کې هم تر ډيره وخت پورې د جنگ ډول وهل کيده بيا دهغوې ټول لښکر مخته راغې ، په دې وخت کې دسرويه پادشاه لازار يواځې نه ، بلکه د اروپا د نورو هيوادنو تکړه جنرالان اوحکمرانان هم دخپلو لښکرو سره يو ځاې و . ټولو په زوره زوره عجيب و غريبې نارې وهلې ، او خپلو عسکرو ته يې ډاډ ورکاوه . دددې لښکر و تر شا د اروپا بې شميره ښايسته او زينت کړل شوې نجونې را روانې وې چې د صليبې جنگياليو له پاره يې ډاډ اواطمينان ورکاوه . ويل کيږی چې په هغونجونو کې دسرويه دپادشاه لازار لور ډسپنا هم شامله وه . دهغې په اړه دا هم ويل کيږې چې هغه داروپا د ډيرو ښايستو نجونو څخه يوه وه او د اروپا هر حکمران غوښتل چې دهغې سره واده وکړي .

په همدې وخت کې د اروپا متحده لښکر مخته راغې او د سلطان مراد په لښکر يې د طاغوتې ابليس ، او زهرجنو مارانو په ځير يرغل وکړ .

سلطان مراد هم سمدستې خپل عکس العمل وښود . هغوې هم په پوره ميړانه او د يوه سخت هجوم سره سم په دښمن باندې ور پريوتل .

ددغو اروپايي صليبانو جنگياليو له پاره د سلطان مراد ، بايزيد اوعلي پاشا دغه ځوابې حمله داسې وه لکه د چا ترمخه چې کومه بنده صحيفه ، کوم نه ليدلې خوب ، کوم زورداره توپان او کوم نوې انقلاب په ځير مخته راشې .

ددواړو لښکرو دداسې ټکريدو سره دجنگ ډگر داسې صورت ځانته نيولې و لکه اتش فشان چې و چوي ، دبرزخ د عالم دجسمونو ارواح چې پورته عالم ته رخصت شي ، هره ساه اذيت ، هره لمحه حشر پيدا کونکې وي . د تيارو طنابونو کړيو د صليب شکل نيولې و او ژوند يې د اور د سيلاب په ځيرله منځه ووړ .

داروپا دې صيبليانو ته پوره ډاډ بلکه پوره يقين و چې هغوې به د سلطان مراد او دهغه لښکرو ته ډير بده ماتې ورکوي . ځکه چې هغوې د کافي لښکر خاوندان و . بيا هغوې د جنگ نه ترمخه د خپلو لښکريانو حوصلې هم را پورته کړې وې ، دهغوې تر شا د اروپا ډير ي ښايسته او ځوانې نجونې روانې وې . هغوې هم دصليبيانو د ځواکونو د ډاډ سبب وې . صليبي جنگيالې هغه وخت ډير حيران شول چې د خپل ټول توان او ټول لښکر سره يې بيا هم مخته تگ نه شوکولې ، دا په دې خاطر چې دمخې له لورې سلطان مراد ،بايزيد او علي پاشا پرې د توپاني سيليو په ځير يرغل کړې و . دهغوې دتيزې او تندې حملې په واسطه داروپايي صليبيانو حالت سوکه سوکه د مړ کيدونکې اور په ځير گرځيدلې و او مسلمانانو په ډيره تيزی سره د صليبيانو قتل عام پيل کړې و .

په دې جنگ کې سلطان ، دهغه زوی بايزيد دواړه هغه کاروونه تر سره کړل چې نمونه يې په تاريخ کې نه ليدل کيږی. ددښمن په هرې برخې کې به چې کمزورې را پيدا کيده نودوې به د اور د سکروټو او برق په ځير هلته ورسيدل او د دښمن صفونه به يې يو په بل پسې له منځه وړل او يا به يې شاتگ ته مجبورول . په دې جنگ کې بايزيد د تيغ وهلو او تورې وهل هغه کارنامې وکړې چې د همدې کارنامو په اساس بايزيد ته د (يلدرم يعني صاعقه (برق )) لقب ورکړل شو. او د جنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته هغه یوازې بایزید نه بلکه بایزید یلدرم وګرزید .

که څه هم په دې جنګ کې سلطان مراد سخت ټپي شوې و خو هغوې دسرویه پادشان لارشاه هم ژوندې و نیوه . کله چې د اروپا متحده صلیبانو ته خبر ورکړل شو چې دهغوې د جنګ اعلي سالار د سرویه پادشاه لازار شاه ژوندې نیول شوې نو دهغوې حوصلې ماتې شوې نو پدې اساس یې چیرې چې توانیدل و تښتیدل. اروپایې متحده ځواک د شینزا د دریاب په غاړه د سلطان له خوا سخته ماتې وخوړه ، ماتې خوړلې لښکر به خپلې ښایسته نجونې مخته کولې او تښتیدل به .

څرنګه چې سلطان مراد په جنګ کې ډیر خراب زخمي شوې و نو په دې خاطر علي پاشا او بایزید ددښمن تعاقب و نه شو کړاې . ددې څخه ددښمن ځواکونو ته دا ګټه ورسیده چې هغوې په ارام زړه فرار وکړي . بایزید یلدرم او علي پاشا دسلطان مراد د سنبالولو دنده په غاړه اخیستې وه . هغوې وکتل چې د سلطان مراد په وجود باندې زیات شمیر زخمونه دې او دسلطان د وجود څخه د وینو سیلاب را روان دې . ددې وینو په واسطه به سلطان باندې کله کله بې خوشې را تله، سلطان یې هملته د جنګ په میدان کې په شړیو اچولې و او د بایزید او علي پاشا څخه علاوه نور سالاران یې هم مخته ولاړ وو . په لښکر کې شامل طبیب د سلطان د زخمونو مرهم پټې کوله او هڅه یې کوله چې دسلطان د وینې بهیر و دروي ، په دې وخت کې چې کله سلطان لږ څه په هوش کې راغې نو خپل زوې بایزید یلدرم ته یې وکتل او ورته یې وویل چې :

ګرانه وروره ! د سرویه پادشاه لازار شا زما مخ ته راړه .

د سلطان مراد ددې غوښتنې په اساس بایزید یلدرم خپل شاته ولاړ خپل څو ساتونکې یې و استول اوحکم یې ورته کړ تر څو لازارشا د سلطان ترمخه را حاضر کړي . د لږ ځنډ وروسته یې هغه د سلطان مخې ته راوست . سلطان مراد تر لږ څه وخت پورې د هغه سر ا و پینو ته کتل او ډیر عجیبه غوندې مسکایې په څیرې باندې تله را تله ، او بیا یې لازارشا ته مخ کړ او ورته یې وویل :

لازار شا ! تا یو ځل بیا د خپلو اروپایې اتحادیونو په غوښتنه د ددې سیمې د امن د خرابولو هڅه وکړه او تایې دادې انجام هم وکوت . لازارشاه ! تا د ولاړ وخت په جلال کې دیوې داوره ډکې سرې لاوې او دسلګیو اوژړا د توپان په څیر په مونږ باندې ، په دغه میدانو کې حمله راوړه ، اودا هیله دې درلوده چې مونږ ته به د جنګ په ډګر کې ماتې راکړې خو تا وکتل چې زما لښکر ستا ترمخه په تاسې او ستا په لښکر و د توپانې سیلۍ په څیر غبرګ شو.

لازارشا ! ددې له پاره چې جنګ ستا په لور و څرخي تا د اروپانه د تر ټولو ښایستوو نجونو یو لښکر له ځانه سره راوړې و خو ستاسې د جادوګرۍ دا لوبه هم بریالۍ نه شوه او ستا په کار را نه غله .

لازار شاه ! تر جنګ دمخه ستا لښکرو د اروپایې نجونو سره یو ځاې چې کومې میلې کولې او کومې ترانې یې ویلې نو تا وکتل چې هغه ټوله خوشحالي ستاسو د سترګو په اوبو او سوزیدو باندې بدله شوه . لازارشا ! ستا څخه دمخه هم ستا په څیر څو ابلیسانو په مونږ خاورینو باندې دمنترونو جال را خپور کړې خو مونږ د هر دا ډول ابلیس تر مخه د آدم د وفا ، ټینګ یقین او د زړونو دمرهم په څیر، دځواکمون حوصلو سره مقابله کړې او داسې هردښمن مو دخپل تیغ په وینو باندې رنګ کړې او له منځه مو وړې دې .

لازارشا ! ددې ټول جنګ وجه اوعلت همدا ته یې ، ستا په وجه دغه بې شماره لښکرې په دې جنګ کې له منځه ولاړې ، ستا په خاطر د انسانیت څیره په دغه میدانو کې سره شوه ، ته یو داسې مجرم یې چې د بښنولو وړنه یې . په دې خاطر زه ستا د وژلو حکم ورکوم .

دخپلو وژلو د حکم د اوریدو سره سم د سرویه پادشاه لارزاشا و لړزید ، د ډیرې یخنې سره سره بیا هم دهغې په وجود باندې د ګرمۍ خولې را ماتې شوې . او بیا په عجیب شکل سره سلطان مراد خپل زوې بایزیلدرم ته وکتل ، دغه ډول کتل بایزید ته دحکم په څیر و . د هغه په دې کتلو بایزید خپل شاته ولاړو ساتونکو ته یو څه وویل او هغوې یې پوه کړل . هغوې لازارشا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه و نیو یوې لورې ته یوړ او دهغه مرۍ یې و رپرې کړه .

هغه وخت چې د سرویه دپاشا لازارشاه ژوند پای ته ورسید نو سلطان خپل حالت هم ډیر زیات خرابیدونکې و . تر لږ وخته پوې یې په خپلې ساه قابو درلود ه ، بیا یې په خپل مخ کې ولاړ خپل زوې بایزید یلدرم ته مخ کړ او ورته یې وویل :

زما زویه بایده ! د تیرو شوو کلونو بار پر ما باندې پروت و ، خو د راتلونکو کلونو بار به ، اې زما درونده بچیه ! ستا په اوږو پروت وي . زویه ! ته هم ګواه اوسه چې په تیرو وختونو کې کله هم دښمن د خپل زور او غرور په اساس پر مونږ باندې یرغل کړ ې ، نو زویه! داسې دښمن مونږ د موسمې ګرد و غبار په څیر له منځه وړو . بایزیده ! زما څخه وروسته په راتلونکو کلونو کې که کوم دښمن ستا پر خلاف را پورته شي نو اې زما زویه ! دداسې هر دښمن په وړاندې د تقدیر د عذاب او یو تند او تیز توپان په څیر را پورته شه . زویه ! که د فصل ساتنه و نه شي نو ځناور ، مرغان او نور حیوانات هغه له منځه وړي او خرابوي یې ، نو اې بچیه ! رعایا د فصل په څیر دي ، او پادشاه ددې فصل ساتونکې دې اودهغې د مالک په څیر دې که د خپل فصل ساتنه و نه کړې نو په راتلونکو ورځو کې به هغوې دخپل خوراک و څښاک سامانونه له کومه کوي ؟ زه تاته نصیحت او وصیت کوم ، زما نه وروسته د یوه عادل اونیک زړه حکمران په څیر حکومت وکړه تر څو د تاریخ پاڼې او راتلوکې نسلونه ستا نوم په نیکه او ښه توګه یاد کړي .

تر دې ځایه دخبرو وروسته سلطان لږ څه ځنډ وکړ او په زوره زوره یې ساه واخسته هغه تر یو څو لمحو پورې خپل د لاسه تللې ځواک بیرته درست کړ اود علي پاشا لورې ته یې مخ کړ اوپه ډیر کمزورې اواز سره یې ورته وویل :

علي پاشا! زه اوس د مرګ مخ ته ولاړ یم ، زه په خپل فکر کې الفاظ نه شم راټولولې چې ستا دممنونیت له پاره یې استعمال کړم او ستا د ځان ځارنې تعریف وکړم . زما زویه ! په داسې حال کې چې زه اوس ددې نړۍ څخه تلونکې یم زما په زړه کې دا خواهش راځي چې کاش چې ستا په څیر سر ښندویه ، ستا په څیر جنګجو هغه وخت ماته تر لاسه شوې وې چې زه ځوان وم ، خو علي پاشا واوره ! زه د خپلې مړینې تر مخه ستا د حیثیت ټاکل غواړم . زه تا ته د بایزد د زامنو په څیر خیال کوم ، زما زویه ! زما نه وروسته د بایزید ملاتړې اوسه او یوازې د له همدې سره وفاداره اوسه. لکه څنګه چې یو زوې دخپل پلار سره اوسي . زه پوهیږم چې تا په خپل ژوند کې ډیر ې ستونزې او کړاونه کتلي د ي ، خو زه ډاډ درکوم چې بایزید یلدرم به زما څخه زیات تا د خپلو بچیانو په څیر دوست ګڼی .

د سلطان مردا ددې خبرو څخه علي پاشا ډیر اغیزمن شو دهغه په سترګو کې اوښکې را غلې وې ، هغه د سلطان تر څنګ کیناست ، د سلطان لاس یې په دواړو لاسو و نیو ، او اوږده شیبه یې خوله پرې ایښې وه او ښکلاوه یې، په دې وخت کې د علي پاشا د سترګو اوښکې د سلطان په لاسو پریوې . بیا علي پاشا په لړزیدلې اواز وویل :

درونده سلطانه ! وخت به ووینې چې زه د بایزید یوازې زوې نه بلکه د هغه یو ډیر ادنې خادم به هم و اوسم . درونده سلطانه ! د هر چا پر خلاف چې ماته دا حکم وکړ ې نو زه تا ته ډاډ درکو م چې زه به په خپل ځان د پرواه کولو پرته دهغه په دښمن باندې ور لویږم او تر خپو لاندې به یې مروړم .

علي پاشا ددې څخه نور څه زیات و نه شو ویلې . ځکه چې د سلطان مراد څښ نور را ځوړند شوې و، لاسونه یې بې ساه و . اوسلطان مراد ختم شوې و . هغه د سلطان مراد لاس همغسې په خپلو لاسو کې وساته او د کوچنیانو په څیر یې ورته په سلګیو پیل وکړ . بایزید په خپل ځای ولاړ و ، شونډې یې رپیدې د سترګو یې د اوښکو سیلاب را روان و ، ددوې د ژړا تر څنګ شاوخوا ولاړو سالارانو او ساتونکو ټولو په کوکو کوکو وژړل .

تر لږ وخته پورې همداسې حال و . بیا بایزید د علي پاشا څنګ ته راغې هغه یې ددواړو اوږو څخه و نیو او پورته یې کړ . او بیا یې په خپله غیږ کې و نیو. علي پاشا د سلطان بایزید په اوږو سر کیښود او دکوچنیانو په څیر یې په کوکو و ژړل .
بایزید دهغه په ملا لاس را ښکو او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي پاشا ، زما زويه ! ماته معلومه ده چي تا په خپل لږ عمر کي ډيرې صدمي ، ډير ې ستونزې کتلي ، ماته دا هم معلومه ده چي د سلطان د مړينی دا پيښه هم تا ته د زغم وړ نه ده . ځکه څوک چي مرګ ويني نو دهغې پخواني زخمونه بيرته را تازه کيږي او د نه زغم داذيت سبب ګرځي . خو زما زويه ! حوصله کوه ، خپل ځان سبنال کړه ، تر څو د لښکر د کوچ کولو بندوبست وکړو .

دبايزيد په تسلی سره علي پاشا سمدستي خپل ځان سنبا ل کړ خپلې اوښکي يې وچې کړې او بيا يې په ډيره بې وسی سره په خپل مخ کي پروت د سلطان لاش ته کتل. په دې وخت کي سلطان بايزيد يو ځل بيا د علي پاشا په اوږو باندې لاس کيښود او ورته يې وويل :

علي پاشا زويه ! د سلطان لاش به په يوه عسکر ې ګاډی کي ږدو، زه غواړم له دې ځايه بروصې ته کوچ وکړو او هملته په بروصه کي د سلطان مړې خاورو ته وسپارو .

دسلطان بايزيد په خبرو باندې علي پاشا يو ټکان وخوړ او د سلطان په لور يې مخ کړ او ورته يې وويل چي : دروندده سلطانه ! ستا وينا په ځاې ده . که چيرې مونږ د خپل ټول لښکر سره يو ځاې له دې ځايه کوچ وکړو اودښمن ته خبر ور ورسيږي چي سلطان له دې دينا څخه تللې دي ، نو ايا دهغوې حوصلي ، او ولولې به بيرته را ژوندی نه شی ؟ او هغوې به د شينزا ددرياب څخه په راتيريدو سره يو ځل بيا زمونږ په سيمو باندې دخپلو شيطاني لوبو اغاز و نه کړي؟

د علي پاشا ددغې استفهاميه وينا په اساس سلطان بايزيد يلدرم متوجه شو . د لږ څه وخت له پاره يې علي پاشا ته په توصيفي توګه وکتل اوبيا داسې معلوميدل چي هغه کومه پريکړه کړې ده نو علي پاشا ته يې وويل :

زويه !کومه انديښنه چي تا و ښودله هغه په ريښتني توګه په راتولونکو ورځو کي زمونږ له پاره خطرناکه کيداې شي . اوس زما په فکر کې دهمغې حالاتو دکنترولو له پاره يو وړانديز شته که چيرې ته په هغې راضي يې نو زه داډ من يم چي بيا به دښمن دومره په اسانی سره زمونږ پر خلاف دسر د راپورته کولو جرأت و نه کړای شي .

علي پاشا د سلطان بايزيد يلدرم په لورې په ډيرې مينې سره وکتل او ويې ويل : دروندده سلطانه! هغه وړانديز چي اوس ستا په ذهن کي دې هغه تاسو ووايااست ، زما د رضامندی فکر مه کوئ ، هر تجويز چي ته وړاندې کړې نو هغه به زما له پاره د حکم معنې ولري .

د علي پاشا ددې خبرو سره بايزيد يلدرم خوشحاله شو او ويې ويل :

زما وړانديز دادې چي هغه لښکر چي د پخوا څخه ستا په قوماندې کي دې ته دهمغې لښکر سره يو ځاې د روميل په ولايت په يوه ځاې کي چيرې چي ستا خوښه وې پړاو وکړه ، بلکه زه خو دا غواړم چي د روميل په ولايت کي مونږ ته د اوسيدو يو عسکر ې تلپاتې مرکز په کار دې ، تر څو مونږ دهغه ځايه د اروپا څخه هررا پورته شوې خطر له منځه يوسو . خو اوس زما تجويز دادې چي ته د خپل لښکر سره يو ځاې د روميل په ولايت کي پاته شه ، هغه لښکر چي د بروصې څخه راغلي زه هغوې دخپل ځانه سره اخلم او دخپل پلار مړې بروصې ته وړم او هملته يې د تدفين مراسم تر سره کوم . که چيرې ته ددې له پاره رضامند يې نو په دې پوه شه چي زمونږ له پاره کومه ستونزه نه راپيښيږې . او که ته چيرې خپلې خور ، مور ته کوم پيغام استول غواړې نو هغه هم مونږ ته ووايه . ددې ترڅنګ زه تاته دا هم ويل غواړم چي کله هم ته د اروپا څخه د راپورته شوې کوم ځواک څخه ويره احساس کړې نو سمدستي يې مونږ ته اطلاع راکړه . هسې هم زه غواړم د خپلو جاسوسې شبکې يو جال په دې سيمه کي و غوړوم او بيا ددې ځايه کوچ وکړ م . دغه شبکه به ماته د يوې يوې پيښې په هکله معلومات راکوی او تر څنګ به له تاسره هم په تماس کي اوسي او د حالاتو د بدلون څخه به مونږ په پوره توګه خبروی ، ددې ځايه دکوچ کولو څخه د مخه زه به ددې جاسوسی شبکو پيژندکلوې له تاسره وکړم . خو ما له تا څخه غوښتل که چيرې ته دخپلې مور او خور له پاره کوم پيغام ليږل غواړې نو ماته يې ووايه زه به ستا دخور او مور سره ووينم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلطان بايزيد يلدرم ددې ورانديز په ځواب کې علي پاشا لږ څه فکر اوکړ او بيا يې سلطا ن ته وويل:

درونده سلطانه ! د هغوې له پاره زما پيغام همدا دې چې هغوې ته زما دخيريت په هکله خبر ورکړئ او هغوې ته ډاډ ورکړئ چې زه د خپل پلار او ورونو د قاتلانو پسې ګرځم او هيله لرم چې ډير ژر به يې پيدا کړم. درونده سلطانه ! زه غواړم دهغوې د مصارفو له پاره څه نقدې رقم ور وليږم .

دعلي پاشا ددې خبرې سره سم سلطان د هغه په خوله باندې لاس کيښود او ورته يې وويل:

علي پاشا ! اوس داسې خبرې مه کوه . زه په خپله دهغوې د اخراجاتو مسؤل يم کله چې ته زما د زوې په څير له ماسره يې نو ستا خور زما د لور او ستا مور زما دخور په څير دي ، ته دهغوې د مصاروفو په هکله بلکل فکر مه کوه ، يوازې دهغوې اخراجات نه بلکه اوس خو دهغوې ساتنه هم د بايزيديلدرم په غاړه ده . مګر ستا دپلار او ورونو د قاتلانو څخه د بدل اخستلو په اړه بايد ووايم چې ته به دا کار د خپل لښکر په ملاتړ همدلته د روميل په ولايت کې دخپل تم کيدو په وخت کې په ډيره ښه طريقې سره تر سره کړې .

علي پاشا په ډيرې خوشحالي سره وويل :

دورند سلطان ! که چيرې تا ماته دلته دخپل لښکر سره يو ځاې د پاته کيدو نه واې ويلې نو ما به په خپله تاته ويلې چې په دې سيمو کې ددښمن په خوزښتونو باندې د څارنې او نظر کولو له پاره ما ته په دې سيمه کې د قيام او تم کيدو اجازه راکړه . خو اوس چې تا ماته د لته د روميل په ولايت کې د تم کيدو حکم کړې دا زما په هکله يوه ډيره غوره او ښه پريکړه ده . اوزه به په راتلونکې وختو کې تا ناهيلې نه کړم .

ددې پريکړې وروسته دسلطان مراد لاش يې په يوې جنګې ګاډئ کې کيښود ، او سلطان بايزيد يلدرم خپل جاسوسان دعلي پاشا سره ور وپيژندل ، او بيا د کساو د ميدانو څخه دواړو سلطان بايزيد يلدرم او علي پاشا د خپلو لښکرو سره يو ځاې کوچ وکړ . د لرګې د همغې پل په واسطه چې دوې د شينزا درياب څخه تير شوې و د همغې پل په واسطه بيرته را تير شول . دښمن ته د ماتې ورکولو وروسته ، دهغوې د پړاو څخه سلطان بايزيد يلدرم ته د ډير زيات مال اودولت تر څنګ وسلې او جنګې مهمات او خوراک څښاک هم په لاس ورغلي و چې د شميرلو اندازه يې نه کيده . هغوې دا ټول شيان را ټول کړل او بيا علي پاشا او بايزيد يلدريم دواړه د لښکرو سره يو ځاې د روميل ولايت ته را ننوتل . دلته علي پاشا دخپل لښکر سره يو ځاې په هماغه ځاې کې قيام وکړ دکومه ځايه يې چې د سلطان مراد او بايزيد يلدرم د لښکرو سره يو ځاې د متحده لښکرو په مقابل کې د جنګ له پاره کوچ کړې و . او بايزيديلدرم د خپل پاته لښکر سره يو ځاې د بروصې په لور حرکت وکړ.

ويل کيږې چې سلطان مراد د ترکانو د نورو مسلمانو حکمرانانو څخه ډير په خپل مذهبی اعتقاداتو کې کلک و . هغه ډير بهادر ، ننګيالې ، زړه ور او د عظمت خاوند و . هغه دخپلو هڅو او کوششونو د شانداره پايلو په اسا س ډير زيات د نيک او ښه بخت انسان و .

هغه خپل اسيايي هيواد ته، دتورې وهلو ، جرأت ، بهادرئ ، زړه ورتيا او ازدواجي اړيکو په قيمت ډيره پراختيا ورکړه . دهمدې صفاتو په درلودلو سره يې د اروپا په څو سيمو باندې يرغل وکړ هغه يې سوبه کړې ، په هغه وخت کې د بالقان د غرونو لړئ د شرق او غرب تر منځ په دوه څرګندو کرښو ويشل شوې وه . او ددې غرنيو سيمو د شمال او جنوب په لورې خپارو واره صليبي نشانونه و، په داسې حال کې چې په پاته دوو برخو يې په غرب کې پرته زمکه چې په پخوا وختو کې يې ورته بوسنيا ويل کيده ، چې په دې سيمه کې د سرويه او بوسنيا دوه حکومتونه و او شرقي خطې ته بوسنيا او بلغاريه ويل کيدل ، دغه دواړو خطې د تريس او مقدونيې په نامه ياديدې ، او بيا يې ددغې دواړو خطو يو ځاې والي ته د روميليا سيمه ويله . ددغو څلورو خطو څخه سلطان مراد د جنوبي شرقي برخه يعنې تريس و نيوله ، بيا يې د مقدونې په لور مخ کړ او دمقدونيې يوه برخه يې ونيوله اود عثماني سلطنت برخه يې وګرځوله ، ددې نه اخوا سلطان مراد د خپل حکومت پولې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږدې غرنې لړۍ ته ورسولې چې روميليا د البانيه څخه جدا کوی .

سلطان نوره هم دخپلې بهادرۍ څرګندونه وکړه ، هغه د اروپا په پاته نژدې زمکو هم خپل لښکر ور وخيژاوه ، د بالقانه تير شو اود نيش په سيمو يې هم غلبه پيدا کړه .دا سيمه د ستر قسطنطين دپيدايښت وطن دې ، چې د برنطيني دحکومت يو ډير ستر سنګر او پينه قلا وه . سلطان مراد دا ښار د پنځه پنځوس ورځو د محاصرې څخه وروسته تر خپلې ولکې لاندې راوست .

ددې وروسته سلطان مراد د اروپا په دننه کې خپل تګ ته دوام ورکړ ، دسرويه د ازاد حکمران د حکومت په زړه يې يرغل وکړ اوهغه ترې امان وغوښت ، هغه ورته يو زر پونډه نقريې او يوزر پونډه کلني خراج ورکول و منل . دهغې وروسته سلطان د بلغاريې په لور مخه کړه ، د بلغاريې حکمران پخوا له دې چې د خپل حکومت د سقوط او دمسلمانانو په لاسو د هغې د فتحې منظر ووينې په ډيره عاجزۍ سره د رحم غوښته وکړ ه، دهغوې غوښتنه هم ومنل شوه . د هغه ځاې حکمرا ن خپله لور سلطان ته د خراج په ځاې غوره و ګڼله ، د هغه لور سلطان په خپل حرم کې ور داخله کړه . په دې ترتيب دغه ټولې سيمې سلطان دخپل جرأت ، بهادرۍ او زړه ورتيا په اساس فتحه کړې . اوس نو کومې سيمې چې سلطان دخپلو ازدواجې اړيکو په غزولو سره د خپل اغيز لاندې راوړې و ې . هغه په دې ترتيب سره دي ، چې دهمدې اړيکو په واسطه سلطان اسيايي ولکه شوې سيمې په سوله ايزه توګه تر خپل اغيز لاندې راوړې . همدا راز سلطان مراد دخپل زوې بايزيد واده هم د کرميان د امير د لور سره وکړ . کرميان د هغو سيمو څخه يوه وه چې د سلجوقي د سلطنت د پاې ته د رسيدونه وروسته را پيدا شوې وه .

ددغې واده په پايلو کې ناوې د خپل پلار د رياست يوه ستره برخه ، نوي ترک ځوان بايزيد ته د جهيز په توګه راوړه ، او په دې تر تيب د کرميان سيمه په خپله د عثماني سلطنت برخه وګرزيده . ددې واده مراسم په ډيره شانداره توګه د بروصې په ښار کې تر سره شوې و.

په دې تر تيب د سلجوقيانو لس واړه واړه رياستونو ټول د سلطان مراد په سلطنت کې را شامل شوې و . په دې واده کې ناوې د بايزيد له پاره دخپله ځانه سره د عربي نسل يو ډير ښه آس ، يوه يوناني پيغله دکنيزۍ په توګه او د سکندريي حيرانونکي وريښمي کپړا د تحفو په توګه راوړيوو . خو هغه جواهرات او نقري چې ناوې له ځانه سره راوړی وې هغه سلطان مراد بيرته د واده په ميلمنو وويشلې ، ددې تر څنګ دغه ناوې سلطان مراد ته د کرميان د سترو سترو قلاګانو کنجياني هم را وړې وې ، نو ددې ازدواجې اړيکو په واسطه د سلجوقيانو هغه کوچني کوچني رياستونه هم د سلطان مراد په سلطنت کې را ونغښتل شول .

د کساو په ميدانو کې چې سلطان مراد د اروپا متحده ځواک ته بدترينه ماتې ورکړه نو دهغې په واسطه عثمانی امپراطورې په نور سيمو باندې هم خپله ولکه زياته کړه او دقسطنطنيي پادشاه يو بې هيواده پادشاه ګرځيد. ددې نه علاوه سلطان مراد د بلغاريې پراخه سيمه فتح کړه او سرويه ، بوسنيا، اومقدونيه يې هم په خپل سلطنت کې ر ا شامل کړل .

سلطان مراد چې دخپلو رعاياو سره څومره مراعات کولې شو هغه يې کاوه خو تر څنګ يې همدا سې سخته نيونه هم کوله . هغه به لږې خبرې کولې اوخپلې ارادې به يې تل پټې ساتلې ،، کله يې چې دحکومت وخت يوديرش کالو ته ورسيد نو دهغه عمر اته شپيته کاله و . او همغه و چې د کساو په جنګ کې په کار راغې .

په هر صورت د سلطان مراد زوې د ستر عظمت خاوند بايزيد يلدرم دخپل پلار لاش بروصې ته راوړ، او په شاهانه احترام اودرنښت سره يې دبروصې د ښار په غربي څنډه کې خاورو ته وسپاره . دهغه د مقبرې تر څنګ اوس هم دهغه عسکرې لباس او خولۍ موجوده ده، په داسې حال کې چې دا ډول خولۍ اوس په ترکې کې رواج نه لري .

د مقبرې لاندې درې نيزې ايښودل شوې چې دهغوې د سرونو سره د درې آسونو لکۍ تړل شوې ، همدا د عثماني ترکې د بيرغ نښه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکساو په میدانونو کې په کوم ځای کې چې سلطان مراد زخمي شوې و، ویل کیږي چې هلته اوس هم درې تیږې اېښودل شوې دي .

په هر حال بایزید خپل پلار په بروصه کې خاورو ته و سپاره ،او بیا یې دسلطان په څیر دخپل سلطنت د نظام د جوړښت له پاره کار پیل کړ.

پرلپسې لري...

دقریب الرحمن سعید ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف یي د صلیبیانو سازشونه (۹)**

مکمل غیر سیاسي : یوتاریخې په زړه پورې ناول .

زمونږ دهیواد ګوډ یتمور څوک دي ؟

عثماني امپراطوري او پرخلاف یي د صلیبیانوسازشونه (۹)

اوس تاسي ددې تاریخې ناول نهمه برخه لولئ:

(۹)

۱۴ *****

درومیل په ولایت کې د علي شاه دخپل لښکر سره یو ځای د پړاو کولو نژدې یوه میاشت تیره شوي وه . په دې وخت کې دهغه د لاس لاندې مخبرانو او جاسوسانو په اروپایي هیوادونو کې یو جال خپور کړې و اوهغوې علي پاشا د ټولو بدلیدونکو حالاتو څخه خبراوه ، او علي پاشا دا ټولو خبرونه تر سلطان بایزید پورې ورسول . تر اوسه چې په اروپاکې کوم بدلونونه راتلل هغه دا و چې : د سرویه دپادشاه لازار شا د وژل کیدو وروسته د هغه زوی ستیفن او لور یې ډسپنا هڅې پیل کړي و ې ، دواړو د اروپا د مختلفو هیوادنو په سفر وتلي و و او هغوې یې د مسلمانانو پر خلاف رالمسول ، په دې تر تیب ستیفن او ډسپنا په ډیره چټکتیا سره د مسلمانانو پر خلاف یو ستر لښکر را ټول کړې و تر څو د کساو په میدانو کې د خپل پلار د وژلو او خپلې ماتې بدل واخلي . علي پاشا ته دا خبرونه ټول رارسیدل. او بیا همدې دا ټول خبرونه تر سلطان بایزید پورې ور رسول. یوه ورځ علي پاشا په خپل آس باندې سپور شو او د خپل لښکر د پړاو په داخل کي یي څارونکې چکرواهه چې یو ناڅاپه په شرقي برخه کې ودرید. ځکه د شرقي برخې څخه څو اسپ سواره دهغه په لور په ډیره ګړندۍ توګه را روان وو. ددې سپرو په لیدلو سره سمدستي علي پاشا د خپل لښکر یوه برخه «تیارسئ» کړه . دا هغه ډله وه چې د لښکر د ساتنې دنده ور په غاړه وه . خو د علي پاشا اندیښنه ډیره ژر په خوشحالۍ باندي بدله شوه ، ځکه چې دغه راتلونکی پنځه ویشت سپاره و او کله چې هغوې را نژدې شول نو علي پاشا هغوې د خپل لباس څخه و پیژندل چې هغوې ترکان مسلمانان دي ،

د رانژدې کیدو سره سم سپاره و دریدل نو علي پاشا حیران پاته شو ځکه دهغې سپرو په مخکې دهغې مور قیرات او خور سریان را رواني وې ، علي پاشا دخپلې مور اوخور په کتلو سره ډیر زیات خوشحاله شو او منډه یي کړه خپلې مور ته ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړیوت او بیا یي خور په غېږ کې و نیوله . قیرات او سر یان هم د علي پاشا په کتلو د خوشحالی نه په کالیو کې نه ځایېدې ، او دهغه په کتلو سره سم د خپلو آسونو څخه را ښکته شوې . علي پاشا خپلې مور او خور ته په ډېره حیرانتیا سره کتل او بیا یی ورته وویل :

مورجانې ! خیریت خو دې ؟ ته او سر یان دلته زما پړاو ته د څه په خاطر راغلي یاست ؟ ایا تاسې ته هلته کوم تکلیف او یا مشکل پیدا شوي دي ؟

د علي پاشا ددې اندېښنې په مقابل کې قیرات او سریان دواړه په خندا شوې او علي پاشا ته یي دهغه د پوښتنې په ځواب کې وویل :

علي پاشا زویه ! مونږ ته به څه تکلیف او مشکل را مخته وي ؟ سلطان بایزیدیلدرم په مونږ دواړو مور اولور دومره پام کوي لکه څنګه چې یو پلار د خپلې لور او یو ورور د خپلې سکه خور . هغه زمونږ د احوال د معلومولو له پاره هره ورځ برهان الدین را استوي ، یوه ورځ ما په خبروخبرو کې برهان الدین ته وویل چې علي پاشا مې ډېر یادشوې دې او زړه مې غواړې چې یو ځل یی ووینم . برهان الدین زما د غوښتنې څخه سلطان بایزید یلدرم خبر کړې و، نوسلطان سمدستي دغه د ساتونکو ډله تیاره کړه او مونږ دواړه یی ستا لورې ته ر ا ولیږلو . دا ټول انتظام د سلطان بایزید له اړخه شوي و . زویه ! سلطان بایزید تاته سلام کاوه او برهان الدین هم ته ډېر ډېر یادولې ، هغه ستا د کار څخه ډېر زیات خوشحاله دې . زویه ! په جنګونو کې چې کومه میرانه تا ښوولې ده نو د هغې ټولې څخه زه او ستا خور خبریدو ، زویه ! زه ډاډ منه یم چې ته به دخپل پلار او دوو ورونو بدل واخستلې شې .

درنې مورجانې ! ته اندیښنه مه کوه ، قاتل چې هر چیرې ولاړ شي خو زما د انتقام څخه به خوندی پاته نه شي. دریونا پلار رستاک له ماسره ژمنه کړی ده چې هغه به د قاتلانو په اړه ماته معلوما ت راکوي ، هغه دا وعده هم کړي ده چې که چیرې زما د پلار او ورونو قاتلان دهغه خپل وریرونه هم وی ، بیا به هم ماته دهغوې د اوسیدو ځایونه را په ګوته کوی. زه هیله لرم چې رستاک به خپله ژمنه پوره کړي ، او کله چې داسې وشول نو مورجانې ! ته به واورې چې ما به قاتلان خپل انجام ته رسولي وي .

د علي پاشا په دې خبرو باندې قیرات او سریان دواړه ډېرې خوشحاله شوې ، قیرات غوښتل څه ووایي خو علي پاشا دهغې خبره غوڅه کړه او ویی ویل : مورجانې ! راځه چې خیمې ته ولاړ شو دلته په ولاړه ټولې خبرې خوند نه کوي ، بیا یی خپل نائب سالارته حکم وکړ چې د راغلیو ساتونکو د ډلې له پاره دخوراک څښا ک غم وکړی او په خپله د خپلې مور اوخور سره د خیمې په لور روان شو.

درې واړه یو بل ته مخ په مخ کیناستل . بیا قیرات علي پاشا ته مخ کړ او غوښتل یي ورته څه ووایي چې یو وسله وال ځوان خیمی ته را ننوت ، دهغه په لاسو کې د پیتلو یو پتنوس و اوپه هغې کې یي څه د څښلو له پاره راوړې و، هغه یې د علي پاشا تر مخه کیښود ، علي پاشا ته یی تعظیم وکړ او بیرته ووت . علي پاشا خپلې مور اوخور ته وکتل او ورته یي وویل :

مورجانې ! او زما ګراني کوچنی خورې ! اول دا شربت و څکی او بیا به نورې خبرې کوو.

دعلي پاشا د وینا په مطابق قیرات اوسریان دواړو ګیلاسونه را پورته کړل ، اوشربت یي و څښه ، اوبیا یي ګیلاسونه یوې خواته کیښودل او قیرات په خبرو پیل وکړ .

علي پاشا زویه !هغه سپرو چې زه او سریان یی دلته راوړو ، هغوې ویل چې تاسې د رومیل په ولایت کې پړاو کړې دی نوزویه ! ستا دورور ښځه نریوس او ریونا هم دلته د رومیل په ولایت ک ې چیرې اوسی . هغوې به ددې ځایه څومره لری وي ؟ ایا ته کله هم ور سره ګورې او که نه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قيرات ددې پوښتنې په مقابل کې د علي پاشا په مخ باندې خوښي را ښکاره شوه ،او بيايې خپلې مور ته وويلې:

مورجانې ! نريوس او ريونا دغه نژدې کلې کې اوسيږي ، له ما سره ډېر نزدې دی ، زه ډېروخت هلته ورځم اودهغوې سره وينم. دلته زما د پړاو تر يوې مياشتې زيات وخت وشو، په دې وخت کې ماڅو ځله دنريوس او ريونا سره کتلي دي . بلکه د ريونا پلار ، په خپله ريونا ، دريونا مور کيتهنا او نريوس هم څو ځله دلته زما خيمې ته راغلي دي او له ماسره پاته شوي دي . مورجانې ! نن شپه به ته او سريان دواړه همدلته زما په خيمه کې پاته کيږئ ، سبا سهار به زه تاسې له دې ځايه دهغوې سره دکتلو له پاره بوځم .

دعلي پاشا په دې خبره باندې قيرات د نفي سر و خوځاوه ، اوويې ويل :

نه علي پاشا ! زه ستا دا خبره نه منم . زه همدا اوس او په همدې وخت کې د نريوس سره کتل غواړم ،تا وويل چې هغوې همدلته نژدې دي . ته همدا اوس پورته شه او ما او سريان هلته د نريوس کور ته بوزه . مونږ به شپه همدلته د نريوس سره يو ځای کوو. بلکه زه خو وايم چې تر هغې چې زه او سريان دلته له تاسره پاته کيږو نو زمونږ دا ټول وخت به د نريوس په کور کې وي ، زه غواړ م چې دخپل زوی د ښځې او دهغې د کوچنيانو سره څو ورځې پاته شم . په دې وخت کې به ته همدلته د نريوس کره زما د کتلو له پاره راځې. زويه ! زه تر يوې اونۍ پورې دلته پاته کيږم. يوه اونۍ وروسته به زه او سريان دهمدې ساتونکو د ډلې سره بيرته بروصې ته ستنيږو.

په دې وخت کې علي پاشا په سواليه سترګو خپلې خور سريان ته وکتل ، شايد چې هغه غوښتل سريان ته څه ووايی خو سريان پرې را مخته شوه او ورته يې وويلې :

وروره ! څه چې مور وويل همغه سهي دي ، زه پخپله د خپلې ورندار نريوس اودهغې د بچيانو هر يو کندام اوخيسار کتلو ته بې قراره يم . نووروره ! که ته ستومانتيا نه احساسوې نوما او مورمې سمدستي هغه لورې ته ورسوه . دمور خبره سهي ده ، مونږ دلته يوازې يوه اونۍ تم کيږو . اوس به مونږ او تاسو همدلته د نريوس په کور کې له يوه بل سره وينو . او يوه اونۍ وروسته مونږ بيرته بروصې ته ستنيږو .

دخپلې مور اوخور د خبرو وروسته علي پاشا دخپله ځايه را پورته شو بيا يې وويل : تاسې مور اولور لږه شيبه دلته کينئ ، زه به دوه اسونه تيار کړم ، يو خپل او بل يو دمه خوړلې آس . ستاسې اسونه زما عسکرو هلته اخورته وړي دي ، هلته يې هغوې ته ګياه او دانه اچولې تر څو دمه شي . دغه دوه اسونه چې زه يې اوس راوړم يو باندې به زه او په بل باندې به تاسې دواړه مور اولور سپاره شئ ، بيا به د نريوس دکور په لور ولاړشو. تاسې به همدلته پاته شئ او زه به بيرته را ستون شم . ځکه چې د نريوس په کور کې د زياتو ځناورو د دريدو ځای نه شته . دهغوې سره يو اس و هغه يې هم و پلوره . اوس چې هغوې چيرې ځي را ځي نو د ريونا پلار رستاک ورته سپرلی تياروي ، هغه ډېر نيک او رحم زړې انسان دي اود پخوا څخه د نريوس او دهغې دمور پربيسا ډېر پام ساتي . ددې خبرې سره سم علي پاشا دخپلې خيمې څخه را ووت .

لږه شيبه وروسته علي پاشا را ستون شو ،دوه اسونه يې د واګو څخه نيولي و. بيا يې دغه دواړه اسونو دخيمې نه بيرون و درول .اوخپلې مور او خور ته يې ورغږ کړ ، قيرات اوسريان هم دخيمې څخه را ووتلې ، په دغه وخت کې دسريان سره يوه ستره ټوکرۍ هم وه ، علي پاشا مخته ورغې او ټوکرۍ ترې را واخسته او ديوه اس د زين سره يې وتړله ، بيا يې په يوه آس باندې خپله مور اوخور سپاره کړل او په بله باندې په خپله کيناست ، او د نريوس او ريونا دکلي په لور سره يو ځای روان شول .علي پاشا خپل نائب سالار د دې ټول پروګرام نه خبر کړ.

*****

کله چې علي پاشا د قيرات اوسريان سره يو ځای د نريو س کورته ور ننوت ، نو هلته ريونا هم موجوده وه . څرنګه چې په دې وخت کې لمر د پريوتو په لور را پرزيدونکې و،نو په دې خاطر کوچنيانو د حويلۍ په انګړ کې د نريوس او ريونا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځاې په خپروشوو لمڅيو باندې ناست و اولوبي يې کولې . په دې وخت کې علي پاشا ددوو اسونو واګې په خپل لاس کې نيولې حويلۍ ته ور ننوت . ددې په کتلو سره نه يواځې نريوس ډېره زياته خوشحاله شوه بلکه ريونا هم د خوشحالۍ نه ډکه وه . ريونا سمدستي د خپله ځايه را پورته شوه اودعلي پاشا د استقبا ل له پاره مخته راغله . خو هغه هغه وخت ډېره حيرانه شوه چې دعلي پاشا پسې وروسته يې د هغه مور قيرات او خور سريان د راتلو په حال کې وکتل .

دقيرات اوسريان په کتلو سره سم د ريونا په نازکو شونډو باندې ژوره خندا را څرګنده شوه، مخ يې د خوشحالۍ څخه وغوړيد.ددې نوې حال نه داسې معلوميده لکه دهغې ورانه دنياګۍ چې دخوشحاليو د سمندر څخه ډکه شوي وی ، ريونا په يوه تيزه منډه ورمنډه کړه او دقيرات نه يې غيږ چاپير کړه

قيرات هم په خندا سره هغه په خپله غيږه کې و نيوله ، هغې د ريونا مخ او سترګې ښکل کړې ، دهغې پر سر يې د مينې اومحبت لاس راښکود . ريونا د قيرات وروسته سريان ته ورغله او دهغې سره يې په غيږ روغبړ وکړ او ان تر دې چې سريان ته ښکته شوه او درنښت يې ورته وکړ.

بيا ريونا قيرات او سريان له ځانه سره يو ځاې مخکې يوړل ، ، تر دېوخته پورې علي پاشا خپل آسونه هلته په انګړ کې تړلی و او دوې ته بيرته را ستون شوې و . هغه لږ مخته ولاړ ، ريونا و دريده ، بيا نريوس په لور يې وکتل او ورته يې وويل :

نريوس خورې ! ددوې سره ووينه ، دا د علي پاشا مور او دغه بله يې خور ده . ددې وروسته ريونا د قيرات او سريان لورې ته وکتل او ورته يې وويل . دغه مخامخ نريوس ده . دا کوچنيان کندام اوخيسار دي . او دغه مشره ښځه د نريوس مور پر بيسا ده .

قيرات او سريان په کتلو سره ، څرګنده نه ده چې دکومو جذبو تر اغيز لاندې نريوس په ډکو سترګو او ډک زړه سره ، تر لږ ځنډه پورې په داسې حال کې چې شونډې يې رپيدې ، منډه کړه مخته ورغله او د قيرات سره په غيږ شوه ، ددې وروسته هغه د باروتو په څير و چاودېده ، د قيرات په اوږه يې سر کيښود او په کوکو کوکو يې وژړل .

دنريوس ددې حال په کتلو سره قيرات هم د ژړا بند مات کړ ،د ميره مړينه او ددوه زامنو شهادت ورته مخته و دريد . کله چې هغه د نريوس سره په غيږ وه او ژړل يې نو دهغوې د سترګو څخه لکه د اوبو بند چې مات شي داسې اوښکې را سر شوې وې.

دا حال د هر چا له پاره د انديښنې او ژړا وړ او د زغم نه وتلې و . ريونا اوسريان هم دواړو د پخلنځي په ديوال تکيه کړې وه او په زوره زوره يې ژړا کوله ، علي پاشا سر ښکته کړې و او يوې لورې ته ولاړ و ، دهغه له سترګو اوښکې را بهيدې او په زمکه کې جذبيدې . پربيسا هم په لمڅي باندې ناسته ژړيدله او بيا را پورته شوه . کندام اوخيسار هم ددغه حالت نه اغيزمن شوې و او دواړو ژړل .

اخر قيرات نريوس د ژړا په حال کې له خپله ځانه جدا کړه ، دقيرات څخه د جدا کيدو وروسته نريوس په ډير شفقت او محبت سره سريان په غيږ کې و نيوله روغبړ يې ورسره وکړ ، د زړه له اخلاصه يې ښکل کړه . په همدې وخت کې قيرات مخته ولاړه او د نريوس د مور پربيسا سره يې غاړه ورکړه . ريونا هم خپل ځان سنبال کړ اومنډه يې کړه د يوې خونې نه يې دوه لمڅي را وويستل . او د پخوانيو لمڅيو سره يې يو ځاې خپاره کړل . علي پاشا تر اوسه هم په خپل ځاې ولاړ و ، ريونا دهغه سره نژدې وه او په مړژواندې لهجې سره يې وويل چې :

علي پاشا! ته دلته ولې ولاړ يې ؟ را ځه کينه . ستا دداسې خفه ولاړتيا او انديښنې او خفګان څخه به په نورو څه تيريږي ؟

علي پاشا هم خپل ځان سنبا ل کړ ، خپلې د غم اوښکې يې په خپل لستوني وچې کړې ، بيا هغه هم په همغه لمڅي کيناست چې دهغه مور اوخور پرې ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږڅه وروسته بیا چپه چپتیا شوه . خو بیا قیرات نریوس مخ واړاوه او ورته یې وویل :.

نریوس لورې ! ستا د لیدولو ارمانجنه وم ، زما زوې علي پاشا اویا زما زوې مجدالدین به تاسو ته زما دکورنۍ ټول حالات ویلې وې . په دې سیمې کې تر هر څه لمړۍ زما خاوند شهید شو . او دهغې وروسته زما دوه ځوان زامن یو په بل پسې په دغه سور تنور کې له منځه ولاړ ل . اوس زما اخري زوې علي پاشا دې لورې ته راغلي دې . زه هر وخت د خپل خداې په وړاندې دده د بریا او موفقیت له پاره لاس په دعا یم . په دې خاطر چې دا زما د کور د انګړ اخري ګل دې .

تر دې خبرې وروسته قیرات یو ځل بیا ودریده ، د خپله ځایه پورته شوه ، بیا بیا یې کندام اوخیسار د لاسونو ونیول او په خپله غیږه کې یې کینول . تر ډیره یې دهغوې دواړو سره مینه کوله ، ښکل کول یې ، په زړه پورې یې نیول اوبیا یې هغه ستر ماشوم کندام ته وویل :

کندام زویه ! ته پوهیږې چې زه څوک یم ؟

د قیرات ددې پوښتنې په اسا س دکندام په څیره کې نرې غوندې مسکار را پیدا شوه ، هغه په دې وخت کې په سوالیه توګه خپلې مور نریوس ته وکتل بیا یې د قیرات مخ ته وکتل او ورته یې وویل :

ته زما د پلار مور اوزما نیا یې .

د کندام په دې ځواب باندې قیرات دومره خوشحاله شوه چې هغې بیچارګۍ یو ځل بیا په سلګیو کې کندام اوخیسار دواړه په خپله غیږه کې را تاو کړل ، بیا نو دا یو غمناکه او د اذیت نه ډکه صحنه وه . هغې وویل :

زما زامنو ! کندام اوخیسار ه ! تاسې زما د نسب د شجرې ګلان یاست ، زما زامنو! الله دې تاسې ته دومره اوږود عمر درکړې چې خلک ستاسې په دغه اوږود عمر باندې رشک وکړې . الله دې تاسې دومره نیک و ګرځوې چې خلک ستاسې د نیکۍ ستاینه وکړې .

تر دې ځایه د خبرو کولو وروسته قیرات چپ شوه، داسې معلومیده چې کوم څه ورته رایاد شوې وې . بیا دعلي پاشا په لور وکتل او ویې پوښتل :

علي پاشا ! هغه ټوکرۍ چې ما او سریان له ځانه سر ه راوړې وه هغه دې چیرې پرې ایښې ده ؟ علي پاشا سمدستي را پورته شو او ویې ویل : مورې ! هغه د آس له زینه سره ما تړلې ده ، همدا اوس به یې راپرانزم او را به یې وړم .

د هغه په دې خبره ریونا سمدستي له خپله ځایه پورته شوه اوعلي پاشا ته یې وکتل او ورته یې وویل :

علي پاشا ! ته کینه ، زه به د آس له زینه هغه ټوکرۍ راپرانیزم او را به یې وړم . ریونا را پورته شوه او په منډه هغې لورې ته ولاړه چې آسونه په کې تړل شوې ، د زین څخه یې هغه تړلې ټوکرۍ را پرانسته او را وړه یې او د قیرات تر مخه یې نژدې کینښوده . په دې وخت کې قیرات تر ډیره د هغې تر مخ ناستې نریوس په لور وکتل اوبیا یې هغه ټوکرۍ را واخسته او دنریوس په غیږ کې یې کینښوده .

نریوس ! زما لورې ، دا ټوکرۍ پرانیزه ، په دې کې مونږ ستاسې له پاره او ستا د اولادونو له پاره څه کالي او لباس راوړې . زما د لور ریونا له پاره هم په کې لباس شته ، دا څو ورځې زمونږ کور ته راغله او هلته له مونږ ه سر ه و اوسیده ، او اوس زه دا احساسوم چې دهغې دلته د راتلو څخه زمونږ دکور یو غړې د علي پاشا په څیر زمونږ دکور د انګړ څخه غیر حاضر دې او دی لورې ته راغلي ،نریوس لورې ! سامان ټول را وباسه ، په هغه کې څه نقدي هم شته ، او کالي هم ، زه به درته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايم چې په هغې کې ستا او ستا دکوچنيانو کالي کوم دي او ستا دمور او ريونا کوم دي ؟

دهغې په دې خبره نريوس ټوکرۍ په لمڅي باندې چپه کړه بيا قيرات او سريان دواړو يو ځای ټول کالي سره جدا جدا کړل ، سريان را پورته شوه او دريونا کالي يې دهغې په غيږ کې ور کيښول ، ريونا تر يوې لمحې پورې هغه کالي ښکته پورته کول او ورته يې کتل، دهغې پر مخ باندې د خوشحالۍ اومسکا ليکې راپيدا شوې وې . شايد چې هغې ته دا کالي ډير خوښ و. بيا يې د قيرات په لور وکتل او ورته يې وويل :

اې مورې ! تا ولې دومره تکليف او زحمت ويستلی ؟ څرنګه چې ما په بروصه کې تاته مور ويلې او دمور غږ مې درته کاوه ، نو په دې خاطر اوس هم درته د مور په نامه غږ کوم . دا خو ډير ښه رخت دي ،او زما تر ټولو ډير زيات خوښ . اوبيا تاسو پوهيږئ چې که تاسې ماته هيڅ هم را نه کړئ بيا به هم زه د ټولې نړۍ څخه زيات ستاسې قدر او عزت کوم .

د ريونا دې خبرو قيرات او سريان دواړه ډير زيات خوشحاله کړل . بيا هغوې دواړو يو ځای د نريوس ، پربيسا ،کندام وخيسار کالي بيل بيل کړل او او نقدې رقم يې د همد ټوکرۍ څخه را بيل کړې او هغه يې نريوس ته په غيږ کې کيښود. په دې وخت کې د نريوس مور پربيسا قيرات ته مخ را واړو او ورته يې وويل :

قيرات خورې ! تا خو ډير زيات مصرف کړې ، ددې نه مخته علي پاشا هم مونږ ته ډير څه را کړي ،ګوره خورې

قيرات د پربيسا خبرې غوځي کړې او ورته يې وويل : د نريوس مورې ، نريوس يوازې ستا لور نه ده ، اوس هغه زما لور ده . دهغې پر ما او زما پر هغې باندې ډير حقوق دي . دا څه چې ما ورته راوړې دي ، زما خورې ، دا خو هيح نه دي. که خدای و غواړي او دا کله هم بروصې ته زما خواته راشی نو کتونکي به ووينې چې زه د خپلې لور څومره خدمت کوم .

اوس نو لمر لويدلی و ، نريوس کالي را ټول کړل او پورته شوه ، ريونا ته يې مخ واړاوه او ورته يې وويل : واوره خورې ! خپل کالي دې اوس همدلته په خونه کې کيږده . ګوره دا دې لمر پريوتې دې ، را ځه چې ډوډۍ تياره ده.

ريونا ورته وويلې چې هغه کالي چې زما دې هغه به زما سره وی ، نريوس خورې ! ته خپل کالي او نقدې کڅوړه هلته دننه کيږده او راځه ، بيا چې زه څه ويل غواړم نو تاته به يې ووايم.

نريوس سمدستې د کاليو او نقدې کڅوړې سره يو ځای مخامخ خونې ته ولاړه او د لږ ځنډ وروسته بيرته را ستنه شوه. کله چې هغه لمڅي ته را نژدې شوه ودريده ، نو ريونا ور ته وويل :

نريوس خورې ! نن به ډوډۍ دلته نه پخيږي ، ټول به زما سره زمونږ کور ته ځئ ، څومره ورځې چې زما مور قيرات او زما خور سريان دلته تم کيږي ، نو د هغوې تم کيدا ځای ، او نوره ميلمستيا به يې همهلته وي ، نريوس خورې! څومره ورځې چې دوې پاته کيږي ،نو ته او ستا مور او بچيان به هم همهلته له مونږه سره پاته کيږئ . زما په دې خبره که کوم يو څه نيوکه لري نو ويې واياست . اوکه نه زه همدا اوس کور ته ځم او خپله مور او پلار هم همدلته را وړم . بيا به هغوې په خپله تاسې له ځانه سره هلته يوسي .

ريونا ددې خبرو وروسته چپ شوه ، ځکه چې په همدې ساعت کې د ريونا مور کيتهنا او پلار رستاک حويلۍ ته را ننوتل . دهغوې په کتلو سره نريوس ،علي پاشا اوريونا ټول و دريدل . نو قيرات هم غوښتل چې پورته شي خو ريونا هغه له لاسه و نيوله او بيرته يې کينوله ، بيا ريونا قيرات ته وويل :

اې مورجانې ! ستا پورته کيدو ته اړتيا نه شته . ستا شخصيت ماته دومره محترم دې چې ستا له پاره نه ښايږي چې د نور و له پاره پورته شې . دغه دواړه يو زما پلار رستاک او بله زما مور کيتهنا دي . بيا خپل پلار او مور ته و کتل او ورته يې د علي پاشا مور او خور دواړه ور وپيژندل . اوبيا يې خپل مور و پلار ته دخبرو به جريان کې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې زما مورې ! اې زما پلاره ! ستاسو د راتلو نه مخته ما دې خلکو ته وويل چې هر څومره ورځې چې د علي پاشا مور اوخور دلته تم کيږي نو دهغوې تم کيدا ځاې او خوراک څښاک به هملته زمونږ په کور کې وي او تر څنګ به يې نريوس ، دهغې مور او دواړه کوچنيان هم هملته قيام کوي .

په دې وخت کې رستاک هم څه ويل غوښتل خو دهغه تر مخه کيتهنا په خبرو پيل وکړ او ويې ويل:

زما د رنو اوخوږو ميلمنو !هغه څه چې زما لور ويلي همغه سهي دي . دا يواځې زما د لور غوښتنه نه ده بلکه داسي و ګڼئ چې دا زما او زماد خاوند رستاک غوښتنه هم ده چې تاسي ټول زمونږ هلته قيام وکړئ ، زه پوهيږم چې زه او زما خاوند رستاک په ښه وخت کې دلته را رسيدلي يو . مونږ دواړه د خپلو باغونو دکتلو له پاره را وتلي و او بيا ددې ځايه تيريدو نو فکر مو وکړ چې ريونا به هم له دې ځايه له ځانه سره واخلو ، نو ستاسي هلته زمونږ سره اوسيدل يوازې زما د لور ريونا غوښتنه اوهيله نه ده بلکه زمونږ د ټولو هيله ده. يواځې ته او ستا لور نه ، بلکه تر څو پورې چې تاسي دلته ياست نو نريوس ، دهغې مور او دواړه کوچنيان به هم له مونږه سره اوسي ، ددې نه علاوه که د علي پاشا زوې سره وخت وي نو هغه دې هم هملته له مونږه سر وا وسي .

د کيتهنا دې وړانديز علي پاشا ډير خوشحاله کړ . بيا نو هغه د کيتهنا په لور وکتل او روته يې وويل :

درنې مشرې ! زه ستا ددې وړانديز ډير زيات ممنون يم . په هر صورت زما مور او زما خور ، زما ورنداره ددواړو کوچنيانو سره يو ځاې ستا سې په کور کې اوسيدې شي . ته پو هيږې چې زما لښکر دلته ډير نژدې پړاو کړې دې . او زه د يوه سالار په څير بايد هلته په لښکر کې موجود و اوسم . په هر صورت زه به د ورځې يو يا دوه ځلې ددې خلکو د کتلو له پاره دلته را ځم .

ددې پريکړې وروسته ټول دخپلو ځايو څخه پورته شول ، ټولو ژر ژر ځانونه تيار کړل ، نريوس دخپل کور ټولې خونې و تړلې ، او ټول د کوره ووتل . بهرنۍ دروازه يې هم کلکه کړه . او د ريونا د حويلۍ په لور وخوځيدل. علي پاشا خپل دواړه آسونه هم له قيضې و نيول او له ځانه سره يې يوړل .

کيتهنا او رستاک دواړو ميره او ښځې ټول له ځانه سره کړل او کله چې حويلۍ ته ور ننوتل ، نو د ننوتلو سره سم ښايسته او خوشحاله ريونا د علي پاشا څخه ددواړو آسونو واګې دتر لاسه کولو هڅه وکړه ، خو علي پاشا ورته وويل :

ريونا ! ته يې ماته پريږده ، زه به دا دواړه اسونه په خپله و تړم .

ريونا دعلي پاشا خبره و نه منله بلکه ددواړو آسونو واګې يې دخپل ځان په لور راښکوددې ، او علي پاشا ته يې وويل :

نه علي پاشا ! دا شونې نه ده . دا زما حويلۍ ده ، دلته دا ډول کار کولو زما کار دې ، دا ځکه چې زه د خپل مور اوپلار يواځې لور نه ، بلکه دهغوې زوې هم يم . په دې خاطر به زه ستا دواړه اسونه تر اخوره پورې وړم. دهغوې تړل ، دهغوې دانه او واښه ، هغوې ته اوبه ورکول ، دا ټول نور زما کار دې .

په دې وخت کې علي پاشا په ډير غور سره ريونا ته وکتل ، اوبيا يې ريونا ته وويل : ريونا ! ستا دا سلوک ددې خبرې څرګندونه کوي چې ته په خپل کور کې ما پردې ګڼې ، اوهمداسې غواړې چې پردې و اوسم .

ريونا په خندا شوه ، او بيا په خندونې اواز سره وويل :

علي پاشا! نه ، خبره داسي نه ده . ستا حيثيت خو زمونږ به کور کې د ډير ستر او درونډ ميلمه په څير دې ، د کوم پردې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ځوانه نجلۍ په دې توګه خبرې نه شي کولی . او نه یې د اسونو واګې تر ې اخلي او په اخوره یې ورته تړي ، بلکه په دې کې خو ستا عزت او ستا درنښت دي ، په دې خاطر ته اوس ددواړو آسونو واګې پرېږده او ضد مه کوه ، زه به ستا خبره و نه منم ، آسونه به زه په خپله په اخور تړم.

د ریونا دې خبرو باندې علي پاشا مسکې شو ، ویې خندل ، او د دواړو آسونو واګې یې هغې ته ورپرېښودې. ریونا د ډیرې زیاتې خوشحالی سره هغه دواړه آسونه اخور ته یوړل ، هلته یې دهغوې څخه زینونه پرانستل ، د آسونو دخولو څخه یې قیضې ایسته کړې او دهغوې د داني او وښو بندوبست یې وکړ.

ټول خلک هلته میلمستون ته ولاړل او کیناستل . په دې وخت کې نا څاپه د کیتهنا سترګې د قیرات په لوڅو پښو باندې ولویدې ، ویې کتل چې پښې یې په ځاې ځاې باندې زخمې او په ځینو ځایو کې چاودې هم دي . د قیرات د پښو د کتلو وروسته کیتهنا سترګې په ډیره مشفقانه توګه د قیرات په څیرې باندې پریوتې اوبیا یې قیرات ته وویل :

قیرات خورې !تر څو پورې به ته په خپل دې سوګند باندې ولاړه یې چې « تر څو چې قاتلانو ته سزا نه یې ورکړل شوي او دهغوې څخه دې بدله نه وې اخستې ، نو پڼې به نه په پښو کوې» . که چیرې بده یې و نه ګڼې او ماته اجازه راکړې نو زه به یوه ډیره ښه جوړه پڼې درته هدیه کړم .

دهغې په دې خبرو باندې قیرات په ډیر ناخوالي اواز سره وویل :

کیتهنا خورې ! لمړۍ زما لور سریان ، زما زوې علي پاشا او بیا زما لور ریونا هم پر ما باندې څو څو ځلې فشار راوړې تر څو زه خپل سوګند مات کړم او پڼې پښنو ته واچوم . ځکه چې په یخنۍ کې زما د پښو حالات ډیر خرابیږې ، خو واوره زما خورجانې ! زه به په خپل سوګند باندې تر هغې پورې ولاړه یم «تر څو چې قاتلان خپل انجام ته نه وی رسیدلي ».

د قیرات ددې ځواب په اوریدو سره کیتهنا چپ پاته شوه ، په دې وخت کې ریونا دخپله ځایه را پورته شوه ، سریان یې له لاسه و نیوله او له ځانه سره یې را پورته کړه . بیا ریونا دخپلې مور کیتهنا په لور وکتل او ورته یې وویل :

اې مورجانې !تاسې ټول دلته کینئ خبرې کوئ ، زه او سریان ځو چې ډوډۍ تیاره کړو .

په دې وخت کې نریوس هم دخپله ځایه پورته شوه او ریونا ته یې وویل ، ریونا جانې ! زه هم له تاسې سره یوځاې پخلنځاې ته ځم تر څو له تاسې سره کومک وکړم.

په ځواب کې ریونا سمدستې نریوس له لاسه و نیوله او بیرته یې په خپل ځاې کینوله ، او ورته یې وویل :

نه ، نریوس خورې ! نن به ته دلته ارام کوې ، دا ټول کار به نن زه او زما خور سریان کوو.

نریوس غوښتل د ریونا د خبرې ځواب ووایې چې دهغې نه مخته علي پاشا په خبرو پیل وکړ.

ریونا ماته ډوډۍ مه تیاروه ، زه بیرته لښکر ته ځم او هملته یې خورم .

دعلي پاشا په دې خبره ریونا په تیزو سترګو هغه ته وکتل او په احتجاجی لهجې سره یې وویل :

علي پاشا ! دا شوني نه ده . ته په هیڅ صورت د ډوډۍ د خوړلو پرته له دې ځایه تللې نه شې . ته په ارام سره دخپلې مور تر څنګ کینه ، دهغې سره خبرې وکړه ، دهغې خدمت وکړه ، زه او زما خور سریان دواړه به په لږه شیبه کې ډوډۍ تیاره کړو ، ډوډۍ وخوره بیا چې چیرته ځې هلته ولاړ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي پاشا غوښتل څه وواييي چې ريونا سمدستي سريان له لاسه و نيوله او د پخلنځي په لور يې بوتله . ريونا او سريان په ډېره بيړه ډوډۍ تياره کړه ، ميلمستون کې ټولو يو ځاې هغه وخوړه ، اوبيا علي پاشا د خپل لښکر په لور و خوځيد .

په دې توګه قيرات او سريان دواړو مور او لور نژدې يوه اونۍ دريونا په کور کې قيام وکړ ، تر هغې چې دوې هلته تم وو ، تر هغې وخته پورې نريوس ،کندام ، خيسار او پر بيسا هم هملته له دوې سره يو ځاې و. علي پاشا به د ورځې يو ځّل يا دوه ځلي هلته راته او دټولو سره به يې کتل . په دې ترتيب د ريونا په کور کې دڅو ورځو د اوسيدو وروسته قيرات اوسريان دواړه مور اولور دهماغه ساتونکو سره چې دوې يې له بروصي دلته راوستي و بيرته د روميليا د ولايت څخه بروصي ته له کوچ وکړ .

پرلپسې لري...

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانو سازشونه (۱۰)**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .

زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دې ؟

عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانوسازشونه (۱۰)

اوس تاسې ددې تاريخي ناول لسمه برخه لولئ:

(۱۰)

د سرويه پادشاه لازار شاه د سلطان مراد په لاسو وژل شوې و ، دهغه دوژل کيدو وروسته د هغه زوې ستيفن د سرويه پادشاه شوې و . د سرويه په تخت و تاج باندې د کيناستو نه وروسته ستيفن سوګند کړې و چې هغه به په هر صورت د مسلمانانو څخه د خپل پلار د وژل کيدو بدله اخلي . نو د سرويې په تخت باندې د کيناستو سره سم په هغه دجنګ ليونتوب راغي . او په ډيره چټکتيا سره يې په خپل فوځ کې زيادښت راوست .

هغومره لښکر چې لازارشاه د سلطان مراد او بايزيد د مقابلې له پاره راوستي و نو ستيفن دهغې دوه هومره لښکر تيار کړ.ددې نه اخوا هغه د خپلو نصاراو (صليبيانو) وررونو څخه هم کومک و غوښت او دهغوې څخه يې هم صليبي ځوانان د مسلمانانو څخه د بدلې د اخستلو له پاره له ځانه سره تيار کړل . ستيفن د يو ډير ستر لښکر د تيارولو او را غونډولو وروسته دمسلمانانو سره دټکر کولو هوډ وکړ . او په دې خاطر هغه د خپل مرکزي ښاره ووت او د سرحدونو په لور روان شو .

ستيفن چې کله دمسلمانانو سيمو ته را نژدې شو نو خپل لښکر يې په درې برخو وويشه ، يوه برخه يې له ځانه سره و ساتله ، او پاته دوه برخې يې د خپلو تکړه سالارانو دقوماندې لاندې ورکړې . هغه لښکر چې په خپله د ستيفن سره و هغوې د ويدين په سيمه کې پړاو وکړ .

(دويدين ښار دبلغاريې په شمال غرب کې دډينيوب د درياب په غاړه د يوګو سلاويه د پولو سره نژدې پروت دې . اوس دا ښار د يو ستر تجارتي مرکز تر څنګ يو صنعتي ښار هم دې . په پخوانيو وختو کې دلته يو ښار د «بونونېيله» په نوم هم اباد و ،او په څوالسمه پيړۍ کې دا ښار د يوه ازاد هيواد پايتخت هم و، د « ۱۳۹۶ ـ د ۱۸۰۷» پورې دا ښار د ترکانو تر ولکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې و.)

د لښکر بلې برخې ته چې د سټيفن يوه تکړه سالار يې قوماندانې په غاړه درلوده ، داسکب په سيمه کې پړاو کولو حکم وشو .

(د اسکب اوسنې نوم اسکوپلچ دې ، دا ښار د بلغارد څخه دوه سوه ميله واټن لري او د «درذار» ددرياب په غاړه پروت دې . اوس يو تجارتي او صنعتي مرکز دې . دلته نن سبا يو کلب ، يوپوهنتون ، او يو نندارتون هم شته . د۱۹۴۱ ز کال د اپريل په مياشت کې پرې جرمنيانو واکمني کړې ده .)

د لښکر دريمه برخې ته سټيفن په غرنۍ لړۍ کې د پټيدو او د غلچکي بريد حکم کړې و، که څه هم سټيفن خپل لښکر په درې برخو ويشلې خو هغه په ډاګيزه توګه دا ښوول چې دهغې لښکر يواځې همدا دوه برخې دې . چې يوې يې په ويدين کې او بله يې په اسکب کې ځای نيولې و. د هغه لښکر په دغه دوو ځايو کې ساتل دحکمت نه خالي نه و . په دې ترتيب سټيفن غوښتل چې کله چې مسلمانان دهغې مقابلې ته راودانګي نو هغوې به هم زمونږ ددوه لښکر و دمقابلې له پاره خپل لښکر په دوو برخو ويشي . په دې ترتيب به دهغوې ځواک کمزورې شي اوبيا چې کله مسلمانان زمونږ ددواړو برخو لښکر سره ټکر وکړی نو هغه برخه چې د غرونو په لړۍ کې پټه پرته ده هغوې به د شا له خوا په دوې ناڅاپي يرغل وکړي . سټيفن په خپلې سوبه باندې ډاډمن و ، دا ځل د سټيفن خور ډسپنا هم په عسکري کاليو کې دخپل ورور اوخپل لښکر تر څنګ ولاړه و ه . په پخوانيو جنګونو کې هغې يواځې دښځينه لښکر لارښوونه کوله ، او دهغوې دښځينه و کار دا و چې د خپل لښکر تر منځ وا وسي او خپل لښکر د مسلمانانو پر خلاف را و پاروي ، خو دا ځل ډسپنا په عملي توګه په جنګ کې ور ننوتې وه .

دسرويه دپادشاه سټيفن دا ستره غلطي وه چې د مسلمانانو لښکر به په دوو برخو په ويشلو سره کمزورې کړي . او دا چې د مسلمانانو دوه برخې لښکر چې کله ددوې د لښکر سره په ټکر کې شی نود دوې دريمه برخه به پرې دشا له اړخه يرغل راوړې او په دې تر تيب به مسلمانانو ته ماتي ورکړې او خپله سوبه به ډاډمنه کړي . دا په داسې حال کې و چې د مسلمانانو جاسوسي شبکو دهرې لمحې اوهرې لحظې خبر علي پاشا ته را رساوه . او علي پاشا هم دا ټول خبرونه پرته له ځنډه سلطان بايزيد يلدرم ته ور ليږل . په دې تر تيب د مسلمانانو جاسوسي شبکو د سټيفن د لښکر ددرې واړو برخو خبر ، دهغوې دپټنځايو په هکله او هم د هغوې دخوزښتونو اوپلانونو په هکله ، د ګړنديو ليږونکو په واسطه علي پاشا اوبيا علي پاشا سلطان بايزيد يلدرم ته ور رسول .

ددې خبرونو د ورسيدو سره سم سلطان درنګ و نه کړ . يو ستر لښکر يې د بروصې د ښاره څخه له ځانه سره را واخست ،او د روميليا په لور را روان شول او دلته ورته په روميليا کې علي پاشا د خپل لښکر سره يو ځاې منتظر ناست و .

۱۷ *****

يوه ورځ ماښام نا وخته سلطان بايزيد يلدرم هغه ځاې ته ورسيد چيرې چې علي پاشا د خپل لښکر سره پړاو کړې و. علي پاشا دخپلو سالارانو سره يو ځاې دهغوې دښه راغلاست په خاطر دهغوې مخې ته ورغلل . سلطان له آسه را ښکته شو او د علي پاشا او نورو سالارانو سره يې په غيږ روغبړ وکړ او تر څنګ يې خپلو لښکر و ته هملته د پړاو کولو حکم وکړ . بيا سلطان د علي پاشا اودهغه د سالارانو او هم دهغو سالارانو سره چې د بروصې له ښاره ورسره يو ځاې راغلي و دخپلې خيمې په لور روان شو .او پاته لښکر په خپلو خيمو جوړولو کې بوخت شول .

ټول په خيمه کې کيناستل ، تر لږ څه وخته پورې سلطان بايزير يلدرم ، علي پاشا او دهغې سالارانو ته کتل اوبيا يې ورته وويل:

علي پاشا زويه ! هغه خبرونه چې تا د خپلو جاسوسي شبکو له لارې ماته را رسولي دي ، دهغوې په مطابق استيفن درې لښکره تيار کړی دي، يو په ويدين کې بل په اسکب کې او دريم يې په غرنۍ سلسله کې پټ کړې دې . په دې توګه استيفن غواړې ځان ته ګټه پيدا کړي .خو مونږ هوډ کړې چې دهغې ګټه به په زيان بدلوو . زما په ذهن کې د استيفن ددې درې واړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکرو دمقابلې له پاره یو پلان شته . که چیرې په هغې باندې عمل وکړ و نو زما په آند به مونږ ډیر ژر استیفن ته ماتې ورکړو ،او بیرته به یې تیښتې ته مجبور کړو. او یا به یې په جنګ کې ژوندې و نیسو او د خپلو شرایطو په مطابق به پرې سوله و منو.

سلطان بایزید یلدرم تر دې ځایه دخبرو کولو وروسته لږ څه تم شو او بیا یې علي پاشا ته وکتل او په پوره ځانګړتیا سره یې هغه ته وویل :

علي پاشا ! زه غواړم نن شپه له تاسې سره یو ځای همدلته قیام وکړم . تر څو زمونږ لښکر دلته لږ څه ارام وکړي ، سبا سهر به له دې ځایه کوچ کوو . زمونږ وړاندې تګ به په ډیره ارامه توګه وي . تر ماښامه به سفر ته دوام ورکړو . د ماښام سره سم به لښکر په کوم ښه ځای کې پړاو وکړی ، ماښام ډوډۍ به وخوري اوکله چې ماښام تیاره شي ، شپه پښخه شي نوته به دخپل لښکر سره یو ځای د اسکب په لور مخه وکړي ، تاته په دې سیمو کې د پاته کیدو په اساس ډیره تجربه تر لاسه شوې ، په دې خاطر به تر اسکب پورې رسیدل تاته کوم ستونزمن کار نه وي .

د سلطان بایزید یلدرم دوینا په ځواب کې علي پاشا وویل :

درونده سلطانه ! ته غم مه کوه . دا ټوله سیمه ما له پخوا څخه کتلې ده . هغه وخت چې ما د ترانوا ښار ونیوه نو زه د ویدین او اسکب تر څنګ تیرشوې وم. ددې څنګ به دشپې په تیاره کې زما هغه مخبران هم زما لاربښوونه کوي چې په اسکب کې یې د دښمن دلښکر پړاو کتلې ، اوس تاسې ماته نور څه حکم لرئ؟

دعلي پاشا په خبرو باندې د سلطان بایزید یلدرم په مخ باندې د خوشحالۍ نښې را و ځلیدې ، اوبیا یې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ورته یې و ویل :

علي پاشا د شپې په تیاره کې ته د اسکب په لور روان شه . هلته چې ددښمن کوم لښکر پروت دې پر هغې باندې دشپې له خوا حمله وکړه ، دا بایدداسې توپانې حمله وی چې دښمن ترې د خلاصو ن لاره و نه مومي ، ترڅو ددښمن دا برخه زمونږ له پاره د خطر سبب ونه ګرځي ، زه به هم ستا د کوچ سره سم د ویدین په لور ولاړ شم . هلته استیفن په خپله دخپل لښکر مشرې کوي ، زه به د استیفن سره په خپله ټکر کوم . علي پاشا زویه ! ستا کار به داوې چې په اسکب کې چې ددښمن څومره لښکر دې هغوې له منځه یوسې اوبیا د ویدین په لور راشې او په کوم ځای کې پټ سنګرونه و نیسې ، کله چې زه د ستیفن سره ټکر کوم نو ښکاره ده چې دهغه، هغه پټ لښکر چې هلته په غره کې یې ځای په ځای کړې دې د شا له اړخه پر ما یرغل کوي ، نوکله چې هغوې د خپلو سنګرونو څخه را ووځي نو تاسې پرې یرغل یوسئ ، تردې وخته پورې زه ډاډه یم چې زه به داستیفن لښکرو ته ماتې ورکړم اوبریمند به ترې را ووځم ، زه هیله لرم چې زمونږ تر شا ددښمن لښکر به تاسې سنبال کړئ . په دې ترتیب د سرویه پادشاه ستیفن به دخپل پلار لازارشا ه په څیر زمونږ تر مخه بې وسه شي. مونږ به هڅه وکړو چې ستیفن ژوندې و نیسو واوپوښتنه ترې وکړو چې هغه ولې بیا د جنګ کولو هوډ کړې و.

سلطان بایزید یلدرم چې کله چپ شو نو علي پاشا ورته وویل :

درونده سلطانه ! کوم پلان چې تا وړاندې کړې هغه ډیر زیات د پیاده کولو وړدې ،بس همدا اخري خبره و ګڼه .

سلطان بایزید یلدرم یو ځل بیا په خبرو پیل وکړ او ویې ویل:

نو که چیرې معامله همداسې وی نو پورته شئ ، د لښکر دپړاو معاینه وکړئ ، او د لښکر دخورا څښاک تیاری وکړئ .

ددې خبرې سره سم سلطان بایزید یلدرم دخپله ځایه را پورته شو ، نور سالاران هم راپورته شول ټول د خیمې څخه بیرون را ووتل ، د لښکر دخوراک څښاک تیارې یې و نیوه ، راتلونکې شپه ټول لښکر په هماغه ځای کې سبا کړه . او سبا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه ځایه کوچ وکړ . علي پاشا دخپل لښکر سره یو ځای د اسکب په لور روان شو په داسي حال کي چي سلطان بایزید یلدرم د سرویه دپادشاه استیفن سره د ټکر له پاره د ویدین په لور وخوځید.

۱۸ *****

د بروصي دښار په لور د قیرات او سریان د تللو نه څو ورځي وروسته بیا هم نریوس ، دهغي مور او دواړه کوچنیان همله د ریونا په کور کي تم شول . یو نا څاپه دوه آس سپاره نا پیژندل شوي کسان د خپلو آسونو سره یو ځای د ریونا انګړ ته را ننوتل . به دي وخت کي ریونا ، نریوس ، دهغوی مور ، دواړه کوچنیان ، رستاک او کیتهنا د حویلی په انګړ کي ناست ول او په خپلو منځو کي یي خبري کولي ، ریونا او دهغي پلار رستاک د نوو راغلیو کسانو په کتلو هک پک شول ، سمدستي د خپلو ځایو څخه پورته شول ، بیا ریونا د نریوس په لور وکتل اوپه ځانګړي اشاره یي هغه پوه کړه ، اونریوس هم اشاره باندي پوه شوې وه . پربیسا هم په دغه اشاره باندي پوه شوي وه ، هغوی ټول پورته شول . ریونا نریوس او پربیسا ددواړو کوچنیانو سره یو ځای یوې خوني ته یوړل . خو د ریونا پلار رستاک و کیتهنا همله په انګړ کي دریدلي پاته شول . راغلي دواړه سپاره مخته ولاړل ، بیا دهغوی څخه یوه د آس واګي پریښولي او د رستاک په لور ورغي او هغه ته یي مخ کړ او ورته یي وویل :

اې کاکا ! زه او ورور مي دواړه د یوې مهمي خبري له پاره تا ته راغلي یو . دي سړي همدومره خبره وکړه چي رستاک یي خبره غوڅه کړه او ورته یي وویل . تاسي ته له ماسره دخبرو کولو د اجازې اړتیا نه شته . تاسو زما د خدای ښبلي ورور زامن یاست ، او زما له پاره هم د زامنو ځای لرئ ، را ځئ هلته په میلمستون کي کینئ . نو هره خبره چي وې همله به یي په ډاډه زړه سره وکړو .

درستاک ددي خبرې په اوریدو سره دواړه سپاره ډیر خوشحاله شول ، دواړو خپل آسونه په اخور باندي و تړل ، او میلمستون ته راغلل او کیناستل. کیتهنا او رستاک دواړه میره او ښځه هم د هغوی تر څنګ په میلمستون کي کیناستل .دهغوی ددي خبرې په اوریدلو سره ریونا ډیره اندیښمنه وه ، کله چي هغوی ټول دننه کیناستل نوریونا د خپلي خوني څخه را ووتله او دمیلمستون د دروازې په ووت کي یي غوږ و نیوه تر څو واوري چي دوې څه وایي ؟ دغه راغلي دواړه سواره د رستاک وریرونه وول. چي د علي پاشا د وژل شوي ورور مجدالدین سره ټکر شوې و او بیا یي ددغي ټکر وروسته د خپلو ځانو د خوندي کولو په خاطر تیښته کړې وه .

په میلمستون کي تر لږه وخته پورې چپه چپتیا وه ، بیا رستاک ته د خپلو دواړو وریرونو څخه یوه وویل :

اې کاکا! زه او ورور مي په څو مهمو مسایلو باندي له تاسره خبري کوو. هغه خبره چي تر هر څه لمړۍ مونږ له تاسره پوښتو غواړو هغه داده چي هغه ښځه چي نریوس نومیږي دا دخپلي مور او کوچنیانو سره ولي ستاسي کور ته ډیره ځي راځي؟ ته پوهیږي چي هغه په دوو علتونو زمونږ له پاره د نفرت او کرکي وړ ده ؟

لمړۍ دا چي هغي نصرانیت پریښود ، دې او مور یي دواړو اسلام و مانه . اوبیا یي د یوه مسلمان سره واده هم وکړ. اودهغي دواړه کوچنیان دهمغه مسلمان میره څخه دي . نو د نصرانیت په پریښولو سره ددې ښځي سره اړیکي ټینګول ښه کار نه دې . داسي خلک په نصرانیت کي د نفرت اوکرکي وړ دي . نو مونږ تاته دا ویل غواړو چي ته هغه پس له دي دلته په کور کي مه پریږده . او دا هم شوني ده چي مونږ د هغي څخه او دهغي ددواړو زامنو څخه دخپلو ترخو یادونو بدله واخلو.

بل د نفرت ا وکرکي وړ علت دادي چي هغي چي د کوم مسلمان سره واده کړي و د هغه نوم مجدالدین و او هغه زمونږ د بدترینو دښمنانو څخه و . تا ته به څرګنده وی چي همدغه شخص دخپلو څو تنو ملګرو سره پر مونږ حمله وکړه . او دهغي حملي په پایلو کي نه یواځي زمونږ پلار ووژل شو بلکه زمونږ کوچني ورور هم له منځه ولاړ . هغه یوازې زمونږ ورور نه و بلکه د ریونا راتلونکي میره هم و . په دې خاطر د دغي نریوس نومي ښځي میره مجدالدین لکه څنګه چي مونږ ته دکرکي او نفرت وړ دي همداسي باید تاسي هم تري کرکه او نفرت وکړئ ، بلکه زه تاته په څرګندو ټکو وایم چي څرنګه چي دهغي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمیره په لاسو زما پلار او کوچني ورور وژل شوي دي نو په دې خاطر یوه ورځ نه یوه ورځ به مونږ ددې ښځې او دهغې ددواړو کوچنیانو څه بدل اخلو او دهغوې ژوند ته به خاتمه ورکوو.

اې کاکا! دا خو لمړی خبره وه چې مونږ غوښتل له تاسره پرې خبرې وکړو خو اوس غواړم هغه بله خبره هم تاته تر مخ کیږدم .

پخوا له دې چې ددې ځوانانو څخه کوم یو خپله خبره پیل کړي رستاک په خبرو پیل وکړ او ورته یې وویل :

د بلې خبرې د بیانولو تر مخه ، زما بچیانو ! دخپل لمړني اعتراض ځواب له مانه واورئ ! اوبیا د بلې خبرې پیل وکړئ . تر هر څه لمړی زه تاسې ته داویل غواړم چې هیڅکله هم ته اوستا ورور د نریوس ، دهغې د مور او دواړو کوچنیانو پر خلاف کوم اقدام و نه کړئ . او نه د هغوې د وژلو هڅه وکړئ ، زما لور ریونا او زما ښځه کیتهنا ځکه هغوې دلته ډیر را بولي تر څو مونږ هغوې بیرته د نصرانیت په لور را واړو. زه به تاسې ته دا په ډاګه کړم چې زمونږ هڅې هیڅکله هم خوشې نه ځي . تاسې ته معلومه ده چې د نریوس میړه مجدالدین چې مسلمان و وژل شوې دې . دهغې نه وروسته ما او زما لور ډیره هڅه وکړه چې نوموړې بیرته خپل نصرانیت ته راوړو ، نو زه تاسې ته زیرې درکوم چې نریوس او دهغې مور پربیسا اسلام پریښې او بیرته نصرانیت ته را اوښتې دي . په دې خاطر زه تاسې ته داویم چې اوس هغوې دنفرت او کرکې وړ نه دي او نه واجب القتل دي په دې خاطر نه دهغوې پر خلاف لاس پورته کړئ او نه هغوې ووژنئ. اوس هغوې دمسلمانانو پر ځاې نصراني شوې دي .

درستاک ددې خبرې په اوریدو سره ددواړو ورونو په څیرو کې خوښي راو ځلیده ، په دې وخت کې هغه بل وویل :

که چیرې هغې نریوس او مور یې دواړو اسلام پریښې وي او نصرانیت ته را اوښتي وي نو دا خو رښتیا هم ډیر ښه خبر دې . زه او ورور مې له تاسره ژمنه کوو چې له ننه وروسته به مونږ نه نریوس ته په بده سترګه وګورو او نه به پرې لاس پورته کړو او نه به یې د وژلو هڅه وکړو . کله چې هغې او مور یې بیرته نصرانیت منلې نو دهغې پایلې دا ر ا وځي چې دواړه کوچنیان به هم د نصرانیت په فضا کې را لوي شي ، اې کاکا! دا خبره ختمه و ګڼه . اوس دا بله خبره ستا مخته ږدو .

ته پوهیږې چې ریونا زمونږ دکشر ورور غوښتنه او پلان و . اوس چې هغه دمجدالدین سره د ټکر په وخت کې له منځه ولاړ نو ریونا به بل چیرې نه ځي ، دهغې اصل ځاې زمونږ کور دې او همدلته به ورځي ، اې کاکا! ته زمونږ دواړو څخه چې هر یوه ته دې خوښه وې د ریونا واده وکړه ، مونږ دا خبره دریونا خوښې ته هم پریږدو، خو زمونږ نه پرته مونږ ریونا بل چاته نه پریږدو .

دخپل وراره ددې خبر و په اوریدلو سره درستاک په څیره باندې د خفګان نښې را ښکاره شوې خودحالاتو د نزاکت سره یې خپل ځان سنبال کړ اوتر ډیره ځنډه چپ پاته شو اوبیا یې د لږ څه فکر نه وروسته وویل :

زما زامنو! هغه څه چې تاسې وویل هغه په خپل ځاې سهي دي . خو تاسې داخبره ډیره وروسته کوئ ، په دې خاطر چې ستاسې د کوچني ورور د وژل کیدو وروسته ما د ریونا کوژدن دکلي د یوه ځوان سره کړې ده ، هغه هم دډیر حیثت خاوند ، نصراني او نیک انسان دې ، اوریونا د زړه نه خوښوي .

دهغه په دې خبره د رستاک د وریرونو څخه یوه یې وویل : ایا ریونا هم هغه خوښوي؟

رستاک لږ څه فکر وکړ او بیا یې وویل :

زما زامنو ! ریونا هغه ځوان لیدلې دې خو تر اوسه یې ورسره خبرې اترې نه دې کړې ، دهغې خوښیږی هم نه ، خو ما او دهغې مور دا خپلوي کړې ، نو په دې خاطر داسې و ګڼئ چې په دې کې د ریونا رضامندي هم شامله ده . که چیرې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره چې تاسي يې اوس کوئ پخوا مو کړې واې نومونږ به دغې ځوان سره د ريونا رشته نه ترله ، بلکه ستاسي د دواړو څخه به مې يوه ته په خوشحالۍ سره واده کړې واى، تاسې په دې مسئله کې کوم اعتراض مه راپورته کوئ.

د رستاک ددې ځواب په هکله دواړه ورونه تر يوه وخته پورې په خپل منځې سلا او مشورې کې بوخت شول او دهغې وروسته يوه يې وويل :

اې کاکا جانه ! بې شکه چې تا به ددې کلې د کوم ځوان سره د ريونا د کوژدې خبره کړې وي خو مونږ به دا واده پرې نه ږدو . مونږ ته هغه ځوان هم معلوم دې د کوم سره چې ته د ريونا واده کول غواړې . لږ ساعت وروسته مونږ دواړه ورونه له دې ځايه درومو ، او تاته يوه اونۍ مهلت درکوو . په دې موده کې ته ښه فکر وکړه ، خو تا ته به غوره او بهتره داوې چې د ريونا دکوژدنې خبره په همدې ځاې پاې ته ورسوې ،او په پوره خوشحالۍ سره ريونا زمونږ سره ليږلو ته تيار شې.

په دې وخت کې رستاک د ډېر عقل او پوهې څخه کار واخست ، ځکه په همدې ځاې کې يې دهغوې دخبرې څخه انکار و نه کړ . بلکه په ډېره عاجزۍ او ډېره نرمې لهجې سره يې هغوې وويل :

زما زامنو !تاسې زما د ورور اولاد ياست ، ماته دخپل ځان نه وروسته تاسو ډېر محترم او درانه ياست هغه څه چې تاسې وويل زه به دهغې په هکله د ريونا او دهغې دمور ، ستاسې دکاني ، سره په دې هکله خبرې وکړم. زه هيله لرم چې مونږ درې واړه به يوځاې کومې ښې پايلې ته ورسيږو . اوبيا هم زه هيله من يم چې بايلې به يې ستاسې په حق کې وي . خو زما زامنو ! پخوا له دې چې ريونا ستاسې څخه د کوم يوه سره واده کړم ستاسې له اړخه هم ډاډ غواړم.

دواړو دخپل کاکا خبرې په ډېر غور سره واورېدې او دهغې د خبرو څخه ډېر زيات خوښمن شول ، تر څنګ يې دهغې د خبرو څخه هيلې هم را وټوکيدې . ځکه چې دهغوې کاکا د هغوې څخه د يوه سره دريونا په واده کولو باندې راضي شوې معلوميده ، نو دوې هم د خپل کاکا په لور باندې په ډېره عاجزۍ سره کتل ، رستاک هم دهغوې ددې ردعمل څخه پوره پوره ګټه پورته کړه ، دخبرو اترو مخ يې بلې خواته يوړ او ورته يې وويل:

هغه باور او ډاډ چې زه يې له تاسې دواړو څخه غواړم هغه دادې چې تاسې هم خبر ياست او زه هم خبر يم چې تاسې د مجدالدين سره ټکر کړې ، او دهغې ټکر په پايلو کې زما د ورور په ګډون ستاسې کشر ورور هم وژل شوې ، زه يواځې دا پوښتل غواړم چې تاسې ولې د مجدالدين سره ټکر وکړ ؟ ګورئ زامنو! ما ته په دې خبره پوهيدل ډېر زيات اړين دي چې کله چې ريونا ستاسې څخه د يوه سره واده شي نو زه غواړم چې زما لور هلته ډاډمنه ژوند وکړي . زه په دې خاطر هم ددې حالاتو څخه ځان خبرول غواړم چې دهغو راتلونکو ګواښونکو حالاتو مخنيوې وکولاې شم او دخپلې لور راتلونکې خوندې کړاې شم . که چيرې تاسې له چا سره دښمنې لرئ ، که چيرې ستاسې د مجدالدين سره کومه دښمني وه ، نو زه بايد پر هغې وپوهيږم . تر څو زه د خپلې لور او ستاسې د دواړو د خونديتوب په هکله وسايل برابر او لارې چارې ولټوم . زما زامنو! ما خو داخبره غلبه نه ده کړې .

د رستاک په دې پوښتنو باندې دواړو ورونو يو ځل بيا رستاک ته په ډېره حيرانونکې توګه وکتل . خو څرنګه چې هغوې ته د ريونا د په لاس ورتلو اميد و نو په دې خاطر هغوې خپل ټول راز خپل کاکا ته په ويلو تيار شول . دهغوې څخه يوه يې وويل :

اې کاکا جانه ! دا چې مونږ ولې د مجدالدين سره ټکر وکړ ، دا په خپله يوه اوږد داستان دې .

رستاک سمدستي ورته وويل :

زه غواړم همدا اوږد داستان واورم ، تر څو په هغه حالاتو او شرايطو چې مونږ ته مخته راځي ، ځان پوه کړم. زامنو! ددې هر څه پوهيدو څخه زما موخه داده چې زه ستاسې ددواړو سره سره د خپلې لور ريونا د ساتنې له پاره هم د خونديتوب سامان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیار کړم . په دې خاطر هر هغه څه چې وشول هغه ماته په تفصیل سره وواياست . په دې وخت کې به زه تاسې ته دا هم ووايم چې له مانه د کومې خبرې د پټيدو هڅه مه کوئ ،که چيرې تاسې کومه خبره را نه پټه کړه اوماته وروسته دهغې په هکله معلومات تر لاسه شو نو دا ياد ساتئ چې زه به هيڅکله هم له تاسې سره د ريونا دتللو اجازه درنه کړم .

د رستاک په دې ګواښ باندې دواړو ورونو وخندل اوبيا يې يوه وويل :

اې کاکاجانه ! هغه څه چې زمونږ سره راز دې هغه به ټول ستا تر مخه کيږدو. اوس چې ته دې ته تيار يې چې ريونا زمونږ سره د ليږلو ملاتړې يې نو بيا زمونږ په فکر زمونږ اوستا تر منځ راز بايد پاته نه شي . اې کاکا چانه ! مونږ يواځې د مجدالدين ژوند ته دپاې ټکي نه دې اينودې ، دهغه نه د مخه مو دمجدالدين مشر ورور او دهغه پلار هم له تيغه تيرکړي دي .

دهغوې په دې څرګندونو باندې د پردې تر شا ولاړې ريونا ټکان وخوړ ، د رستاک ښځه او په خپله رستاک هم هک پک شول . خو ټولو ډير ژر ځانونه سبنال کړل ، او يوځل بيا رستاک په خبرو پيل وکړ.

زه غواړم په دې و پوهيږم چې تاسې اخر ولې مجدالدين ، دهغه ورور او دهغه پلار ووژل ؟

د رستاک ددې پوښتنې په ځواب کې د هغه بل ورور په خبرو پيل وکړ او ويې ويل : اې کاکا جانه !دا يواوږود داستان دې ، په دې کې هيڅ شک نه شته چې هغه درې واړه مونږه وژلې دي خو په دې وژلو کې زمونږ سره نور هم ډير خلک ګډ دي ، او هغوې هم د ا وژل په خپله خوښه نه دې کړې ، بلکه مونږ ټولو ته حکم شوې و چې داسې بايد وشي ، نو مونږ هم همغسې وکړل .

دهغوې په دې څرګندونو باندې رستاک لږڅه ټکان وخوړ خو دهغوې څخه يې د نور زيات معلومات دتر لاسه کولو په خاطر ځان سنبال کړ او ويې ويل : زما د ډاډ او تسلې په خاطر ايا تاسې دا ويلې شئ چې تاسې دا کار د چا په حکم تر سره کړ؟

درستاک ددې پوښتنې له پاره دواړو ورونو خپلو کې مشوره وکړه اوبيا يې يوه وويل :

واروه کاکا جانه ! دلته د يوناني پادريانو او راهبانو يوه ډيره ستره ډله ده ، هغوې نه يواځې د عيسايت تبليغ دنده په غاړه لري بلکه دهغې د پر مختګ له پاره يې زيات شمير تنظيمونه جوړ کړي دی . د پادريانو اوراهبانو ددې ډلې دوه مرکزونه دي . يو يې د ګرمۍ د موسم ځاې دې او بل يې د يخنۍ د موسم ځاې . د ګرمۍ د موسم ځاې يې په « ايکرو پولس » کې دې .

( ايکروپولس يو پورته او لوړ ځاې ته ويل کيږي .د يونان د يوه ښار د ټولو نه پورته ځاې ته « ايکروپولس » ويل کيږي ، په دې اسا س د ايتهنز په شاوخوا کې هم يو ايکروپولس شته ، دا ايکروپولس نژدې پنځه سوه فټه لوړ په يوې غرنۍ سيمه کې پروت دي ، دې ځاې ته يواځې يوه لاره د ورتللو شته ، اوبله نه لري . په دې غره باندې د ښار ستر ستر ې مانۍ ابادې شوې دې ، هلته يو ډير مشهوره پخواني مانۍ« پارتهين » ده چې يو وخت دمعبد په توګه کارول کيده ، د پارتهين قوم دا پخواني معبد د پادريانو او راهبانو دګرمۍ دموسم ناست ځاې و .)

د هغوې ژمني ناستځاې د پلوپ په سيمه کې و . پلوپ د يونان جنوبي برخه ده چې د څلورو اړخو نو څخه په سمندر کې را ګير ده . د وچې يوه نرۍ پټۍ هغه د نورې لوې وچې سره نښلوي هغې ته دګړنګونو پټې ويل کيږی. که چيرې د سهيل له اړخه څوک دغه جزيره نما ته ورځې نو د ترپلي څخه به تيريږي . دا د راهبانو او پادريانو ژمني ناستځاې دې .

اوس نو د کومو پاردريانواو راهبانو د ډلې په اړه زه خبرې کوم ، نو لکه څنګه چې مخته مې تاته وويل چې دهغوې تر مخ تر ټولو ستره دنده د عيسائيت تبليغ او پر مختګ دې . د همدې موخو په خاطر دغه پادريانو وسله وال تنظيمونه جوړ کړی دي ، او په مختلفو سيمو کې يې هغوې خپاره کړي دي ،د دغو ډلو د چلولو په خاطر هغوې د قسطنطنيه د پارشاه مينوئيل نه علاوه د هنګرې دپادشاه سجسمنډ او د بلغاريه د شهزادګانو سائرکن او ايکسلا څخه هم مالي او اخلاقي کومک اخلي . دددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیم تر ټولو ستر او تکړه ملاتړي د بلغاریه شهزادګان سائرکن او ایکسلا دي .

دلته زمونږ د رومیل په ولایت کې ددې تنظیم تر ټولو لوی رکن «یونیسیس »دی ، دا هماغه یونیسیس دی چې زمونږ دکلي سردار هم دی او ته یې ډیر ښه پیژنې هم . دپادریانو او راهبانو دې تنظیم خپلو ټولو کارکوونکو او وسله والو ته حکم کړی دی چې هغه سیمې چې مسلمانانو سوبه کړې دي او یايې سوبه کوي، هلته د مسلمانانو د تبلیغ کارونه مه پریږدئ تر څو دهغوی د تبلیغاتو له لارې عیسایان د اسلام په لور ولاړ نه شي ، مونږ دواړه ورونه هم ددهمدې تنظیم ارکان یو . زمونږ هغه ورور چې، د ریونا کوژده شوې و او ووژل شو هغه هم د همدې تنظیم رکن و . بلکه داسې و انګیره چې ستا ورور او زمونږ پلار هم دهمدې تنظیم رکن و، نو مونږ په دې سیمه کې ټوله کار روایي د خپل کلي د سردار یونیسیس په حکم کوله ، او دهمدې یونیسیس په حکم مونږ د مجدالدین نه اخوا د هغه مشر ورور او پلار هم وژلي دي . دهغه پلار تر ټولو دمخه زمونږ په لاسو ووژل شو ځکه چې هغه په دې سیمو کې د اسلام تبلیغ کاوه . هغه یو ډیر زهرجن او اغیزمن تبلیغي و . د هغې د وژلو له پاره مونږ ته د پلوپ د جزیرې څخه د پادریانو او راهبانو له اړخه خاص پیغام راغلي و . چې په هغې کې يې ویلي و چې دغه مبلغ چې نوم يې خیرالدین دې سمدستي له منځه یوسئ . ځکه چې د هغه په لاسو ډیرو خلکو د اسلام منلو ته غاړه اینسودې وه . زه باید دا هم ووایم چې د خیرالدین مبلغ په لاسو په زرګونو وګړو یواځې د رومیلیا په ولایت کې نصرانیت پرې اینښي او اسلام يې منلي و . کله چې دا خبرې د پلوپ جزیرې کې د راهبانو او پادریانو غوږنو ته ورسیدې نو هغوی ډیر په غضب شول ،نو د خیرالدین د وژلو حکم يې را ولیږه ، اومونږ ته د حکم د رسیدو سره سم، مونږ هغه پلې کړ او خیرالدین مو له منځه یوړ.

خبره یوازې تر خیرالدین پورې نه وه را ټوله . په دې سیمو کې په سلګونو مسلمان مبلیغین ، چې دلته د تبلیغ له پاره راغلي و ، نژدې ټول مو له منځه وړي دی . په دې ورځو کې یو څو لا تر اوسه پورې شته چې لا تر اوسه زمونږ لاس نه دې ورسیدلي ، ددې علت دادې چې دهغوی سره څه ساتونکي هم ګرځي او په ډیره منظمه توګه خپل کارونه سر ته رسوي ، خو زمونږ سترګې پر هغوی باندې نښتي دي او یوه ورځ نه یوه ورځ به مونږ دهغوی کار هم ور ختم کړو.

دخیرالدین مبلغ د وژلو وروسته د هغه مشر زوی د هغه د بدلې د اخستسلو له پاره راغی ، مونږ هغه هم له منځه یوړ . دهغه وروسته دهغه ورور مجدالدین ددې زمکو په لور مخه کړه .او هغه هم مونږ له منځه یوړ. اوس ویل کیږي چې د مجدالدین یو کشر ورور چې ، علي پاشا ، نومیږي ، هغه سلطان مراد په خپل لښکر کې اخستي دې ، همدا سږې په راتلونکو ورځو کې زمونږ له پاره ګواښ ګرزیداې شي ، په دې خاطر مونږ هوډ کړې دې چې هر وخت چې مونږ ته وخت تر لاسه شي نو دعلي پاشا څټ به هم ورپرې کړو تر څو دهغه له اړخه مونږ ته چې کوم ګواښ متوجه دې هغه د تل له پاره له منځه ولاړ شي .

ددې خبرې سره سم دغو دواړو ورونو یو بل ته اشاره وکړه ، پورته شول ،یو يې درستاک په لو ر وکتل او ورته يې وویل :

کاکاجانه ! اوس به مونږ دواړه ولاړ شو ، یوه اونۍ وروسته به بیرته را ستنیږو ، خو ستا ، زمونږ دکاني او ریونا درې واړو ځواب باید «هو» وي . خو که چیرې تاسې نه وکړه نو په یاد ولرئ چې حالات به دومره خراب شی چې بیا به يې هیڅوک نه شي کنترولولاې .

ددې خبرې سره دواړه د میلمستون څخه ووتل نو ددروازې د پردې په ګوډ کې ولاړې ریونا د هغوی څخه مخته منډه کړه او خونې ته ننوته . دهغې د کاکا دواړه زامن د اخور په لور ورغلل ، خپل آسونه يې راپرانستل او د انګړ څخه ووتل .

کله چې هغو دواړه ولاړل نو رستاک او کیتهنا دواړه هم د میلمستون څخه را پورته شوې او د حویلۍ داخلي برخې ته د ورتللو نیت يې وکړ خو په همدې وخت کې نریوس ، پربیسا ، ریونا درې واړه دهغوی لورې ته ورغلل. ددوی په ورتګ سره هغوی بیرته په خپلو ځایو کیناستل، هغوی ددواړو کوچنیانو سره یو ځاې هم هملته کیناستل . بیا نو رستاک د نریوس په لور وکتل اور ورته يې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

نریوس لوري ! دغه زما دواړه وریرونه چي دلته راغلي و هغوې یواځې ستا د میړه ، مجدالدین ، قاتلین نه بلکه د هغه دپلار او ورور قاتلین هم دي . لورجانې ! دوې که څه هم زما د ورور زامن او زما وریرونه دي خو په حقیقت کې زه ریښتیا هیڅکله هم نه پېژنم ، همدوې ستا د میړه وژونکې هم دي .

ددې وروسته روستا ک د پلوپ په جزیره کې د راهبانو اوپادریانو به هکله چې څه اوریدلې و او هغه تفصیلات چې وریرونو یې ورته ورکړي و ټول نریوس ، ریونا ، پربیسا ته ټکي په ټکي وویل په دې وخت کې ریونا خپل پلار ته مخ کړ او ورته یې وویل :

اې پلارجانه ! اول خو دا ووایه چې دهغوې د هغې غوښتني به هکله ته څه وایې چې هغوې ما له تا څخه غواړی ؟ زه ددې دواړو څخه د یوه سره هم واده کولو ته تیاره نه یم . او نه یې د خپل ژوند د ملګرې په توګه غوره کولې شم . دوې دواړه قاتلین دي او دقاتلینو په حیث زه ترې کرکه او نفرت کوم . اوس خود هغوې دکشر ورور څخه هم زما ، چې زما کوژدن ورسره شوې وه ، نفرت اوکرکه را پیدا شوه. هغه هم له دوې سره په دې قتل او غارت کې شامل و . او ستا ورور ، زما کاکا، چې ووژل شو هم په دغه ټولو جرائمو کې له دوې سره یو ځاې و .

پلار جانه ! دا چې دوې ولاړل او تا ته یې د یوې اونۍ مهلت درکړې ، او دا یې وویل چې یوه اونۍ وروسته دوې بیرته را ستنیږې او ریونا به له ځانه سره وړي ،نو په دې لړکې به ستا کړنلاره او کړچار څه ډول وی ؟

رستاک وکتل چې په دې وخت کې د ریونا حالت څومره د اندیښنې وړ دې . هغه د غم او اندیښنې نه ژیړه ټښتیدلې وه . دهغې په سترګو کې ویره وه ، رستاک هغه ته یوځل وکتل اوبیا یې نرې شانته و خندل او ورته یې وویل :

ریونا جانې ! ته په دې اړه فکر او اندیښنه مه کوه ، زه به په دې هکله تر هر څه دمخه ستا د اوسني کوژده شوي ،یوتاش ، سره خبرې وکړم . زه به د یوتاش په ګډون ددې کلي د ځوانانو یوه ډله تیاره کړم تر څو ددې بدمعاشانو په مقابل کې زمونږ نه دفاع وکړي . لورجانې ! ما د هغوې تر مخه ځکه انکساری او عاجزی کوله، چې ما غوښتل چې ځانته دا معلومه کړم چې د مجدالدین ، دهغه د پلار او مشر ورور وژونکي څوک دي . زما دغې نرمي رویې او زما دهمدې همدرده وینا په اساس هغوې هم نرم شول . ما هغوې ته وویل چې زه به یوه اونۍ وروسته دوې ته ووایم چې د ریونا په اړه زما ځواب څه ډول دې . په دې توګه هغوې په دې لړ کې هم ډاډمن شول . او دهمدې ډاډ په اساس هغوې ماته ټول داستان واوراوه. او دا یې را ته ډاګیزه کړه چې هغوې مجدالدین ، دهغه پلار او ورور ولي وژلي دي . اوس به داټولې خبرې علي پاشا ته هغه وخت کوم چې هغه د اوسني جنګ څخه فارغ شي او زما کورته بیرته راستون شي . زما په آند چې هغه ته به پدې هکله ډیره ښه رڼا تر لاسه شي او د ټولو قاتلینو په پیداکولو کې به بریالي شي. ددې خلکو مشر زما د کشر ورور دکلي سردار ، یونیسیس دې . هغه په دې سیمه کې د راهبانو او پادریانو د تنظیم تر ټولو مهم رکن دې او د همغې په حکم مجدالدین ، دهغه پلار او ورور په قتل رسیدلي دي ، لور جانې ! که دا دواړه ورونه تر یوې اونۍ پورې ستا د وړلو په خاطر بیرته راستنیږي نو زه به ورته انکار کوم . دهغوې سره به په پوره قوت سره مقابله وکړم او دخپل کلي هغه ځوانان چې ما د خپل کور د ساتنې له پاره تیار کړی دي ، نو هغوې به زمونږ په خاطر د هغوې مقابله وکړي . ته په دې اړه ډاډ منه اوسه ، ته هیڅ ډول اندیښنه مه کوه . زه پوهیږم چې ته دهغوې دواړو څخه نفرت اوکرکه کوې . لور جانې ! ستا واده به ستا د رضا پرته هیچرته هم و نه کړم .

رستا ک تر دې ځایه نور چپ شوخو وروسته یې بیا د نریوس په لور وکتل او ورته یې وویل :

نریوس لورې !د ریونا معامله خو ختمه شوه ، خو اوس به زما لورې ! زه ستا په لور توجه کوم. په حقیقت کې زما دا دواړه وریرونه ستا او ستا د کوچنیانو د قتل پسې و . خو لورې! ما د ا نه شو زغملاې ، هغوې ته تر ټولو ډیر زیات قهر په دې و چې تا نصرانیت پرې ایښې او اسلام دې منلې ، بله د قهر خبره ورته داده چې تا د یو مسلمان مجدالدین سره واده کړې، او ما ته یې هم په ګواښلې توګه وویل ، چې نریوس د خپلې مور او کوچنیانو سره یو ځاې دلته زمونږ کور ته ولې راځې . ما هغوې ته وویلي چې زه نریوس دلته راغواړم او ترغیب ورکوم چې اسلام پریږدې او بیرته نصرانیت ومني . ما هغوې دواړو ته دا وویلي چې نریوس اومور یې اوس اسلام پرې ایښې او بیرته عیسائیانې شوې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لورجاني ! زما په دې درواغو هغوې دواړه ډېر خوشحاله شول. خو تر څو پورې چې دوې د لونډانو اوبدمعاشانو په څير ګرځي راګرځي نو لور جاني ! زما دا دروغ به تاته ګټور ثابت شي ،که چيرې له تا څخه هم څوک و پوښتي نو تر هغه وخته پورې چې علي پاشا له دوې څخه بدل نه وې اخستې ، ته همدا وايه چې زه اوس مسلمانه نه يم بلکه عيسائي يم .نو په دې ترتيب به ددې ظالمانو د لاسو څخه په امن يې .

د رستاک په دې خبرو باندې نريوس او دهغې مور د رستاک نه مننه وکړه او هغه ته يې ډاډ ورکړ چې هغه به خپل ځان نصراني ښئي.

څرنګه چې اوس لمر په پريو و نو په دې خاطر کيتهنا ،نريوس ، دنريوس مور پربيسا د ميلمستون څخه راپورته شوې او دړوډې د پخلنځي په لور ولاړې .

پرلپسې لري ....

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانو سازشونه (۱۱)**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .

زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دې ؟

عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانوسازشونه (۱۱)

اوس تاسې ددې تاريخي ناول يولسمه برخه لولئ:

(۱۱)

پرلپسې ***** ۱۹

د شپې تيارې د تورو غارونو څخه را وتلي وې او هر څه او هر شې يې په خپله غيږ کې نيولې د خوب او ويدوکيدو په لور يې ښکلاوه

علي پاشا د خپل لښکر سره يوځاې د شپې په تيارو کې د يوه نا خلاصيدونکي الوت او خطرناکه څپو په څير د خپلو جاسو سانو په لار ښ

دې لښکر ته په ورنژدې کيدو سره جاساسو نو علي پاشا ته د تم کيدو اشاره وکړه او هغه ځايونه يې ورته وښوول چيرې چې د دښمن لښ
تيار کړې وې.

ددې نه وروسته يو انقلاب جوړ شو . علي پاشا په توپانې توګه خپل لښکر ته د وړاندې تللو حکم وکړ بيا يې دشپې ټول زنځيرونو مات ا

دا په داسې حال کې چې د اسکب د ښار په شاوخوا کې پرتو ځواکونو د هيڅ لورې دداسې کوم خطر او ګواښ احساس هم نه کاوه چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن باندې شپیني وینه تویونکي حمله وکړه نو دې حملي ددښمن د عسکرو حوصلي ټوټي ټوټي کړې . د لښکر ددې نا څاپي حملي له
هغوې بیرته منظم کړي . او دعلي پاشا په فوځونو باندې را پریوځي .

خو اوس هغوې ته ډېر ناوخته شوې و، په دې وخت کې علي پاشا د خپلي ناڅاپي حملې په عروج کې و، بریالي شوې و . هغه په خپل د

د استیفن د لښکر دې برخې ډیره هڅه کوله چې په یوه ډول نه یوه ډول د شپې یرغل کونکي بیرته دفع کړی خو په ډیره نابېره توګه د نا
ټولې لارې بندې کړې وې .

دلته یې د نیمایي زیات د دښمن لښکر له منځه یوړ ، علي پاشا تر لرې لرې پورې خپل لښکر خپور کړې و تر څو ددښمن عسکر ترې و
ماتې دغه خبر د استیفن دلښکر دریمې برخې ته و نه رسیږي .

کله چې د اسکب په څنډو کې لمر را وخوت نو علي پاشا د دښمن د عسکرو د مړو نظاره وکړه، د هغوې مړې یې هملته په میدان کې خ
چې د سرویه دپادشا استیفن خپل لښکر ته پړاو ورکړې ، بیا یې دهغه پلان له مخې چې دده او سلطان بایزید تر منځ پرې کار شوې و پ

ددې سنګر په وخت کې علي پاشا ته دهغه جاسوسانو خبرورکړې و چې سلطان بایزید او دسرویه پادشاه استیفن لښکر ې یو بل ته مخام

٢٠*****

نریوس دخپلي مور بربیسا او دواړو کوچنیانو سره یو ځاې څو ورځی هلته د ریونا به کور کې د دیره کیدو وروسته اوس خپل کور ته ت
یې په لاسو کې نیولې وې ، هغوې له خپله ځانه سره د هغه کلي اوسیدونکي یوتاش ، چې د ریونا کوژده ورسره شو ې وه ،هم را وړې
هغه یې راوست او دخپلو دوره نورو اسونو تر څنګ یې و دراوه. په دې وخت کې په انګړ کې بلکل چپه چپتیا وه ، هیچا د خبرو کولو

بیا ددوې دواړو بدمعاشانو ورونو څخه یې یوه رستاک ته وکتل او ورته یې وویل چې :

اې کاکا جانه! زه او ورور مې یوه اونۍ مخته دلته راغلي و او مونږ تا ته ویلي و چې مونږ به یوه اونۍ وروسته بیرته را ستنیږو اوته ب

کاکاجانه! ستا دهغې ورځې په خبرو باندې مونږ ډېر خوشحاله شوي و او مونږ هیله من شوي و چې ته به ریونا زمونږ دواړو څخه یوه

خو ددې ځایه زمونږ د تللو وروسته تا برعکس بله لوبه پیل کړه ، رستاک کاکا! په یاد ساته چې په دې کلي کې زمونږ څه کسان شته ،ت
ځان دفاع وکړې . کاکا جانه ! دا ډېر ذلیل او مجرمانه عمل دې چې تا کړې دې .

ددې خبرو وروسته هغه اوباش تر یوې لمحې پورې چپ شو اوبیا یې وویل : اې کاکا جانه! مونږ ستا د لور کوژده شوې یوتاش هم له څ

بیا یې د یوتاش په لور وکتل ، د رستاک د وریرونو څخه یوه یې ترې و پوښتل : ګوره یوتاشه ! زما کاکا رستاک وایې چې هغه خپله لو
له ځانه سره په زور بوتلل و غواړو ایا ته ددې همت لرې چې زمونږ په لاره کې خنډ شې ؟

دهغوې ددې پوښتني په مقابل کې یوتاش په ډېره بیره د نفي ځواب ورکړ . ددې مطلب داو چې هغه نه غواړې ددې دواړو په مخ کې خن

مونږ دواړو ورونو چې ته د خپل کور څخه د کوم مقصد په خاطر را وستې وې هغه مقصد پوره شو ته اوس تللې شې.

ددې سره سم یوتاش په ډېر ډاډمه توګه د دې دواړو ورونو لورې ته وکتل او د هغوې شکر یه یې وکړه اوبیا په یوه تیزه منډه د حویلی د

دیوتاش دتللو وروسته دهغو دواړو څخه یې یوه یو ځل بیا رستاک ته مخ کړ او ورته یې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکاجانه ! اوس نو ته مونږ ته زمونږ د پوښتني ځواب را کړه ، مونږ تا ته پخوا ویلي و چي مونږ به یوه اونۍ وروسته را ځو ، خو زمو
خلاف داسي کومه غلطي وکړه او یادي داسي هڅه وکړه نو لکه څنګه مو چي مجدالدین او د هغې مشر ورور اوپلار له منځه یوړل په
او دهغې دمور اوزمونږ دکاني کیتهنا عکس العمل څه ډول دي ؟

ددې ټول خبرو په جریان کي څومره چي ریونا اندیښمنه وه نو د رستاک په مخ باندې هم د قهر و غضب سکروټي اوښتي را اوښتي ، ب

زه پوهیږم چي تاسي اوباش او غیر مسؤل ځوانان یاست . که چیرې داسي نه وایي نه هیڅکله به مو هم د عامو خلکو وژل نه کول . په
واورئ ! دفاع دهر انسان خپل حق دی او دا دفاعي ډله ما د یونا په مشورې سره جوړه کړې وه.

واورئ زما د وررو دواړو زامنو ! زه نه له تاسي ویریږم او نه په دې اړه کومه اندیښنه لرم . که چیرې تاسي په دې پوهیږئ چي زه به
ستاسي ددواړو څخه کوم یو دخپل ژوند ملګرې کړي . په خپله زما او زما د ښځي کیتهنا فکر هم د ریونا څخه مختلف نه دی . زمونږ ل
ډول دي . خو که چیرې په دې هکله تاسي دواړو څخه کوم یو هم د زور څخه کار واخست. نو دا به یاد ساتئ چي یوه نه یوه ورځ به تاس

د خپل کاکا رستاک ددې ګواښ نه وروسته دواړو ورونو په خپلو مینځوکي مشوره وکړه اوبیا یې یوه درې واړه آسونو د حویلۍ نه بیرو
حیرانونکي حالت کي وه . هغه ډیره زیاته هڅه کوله خپل ځان د هغوې له لاسو خلاص کړي ، لیکن توان یې نه درلود. هغه اوباش هغه

رستاک کاکا ! که په دې لړ کي دې زمونږ پر خلاف د کوم قدم داخستلو هڅه وکړه اویا دې د کلي ځوانان زمونږ پسي وروسته را ولیږل
علاوه به ستا جایداد او شتمني هم زمونږ خپله شی.

ددې خبرې سر ه سم دواړو ورونو یوه بل ته وکتل ، او آسونو ته یې لغته ورکړه او ریونا یې هم له ځانه سره لرې و ځغلوله .

۲۱ *****

درستاک دواړو وریرونو به لا ریونا دکلي څخه لرہ لرې وړې وه چي تر مخي یې په تور رنګې آس سپور یو کس راغې ، دوې ته نژدې

همدلته و دریږئ ... په همدې ځای ستاسي هڅي او کوشش پای ته ورسید. ریونا د آسه راښکته کړئ ، او دخپل انجام انتظار وکړئ.

دې دواړو ورنو وکتل چي هغه سپور چي ددوې په لاره کي ولاړ و هغه په تور رنګ آس باندې سپور و. هغه یوه ډیره نوې ذره په ځان

لمړئ خو دواړو ورونود دغه نوې لار نیوونکي په لور په ډیر غور سره و کتل ، بیا یې یوه وویل :

اې اجنبي ! مونږ نه پوهیږو چي ته څوک یې او ولي دې زمونږ لاره نیولي ده. شاید چي ته مونږ دواړه وررونه و نه پیژني ، په دې خا
لیدلي سفر باندې به روان شې . مونږ هغه خلک یو چي پر خپلو دښمنانو ، پر خپلو مخالفینو باندې د ور پریوتو په چل ښه پوهیږو . که

مخه نیونکې سرې تر ډیره په ډیر غور سره دوې دواړو ته و کتل او بیا د برق په څیر و ګرځید اوپه غور نده اواز سره یې وویل :

د انسانیت قاتلینو ! ما چي ستاسي لاره نیولې هغه مې د یوه مقصد له پاره نیولې ، ما هسي په کوڅو کي ګرځیدونکي انسان مه ګڼئ ، زه
رستاک لور ریونا په زوره یوسئ اودهغې د ابرو او عزت په تویولو باندې به بریالي شئ . هیڅکله هم نه ، واورئ ! ریونا یو امانت دې
رب په ذات مې سوګند چي زه به تاسي تیښتي ته پرې نه ږدم . په دې خاطر چي تاسي هغه شیطانان یاست چي په ټولنه کي مو فتنه را پ

په لار کي د ولاړ انسان دغو ګواښونو دا دواړه وررونه ډیر زیات ناارامه کړل ،بیا یې یوه په ډیره سخته لهجه و غړمبید او ویې ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې لار کې ولاړ اجنبيه !شايد چې ته زمو نږ د حقيقت څخه خبر نه يې ، مونږ سره ټکر کونکي هيڅکله هم د بريا فکر نه شي کولی ، ک

پخوا له دې چې مونږ دواړه ورونه ستا پر خلاف څه وکړو نو د مخ نه دې دا نقاب پورته کړه تر څو مونږ و پوهيږو چې ته څوک يې .
رستاک يې او نه يوتاش .ووايه څوک يې ؟ تر څو ستا د مړينې دمخه مونږ ه پوه شو چې زمونږ سره ټکر کونکي ، زمونږ په لار کې د

دهغوي ددې خبرې سره سم په تور آس سپور خپل نقاب لرې کړ ، هغه علي پاشا و .ددې سره سم يې خپله توره په هوا کې خوزوله او د

واروروئ ابليسانو ! په لايزال خداې مې سوګند ،چې زه به ستاسې دغه تږې شونډې وچې ژبې او وړې ستونې د تل له پاره و تړم .

علي پاشا د لږځنډ وروسته يو ځل بيا په تندې او تيزې لهجې وويل :

اې بې نومه او بې ننګه انسانانو ! واروئ ! په خپلو زړونو باندې وليکئ او په همدې ځاې چې تاسې ولاړ ياست نو علي پاشا به تاسې د

علي پاشا چپ شو ، هلته ريونا چې لږ مخته د يوه ژيړ کا عذ په څير ګرځيدلي وه د علي پاشا په کتلو سره يې يو دم څيره و غړيده . په د
پاشا ته وويل :

علي پاشا ! مونږ ستا په اړه ډير څه اوريدلي دي ، ته په دې پوهيږې چې ددې تر مخه مونږ ستاپلار ، اودوه ورونه وژلي دي ، ستا دواړ

علي پاشا ! له ځانه سره يې و ليکه چې : ته به هيڅکله هم زمونږ څخه د خپل پلار او ورونو د بدلې په اخستو کې بريالې نه شئ مونږ س
هدف دې . واوره علي پاشا ! اوس نو په دې زمکو باندې زمونږ د دواړو ورونو په لاسو د وژلو له پاره تيار اوسه .

ددې خبرې سره سم دواړو ورونو يو بل ته په ډير معنې داره توګه و کتل او تورې يې په هوا کې وخوزولې او په علي پاشا باندې را منډ

تر لږه وخته پورې علي پاشا دهغوي کلکه مقابله وکړه ، هغوي دواړه به کله د مخ څخه اوکله کله به د چپ او ښي اړخ څخه يرغل راوړ
کولو وس يې پيدا نه کړ . هغوي په همدې فکر کې و چې د علي پاشا متقابل حمله به په دوې باندې تباه کونکي ثابته شې .

دلږ ساعت پورې علي پاشا د هغوي مقابله او دځانه دفاع وکړه او يو ناڅاپه يې خپل تور رنګې اس ته لغته ورکړه او د ښي لورې يې په

ددې سره سم يو انقلاب راغې ، علي پاشا هم په يوه ټوب د خپل آسه را ښکته شو ، ددې حال په کتلو سره هغه بل ورور هم له آسه را ښ
ددې بريا په پايلو کې نه يوائې علي پاشا بلکه لرې په آس سپره ولاړه ريونا هم خوشحاله شوه .

هغه پاته اوباش او بدمعاش ځانته انديښمن او خفه ولاړ پاته شو . دهغه مخ تک زيړ ګرځيدلې و، په دې وخت کې علي پاشا په داسې حال

درستاک وراره واوره ! ستا د ورور کار مې پاې ته ورساوه ،پخوا تاسې زما په مقابل کې دوه واست ،هغه وخت ما هم په پوره ميرانه س
تيار اوسه ، لکه څنګه مې چې ستا د ورور مرئ پرې کړه په همدې ځاې به پرتا هم زما توره را خلاصه شې او پر زمکه به دې پريکړ

د علي پاشا دې خبرو د ريونا د کاکا زوې و لړزاوه ،د هغه پر مخ او وجود باندې د ويرې او وحشت خولې را ماتې وې ، د علي پاشا ح
شوې اوبيا مخته ورغې او ډيره سخته حمله يې پرې وکړه .

د علي پاشا په حملو کې تازه والې ، زور او قوت و چې د رستاک دې وراره په مشکله سره کنترولولاې شو. خو هغه دعلي پاشا په مقاب
څټ باندې سپره شوه او دوه ټوټې يې کړ . او په دې تر تيب علي پاشا خپل دواړه دښمنان پر خپل مخکې مړه وکتل .

پرزمکه باندې د کيناستو سره سم علي پاشا خپله توره د يوه په کاليو باندې پاکه کړه او بيرته يې په تيکې کې کيښوده . په دې وخت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره توان سره يې علي پاشا په غيږ کې و نيوه .

دا حال يوڅو ثانيي همداسې و خو داسې معلومه شوه چې ريونا ته د خپلې غلطۍ احساس شوې وې ، سمدستي يې ځان جدا کړ ، تر يوه

علي پاشا ! ستا ډيره مننه . د مصيبت او غم په دې وخت کې ته په يقين سره زما د ازادۍ ، فکري سکون او بدبختي په نيک بختۍ باندې

ريونا لږ ځنډ وکړ او بيايې علي پاشا ته وويل : علي پاشا ! دلته زمونږ درېدل او په دې ډول خبرې کول ښه نه ښکاري ، له ماسره کورت
په دې وخت کې دلته را ورسيږې او زما سره کومک وکړې ؟ له ماسره ولاړ شه ، زما په ذهن کې ډير زياتې پوښتنې دې چې زه غواړ

د ريونا ددې خبرو په ځواب کې علي پاشا لږ څه فکر وکړ ، تر لږ وخته پورې يې سر ښکته و اوبيا يې ريونا ته وويل :

ريونا ستا کلې هغه دې ددې ځايه اوچت ښکاريږي ، ډير نژدې دې ستا دکلي خلک په خپلو زمکو کې ښکاري چې خپل خپل کارونه کو
ناڅاپه دې رامنډه کړه او زه دې په غيږ کې و نيولم ، دا لحظه او دا ساعت همدلته هير کړه . ځکه چې ستا کوژدن شوې ده . ته د يو چا
نو دهغوې په خوشحاليو او ډاډ کې به ډير زيات زياتوالې راشي . ولاړه شه او هغوې ته ووايه چې تاسې خلکو سره دښمني کونکو ته له
خپل لښکر ته ورځم . ځکه چې له ماسره وخت نه شته ، ما ډير لږ وخت ستا د خلاصون په خاطر پيدا کړې و او دلته راغلم .ته ولاړه ش

د علي پاشا په دې خبرو ريونا ډيره خفه ، انديښمنه او ورانه ويجاړه شوه . تر لږ ساعته پر خپل ځاې ولاړه وه بيا سوکه سوکه په بندو قد
حال وکوت نو سوکه سوکه يې په څيرې باندې مسکا را پيدا شوه . خو ژر بيرته متوجه شوه .علي پاشا ته نژدې را غله خپل دواړه لاسو

علي پاشا ! د خداې له پاره هغه څه چې مې وويل همغسې وکړه . انکار مه کوه ، زما سره تر کوره پورې ولاړ شه. زه له تاسره وعده ک
له ماسره زما تر کوره پورې له ماسره ولاړ شه . هلته ستا له ماسره تګ زما د ژوند اومرګ سوال دې ، زه هيله لرم چې ته به ما نا هيل

د ريونا دې خبرو علي پاشا ويلې کړې و . د لږڅه وخت له پاره يې ريونا ته وکتل . ريونا دهغه سترګو ته و نه شوکتلاې نوسمدستي يې

ريونا ! که ته ضد کوې نو زه له تا سره تللو ته تيار يم . ورځه اوپه خپل آس سپره شه .

د علي پاشا دې خبرې د ريونا په څيرې باندې د دنيا ټولې نخاوې را يوځاې کړې ، اوبيا يې په يوه منډه به خپل آس ور خيز کړ او پرې

دلږځنډ ووسته علي پاشا د ريونا سره ی ځاې د هغې کورته ورننوت ، کله چې هغه دحويلۍ انګړ ته راغې او دخپله آسه ښکته شو نو هغ
حالات د تعجب اوحيرانتيا وړ و . خو بيا هم هغې د ټولو تر مخه منډه کړه او دخپلې مور سره غاړې وتله ، بيا د نريوس سره او د هغې

ريونا ! دا زما خوش قمستي ده چې ستاد ساتنې او ستا خونديتوب له پاره علي پاشا دلته را ورسيد . لورجانې ! دا د علي پاشا پر مونږ با
خپلوانو په لاسو ته د رسوايې او د بې ابرو کيدو څخه خوندی کړې. ټولو وکتل چې علي پاشا لا تر اوسه په انګړ کې د خپلو اسوونو وو

علي پاشا ! دا په تا څه وشول ؟ ته خو د پرديو په څير د انګړ په منځ کې ولاړ يې ؟ دهغې په دې خبره علي پاشا په دروند اوازا وويل :

علي پاشا همدومره وويل ،خودهغې د وينا سره سم ټول دهغې لورې ته راغلل ، ترټولوو دمخه رستاک دعلي پاشا څخه غيږه چاپيره کړ

علي پاشا ززويه ! ته زمونږ د ويني سره د شپې دتيارو د عزت اووقارد نور په څير مخته راغلی يې . زما زويه! زما د حويلۍ په دغه
ويرې او تريخوالي نه ډکې وي ، زه ستا ممنون يم چې تا دخپلې بهادرۍ په اسا س مونږ ته ددې انديښنې نه نجات را کړ.

زويه ! ريونا سهي خبره کوي ، دا کور همستا دې او ته ددې کور له پاره پردې نه يې . ته ولې د پرديو په څير په انګړ کې ولاړ يې ؟ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

درستاک ددې خبرو وروسته ريونا په ناست اواز باندې علي پاشا ته وويل :

علي پاشا ! ما تا ته ډېر عذر او زارۍ کړې وې چې ته د لږ وخت له پاره زمونږ کور ته له ماسره ولاړ شه .ځکه دلته زه له تا څخه ځو

علي پاشا يو ځل بيا ريونا ته وکتل او ورته يې وويل : ريونا واوره ! هغه څه چې ته له ماڅخه پوښتل غواړې نو ستا د هغې ټولو پوښتنو

دعلي پاشا په دې غوڅو خبرو باندې ريونا ډېره غمګينه شوه . خپل پلار ته يې شا کړه او يو ځل بيا يې خپل لاسونه سره جوړه کړه او پ
نريوس ، پربيسا ، کندام او خيسار ټول ورسره يو ځاې ولاړل. خو ريونا ټول آسونه د واګو څخه و نيول او تر اخوره پورې يې يوړل .

زما محسنه ، علي پاشا ! تر ټولو لمړۍ دا را ته ووايه چې ته خو د خپل لښکر سره ددې ځايه ډېر لرې پړاو کې پروت يې ، نو ته څنګه
زامنو چې زه يې په زور له ځانه سره وړلم نوعلي پاشا دهغوې دواړو مرۍ ورغوڅې کړې دي .

دريونا د خبرو په ځواب کې رستاک په خندا سره وويل :

ريونا لورې ! که تا مونږ ته داخبره نه واې کړې هم ، مونږ په دې پوه شوی و ، په دې خاطر چې د علي پاشا له تاسره دا ډول راتلل او

د رستاک د چپ کيدو سمدستي وروسته علي پاشا د ريونا په لور وکتل او ويې ويل :

ريونا ! تا چې کومه پوښتنه له مانه کړې دهغې ځواب به زما خور نريوس تا ته ووايي.

د علي پاشا ددې خبرې په ځواب کې ريونا په پوښتنه کونکي توګه نريوس ته وکتل ، خو نريوس دهغې په مطلب پوه شوې وه ، بيا نو نر

ريونا خورجانې ! ما علي پاشا ستا دکومک او ساتنې له پاره را غوښتې و . او هغه داسې چې کله چې يوه اونۍ مخته ستا دکاکا زامن دلت
پاشا زمونږ د خوندې ساتنې د نده هم ورسپارلې ده او ورته يې حکم کړې دې چې کله هم کوم يو ددې سيمو څخه تيرېږي نو زمونو د خ
بيګاه شپه دلته راغې . هغه همدلته زمونږ په ځاې کې پاته شو ما تاسو ته دهغه د راتلو په هکله خبر در نه کړ ، ما غوښتل تاسې په حيرا
څنګ ته شو.

پرلپسې لري ...

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يې د صليبيانوسازشونه (۱۲)**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .
زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دې ؟
اوس تاسې ددې تاريخي ناول دولسمه برخه لولئ:

(۱۲)
پرلپسې......
زه پوهيدم چې هغه دواړه بدمعاشان به تا په زور له دې ځايه بيايي . علي پاشا غوښتل چې هغه ستاسې حويلۍ ته را ننوځي او دهغې دو
خو ما نه غوښتل چې هغوې دواړه ستاسو په انګړ کې ووژل شي . ځکه چې بيا به دهغوې ملګري او دهغوې د تنظيم نور خلک تاسې پ
علي پاشا هم زما خبره و منله نو کله چې هغوې ته له ځانه سره په زوره ورويستې نو علي پاشا دهغوې لاره و نيوله ، مخته چې څه راغل
دنريوس ددې خبرو اوڅرګندونو په اساس ريونا تر يوه ځايه ډېره حيرانه وه او په ډېره مينه ناکه توګه يې علي پاشا ته و کتل ، په دې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ما ناوخته کيږي ، په هغو حالاتو کې چې زه دلته راغلي وم او دکوم هدف له پاره راغلي وم هغه مې تر لاسه کړ ،اوکوم حالات چې
زما موجوديت ډير زيات اړين دي . که څه هم زه د سلطان د اجازې سره سم دلته راغلي يم . خودهغې سره سره بيا هم بايد سمدستي هلته
دعلي پاشا په دې خبرو باندې ريونا ډيره غمګينه وه . هغه سمدستي د خپل ځايه پورته شوه او دمنت کولو په څير يې علي پاشا په لور و
علي پاشا ! زه له تا څخه غواړم چې لږ څه دلته کينې ، زه همدا اوس بيرته راځم . ددې سره سم ريونا منډه کړه او بيرون ووتله .
د ريونا په بيرته را ستنيدو کې لږ څه ځنډ وشو . په دې وخت کې علي پاشا بيا بيا د ميلمستون ددروازې په لور کتل . اخر ريونا را ستنه
علي پاشا ! ستا د آس د خورجين لاندې ما ستا له پاره څه ميوه اچولې ، دا به ستا په کار راشي ،اوس نو نور زه تا ته نه وايم چې ته کو
علي پاشا سمدستي له خپل ځايه پورته شو . د ميلمستون څخه ووت ، دهغې وروسته وروسته ټول خلک د ميلمستون څخه ووتل بيا ريون
خداې پاماني وکړه اوبيا يې ټولو څخه په يوه اواز خداې پاماني واخيسته او د حويلي څخه ووت،
رستاک ، کيتهنا ، ريونا ، نريوس هم د حويلي تر دروازې پورې ولاړل اوهلته و دريدل . دهغوې د سترګو تر مخه علي پاشا په يوه ټوپ
د علي پاشا د تلو سره سم ريونا زړه او فکر په يوې ويرانې باندې تبديل شو .او په داسې حال کې چې د علي پاشا آس د هغوې د سترګو
خو سمدستي يې دا احساس وکړ چې دهغې شاته د نريوس څخه علاوه د هغې پلار ، مور هم ولاړ و ، سمدستي يې مخ بل لورې ته واړا
نريوس د ريونا ددې حالاتو په کتلو سره د هغې مور اوپلار ته اشاره وکړه . دهغې په اشارې سره هغوې دواړه شاته ولاړل او بيرته دک
کوکو کوکو يې وژړل . خو نريوس هغه دلاسه کړه او بيرته يې ميلمستون ته راوسته او خپل مخته يې کينوله .
تر لږ وخت پورې هغوې دواړه چپ پاته شو ، په دې وخت کې ريونا خپل ځان کنترول کړ او بيا نريوس ورته وويل :
ريونا ! زه په تا نه پوهيږم ، له يوه اړخه ماته په اعلانيه او څرګنده توګه وايې چې ته د علي پاشا سره مينه نه لرې او نه غواړې چې هغ
د نريوس د خبرو په ځواب کې ريونا په ډيره ژړيدونکي توګه هغې ته وکتل او ورته يې وويل :
نريوس خورې ! نن چې کله علي پاشا زه دخپل کاکا د زامنو د لاسو څخه خوندې کړم، هغوې يې ووژل ، دهغې وروسته يې کله چې د
ترې بيل کړ . ګوره نريوس خورې ! ددغه غيرې خوند اولذت زه د محبت او مينې د اهميت ، د ځوانې او د ځوانۍ د عصمتونو د درنښت
دې .
زما خورجانې !زه ستا په وړاندې اقرار کوم چې ددې محبت اسرارو او عجائبو زما نرم او نازک بدن معطر کړې دې . اوس ما ته علي
نريوس ! زه اوس پوهيږم چې د محبت پرته کائنات هسې يوه تياره ده ، دغم ناکه سکوت په څير دې او ژوند دا لوبه د يو پرلپ
هغه وخت چې زما پلار زما کوژده زما د کاکا د تر ټولو کشر زوې سره وکړه، په هغه وخت کې هم زما دهغې سره کومه دلچسپې نه و
يوتاش سره منسوب کړم . زما په زړه کې دهغه له پاره هم نه مينه وه او نه نفرت . بس ما د پخوا په څير دا منسوبيت هم په پټه خوله و
نريوس ! هغه وخت چې ما تاته ويلي و چې زه د علي پاشا سره مينه نه لرم او يوازې دهغه سره همدردي لرم ، خو په دې پوه شه چې پ
په زړه کې خپريده ،خو ماته بيا هم احساس نه کيده ، خو اوس دعلي پاشا سره د غاړې غوټې کيدو وروسته ما ته دا احساس راپيدا شوې
که چيرې زه د علي پاشا څخه بيله کړل شم نو زه به پوه شم چې زما ژوندون هسې بيکاره او عبث دې .
تردې ځايه د خبرو وروسته ريونا چپ شوه نو نريوس ورته وويل :
ريونا ! کله چې تيره شپه علي پاشا ستا د خوندې ساتلو په خاطر زمونږ کور ته راغې نو ما ورته ستاسره دخپلو خبرو پيلامه وکړه . ما
ډيرخفه او غمګين شو . دهغې ددې خفګان څخه ما دا احساس وکړ چې هغه په زړه کې يواځې اويواځې همتا غواړې . له تاسره مينه کو
وکړ او ته يې د خپل زړه څخه ويستلې يې .
د نريوس ددې خبرو په اسا س ريونا ټکان وخوړ. دهغې پر مخ باندې دغم نښې راښکاره شوې خو ژر يې ځان سنبال کړ او ويې ويل :
نريوس خورې ! ما د خپل پلار او مور تر مخه نه غوښتل تاته ووايم، هغه دا چې کله چې علي پاشا تلونکې و نو ته خبره يې چې هغه م
مينې اظهار کړې دې . هغه خط ما د لارې د توښې په کڅوړه کې ايښې دې . زما په فکر به يا په لاره کې او يا خپل لښکر ته د رسيدو
د ريونا ددې خبرو څخه نريوس ډاډ منه شوه ، د لږ څه چپې چپتيا وروسته ، نريوس فکر وکړ او ويې ويل :
ريونا خورې ! که چيرې ته راضې يې نو کيداې شي زه په دې لړ کې ستا د پلار او مور سره هم خبره پښه کړم . اوس خو دا خبره د يق
دهغوې سره خبره وکړ م.، خورې ! زه نه غواړم چې په دې هکله کوم ابهام را پيدا شي. زه غواړم چې ته او علي پاشا په ښکاره توګه
ريونا د نريوس ددې وړانديز سره موافقه وکړه ، نريوس د ميلمستون څخه ووتله او د حويلۍددننې برخې په لور ولاړه ، د لږځنډ وروس
تاسې دواړه ماته د خپل مور اوپلار په څير درنښت لرئ ، زه غواړم د ريونا په سلسله کې له تاسې سره خبره وکړم. هغه وخت چې په د
پايلې دادې چې ريونا علي پاشا خوښوي او غواړي هغه د خپل ژوند ملګرې وګرځوي . دريونا دهمدې غوښتنې په اساس ماتاسې ته دلت
ژوند ملګرې و ګرځوې ؟
د نريوس ددې څرګندونو په اساس رستاک او کيتهنا يو بل ته وکتل اومسکی شول بيا په سترګو سترګو کې ميره او ښځې يو بل ته اشاره
نريوس لورجانې ! په دې هکله د علي پاشا د رضا کولو اړتيا نه شته . زه پوهيږم چې دا دواړه هغه وخت خپل ژوندپه ښه توګه تر سره
ددې خبرو په پايلو کې ، زه او زما ميره يو کار کولې شو چې کله هم علي پاشا دلته راشي نو مونږ به هغه ته د ريونا سره د کتلو او ليدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیژني دهغې وروسته به یو بل د ژوند ملګري و ګڼي نو زما په فکر چې دوې دواړه به په دې ترتیب ډېر ښه ژ وند تر سره کړي .
دکیتهنا د دې خبرو څخه نریوس خوشحاله شوه ، بیا هغه د خپله ځایه پورته شوه ویې ویل : زه اوس ځم ، خو په هرصورت زه به علي
شي ، زه اوس ځم ،چې کوچنیان او مور به مې زما په ډېره بې قرارۍ سره انتظار کوي .
نه نریوس خورې ! داسې نه ده ، نن شپه به ته همدلته پاته کیږي زه له تاسره یو ځای ځم . ستا مور ، دواړه کوچنیان به له ځانه سره هم
رستاک او کیتهنا هم ددې وړاندیز سره توافق درلود .بیا نریوس او ریونا دواړه لاس په لاس په خندا اومسکا سره دحویلي څخه ووتلې .

٢٠ *****

علي پاشا په خپل آس سپور په ډېره ګړندۍ توګه د خپل لښکر په لور روان و خو هغه دخپل لښکر سره یوځای د سلطان بایزید دلښکر څ
مشرانو هغه ته ډېر تود ښه راغلاست ووایه. کله چې هغه د خیمي لورې ته راغې نو یو عسکر ور منډه کړه ، دعلي پاشا څخه یې د هغ
علي پاشا تر لږ وخته پورې د خپلو سالارانو سره د خیمې څخه بیرون په خبرو بوخت و او بیا خپلې خیمي ته را ننوت .
د آس د زین سره تړلې سامان ورته یو عسکر راوست او دخیمي په یوه کونج کې یې کیښود، علي پاشا دهغې سامان په لور ورغې ، هغ
کې یو کاغذ و ، دا ټوټه کاغذ دهغه په نوم د ریونا لیک و ، په ډېره بیړه یې د کاغذ ځنډې پرانستې پورته شو او په خیمي کې لګیدلې شم
«زه نه پوهیږم چې تا ته دخط پیلامه څه ډول وکړم .ځکه ددې تر مخه مې کوم نارینه ته داسې لیک نه و لیکلې ، او نه مې پخوا تر دې
له تاسره په همغه لمړنۍ کتنه کې زما زړ ه او زما ذهن کې یوه جذبه وه ، خو دخپلې نا پوهۍ په اساس ما هغې جذبي ته د همدردۍ نوم
شوې وه ، او نه د یوتاش په نوم دهغه ځوان سره د چاسره چې زما اړیکي اوس له منځه تللې دي . ستا د لیدو څخه چې کومه جذبه زما
ستا سره مینه او ستا سره محبت ما ته دا احساس را پیدا کړې چې د محبت پرته ژوند بې ثمره ونه ده . هغه یوه میوه ده ، محبت نه پرته
، علي پاشا ! زما محترمه ! زما حبیبه ، ته زما له پاره یوه ډېره مهربانه پرېښته یې ، ستا محبت ماته ډېر لطیف روحاني سکون را ښښلې
علي پاشا! زما مهربانه پرېښتې ! ته هغه لمړې ځوان یې چې ما دخپل ځان ، د خپل ذات ، او دخپل جسم له پاره محبوب ګڼلې یې ، ته له
پاشا ! ددې نه پخوا چې په کومو ځایو کې زما کوژدن شوې ، هغه یوه یې هم زما په خوښه نه وې ،او نه زما په رضا شوې وې ، په هغ
غواړم . او اوس خو ستا نه پرته زه بل څوک د ژوند ملګرې جوړولو په هکله فکر هم نه شم کولې . علي پاشا ! ر یونا یواځې ستا له پار
تر دې ځایه د ریونا لیک پاې ته ورسید . علي پاشا بیرته خط دپخوا په څیر قط کړ او په خپلو کالیو کې یې پټ کیښود .د لیک د لوستلو و
لمانځه د اداء کولو له پاره د خپلې خیمې څخه بیرون را ووت .
٢١ *****

د سرویه پادشاه استیفن او دهغې خور ډسپنا درې ورځې پرلپسې د سلطان د لښکر په مقابل کې پړاو اچولې و او دواړه خواوې بلکل خا
ته د بیرته ستنیدو خبر ور ورسید،نو بیا سلطان بایزیدد سرویه د پادشاه استیفن او دهغې د خور ډسپنا پر خلاف د جنګ اراده وکړه .
بیا د سهار د لمانځه وروسته ، کله چې سلطان بایزید لښکر د سهار د ناشتې نه فارغ شول ، سلطان د خپل لښکر صفونه منظم کړل او دل
دسلطان بایزید په حکم باندې دهغه لښکر کې د جنګ ډول وهل کیده ، او دهغې په ځواب کې د سرویه پادشاه استیفن او دهغې د خور ډسپ
بیا دسلطان بایزید په لښکر کې څه بدلون را مخته شو اودجنګ د ډول پر ځاې د تکبیرونو اوازونه پورته شول ، د تکبیر اوازونو په لښک
داسې منظم کړ لکه څنګه چې د مرګ په نا خلاصیدونکي وادیوکې او اتلولۍ دمیدانو په چپه چپتیا کې د بارودی هواو څخه یو توپان را
د بله اړخه استیفن او ډسپنا چې د سلطان د عسکرو خوزښت وکوت نو هغوې هم خپل فوځونه متحر ک کړل او را مخته یې کړل. خو د
لورې را پریوتې و، ددواړو خواو د عسکرو دا ډول ټکر څخه مرګ په هوا ک ګډیده ، تراو تازه څیرې په وینوکې لت پت شوې ، ساه ګ
تر لږه ځنډه دویدین میدانونه د سخت جنګ او جګړې شاهدان و، د سرویه پادشاه استیفن او دهغې خور ډسپنا په خپل ځایو کې ډاډمن ناس
لخوا حمله وکړي ، دبله اړخه سلطان هم ډاډمن و او لا تراوسه یې د استیفن او د هغې دخور ډسپنا پرخلاف په پوره توانایې سره جنګ ن
کله چې د جنګ تنور په تودیدو شو نو د سرویه د پادشاه هغه لښکر چې په سنګر کې پټ ناست و را څرګند شول ، نو دهغې لښکر مشر
دعلي پاشا لښکر ددې ساعت له پاره په ډېره بې قرارۍ سره انتظار کاوه ، نو په دې خاطر یې په خپلې لمړنۍ حمله کې د استیفن دا لښک
د استیفن دا لښکر د علي پاشا تر مخ و نه شو دریداې ، علي پاشا هم د هغوې صفونه له منځه یوړل . ددې حالت په کتلو سره دې لښکر
خودا دهغوې حماقت و ، ځکه چې علي پاشا مخته دهغوې پسې وروسته ولاړ ، دهغوې لښکر یې تارو مار کړ دهغوې شمیره یې را کم
استیفن د عسکرو مخکني صفوف یې بې نظمه کړل . علي پاشا هم د ستیفن په لښکر باندې د شا له لورې حمله وکړه او د تکبیر د اواز پ
د تکبیر اوازونه سلطان بایزید ته هم ورسیدل ، شاید سلطان ته هم دهمدې اشارې اړتیا وه په دې خاطر سلطان د مخې له لورې په پوره
استیفن او دهغې خور ته هم خبر رسیدلې و چې پر هغوې باندې د شا له اړخه د سلطان یو تکړه او اتل جنرال علي پاشا حمله کړې ده ،
عام شروع شوې و .
څرنګه چې د سرویه دپادشاه لښکر د مخامخ لورې او دشا له لورې د حملو سره مخ شوې و نو په دې اساس دسررویه پادشاه استیفن دخ
په دې خاطر د جنګ د میدان نه باید پښې سپکې کړي اوکه په دې کې بریالي نه شول نوبیا به دسلطان تر مخه خپله وسله کیږدي او ښښنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې پرېکړې وروسته استیفن او ډسپنا خپله ماتې و منوده او د جنګ دمیدان نه یې د تیښتې اراده وکړه. هغوی دمخې او شا له اړخه تښتې
وسلې د ایښولو حکم وکړ ، او سلطان ته یې خپل قاصد را ولیږه او دخپلې ماتې په منلو سره یې د سلطان څخه معافي او ښښنه و غوښته
د ستیفن دحکم سره سم هغه پاته عسکرو خپله وسله پر زمکه کېښوده ، د ستیفن هغه قاصد چې د هغه پیغام یې دلته سلطان ته راوړې و
ستیفن د رالیږل شوې قاصد په خوله دا پیغام ور واستاوه چې د استیفن لښکر دې په یوه ځای کې خپله ټوله وسله را ټوله کړي او بیا دې
علي پاشا هم د سلطان د حکم د اوریدو سره سم د شا له خوا خپل یرغل و دراوه . ددې تر څنګ استیفن او دهغې خور ډسپنا هم خپلو عس
کېښوده او د جنګي بندیانو په څیر د هغې څخه لرې فاصله کې قطار ودریدل .

تر دې وخته پورې علي پاشا هم د سلطان د لښکر سره را یوځای شوې و. سلطان د هر څه ترمخه په همدې ځای کې خپلو عسکرو ته د
ور ننوتل اوبیا یې د سرویه دپادشاه استیفن او دهغې دخور ډسپنا د راحاضریدو حکم وکړ .

د لږڅه ځنډ وروسته د سرویه پادشاه استیفن او دهغې ځوانه ، ښایسته او نوې پیغله شوې خور هم د سلطان بایزید خیمې ته را ننوتل . س
هغه وخت چې استیفن او دهغې خور ډسپنا خیمې ته ورننوتل نو دهغې څیرې پریوتې و ې ، په سترګو کې یې تر لرې لرې پورې ورانې
اندیښنه بې ځایه وه چې ګنې سلطان به ددواړو ورور اوخور د وژلو حکم وکړي .

د استیفن سره د روغبړ نه وروسته سلطان او علي پاشا دواړه بیرته په خپلو خپلو ځایو کې کیناستل ، خو استیفن او دهغې خور دمجرمانو
تاسې دواړه ورور اوخور د مجرمانو په څیر مه دریږئ ، په هغه خالي ځایونو کې کینئ ،مونږ له تاسې دواړو سره د جنګی مجرمینو پ
کله چې هغه ورور اوخور دواړه کیناستل نوسلطان بایزید استیفن ته مخ را واړاوه او ورته یې وویل :

هغه خبره چې زه تاسې ته کول غواړم دهغې تر مخه زه تاسې ته دا په ډاګه کوم چې تاسې دواړو ورور اوخور ته به هیڅ ډول سزا نه د
دپلار پر خلاف د جنګ پیلامه کړې وه خو تاته به یاد و ې چې هغه ته مو نه هیریدونکې ماتې ورکړه . په هغه جنګونو کې ته هم شریک
استیفن ! ته پوهیږې چې کله چې ما او زما پلار ستا پلار اود هغې دوستانو ته ډیره بده ماته ورکړه ،نو بیا مونږ بیرته بروصې ته ولاړو
توانایي په دې جنګ ستاسې په درد وخوړه هغه ستاسې تر مخه ده .

تا هم ستا دپلار په څیر د ویدین په میدانو کې ډیره بده ماتې وخوړه ، ستا د لښکر ډیر عسکر ووژل شول ، اوپاته بې وسلې شول او د ج
د سلطان ددې خبرو سره د استیفن او دهغې خور څټونه ښکته و . د څه ویلو جرأت یې هم نه درلود، خویوځل استیفن زړه لوې کړ او س
دروندہ سلطانه ! مونږ دا منو چې مونږه ډیره ستره غلطي کړې ده . په مخکنې جنګ کې چې زما پلار ووژل شوې نو زما احساسا ت ډ
د استیفن ددې خبرو په ځواب کې سلطا ن وویل :

استیفن ! تا ته به یاد وې چې په هغه جنګ کې زما پلار او دمسلمانانو سلطان ، سلطان مراد ، هم ووژل شو. ما خو ستاسې پرخلاف هیڅ
خلک به ډیر زیات له منځه تللي وئ بلکه ستاسې د سلطنت په دغه پراخه سیمه به هم زمونږ. ولکه وې خو ما داسې و نه کړل .

دا ځل د سلطان د خبرو ځواب استیفن په ځای دهغې ځوانې او ښایسته خور ورکړ . هغې د سلطان په لور وکتل او ورته یې وویل:
دروندہ سلطان !دا ستا مهرباني او د زړه پراخوالې دې چې په مخکنی جنګ کې د سوبې نه وروسته زمونږ. سلطنت ته داخل نه شوئ ، و
شو کولاې ، او په راتلونکې کې به هم ستا پر خلاف جنګ و نه کړو ، مونږ به ستا دوستان او ستا ملګرې واوسو ، اوکه چیرې څوک س
تر دې ځایه د خبرو وروسته ډسپنا لږځه پښه نیولې شوه . د هغې په څیرې باندې د شرم اوحیا اثار را ښکاره شول ،هغې دخپل ورور اس
دروندہ سلطانه! مونږ. داوړو ورور اوخور چې بله کومه پریکړه کړیده ، نو څرنګه چې هغه زما د ذات سره اړه لرې نو په دې خاطر ز
دډسپنا دې خبرو نه یواځې سلطان بایزید یلدرم په اندیښنه کې کړبلکه علي پاشا ته هم اندیښنه پیدا شوه په دې خاطر دواړو په پوښتنه کو
، خپلې خور ډسپنا ته یې وکتل اوبیا یې وویل:

دووونده سلطانه ! که ته ماته او زما خور دواړو ته ښښنه وکړي نو د هغې ورسته که ستاسې له اړخه پر ما کوم شرط ایښول کیږي نو ز
کې برخه وانه خلو ، که چیرې د اروپا کوم قوت ستا بر خلاف سر را پورته کاوه اویا یې ستا پر خلاف د جنګ پیلامه وکړه نو زما له ت
بل کوم شرط چې مونږ. دواړه ورور اوخور غواړو تاسو ت ووایو هغه یواځې زما نه بلکه د ډسپنا خپله غوښتنه هم ده. او هغه دا چې ه
تل ستاسې له پاره د احترام ، عزت او درنښت سبب وګرځي. که چیرې کوم شیطاني قوت پر ما باندې د غلبې پیدا کیدو هڅه کوي او یا
چې زه ستا د فرمان لاندې د اوسیدو ژمنه کوم نو تر څنګ به یې زه ددغې خپلوی ، چې زماد خور په واسطه منځته راغلي هم ډیر احتر
دوورنده سلطانه !دغه دواړه شرایط چې مونږ. ستا تر مخ کیښول، ددې نه علاوه یو بل شرط هم شته چې تاسې ته یې وړاندې کوم. دا دو
لکه څنګه چې تاته معلومه ده چې ستا د دروند والد سلطان مراد په لاسو زما پلار ډیره بده ماتې خوړلې وه. او په هغه جنګ کې زما پلا
ډسپنا تر دې پورې مخته ولاړه چې که په دې جنګ کې مونږ. د سلطان بایزید په مقابل کې بریالیتوب تر لاسه نه کړ او د پخوا په څیر یو
اوس چې زمونږ. د دعا په مطابق مونږ. ته برې په برخه نه شو نو په دې خاطر ډسپنا اوس ستا د ښځې په څیر ستا سره د اوسیدو له پاره
وشوه و دروندہ سلطانه ! ته چې کله هم وغواړې زما او زما د خور ډسپنا څټونه پرې کولاې شې.

دغه دواړه شرایط چې زما او زما دخور تر منځ د جنګ دپیلامې نه تر مخه پرې خبرې شوې وې ، نو دروندہ سلطانه ! هغه مو ستا تر
طلاو څو کانونه دې دروندہ سلطانه ! دهغو کانونو څخه د لاسته راغلي زرو څخه مونږ. ته پوره ګټه تر لاسه کیږي . نو که چیرې ته زم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبور واوسم.
د استیفن دخبرو وروسته سلطان بایزید په ډیره معنی لرونکې توګه علي پاشا ته وکتل او ورسره یې پټه مشوره وکړه . دمشورې په دور
استیفنه ! زه تیار یم ستا خور ډسپینا د خپلې ښځې په څیر قبوله کړم . په دې کې شک نه شته چې ډسپینا د اروپا په ډیرو زیاتو ښایسته و ښ
د سلطان بایزید په دې خبره ډسپینا ټکان وخوړ او د سلطان په لور یې مخ را واړاوه ، تر څنګ یې ورور استیفن هم د سلطان په لور په پ
استیفنه ! ستا خور ډسپینا د ښځې د منلو په څیر زما شرط دادې چې تر هر څه لمړی هغه عیسایت پریږدي او اسلام و مني . که چیرې ه
دسلطان دې خبرې د ډسپینا په مخ باندې د خوشحالی او مسکا نښې را و ځلولې .د هغې په سترګو کې ډیرې زیاتې خوشحالیو نڅا کوله ،
دورنده سلطان ! لکه څنګه مې چې پخوا وویل د جنګ دپیلامې تر مخه مونږ په یسوع مسیح باندې سوګند کړې و او دهغې نه مو په دې
د استیفن په ځواب باندې سلطان ډیر ډاډ من او خوشحاله شو ، او بیا یې وویل :
ستاسې لمړی شرط ماو منوده چې ته به پس له دې زما تابع ، مطیع او فرمانبرداره اوسې او دخپلې خور د خپلوۍ په اساس به ته زما تر
او زه به هغه د خپلې ښځې په څیر و منم ، خو ګرانه ! ستا دریم شرط زما له پاره دمنلو وړ نه دې . اوس چې ته خپله خور زما په حرم
کړې و هغه ماته د منلو وړ نه دې .
دسلطان بایزید ددې سخاوت په واسطه د ډسپینا د زړه غوټۍ و غوړیدې او دخوشحالیونه په کالیو کې نه ځایده ، استیفن هم تر یو وخته پو
دورنده سلطان ! ، که چیرې ته ماته دورور په سترګو کورې ، نو زه به د ورور په څیر د هغې کانونو یوه برخه ستا په قدمونو کې نظر
د استیفن په ډیر اصرار او فشار سره سلطان دهغه هغه دریم شرط هم و منوده او تر څنګ یې ناست علي پاشا ته وکتل او ورته یې وویل
علي پاشا زویه ! زه همدا اوس د لښکر قاضي را بولم تر څو هغه ډسپینا په اسلام کې داخله کړي ، دهغې وروسته به زه ډسپینا د خپلې ښ
به همدلته په رومیلیا کې د خپل لښکر سره یو ځای تم کیږو . او د همدې ځایه به د اروپایي ځواکونو ځارنه کوو . په دې وخت کې ته د
دهغو پاتو معامله هم ور خلاصه کړې او په خپلو کاروو کې به بریالي را ووزې ، ګوره زویه ! زما په دې خبرو خو کومه نیوکه ، اعتر
علي پاشا ورته وویل : محترم سلطان ! زه په دې لړ کې هیڅ ډول خبره نه لرم و، ته پوهیږې چې ستا هره خبره د علي پاشا له پاره دحک
د علي پاشا په دې ځواب باندې سلطان ډیر زیات خوشحاله شو، بیا دسلطان دحکم په اساس د لښکر قاضي را وبلل شو ، او هغه د استیفن
د ډسپینا او خپل لښکر سره یو ځای د جنګ ددې میدانونو څخه د بروصې د ښار په لور روان شو . علي پاشا هم د سلطان سره یو ځای د
خیمه کیدو حکم وکړ.
پرلپسې لري ......

دقریب الرحمن سعید ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف یې د صلیبیانوسازشونه ( ۱۳ )**

مکمل غیر سیاسي : یوتاریخي په زړه پورې ناول .

زمونږ دهیواد ګوډ یتمور څوک دې ؟

اوس تاسې ددې تاریخي ناول دیارلسمه برخه لولئ:

(۱۳)

پرلپسې***** ۲۲

لمر خپلې د تودخې او رڼا وړانګې نورې را ټولې کړې وې ،او ډوب شوې و .د شپې تیارې په خپل قوت سره د لمر د ډوبیدو

علي پاشا د ریونا د کاکا د زامنوپه کلي کې یوه دروازه ټک ټک کړه ، دهماغه لمړۍ ټک ټک سره د لږ ځنډ وروسته دروازه پر
، د خپل اس څټ یې دوه درې ځلې په مینه وواهه او بیا یې ددروازې پرانستونکې ته وکتل او په ډیره نرمه لهجه یې ورته و

که زه غلط نه اوسم نو ستا نوم به یونیسیس وې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوازه پرانستونکي حیران شو او په ډېره عجیبه توګه یې علي پاشا ته وکتل او ورڅخه یې و پوښتل .

اول خو دا وو‌ایه چې ته څوک یې ؟ او زما د حویلۍ دروازه دې ولې ټک ټک کړې ده ؟ ستا خبره سهي ده چې زما نوم یونیس

دیونیسیس په خبرو د علي پاشا په څیره کې نرۍ غونډې خوښي را ښکاره شو ه ، یو ځل بیا یې د خپل آس څټ و ټپاوه او
پیغام تاسي ته ورسوم.

دعلي پاشا په دې خبرو باندې د یونیسیس وجود لړ څه را وغوړید ، او په خندا یې وویل : که چیرې هغو دواړو وررونو ته مات
نن شپه زما سره د یوه دروند میلمه په څیر همدلته تیره کړه .

علی پاشا په خپلو ښکاري سترګو یو ځل بیا یونیسیس ته وکتل او خپل آس یې هملته د دروازې نه بیرون پریښود او همله یې و تا
وایم هغه به درته ووایم او دهغې وروسته بیرته ژر ستنیږم .

دعلي پاشا حویلۍ ته د ننوتلو سره سم یونیسیس د حویلۍ دروازه لکه د پخوا په څیر و تړله ، اوبیا یې له ځانه سره علي پاشا خپل
ماته سکون تر لاسه شي .

د یونیسیس ددې خبرو په اساس د علي پاشا په څیرې باندې درنه غونډې جذبه او په سترګو کې یې د تورې تیارې امواج راغل

یونیسیس! زه غواړم تاته ووایم چې د رستاک دواړه وریرونه ما له منځه وړي دي ، همغوې ماته ویلي چې ته هغه څوک یې
یې ؟

د علي پاشا په دې خبرو باندې یونیسیس حیران شو او ټکان یې وخوړ او بیا یې په ډېره بده توګه وویل :

زه به ستا د ټولو خبرو ځواب درکړم خو لمړۍ دا وو‌ایه چې ته څوک یې ؟

علي پاشا په ډېره بې پروایي سره یونیسیس ته وکتل او ورته یې وویل :

یونیسیس! زما نوم علي پاشا دی . زه ستا په لاس د وژل شوې مجدالدین کشر ورور یم . او دخپلو قاتلینو څخه د بدلي اخستو له پار

دعلي پاشا په دې خبرو، یونیسیس د علي پاشا په لور وکتل او په یوه ډېره ویرونکې خندا سره او په ډېره سپکه توګه یې علي پاشا

که چیرې ستا نوم رښتیا هم علي پاشا وې او ته دمجدالدین کوچني ورور یې نو ته خو بیا ډېر احمق او بې عقل یې ، ته دومره ناپوه ه
د یو څو لمحو میلمه دې ، ته څومره احمق ، څومره نا پوهه ،څومره بې وقوفه یې چې په دغه فضا کې دخپلې فنا تختۍ دې لی

واوره علي پاشا ! زما د لاسو په یو پړک ، زما په یوه اواز ،او زما پر یوه غږ سره به داسې ځوانان توره وهونکي دې میلمستون
اخستلو له پاره راغلې یې نو بیا له ځانه سره ولیکه چې ته به په دې میلمستون کې د څوځان سوزونکې لمحو او افسوسونو یو

کله چې یونیسیس ددې خبرو د کولو وروسته چپ شو نو علي پاشا هم د میلمستون چت ته په کتلو سره همغسې یوه زوروره خ

یونیسیس! هغه څه چې تا وویل هغه خو به ستا د نظر او آند په مطابق سهي وي ، خو هغه څه چې زه یې ویل غواړم هغه
دې هیر کړې .

تر دې ځایه تر خبرو وروسته علي پاشا لږ څه چپ غونډې شو او بیا یې په پوره توجه ، قهر او غضب سره یونیسیس ته وویل

یونیسیس! زما خبره لا تراوسه پورې نه ده ختمه شوې ، زه غواړم تا ته دا هم ووایم چې ، هغه سپکاوی چې د مشیت سبب ګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو یونیسیس! دهغه د ژوند په بیکرانه مسافتو کې د درد او تکلیف نه اخوا نور څه نه پرېږدم .

د علي پاشا ددې خبرو په واسطه یونیسیس نور هم په غضب شو اود علي پاشا ددې خبرو ځواب یې په همغه لهجه ورکړ او ورت

علي پاشا ! هغه څه چې تا وویل ، هغه ستا فریب ، ستا غولنه ده ، شاید تا په داسې چاپېریال کې پالنه موندلې وې ، چیرې چې
داسې شپه وګرځي چې په قسمت کې یې سهار نه وي لیکلې .د هغې دغه تیرې شوې څوګړۍ به اوس ستا د ژوند اخري

علي پاشا په خپل ځاې باندې ډاډمن ناست و او یونیسیس ته دکتلو پرته یې د مخکې نه په زیات قوت او غضب ناکه اوازه سره وو

یونیسیس! ځنډ ولې کوې ؟ کله چې ته زما ژوند ختمول غواړې او د مجدالدین په څیر باندې ما هم دخپلې لارې څخه لرې کول غ

دعلي پاشا په دې خبروو باندې یونیسیس نور هم په غضب شوو نو په دې خاطر یې په لوړ اواز یو څو نومونه اخستل او هغو پ

ددې غږوروسته یونیسیس څو لمحې انتظار وکړ او دهغې وروسته د هغه په حالت کې بدلون را غې ، دهغه په سترګو کې غضب
:

یونیسیس! په خپل ځاې کینه ، زه به تا پرې نږدم چې دمیلمستون څخه بیرون قدم کیږدې ،تا ماته پخوا ویلي و چې ستا یو اواز ،
وهونکو اننظار وکړه چې ستا په حکم به ما هغسې کوې لکه څنګه چې تا وویل :

دعلي پاشا د دې خبرو په ځواب کې یونیسیس ډیر عصبي شو او په خپل ځاې ولاړ و او په ډیر نفرت اوکرکې سره یې علي پاشا ت

علي پاشا ! که چیرې ما ستا دوه ستر ورونه اوپلار وژلي شول نو تا هم په خپله وینه کې لمبولې شم . ته څه فکر کوې چې

د یونیسیس په دغه خبرې باندې علي پاشا د توپان په څیر دخپله ځایه پورته شو او یونیسیس ته یې په سخت اواز سره وویل :

که چیرې ته په کوم هوډ ، عزم ، غلطي انګیرنې ، دهوکې یا فریب کې ککړ شوې یې نو لږ د خپلې میلمستون څخه بیر ون

دهغه په دې خبره باندې یونیسیس نور هم په غصه شو ، هغه د میلمستون ددروازې په لور ولاړ، په دې وخت کې علي پاشا ور

د علي پاشا ددغې قوې ضربې وروسته یونیسیس یو ځل بیا را پورته شو او تریوه وخته پورې یې علي پاشا ته د یوه لیوني سپ

علي پاشا ! تا دلته په دې کمره کې پر ما لاس پورته کړ نو پوه شه چې ستا د مرګ په پروانې باندې زما مهر ولګید . په دې پیښ
سره تباه کړي ، کله چې همداسې خلک پر تا باندې را دننه شي نو بیا به په دې کمره کې ستا حالات په شګو د لیک په څیر و ګر

علي پاشا سمدستي د یونیسیس ددغه ګواښ په ځواب کې څه و نه ویل : خو په یوه نا څاپه توګه یې خپله توره د تیکې څخه را وو
دخپلې تورې په اشارې سره یې یونیسیس ته وویلې :

یونیسیس ! زه د ډیره وخته را هیسې ستا بک بک اورم ، ستا اوتې بوتې اورم ، لږ څه د خپل میلمستون څخه بیرون را ووځه ، چ

دعلي پاشا ددې خبرې سره که له یوې خوا د یونیسیس په مخ باندې مرګ نڅا پیل کړې وه خو دبله اړخه هغه لږ څه د ډاډ سا
یې وویل :

یونیسیس ! د خپل کور په انګړ کې و درېږه او بیا اواز وکړه، څوک چې را بولې را ویې بوله ،زه تا ته اجازه درکوم څوک

د علي پاشا د وینا سره سم یونیسیس هملته د خپلې حویلۍ په منځ کې ودرید او بیا یې په زوره زوره چغې ووهلې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې هغه خپل زور وواهه نو علي پاشا يې په ورو ورو په ځنډ لاس را ښکود او ورته يې وويل:

يونيسيس ! اوس نو چپ شه ،ما تا ته د خپلو ملګرو او ملاتړو د رابللو فرصت درکړ ، او تا هغوئ ته غږ وکړ، اوس زه هم انتظا

د شپې په تياره کې يونيسيس په خپل ځاې ډاډمن و هغه هيله من و چې هغه خلک چې هغه د خپل ملاتړ له پاره را غوښتي دې نو
وه ، دواړه چپ چاپ ولاړ و و نو کله چې د يونيسيس د اواز کومه پايله تر مخه را نغله ، نو علي پاشا ورته وويل :

يونيسيس ! تا وکتل چې ستا د اواز کوم اغيز مخ ته را نغي ، هيڅ دښمن بل دښمن ته دومره مهلت نه شي ورکولې و، تر دومره
پوره ډاډ سره به خپل د اوسيدو ځاې ته ستون شوې هم واې . ماتاته د اواز کولو مهلت هم درکړ .ما تاته د خپلو ملګرو د رابللو له
په ډيره ذليله مړينه ووژنم .

په ځواب کې يونيسيس په ډيره بې وسۍ سره دعلي پاشا په لور وکتل او ورته يې وويل : ګوره زما بدترينه دښمنه ! داسهي نه د

علي پاشا د غاښ چيچنې په څير ورته ځواب ورکړ او ورته يې وويل:

نه !...هغه څه چې زه درڅخه پوښتم لمړئ دهغې ځوابونه راکړه . دهغې وروسته به بيا ستا د وژلو تر مخه ستا پوښتنې واورم ا
راکړې وه ، هغه ستا په هکله څه نورې خبرې هم ماته کړي دي ، د همغه اطلاعاتو په اساس به زه ستا ځواب تلم ، که چيرې درو

د علي پاشا په دې خبره د يونيسيس وجود نور هم لکه د باد په څير په رپيدو شو . تر لږه ځنډه چپ خوله و . په دې وخت کې علي
ډوب اواز وويل چې :

زما نا ځاپې دښمنه واوره ! که چيرې رښتيا هم مجدالدين ستا ورور وی نو هغه ، دهغه پلار او ورور درې واړه پنځه کسانو وژلي دي

ديونيسيس د ځواب په اوريد سره د علی پاشا په مخ کې د خوشحالۍ نښې را څرګندېې شوې ، ددې وروسته يې ترې دويمه پوښتن

تاسو دا خلک د چا په اشاره او امر وژلي دي ؟

يونيسيس په لړزيدلي اواز او نښتې ژبه باندې وويل چې :

په يونان کې دپادريانوو او راهبانو يوه ډله ده ، دا ډيره وينه خوړونکې ا و څيرونکې ډله ده . هغوئ د مسلمانانو پر خلاف يو محا
ته راشي نو د همدې پاديانو د ويناو په اساس د هغوئ څومره ډلې چې خپرې دې دهغوئ کار و رتماموي ، د همدې پادريانو په
په حکم باندې ستا پلار او دوه ورونه به قتل رسولي دې ، دا په دې خاطر چې ستا پلار دې سيمو ته د مبلغ په څير را غلي و او د

دپادريانو ددې ډلې او ددې انجمن د لاربښووني له پاره دوه کسه ستر پادريان دی ، هغوئ ته لاټ پادريان هم وايي. دهغوئ دو
يوه ډيره پخوانی ګرجه ده چې په همغې کې دوی خپلې غونډې تر سره کوي . اوديخنی به موسم کې دوئ د «پلوپ» په جزيره
پادريانو ددې انجمن او غونډو عملي ، مالي او اخلاقي مرسته کوي

تر دې ځايه د يونيسيس خبرې خلاصې شوې ، علي پاشا هم د فکرونو په امواجو کې ډوب و ، او دلږ څه ځنډ وروسته علي پاش

يونيسيس ! تا وويل چې د دې پادريانو اجنټان د يونان په هره څنډه کې خواره واره پراته دې ، نو ددوئ دا نمانيدګان په کومو ک
دې توثيق کې تا لږ څه غلطي هم وکړه نو بيا به ستا په مقدر کې د ذلت او رسوايي څخه نور څه نه وي .

د علي پاشا په دې خبره باندې يونيسيس تر لږ څه وخته پورې چپ پاته شو ځکه چې علي پاشا د خپلې تورې تيره سر د شا له اړ

علي پاشا ! په کوم کلي کې چې ته همدا اوس ولاړ يې ، نو داسې يې وګڼه چې دا دپادريانو تر ټولو ستر مرکز دې ، ددې کلي نڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته د ستر پادري کرسپاس او کوچني پادري اردیس څخه احکامات تر لاسه کوي . او بیا زه دهمدې احکاماتو په رڼاکې د ه

د یونیسیس د ځواب په میندولو سره علي پاشا نور هم ډیر زیات خوشحاله شو ، داسې بریښیده چې هغه ددې ځواب څخه پوره

ایا ستا دکور د غړو څخه بل کوم کس هم په دې ډله کې شامل دې ؟

دهغې ډیوښتنې په ځواب کې یونیسیس وویل : هو ........ زما کشر ان دوه ورونه دې چې دهغوې څخه یې یو دلته دې .

علي پاشا دخپلې تورې سر لږ نور هم دهغه په څټ کې ور زور کړ او په تحکمانه شکل یې ورته وویل :

په کومه خونه کې چې همدا اوس ستا ورور شتون لري د همغې لورې ته ولاړ شه .

د علي پاشا په دې حکم باندې یویسیس لږ څه وویرید، لمړۍ خوشحاله وه چې په دې ترتیب هغه ته دخپل ورور دژوند د خوندې
شاشا روان و .

د لږڅه وخت وروروسته یونیسیس یوې خونې ته ور ننوت ، خو د خونې دروازې ته د رارسیدو سره سم هغه هک پک شو ، ځ
رنګ تک ژیړ شوې و، یو ځل یې مخ را واړاوه او دعلي پاشا په لور یې په حیرانونکي ډول وکتل، هغه غوښتل څه ووایي ، خو

یونیسیس ! اعتراض به نه کوي ، زه پوهیږم چې څومره کسان چې په دې کمره کې پراته دې ټول ستا د کورنۍ غړي دي ، او
اخستي ، اوس نو د شپې په دې تیاره کې نه څوک ددې کلي څخه بیرون تللې شی او نه د بهر څخه ورسره څوک څه کومک او مر
خو خپل ورور ته دې ووایه چې که هغه په لاره کې د څه کولو شرارت وکړ او یا یې کومه غلطه لوبه کول زړه وغوښتل نو ز
تري د خوندې وتلو اجازه ور نکړم . دا هم باید تا ته څرګنده کړم چې زما عسکر نه یواځې کلي په محاصره کې اخستي دې بلک
یې ور واستوه ، زما وسله وال ځوانان به دهغوې سره یو ځاې وې .

علي پاشا یونیسیس پریښود چې ورشي او خپل ورور وپوهوی ، یونیسیس هم تر ډیره ځنده خپل ورور ته پټې خبرې وکړی ، ه
بیرون را ووتل .

د هغوې د تللو وروسته علي پاشا یو ځل بیا یونیسیس ته مخ کړ او ورته یې وویل : یونیسیس زه پوهیږم چې دوې ټول ستا دکورنۍ
دي ، دوې به نه یواځې تا بلکه ستا ټوله کورنۍ به په وینو کې لت پت کړي .

یونیسیس چپ چاپ مخته ولاړ او په هغه خالي ځاې کې کیناست چې علي پاشا ورته په ګوته کړې و. علي پاشا د خپلو وسله ال ځو
لاسونه د شا له خوا تړل شوې و . هغوې یې را وستل او دعلي پاشا تر مخه یې ودرول . او ورته یې وویل چې :

علي پاشا ! دغه هغه دوه کسه ځوانان دي چې تا را بللي و.

علي پاشا لمړۍ د خپلو وسله والو ځوانانو شکریه وکړه او بیایې یونیسیس ته وکتل او ورته یې وویل :

یونیسیس ! ایا دا هماغه دواړه ځوانان دی چې تا ددوې سره یو ځاې مجدالدین او دهغې ورور اوپلار درې واړه وژلي و .

یونیسیس خو په خوله څه و نه ویل خو بیا یې دغم او درد نه په ډکه توګه خپل سر و خوځاوه ، ددوې ددې خبرو څخه دهغو دوا

اوس نو د یونیسیس نه اخوا د علي پاشا سترګې په دغو دواړو ځوانانو و لږیدې ، تر لږه وخته پورې یې ددوې دواړو دسر نه تر

ایا تاسو دواړو د یونیسیس او د تولک نومې کلي رستاک ددواړو وریرونو سره یو ځاې مجدالدین او دهغې مشر ورور او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعلي پاشا ددې پوښتني سره سم دواړو ځوانانو خپل سرونه ښکته وغورځول ، هغوې خو په خوله څه نه ويلي خو دهغوې په دې

ماتاسو ته د چپ کيدو له پاره نه دې ويلي ،ما ستاسو څخه پوښتنه کړې ، دپوښتني ځواب راکړئ ،که چيرې زما د پوښتني ځواب ر
پرې کړي ، ستاسي ښه په دې کې دي چې هر هغه څه چې زه يې پوښتنه کوم دهغې سهي سهي ځواب راکړئ،

علي پاشا ددې خبرو وروسته لږ څه ځنډن شو ، څه فکر يې وکړ ، يو نظر يې په خپل مخکي ولاړو ځوانانو باندې وکړ اوبيا

واورئ اې قاتلانو ! زه تر ډيره وخته پورې ستاسې چيټيا نه شم زغملاې ، ما چې در څخه څه پوښتلي دهغې ځواب سمدستي

که چيرې يونيسيس ددې خبرې اقرار کړې وي چې هغه زمونږ سره يو ځاې مجدالدين ، دهغه مشر ورور اوپلار ټول وژلي دي

دهغوې دواړو په دې اقرار باندې د علي پاشا قهر او غضب نور هم زيات شو. او تر خپلې مخې ولاړ ځوانانو ته يې وويل :

اې دتيارو شيطانانو واورئ ! اې زما د پلار او دوو ورونو قاتلانو ! ما ستاسو پر خلاف د انتقامي عملياتو لار خپله کړې ده . ک
خلاف حرکت وکړم.

هغوې دعلي پاشا ددې خبرو ځواب ور نه شو کړاې ، تر لږ وخته پورې علي پاشا هغوې ته کتل بيا يې په خپل څنګ کې ولاړو

دسرونو د پريکولو په وخت کې هغوې ډيرې زياتې چغې او نارې ووهلي دهغوې ددغه حالت به کتلو سره ديونيسيس او دهغه دکو

د هغوې دواړو د وژلو وروسته علي پاشا د يونيسيس تر څنګ راغې دهغه سره خپله لوڅه توره په لاس کې وه. يونيسيس ډاډ

يونيسيس ! زه نه غواړم تا د شپې په تياره کې ووژنم ، زه په دې خونه کې له تاسره نژدې کينم او شپه به سبا کړم ، سهار به زه
وحشي او د ړندې جذبي خاوندان دي اود پادريانو او راهبانو د انجمن ايجنټان او سرتيرې دي. اوس ته هم همدلته کينه شپه تير

ددې خبرو څخه وروسته علي پاشا بيرته شا ته شو او تر را تلونکې سهاره پورې يې دخپلو ملګرو سره يو ځاې ددې شپې د

٢٣*****

په دغه ورځ کله چې د ماښام د تيارې د خپريدوسره سم ښايسته او ښکلې ريونا په منډو منډو د نريوس په کور ور ننووته. نو نر
ته ور ننوتې وه نور نريوس سمدستي خپل لاس د ډوډۍ څخه واخيست ، د نريوس دا حال د ريونا له پاره د زغم وړ نه و . هغ

نريوس خورې ! اول ته ژر ژر ډوډۍ وخوره ، د هغې وروسته به زه تاته يو ډير ښه خبر واوروم .

د ريونا ددې خبرې سره نريوس ډاډمنه شوه ، هغې ژر ژر خپله ډوډۍ وخوړه ، د دې تر څنګ دهغې کوچنيانو او مور هم خپ
هم را ننوتل ، دهغوې په دې بې وخته راتګ باندې نريوس لږ څه حيرانه غوندې شوه . هغه داسې و ګڼله چې کومه ستره غميز

ريونا ! کله چې ته زمونږ حويلۍ ته را ننوتې نو په هغه وخت کې ستا د څيرې حالات څه نور و خو کله چې تا وکتل چې زه
بريښني چې دا کومه معمولي پيښه نه ده .

تر دې وخته پورې رستاک او کيتهنا هم په خونه کې کيناستل ، نو بيا په کمرې کې ريونا نريوس ته وويل :

نريوس خورې ! څرنګه چې تاسو څلور واړو ډوډۍ خوړله ، نو په دې خاطر د ډوډۍ په وخت کې ما نه غوښتل تاسو په کوم فک

ريونا تردې ځايه خبره وکړه چې نريوس د غم ، انديښني او فکر تر منځ د هغې خبره غوڅه کړه او ورته يې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریونا ! ته ما ته زما د ورور علي پاشا په هکله څه ویل غواړ ې؟ خداې دې نه کړ ې ایا هغه په کوم مصیبت کې نښتي دې؟ یا کو

دهغي په دې خبره باندې ریونا یو ځل بیا خبره بیل کړه .

نریوس ! ته مه اندیښمنه کیږه ، که څه هم زما مور او پلار د علي پاشا په هکله اندیښمند دي خو زه هیله منده یم چې د کوم کار

نریوس خورې ! زه خبره شوې یم چې علي پاشا د رومیل په ولایت کې د خپل لښکر سره یو ځاې زمونږ د کلي تر څنګ خیمه
ولاړ ، او علي پاشا تیره شپه یو ځل بیا زمونږ دکلي تر څنګ پړاو کړې دې . کله چې ما ته او زما مور اوپلار ته په دې هکله خبر
او اندیښمن کړل.

نریوس خورې ! د علي پاشا په هکله زما اندیښنه یوه قدرتي خبره ده . زه تر اوسه په دې نه پوهیږم چې د علي پاشا سره زما
لیک هم استولې و خو ماته د علي پاشا لخوا دهغه خط په هکله کوم ځواب را نغې . زه په دې هکله کومه شکوده او ګله هم نه ک

بلې ! ماغوښتل تاته ووایم ، چې کله چې مونږ درې واړه دعلي پاشا خیمي ته ورغلو نوهلته د علي پاشا نیمایي لښکر و او دهمدې ن
مونږ درې واړه همتله تم کړي خومونږ موافقه و نه کړه نو بیا هغوې مونږ ته په تفصیل سره خبره وکړه.

نریوس ! ددې نه مخته ماته هم معلومه نه وه او تا ته به هم په دې اړه کوم معلومات نه و خو زما پلار د علي پاشا د دواړو و
رسیدلې و چې په یونان کې د راهبانو اوپادریانو یو انجمن کار کوي ، دا انجمن چې دې سیمو ته هر مسلمان مبلغ د راتلو څخه
شول او زه یې ترې را ازاده کړم ، هم د همدې راهبانو او پادریانو د انجمن سرتیرې و.

ما ته ددې ټولو خبرو په هکله هغه وخت معلومات پیدا شو چې علي پاشا زما د خلاصون له پاره زما دکاکا د زامنو لاره و نیو
قاتلانو په لټون پسې و . خو قدرت په خپله داسې فرصت برابر کړ چې زما دکاکا د زامنو په لاسو زما دتښتولو په وخت کې ،د ق
مشري په غاړه لري ، یعني ددې کلي ټول وګړي د یوې مجرمي مافیا په څیر د همدې انجمن د راهبانو او پادریانو سره اړیکې

نریوس خورې ! مونږ ته د اندیښنې خبره داده چې علي پاشا په خپله د خپل نیمایي لښکر سره دهمدې کلي په لور ورغلې دی ،
خورجانې ! دا هغه خبره وه چې ما غوښتل له تاسره یې شریکه کړم اوهمدې خبرې زه اندیښمنه کړې یم .

د ریونا په دې خبرو باندې نریوس هم د غم په فکر کی ډوبه شوه. مور یې هم د اندیښنو به بحر کې و غورځیده او کوچنیانو با

ریونا ! که تاسې درې واړه هلته د علي پاشا خیمي پورې تللې وی،نو هلته خو مو داپوښتنه کولې شوه چې علي پاشا به کله بیرته د خپل

ریونا سمدستي ځواب ورکړ .

مونږ د علي پاشا د سالارانو څخه دا وپوښتل ، خو هغوې ته دعلي پاشا د بیرته را ستنیدو په اړه هیڅ معلومات نه و. زما پلار ،مور او
په دې خاطر مونږ درې واړه ستا لورې ته راغلو .

نریوس د ځواب په اړه لږ څه فکر وکړ . او بیا یې وویل :

زه به ډوډۍ تیار کړم ، لمړۍ ډوډۍ وخورئ بیا به کومه پریکړه وکړو . خو زه فکر کوم چې هغه به د شپې دشپې خپله موخه ت
دهغه سره په تفصیل سره خبره وکړو. اوس تاسو درې واړه کینئ چې زه درته غذا تیاره کړم .

دهغې ددې خبرې په ځواب کې کیتهنا سمدستي وویلې:

نریوس لورې ! تا ته دڅه کولو اړتیا نه شته لکه څنګه چې ریونا وویل ،کله چې مونږ دعلي پاشا خیمي ته ولاړو نو د علي پاشا سا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کیتهنا ددې خبرو په واسطه نریوس تر یوه ځایه ډاډه شوه او بیا یې وویل:

که چیرې تاسې ربنتیا هم ډوډۍ خوړلې وې او بیا راغلي یاست نو زما غوښتنه داده چې نن شپه به تاسې درې واړه دلته زما سره

کیتهنا ،ریونا او رستاک د نریوس په دې وړاندیز باندې په خپلو کې مشوره وکړه اوبیا ریونا نریوس ته وویل:

نریوس ! مونږ درې واړه ستا دا وړاندیز منو ، نن شپه همدلته له تاسره پاته کیږو، بیا به سهار وختي د علي پاشا د خیمي په لور

نریوس سمدستي له خپله ځایه پورته شوه او دهغو بسترو تر څنګ چې دخپلې مور او کوچنیانو له پاره یې خپرې کړې وې په بل

پرلپسې لري.....

دقریب الرحمن سعید ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يي د صليبيانوسازشونه ( ۱۴ )**

مکمل غیر سیاسي : یوتاریخي په زړه پورې ناول .
زمونږ دهیواد ګوډ یتمور څوک دې ؟
اوس تاسي ددې تاریخي ناول څوارلسمه برخه لولئ:
پرلپسي*****۲۴

تېره برخه له دې ځایه ولولئ

هلته علي پاشا د یونیسیس سره یو ځاې ټوله شپه سهار کړه ،دهغه وسله وال ځوانان د یونیسیس د حویلۍ تر څنګ ټول کلي ، دننه او بهر ،په خپله محاصره کې اخستی و کله چې لمر د شرق له لورې را وخوت ، نو دعلي پاشا په حکم یې دکلي ټول خلک د کلي په شرقي برخه کې را ټول کړل ، هغوې یې په ډلو ډلو وویشل ، ځوانان یې ترې را وویستل او هغوې یې په یوه ځاې کې را ټول کړل او ښځې ، کوچنیان ، زاړه او معذور خلک یې ترې بیل کړل . بیا یې یونیسیس د کلي د ځوانانو تر مخ و دراوه ، د کلي ټول ځوانان یې بې وسه کړي و د هغوې تر شا هم دعلي پاشا وسله وال ځوانان ولاړ و، د کلي د ښځو ، کوچنیانو ، زړو او معذورینو سره یې هیڅ غرض و نه کړ . هغه د خپلو عملیاتو د پیلامې تر مخه یونیسیس ته مخ کړ او ورته یې وویل :

یونیسیس! تا ددې خبرې اقرار کړې چې تا د رستاک ددواړو وریرونو سره یو ځاې ، او دهغه دوه نورو ځوانانو سره یو ځاې چې تیره شپه یې ما کار ورخلاص کړ ، زما پلار او دواړه ورونه وژلي دي . په دې ترتیب تاسې پنځه واړه زما دپلار او دواړو ورونو قاتلین یاست . او اوس ما دخپل پلار او ورونو د قاتلینو څخه د څلور و معامله فیصله کړې ده ، یوائې ته پنځم پاته یې ، ستا کار به هم ډیر ژر تمام شي .

تا ما ته داهم ډاګیزه کړې ده چې تاسې ټول د پادریانو او راهبانود هغه انجمن غړی یاست چې دمسلمانانو په عامه وژنه کې لاس لري ، او دهغوې موخې دادې چې په دې سیموکې به نه کوم مسلمان مبلغ را ننوځي او نه به ورته د اسلام د خپریدو فرصت ورکړل شي. تا ماته دا هم ډاګیزه کړې ده چې ددې کلي ټول ځوانان د راهبانو او پادریانو د انجمن غړي او سرتیرې دي .

تردې ځایه علی پاشا چپ شو اوبیا یې په لږ څه اوچت اواز سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونیسیس ! زه تا ته داخبرې په اوچت اواز ځکه کول غواړم چې د کلي ټولو ځوانانو ته ستا په موجودیت کې دا ډاګیزه شي چې دوې ټول مجرمین دي او یونیسیس ددوې په جرمونو باندې شاهد اوګواه دي. نو زه به هیڅکله هم دا مجرمین و نه بښم ،یونیسیس ! تر اوسه پورې خو ماته یواځې دا څرګند و چې تاسې یواځې زما پلار او دوه ورونه وژلي دي ، خو ددې نه علاوه معلوم نه ده چې تاسې خلکو به تر اوسه پورې څومره مسلمانان مبلیغین دتیغه تیر کړي وي ، نو په دې خاطر یونیسیس!ستا او ستا د دې ملګرو ژوندي پریښول د انسانیت له پاره سپکاوې دي .
تردې ځایه د خبرو کولو وروسته علي پاشا چپ شو بیا یې په نا ځاپې توګه خپله درنه ځلیدونکې توره د نیام او تیکي څخه را وویسته ،څوقدمه مخته ورغي او یونیسیس ته یې وویل:
یونیسیس ! هغه څه چې زه یې کونکي یم هغه هیڅکله هم ستاسې سره تیرې نه دي ، هغه څه چې ستاسې د ځوانانو سر ه تر سره کیدونکې دي هغه هم دهغوې سره تیرې نه دي . تاسې د کینې نه ډک انسانان یاست او ستاسې په سترګو کې د کینې او تعصب پرته نور څه نشته . یونیسیس ! تا د څلورونور ځوانانو سره یو ځاې زما پلار او دوه ورونه وژلي دي ، نو په دې خاطر ستا وژل پر ما فرض شوي دي .
ددې خبرې سره سم علي پاشا خپله توره را پورته کړه او په یوه ګذار یې د یونیسیس سر له تنې پرې کړ، فضا د چغو اوسورو نه ډکه شوه او دیونیسیس بدن په وینو کې لت پت پریوت . علي پاشا د یونیسیس د وژلو وروسته لکه د پخوا په څیر خپله توره دهغه په کالیو پاکه کړه او بیا یې خپل یو سالار راوغوښت او هغه ته یې څه حکمونه وکړ ل ، دهغې سره سم هغه سالار په خندا شو ، شاته ولاړ اوهغه وسله وال چې ددې کلي د ځوانانو تر شا ولاړ و هغوې ته یې څه اشاره وکړه ، دعلي پاشا حکم یې ورته واوراوه ،دهغې سره سم هغوې ټول مخته راغلل ، او د یوې اشارې سره سم یې دهغه کلي ټول ځوانان له یوه سره د تیغه تیر کړل .
کله چې دا عملیات پاې ته ورسیدل نو بیا علي پاشا ټولو هغو ښځو ، کوچنیانو ، زړو او معذور ته چې هلته یې په ډیره بې وسۍ سره دغه ننداره کتله په وینا کې وویل :
دکلي زړو، کوچنیانو ، ښځو او معذورو ټول واورئ چې زما دین په ښځو ، زړو و کوچنیانو او معذور باندې د لاس د پورته کولو اجازه نه راکوي ، ستاسو سردار یونیسیس ما ته ویلي و چې ددې کلي ټول خلک د راهبانواو پادریانو د انجمن غړیتوب لري او د مسلمانانو په وژلو ویاړ ي، هم ستا سو د کلي خلکو زما پلار او دوه ورونه وژلي و نو اې د کلي خلکو واورئ چې زما نوم علي پاشا دې او زه د سلطان بایزید یلدرم د فوځ سالار یم ، ما د یونیسیس تر څنګ ددې کلي ټول ځوانان هم ووژل ،ځکه چې دوې ټول مجرمین و او د پادریانو او راهبانو د انجمن غړې او سرتیرې و ، زه پر تاسو باندې لاس نه پورته کوم .تاسې ټولو ښځو، کوچنیانو ، زړو او معذورو ته ښښنه کوم، تاسې ټول خپلو خپلو کورنو ته ولاړ شئ ، خو یوه خبره یاد لرئ چې د نن نه وروسته که په دې کلي کې کوم مجرم انسان ته پنا ورکړل شو ه و او یا د نن نه وروسته زما جاسوسانو او مخبرانو ماته اطلاع راکړه چې ددې کلي د کوم وګړي اړیکې د راهبانو او پادریانو د انجمن سره دي نو ستاسې څخه به داسې انتقام واخلم چې ستاسو په فکر کې به هم نه را ګرځي .اوس تاسو ټول خپل کلي ته تللې شئ.
د علي پاشا په دې حکم باندې هغوې ټول خوشحاله شول ، بیا یې په منډو منډو باندې خپل ځانونه کلي ته ورسول ، علي پاشا هغه وژل شوې خلک ټول د هوایې مرغانو خورا ک ته پریښودل او بیا بیرته خپلې خیمې ته راستون شو .
٢٥ *****
لمر څو نیزې را پورته شوی و ، او وړانګویې دګرمی اغیز شینده ، ګرمې هرې خواته خپره و ، علي پاشا دخپل نیمایي لښکر سره بیرته د خپلې خیمې په لور را روان و. د رارسیدو تر مخه یوه عسکر ورمنډه کړه او دهغه د اس واګې یې په خپلو لاسو کې ونیولې او ورته یې وویل :
پاشا ستا په خیمه کې څو کسه میلمانه ناست دي . په هغوې کې ستا مور او ستا کشره خور هم شته ، زه به ستا آس تر اخور پورې یوسم او ته خپلې خیمې ته ورځه .
دخپلې مور او خور د خبر په اوریدو سره علي پاشا دومره خوشحاله شو چې د آسه یې را ټوب کړ اود آس د زین سره تړلې دوه خورجینه یې را پرانستل ، په خپله اوږه یې واچول ، آس یې د خپل عسکر په لاسو کې ورکړ او په خپله یې په یو څو ګامونو سره ځان خیمې ته ورساوه.
کله چې خیمې ته ور ننوت نو ویې کتل چې هلته په خیمه کې د هغه دمور قیرات او دسریان خور نه علاوه نریوس ، ریونا ، رستاک او کیتهنا هم ناست دي . کله چې علي پاشا خیمی ته ورننوت نو ټول د خپلوځایو څخه پورته شول ، علي پاشا ورمنډه کړه او د یوه کوچنی په څیر د خپلې مور په غاړه کې ور پریوت.
قیرات تر یوه وخته پورې هغه ښکلاوه او مینه یې ورسره کوله ، علي پاشا د خپلې مور څخه وروسته خپلې خور ته ورغي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه په سر يې لاس راښكود ،بيا چې كله دهغه مور اوخور كيناستل نو علي پاشا هم په يوه خالي ځاې كې كيناست ،ددې سره سم د علي پاشا مور غوښتل هغه ته څه ووايي چې ريونا خبرې پيل كړې،
علي پاشا ! تا مونږ ته دويلو پرته زما د كاكا په كلي حمله وكړه ، په هغې كلي كې ټول مجرمين اوسيږي .او هغوې ټول د راهبانو اوپادريانو د انجمن غړى او سرتيرى او دمسلمانانو پر خلاف ورته دندې وركول شوي دي . ته دداسې يوه ستر كار له پاره د شپې په تياره كې يوازې تللې وې ، كيداې شو چې هلته هغوې تاته كوم زيان در رسولې واې.
د ريونا په دې معقولو خبرو باندې علي پاشا دهغه شكريه وكړه او بيا يې ورته وويل :
ګوره ريونا ! زه خو ځانته نه وم، زما سره زما د لښكر يوه برخه هم وه . زما ددواړو ورونو او پلار پنځه كسه قاتلان وو، دهغوې له ډلې څخه دوه هغوې و چې ته يې تښتولې ، هغوې دواړه ستا دكاكا زامن و. ما هغوې ستا په موجوديت كې له تيغه تير كړل . دريم يې ستا د كاكا دكلي سردار يونيسيس و او دوه كسه نور ځوانان و چې د همدې كلي اوسيدونكي و ما دهغوې درې واړو كار هم ورخلاص كړ .
كه جيرې ما يوائې همدا كار كولى نو زه به د شپې دشپې بيرته خپلې خيمې ته را ستون شوې وې، خو ما ته اطلاع راكړل شوې وه چې ددې كلي ټول ځوانان د راهبانواو پادريانو دانجمن غړي او سرتيرې دي او په دې سيموكې د مسلمانانو پر خلاف كار كوي ،نو ما د لمر د راختلو پورې انتظار وكړ دكلي ټول كوچنيان ، زاړه، ښځې او معذورين مې پريښوول او پاته مې ټول ځوانان له تيغه تير كړل . په دې ترتيب مې هغه كلي د مسلمانانو له پاره د خطر نه وويست . زه نن ډير زيات خوشحاله يم چې زه نن د خپل پلار او ورونو د قاتلينو څخه په بدل اخستلو باندې بريالي شوې يم.
دعلي پاشا په دې خبرو باندې د قيرات او سريان په مخونوكې د خوشحالى ليكي را پيدا شوې چې هغوې خپله خوشحالي په الفاظو كې نه شو بيانولې ، قيرات يو ځل بيا دخپله ځايه پورته شوه او علي پاشا يې په خپله غيږ كې و نيو اوډيره مينه يې ورسره وكړه. ددې سره سم سريان هم د خپله ځايه پورته شوه او علي پاشا يې په تندې باندې موچې كړ . بيا نو قيرات علي پاشا ته وويلې:
علي پاشا زويه ! تا هغه كار ترسره كړ چې د ډيرې مودې را هيسې يې ما انتظار كاوه ، زويه ! تا زما د كورنى عزت او وقار پورته كړ .
قيرات لا دا خبره كوله چې علي پاشا د خپلې اوږې څخه خورجين را ښكته كړه په هغې كې يې لاس ور ننويست او د ډيره قيمتي جوړه يې ترې را وويستله ، اودخپلې مور په لور يې ور وړاندې كړه او ورته يې وويل :
اې مورجانې ! ما ستا له پاره دوه جوړه پڼي اخستې وې ، چې يوه يې همدا ده ،مادا بوټان تاته د نكوپولس په ښار كې را نيولي و . اې مورجانې ! دا بوټان ما په خپل خورجين كې له ځانه سره ګرځول ، او غوښتل مې چې كله دخپلو دښمنانو څخه بدل واخلم نو په خپلو لاسو به يې خپلې مور ته په پښو كوم. اوس ته خپلې پښې راوړندې كړه تر څو ستا زوې علي تا ته په خپلو لاسو دا پڼي په پښو كړي . اې زما مورې ! ما دخپل كوچنيتوب ا و ځوانى ډيره برخه ته پښې ابلې ليدلې يې، درنې مورې ! دا چې هغه وخت ما څنګه دا زغمل په الفاظو كې يې نه شم بيانولې. خو د هغه خداې ډير زيات شكر دې چې هغه ماته ددې كار د ترسره كولو توفيق را وبانبه .
ددې سره سم علي پاشا هغه پڼي ور مخكې كړې ، قيرات هم خپلې پښې خپل ځوې ته ور وړاندې كړې اوعلي پاشا خپلې مور ته پڼي ور په پښو كړې ، بيا هغه دخپله ځايه پورته شو او په لوڅه زمكه يې خپل خداې ته سجده وكړه. تر لږ څه وخته پورې هغه په سجده پروت و، ژړل يې ، قيرات هم دهغه سره په ژړا پيل وكړ سريان هم دژړيدو پرته پاته نه شوه . ټول د غم په موجونو كې را ګير شوې و. بيا چې كله علي پاشا پورته شو اوپه خپل ځاې كيناست ټولو وكتل چې د علي پاشا په ستر ګو كې اوښكې وې اوهغه يو نا څاپه په خندا بدلې شوې ، نو قيرات علي پاشا ته وويل :
ګرانه زويه علي پاشا ، ستا په ستر ګوكې اوښكي دى! ته ژاړې! د قيرات په اوازكې يودرد ، يوه آه ،اويوډول اذيب او تكليف و.
علي پاشا نرى شانته خندا و كړه او ويې ويل : اې مورجانې! دا خو دشكر او ممنونيت اوښكى دي، زه د خپل خداې ډير زيات ممنون يم چې هغه زما مور ته زما له لاسه خوشحالى ور وبښلې.
دعلي پاشا ددې خبرو په واسطه تر لږ ه وخته پورې ټولو وخندل ، دهغې وروسته دعلي پاشا مور قيرات په يوې نوې او زړه پورې موضو ع باندې خبرې پيل كړې او ويې ويل :
علي پاشا زويه ! دلته د راتللو سره سم چې كومې خوشحالي ماته تر لاسه شوې ده نو زه هغه په الفاظو كې نه شم بيانولې .
قيرات تر دې ځايه خبره وكړه چې علي پاشا په كې ورټوپ كړ او ويې ويل :
اې مور جانې تاسې څنګه دلته راغلى ياست ؟ ايا كومه مهمه خبره وه چې دهغې له پاره تاسې د بروصې نه تر دې ځايه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلو زحمت ګاللې دې .
د علي پاشا په دې پوښتنه د قیرات په مخ کې د خوشحالۍ لیکې را تازه شوې ،او بیا یې په خبرو پیل وکړ.
علي پاشا، زویه ! زه دلته د مقصد پرته نه یم راغلې ، زویه ! دا خو دلته زما د راتللو وروسته ما ته معلومه شوه چې تا د خپل پلار او ورورنو د قاتلانو څخه بدل اخیستې دی . خو زوې جانه ! زه هسې د یوې بلې خبرې له پاره راغلی یم . ما دخپله ځانه سره یوه نجلۍ هم راوړې ده او غواړم دهغې سره ستا کوژده تر سره کړم . زویه ! ما دا نجلۍ تاته ستا د ژوند د ملګرې په څیر غوره کړې ده. او زما په دې خوښه کې د سلطان بایزید یلدرم خوښې هم ګډه ده. هغه وایې چې په هر صورت کې ته باید ددې نجلۍ سره کوژده وکړې. او تر یوه وخته پورې تاسو دواړه یو ځای یو د بل خوې بوې باندې و پوهیږئ ، او بیا سره واده وکړئ ، ددې نجلۍ مور اوپلار هم په دې رشته باندې خوښ اوتیار دي او هغوې په خپله خوښه دا نجلۍ له مونږ سره را لیږلې ده . زویه ! هغه نجلۍ ما هلته ستا د خیمې تر څنګ دبلې خیمې په یوه کونج کې کینولې ده . د لږ ځنډ وروسته به زه تا ته هغه نجلۍ در وښیم. او دهغې وروسته به په همدې خیمه کې د کوژدې مراسم تر سره شي .
علي پاشا د خپلې مور په دې خبره لږ څه اندیښمن غوندې شو، بیا یې خپلې مور ته و کتل او ورته یې وویل :
اې مور جانې ! ددې تر مخه خو به مو له ماسره مشوره کړې وای ، او زما څخه به مو د خوښې او ناخوښې په اړه پوښتلي وای ،
علي پاشا غوښتل نور څه هم ووایي ، خو مور یې خبره ور غوڅه کړه .
علي پاشا زویه ! هغه نجلۍ به خامخا ستا دخوښې ثابته شي ، زویه زه ستا خیمې ته د شپې په اخری برخه کې را ننوتې یم ، او ستا سالار زه او سریان دواړه همدلته ستا په خیمه کې پریښودو ، او زمونږ یې ډېر زیات عزت او درنښت وکړ . ما هغه سالار ته دشپې وویل چې سهار وختي زما لور نریوس ماته را ورسوئ. نو کله چې هغه سړې د نریوس پسې ولاړ نو دهغې سره یو ځای ریونا ، دهغې پلار رستاک او مور یې کیتهنا چې همدلته د نریوس په کور کې یې شپه سبا کړې وه ، هم یو ځای را غلل. دخیمې تر څنګ چې کومه نجلۍ ناسته ده نو هغه یواځې نریوس کتلې ده ، بل چاته مې دهغې دکتلو اجازه نه ده ورکړې هغه وخت چې نریوس ، ریونا ، رستاک او کیتهنا دې خیمې ته را ننوتل نو په هماغه وخت کې ما او سریان نریوس د خیمې هغه برخې ته یوړله ،همدلته مو هغه نجلۍ نریوس ته وښووله ، زویه ! دا چې هغه نجلۍ څه ډول ده دهغې په هکله به نریوس تاته ووایي . تر هر څه لمړئ د نریوس خبره واوره اوبیا چې څه وایې هغه ووایه . ددې نجلۍ د تعریف له پاره نریوس لا د پخوا څخه ښه او غوره الفاظ لټوي ، زما په فکر چې تر اوسه به یې دهغې د تعریف له پاره ښه او درانه الفاظ پیدا کړي هم وي . نو اوس خو هغه څه چې نریوس وایي هغه په ښه غور سره واوره . او بیا دی خپل عکس العمل و ښایه .
کله چې د علي پاشا مور چپ شوه نو تر ډېره ځنډه په خیمه کې سکون او چپتیا حاکمه وه .د دې وروسته نریوس علي پاشا ته مخ کړ او ورته یې وویل:
زما ګران او دروند وروره علي پاشا ! هغه نجلۍ چې ماته ښوول شوېده او اوس ستا کوژدن ورسره کیدونکې ده اوبیا ستا واده ورسره کیدونکې دې هغه ډېره حسینه ، ښایسته او د ښه شکل او صورت خاونده ده . دهغې جسم د بلورو په څیر تراشل شوې ،د هغې نازک ښایسته لاسونه ، دهغې نرئ او ښایسته ګوتې ، د مرمرو په څیر بازوګان ، نرئ ملا، د وریښمو په څیر ویښتان ،د صراحي په څیر نرئ غاړه ، دهغې ښایست په یوه توپان بدل کړې ......
ریونا تر اوسه پورې چپه خوله ، حیرانه ، او په اندیښنو او غمونو کې ډوبه ناسته وه. د نریوس په دې خبرو باندې یې ډېر حیرانونکې غوندې عکس العمل ښوده ، د هیچا سره یې سترګې نه مخ کولې ،سر یې ټیټ کړې و، د غمونو په څپو کې ډوبه او چاپیریال پرې هره لمحه تریخیده ، ځکه نریوس خو دهغې ټول خوبونه له منځه وړي و . هغې خو په ډېرو هیلو ا و امیدونو سره د علي پاشا سره د خپلې مینې اظهار کړې و، ددې تر مخه دهغې مور او پلار ددوو ځوانانو سره د هغه کوژده کړې وه، په داسې حال کې چې دهغې ځوانانو سره نه دهغې مینه وه او نه رغبت ، یواځې دهغې مور اوپلار و چې هغه یې دهغوې سره تړلې وه او دې هم هغه رشته په پوره چپه چپتیا سره منلې وه . خو د علي پاشا سره معامله بل منګه وه . علي پاشا دهغې دخوبونو ځوان و، لکه څنګه چې هغه په خپل کور کې دهغې عزت کړې و ، دهغې عفت یې خوندې ساتلې و نو هلته هغه په دې باندې یو بل تر ټولو زیات احسان وکړ . هغه وخت چې د هغې دکاکا زامنو هغه تښتوله ،نو علي پاشا نه یواځې هغه د هغوې د پنجې نه خلاصه کړه بلکه د هغې ابرو او عزت یې هم خوندی وساته . دهمدې کرچار په وسیله د ریونا په زړه کې د علي پاشا له پاره د محبت او مینې انګار را تازه شو خو هغې ورته د شرم نه د همدردۍ پوخ ور واغوست . او اوس خو ریونا د ژوند هغه موړ ته رسیدلې وه چې د هغې څخه د بیرته ستنیدو زغم ورسره نه و . ځکه چې علي پاشا اوس دهغې منزل او دهغې دغوښتنې اخري ځای و .
دلته په خیمه کې چې کله دهغې په شتون کې د علي پاشا سره د بلې کومې نجلۍ د کوژدې خبرې کیدې نو دې ټولو خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغې په زړه ،او ذهن باندې د نشتر په څېر زخمونه جوړول. خوبیا هم هغه چپه خوله ناسته وه ، زغم یې کاوه ، ځکه چې که هغه ویل نو هغې ډیر څه ویلاې شول ، خو دخپل مور اوپلار په موجودیت کې هغه مجبوره وه او دعلي پاشا مور ته یې هم هیڅ و نه شو ویلاې .
کله چې نریوس خپل تعریفونه اوصفتونه خلاص کړ ل اوچپ شوه نو دعلي پاشا مور په خبرو پیل وکړ.
نریوس لورې ! پورته شه او هغه نجلۍ د خیمي د هغې برخې څخه دلته راوړه ،
د قیرات د خبرې سره نریوس د خپله ځایه سمدستې پورته شوه ، په دې وخت کې قیرات ریونا ته وکتل او په ډیر محبت او مینه یې ورته یې وویل :
ریونا جانې لورې ! ته هم دنریوس سره ولاړه شه ، دواړه خویندې یو ځاې هغه نجلۍ د خیمي د هغې برخې څخه دلته راوړئ ،
ریونا همغسې ټیټ سر په خپل ځاې ناسته وه ، پورته نه شوه ، خو بیا یې هم په یوه ټیټ او مړژواندې اواز سره قیرات ته وویل :
اې زما مشرې مورې ! زما په فکر یواځې نریوس خور ددې کار له پاره پوره ده . هغه نجلۍ خو څه شله ګوډه نه ده چې مونږ یې په دوو کسانو باندې را پورته کړو او دلته یې را وړو. نریوس خور هغه نجلۍ په یواځې ځان دلته را وستلې شي .
د ریونا په دې سوزیدونکو خبرو باندې ، قیرات ، سریان ، نریوس ، رستاک اوکیتهنا ټول په یوه وار په زوره زوره وخندل .
خو دا خندا تر هغې چې علي پاشا باندې ډیره بده و لګیده دهغې نه زیاته په ریونا باندې بده ولګیده ، که څه هم د قیرات ، سریان او نریوس خندا د ریونا له پاره د زغم وړ نه وه ، خو دداسې خوشحالۍ نه ډکه خندا د ریونا د مور اوپلار څخه بلکل د توقع او امید پر خلاف وه. خو بیا هم قیرات یو ځل بیا وویل :
ریونا لورجانې ! زه هیله لرم چې ته به زما خبره و منې او د نریوس سره به هغه بلې خونې ته ولاړه شې ، زما لورې ! دا زما غوښتنه ده چې تاسې دواړه خویندې هغه نجلۍ تردې ځایه په پوره عزت او درنښت سره راوړئ.
د قیرا ت په دې اصرار سره ریونا د خپله ځایه پورته شو ه ، او بیا و دریده او په ډیره قهرجنه لهجه یې نریوس ته مخ کړ او ورته یې وویل : درځه ، مخته شه !
نریوس په خندا شوه او د خیمي هغې بلې برخې ته ور روانه شوه. ریونا هم ورپسې ورپسې پښه نیولې روانه وه . د خیمي بلې برخې نیمایې ته چې ور رسیدل نو نریوس و دریده ، ریونا په ډیره بې قرارۍ سره د خیمي دهغې بلې برخې جایزه اخیسته ، هغې وکتل چې د خیمي هغه بله برخه بلکل خالي پرته ده .نو په دې وخت کې یې په ډیرې اندیښنې ، او غم او فکر سره نریوس ته وکتل او ورڅخه یې وپوښتل :
نریوس ! هغه نجلۍ چیرې دې دکومې د راوړو په خاطر یې چې زه له تاسره د خیمي دې برخې ته را لیږلې یم. ایا هغه نجلۍ دومره درنه شوه چې تا په یواځې ځان هلته نه شوه را وستلاې؟ نریوس ! زما له تاڅخه داسې هیله اوامید نه و ځکه چې ته پوهیدې چې زه د علي پاشا سره د لیونتوب تر پولو مینه کوم. دهغه په محبت ، مینه او غوښتلو کې زه تر هغه ځایه رسیدلې یم چې دهغې څخه ما ته بیرته ستنیدل شونې نه دي . خو ددې سره سره بیا هم ته د علي پاشا د موره سره یو ځاې شوې او غواړې د علي پاشا سره بله نجلۍ کوژده کړئ، زه به اوس تا ته څه ووایم . ته پوهیږې چې تا ماته تل دخپلې کوچنۍ خور په څیر خیال کړې دې ، خو زه به اوس ستا ددې رویې اوسلوک په اړه همدومره ووایم چې تا دخپلې کوچنۍ خور سره ظلم او تیرې وکړ . ماتاته داهم ویلې و چې ما علي پاشا ته د محبت نه ډک پیغام هم استولې دي او کیدې شي هغه خط علي پاشا لوستې هم وي ځکه دهغې لیک وروسته ما دا احساس کړې و چې لکه څنګه چې زه علي پاشا غواړم په همغه اندازه هغه هم زما سره مینه کوي ، تا وکتل چې کله چې دهغې مور غوښتل د هغې کوژده زما څخه پرته د بل چا سره وکړي . نریوس! تا وکتل چې نه یوازې دا چې دهغې پر مخ باندې د ناخوښې لیکې را ښکاره شوې بلکه هغه په څرګنده اوډاګیزه توګه خپلې مور ته وویل چې اې مورجانې ! په دې هکله خو به د ې زما څخه مشوره اخستې وې .
نریوس ! دهغه وخته چې تا ماته خور ویلې دي نو دیوې خور په څیر خو به دې د علي پاشا مور اوخور ته دا ډاګیزه کړې وې چې ریونا د علي پاشا ده او دهمغې په سترګو به ژوند کوي . ځکه ریونا دهمغې له پاره پیدا شوې ده . ګوره نریوس ! که ماته علي پاشا تر لاسه نه شو نو ریونا به ژوندۍ پاته نه شي.
دریونا ددې خبرو وروسته نریوس لږ څه چپ شوه او فکر یې وکړ .او په ژوره توګه یې ریونا ته وکتل اوورته یې وویل:
ریونا ! دا سې وګڼه چې حالات زما د کنتروله وتلي دي ، تا ته به یاد وي چې یو ځل ما په خپل کور کې له تا څخه وپوښتل چې ایا ته علي پاشا سره مینه کوي اوهغه دې خوښ دې ؟ نو تا په پوره بې پروایې سره یو زوروره خندا وکړه او په ډیره ناخوښه توګه دې وویل چې ته دعلي پاشا سره محبت نه کوي ،نه ته هغه غواړې او نه یې خوښوې . تا دا هم وویل چې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي پاشا سره يو ډول همدردي لرې . نو په دې خاطر ته دهغه سره د خپلولې اظهار کوې. اودا همدردي هم په دې خاطر ده چې علي پاشا ، دهغه مور اوخور ته هلته دهغوې په کور کې د يوې درنې ميلمنې په څير ساتلې وې او ستايې ډير زيات درنښت کړې دې . کله چې تا زما تر مخه دا خبرې ډاګيزه کړې نو ما ستا همدا خبرې دعلي پاشا مور ته ورسولې ، زما په فکر چې ستا دهمغو خبرو په اساس دا پريکړه شوې ده .
د نريوس ددې خبرو په ځواب کې ريونا تر يوې لحظې پورې چپ پاته شوه . بيا يې نريوس ته په ډير قهر او غضب و کتل او ورته يې وويل چې :
نريوس ! په دې کې شک نه شته چې هغه وخت ما ستا تر مخه داسې خبرې کړې او خپل احساسات مې ډاګيزه کړې ، ما دا ويلي و چې زه دعلي پاشا سره نه محبت کوم او نه هغه غواړم . خو داسې وګڼه چې دهغې الفاظو په ويلو سره ما هم خپل ځان ته دوکه ورکړې وه او هم خپلې ميني ته . په هغه وخت کې زه د محبت د احساس او جذبو څخه بلکل بې خبره وم . نريوس! ما هغه وخت هم تاته ويلي و چې زه د علي پاشا سره يو ډول همدردي لرم خو په حقيقت کې همدا همدردي يو محبت او غوښتنه وه چې ما په هغه وخت کې نه شوه درک کولاې ، ماتاته پخوا هم ويلي چې زه د محبت او مينې د جذبو څخه بلکل بې خبره وم. دا په دې خاطر چې ددې تر مخه زما دداسې کوم وګړې سره واسطه نه وه پيدا شوې چې ما ورسره مينه او محبت کړې وې . لمړې مې د کاکا زوې سره کوژدن وشوه او ما په پټه خوله و منله ، هغه نه زما خوښه وه او نه مې هغه کله هم دخپل ځان له پاره غوښتې و.
دهغه د مړينې وروسته زما مور او پلار زما کوژدن دکلي د يوه ځوان يوتاش سره وکړه، په داسې حال کې چې ما يوتاش يو ځل کتلې و، نه ورسره زما کومه مينه وه او نه زما کومه غوښتنه، په دې اساس زه د پخوا څخه ددې احساس او جذبې څخه خالي وم.
خورې ! کوم احساس چې دعلي پاشا له پاره زما په زړه کې د همغه لمړې ورځې څخه را پيدا شوې و نو دا زما دوکه او فريب و چې هغې ته ما دهمدردئ نوم ورکړ. او زما خورې ! په حقيقت کې همغه د علي پاشا سره زما د محبت او مينې پيلامه وه . افسوس چې ما خپل احساس اومحبت و نه شو پيژندلاې ، او نن وخت يې زه په داسې دوه لاريو کې درولې يم چې مرګ يې را ته را نژدې او ژوند يې را څخه لرې کړې دې .
ريونا د لږ څه وخت له پاره و دريده اوبيا يې نريوس ته مخ کړ او ورته يې وويل :
نريوس ! اوس ته ووايه چې تا زما دغه جذبات اواحساسا ت څه ډول او څنګه د علي پاشا مور ته ور ورسول؟
نريوس د ځواب له پاره ريونا ته په کتلوشوه او بيا يې ورته وويل :
ريونا خورجانې ! ما تاته پخوا ويلي چې علي پاشا د خپل لښکر مخبران ټاکلي چې کله کله زما دکور په شاوخوا کې واوسيږي زما او زما د کوچنيانو پوښتنه وکړي ، تر څو په دې سيمو کې کوم دښمن پر مونږ باندې حمله ونه کړي . دا مخبران په پرلپسې توګه زما او زما د مورسره رابطه کوي ، او که کله هم دکوم شي اړتيا پيښيږي نو زه د همدوې له لارې علي پاشا ته پيغام ليږم .
ريونا خورې ! دهمدغو مخبرانو څخه يې يو د بروصې دښار په لورې ته ، هغه ماته راغې، او دعلي پاشا د وينا په اساس يې له ما وپوښتل چې د بروصې ښار ته د تللو له پاره خو څه نه لري ، که د علي پاشا د مور له پاره کوم پيغام وي نو وي وايه ، زه به يې ور رسوم . څرنګه چې په هغو ورځو کې تا ماته په ډاګه کړې وه چې ته د علي پاشا سره مينه نه لري او نه هغه د خپل ځان له پاره خوښوې نو په دې خاطر ما ستا دزړه خبره د علي پاشا مور ته ور سوله ، او نن دهمغه خبرو پايلې دې چې د علي پاشا کوژدن د بلې نجلئ سره کيږي .دا نجلئ د علي پاشا مور د خپله ځانه سره د بروصې د ښاره را وړې ده . ما هم هغه نجلئ کتلې ده ، هغه ډيره ښايسته ، ښه شکله ، او را ښکودونکې سترګې لري ، هغه دومره ښايسته ده چې که چيرې د شپې په تياره کې هغه و ساتې نو بيا به هم دهغه څيره د شمعې يا مشال په څير خپل چاپيريال روښانه کړې .
د نريوس ددې خبرو په اوريدو سره ريونا يو ځل بيا په احتجاجې توګه نريوس ته وکتل او ورته يې وويلې :
واوره نريوس ! پس له دې به زه تاته هيڅکله هم خور و نه وايم. يوائې په نامه به دې را بولم ،ځکه چې تا پر ما ډير زيات ظلم او ستم کړې دې ، نريوس که چيرې تا زما پخوانې احساسات د علي پاشا مور ته رسولې شول نو زما وروستې جذبات به دې هم ورته رسولې واې ، که چيرې ما پخوا تاته ويلي و چې زه دعلي پاشا سره مينه نه لرم . خو وروسته مې درته وويلي چې زه د علي پاشا سره د زړه له کومې مينه لرم او د ځان له پاره يې غواړم .دهغه د ملګرتوب غوښتونکې يم او دهغه نه پرته ژوند نه شم کولې ، تا ته په کار و چې لکه څنګه چې دې زما مخته خبرې هغوې ته ور رسولې داسې زما وروستئ خبرې هم هغوې ته ور ورسوې . زه ډاډ منه يم چې که چيرې تا همداسې کړې واې نو نن به زه ددې غميزې سره نه مخ کيدم. زه نن دعلي پاشا له پاره د يوې پردئ نجلئ حيثيت لرم ، او هغه ځاې چې زه په کې بايد نن ولاړه واې هلته نن يوه بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلۍ دريدلي ده . د علي پاشا دهغه ملګرتوب حق چې له ماسره و هغه نن بل چاته ورکول شوي دي . خو زه به دا حق هيڅکله هم و نه منم . زه خو هغه نجلۍ ته څه نه شم ويلي ، خو زه به دعلي پاشا سره په دې هکله ضرور خبرې وکړم. ځکه چې کله چې علي پاشا زمونږ له ځايه رخصت اخيست ،او د سلطان بايزيد سره د جنګ ډګر ته روان و او ماورته د لارې توښه تياره کړې وه نو په هغې کې ما د خپلې مينې اومحبت يو ليک هم ايښې و او په هغې کې مې علي پاشا ته دخپلو احساساتو اظهار هم کړې و. زه هيله منده يم چې علي پاشا به زما د هغې محبت او ميني خيال و ساتي او زما د غوښتنې درنښت به وکړي ، او کومه نجلۍ چې دعلي پاشا مور هغه ته غوره کړې ده هغه به پرېږدي او زما ملګرتوب اوزما محبت او ميني ته به ترجيح ورکړي .
تردې ځايه دخبرو کولو وروسته ريونا يو ځل بيا ودريده ، دهغې سترګو د اوښکو نه ډکې وې او بيا د اوښکو څو څاڅکي د هغې په لمن باندې لاندې ولويدل . دهغې ددې حالت په کتلو سره نريوس نښتې معلوميده ، غوښتل يې څه ووايي خو ريونا يو ځل بيا شروع وکړه.
ما خو ته ټول عمر خپله خور ګڼلې وې خو تا دخور په بڼه زما سره ډير ظلم او تيرې وکړ که چيرې تاد علي پاشا په اړه زما دغه جذبات اواحساسات دهغه مور ته نه شوې رسولې ، نو کوم وخت چې د علي پاشا مور دلته راغله او د بلې کومې نجلۍ سره يې د علي پاشا د کوژدنې خبره کړې وه نو په هغه وخت کې هم تا دا ويلې شول چې د علي پاشا له پاره د ريونا نه بله مناسبه نجلۍ نه شي پيدا کيدی. نو که اوس تا دعلي پاشا د مور تر مخ زما د جذباتو او احساساتو د ښکاره کولو هڅه کړې وې نو شونې وه چې د علي پاشا مور چې کومه نجلۍ د بروصې ښخه له ځانه سره راوړې ده هغه به يې له ياده ويستلې وې اودعلي پاشا سره به يې زما کوژده کړې وې ، خکه چې زه پوهيږم چې دعلي پاشا مور زما په هکله ډيره مهربانه ، او همدرده ښځه ده . که چيرې تا د علي پاشا مور ته داټول هر څه ويلي واې نو زه په ډاډ سر ويلې شم چې دوې به زما په حق کې پريکړه کړې واې .
د ريونا په دې خبرو نريوس تر يوه حده پورې تروه شوې وه . تر لږ څه وخته پورې يې سر ټيټ کړې و او څه فکر يې کاوه ، بيايي د ريونا په لور وکتل او ورته يې وويل :
ريونا جانې ! که ته غواړې نو زما په ذهن کې يو وړانديز شته دې . په دې ترتيب سره به ته دخپل منزل په لاسته راوړوکې بريالۍ کيږي . ريونا خورې ! هغه نجلۍ چې دعلي پاشا مور د بروصې له ښاره له ځانه سره يو ځاې راوستې ، پريږده چې د هغې کوژده د علي پاشا سره تر سره شي. زه به په دې لړ کې دعلي پاشا د مورسره خبرې وکړم . او همدا نن به ستا کوژدن هم دعلي پاشا سره تر سره کړو ، ځکه چې علي پاشا تا او د بروصې ښځه راغلي نجلۍ دواړه په يوه وخت کې د ښځو په څير ساتلې شي . په دې ترتيب که د بروصې ښځه راغلي نجلۍ ته دا څرګنده شي چې هغه دعلي پاشا په ملګرتوب کې راتلونکې ده ،په دې خاطر چې هغه نجلۍ هغه خوښوې نو هغې ته به هم خپل منزل تر لاسه شي او ته چې د ليونتوب تر پولو پورې علي پاشا سره مينه لرې او دخپل ځان له پاره يې غواړې تا ته به هم خپل منزل او مقصد تر لاسه شي. ووايه چې په دې لړ کې ستا آند څه دې ؟
د نريوس په دې خبرو باندې د ريونا په مخ کې د قهر او غضب نښې را ښکاره شوې ، بيا يې په ډيره ناخوښۍ سره ووېل : نه نريوس !دا هيڅکله هم نه شي کيداې ،ما دعلي پاشا سره مينه کړې ده ، هغه مې د ځان له پاره غوښتې د ې ، زه به هيڅکله هم دا خوښ نه کړم چې زما دا غوښتنه ، زما دامينه سره وويشل شي ،هو ! که چيرې د علي پاشا ملګرتوب ما ته تر لاسه شي نو زه به دهغه د ټولې مينې ، محبت او غوښتنې حقداره اوسم .اوکه نه په ياد ولره که چيرې زما علي پاشا ماته تر لاسه نه شو نو ما لکه څنګه مې چې مختنه تاته وويل چې ريونا به د علي پاشا پرته ژوندۍ پاته نه شي .
نريوس ! ما تاته پخوا هم ډاګيزه کړې ده چې ما د هماغه لمړۍ ورځې څخه د علي پاشا سره مينه پيل کړې ده خو څرنګه چې زه د محبت او مينې د جذبې څخه نا خبره وم نوما دغې محبت او مينې ته د همدردۍ نوم ورکړ. بس داسې يې و ګڼه چې دا زما بې عقلي او نا پوهې وه. او زما همدا بې عقلي ماته نن ستر مصيبت او غم و ګرزيد. او که نه په هماغه لمړي ځل چې تا له ما څخه د علي پاشا د محبت په هکله پوښتنه وکړه نو که چيرې زه ريښتا احمقه او نا پوهه نه وايي نو په هماغه وخت به مې ځوا ب درکړې و چې علي پاشا زما منزل ، زما محبت او زما غوښتنه ده . په هرصورت نريوس ! لا تراوسه هم څه له لاسه نه دي تللي ، اوس هم که چيرې ته دعلي پاشا د مور سره په دې هکله خبرې وکړې نو زه ډاډه يم چې هغه به زما په حق کې پريکړه وکړي . زه به په خپله په دې اړه د علي پاشا سره خبره وکړم . زه پوهيږم چې دعلي پاشا جذبات به زما په حق کې وي . تا ونه کتل چې علي پاشا په څرګنده توګه خپلې مور ته وويل چې د واده په هکله به يې ورسره مشوره کړې وې . اوس هم وخت مه ضايع کوه . ووايه چې هغه نجلۍ چيرې ده ؟ راځه چې هغه له ځانه سره يو ځاې د علي پاشا مور ته يوسو . هلته به ټول په ډيره بې قرارۍ سره زمونږ انتظار کوی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریونا د پوښتني په هکله نریوس تر لږ څه وخته پورې په فکر کې ډوبه شوه. بیا یې په ټیټ او راز لرونکي اواز سره وویل :
ریونا خورې ! ته خوژاړې ، ستا په سترګو کې اوښکې دي ، ته خپل ځان سنبال کړه، زه به هغه نجلۍ په خپله دعلي پاشا او دنورو تر مخ له ځانه سره یوسم .
ریونا سمدستي خپلې اوښکې وچې کړې او ویې ویل : څه ، وایه هغه نجلۍ چیرې ده چې زه یې هم درسره یو ځای هلته دعلي پاشا مخې ته بوزم .
د ریونا ددې خبرې سره نریوس یو نا څاپه په زوره و خندل ، لمړۍ یې خپله خوله ور وړاندې کړه او دریونا مخ یې ښکل کړ اوبیا یې په دې بل مخ باندې لاس کیښود او ورته یې وویلې : ریونا جاني خورې ! هغه نجلۍ چې زه یې دعلي پاشا تر مخه دهغې د کوژدنې په خاطر ور حاضروم هغه په خپله همدا ته یې !
د نریوس په دې خبره ریونا یو ټکان وخوړ ، ډیره حیرانه او متعجبه شوه، نریوس ته یې مخ کړ او ورته یې وویلې :
دا ته څه وایې ، دعلي پاشا مور زه له تاسره ددې له پاره را ولیږلم تر څو دخیمې دهغې برخې څخه چې د بروصې څخه راغلي نجلۍ په کې ناسته ده د علي پاشا د کوژده شوې په څیر دعلي پاشا مخ ته بوزم . خواوس دلته د راتلو وروسته ته ماته دا خبره کوې چې ته ما د علي پاشا دکوژده شوې په څیر دخیمي ددې برخې څخه د علي پاشا د مور تر مخه وړې ، ووایه دا مو کومه معامله روانه کړې ؟تا خو زه په یوه اندیښنه کې او یو پلټنه کې ور غورځولې یم .
په ځواب کې نریوس یو ځل بیا یوه زور وره خندا وکړه او بیا یې ریونا ته وویل :
ریونا جاني خورې !ما له تاسره څنګه بې وفایي کولې شوه ؟ ما څنګه پر تا ظلم،تیرې او جبر کولې شول ؟ هغه وخت چې تا ماته وویل چې ته د علي پاشا سره مینه نه کوې اویا دهغه په هکله د ملګرتوب فکر نه لرې نو په هماغه وخت کې ماستا د څیرې څخه دا اندازه کړې وه چې ته د علي پاشا سره مینه او محبت کوې او هغه د ځان له پاره غواړې او بیا چې کله تا د علي پاشا په هکله په ښکاره توګه د خپل محبت او مینې څرګندونه ماته وکړه و نو ما د همغه مخبرانو به واسطه چې علي پاشا زما له پاره دلته ټاکلي ود علي پاشا مور ته دا پیغام ولیږه چې ریونا د علي پاشا سره مینه کوی ،او همدا راز علي پاشا هم ریونا د خپل ځان له پاره غواړې ، ما په دې هکله دعلي پاشا سره هم خبرې کړې دي. هغه هم تا دځان له پاره غواړي ، له تاسره مینه کوي .
ریونا ! تا ته به یاد وې چې یو ځل چې مونږ دعلي پاشا په پړاو کې دهغه خیمې ته ورغلو نوهلته ستا پلار علي پاشا ته یوه خبره کړې وه چې مونږ به ډیر ژر د ریونا واده کوو . اوعلي پاشا ته یې ویلې و چې دریونا په واده کې به خامخا ګډون کوې . ته پوهیږې چې ستا د واده کولو په اوریدو سره علي پاشا ډیر زیات غمګین ، اندیښمن او افسرده شو . ما به ډیر غور سره دهغه څیره کتله او کیدای شي تا هم هغه کتلي وې .
ریونا ورته وویل:
نریوس خورې ! ستا اندازه درسته ده ، ما هم په هماغه ورځ د علي پاشا څیره په غور سره کتلي وه . او ما ته په هماغه ورځ دا احساس را پیدا شوې و چې د علي پاشا سره هغه احساس ته چې ما دهمدردۍ نوم ورکړې و هغه په خپل ذات کې همدردي نه وه بلکه مینه او ارزو وه.
ریونا دومره خبره وکړه چې نریوس یې خبره غوڅه کړه او ورته یې وویل :
د علي پاشا مور اوخور چې زما پیغام واورید نو سمدستي دلته راغلي ،مونږ غوښتل تا په یوتجسس کې واچوو . او تا ته ووایو چې هغوي له ځانه سره یوه نجلۍ هم راوړې ده . په حقیقت کې دعلي پاشا مور غوښتل چې دا ډاګیزه کړي چې ته د علي پاشا سره څومره مینه کوې ، دخیمې په هغې برخې کې چې کله دا څرګندیده چې علي پاشا د بلې کومې نجلۍ سره واده کول غواړ ي او تا خپل سر ټیټ اچولي نو دعلي پاشا مور تا ته کتل او ستا دغه کار ور ته ډیر خوند ورکاوه . کله چې دعلي پاشا مور مونږ ټول خیمې ته ور وبللو ، نو دخیمې په دې بله څنډه کې دعلي پاشا مور له ماسره په دغه ټوله مسئله باندې تفصیلي خبرې وکړې او ستا د محبت د معلومولو له پاره د ا ټوله لوبه ولوبول شوه. او تا ته به یاد وې چې د خیمې په هغه سر کې د علي پاشا خور سریان ته د خپله ځانه سره په خبرو بوخته کړې ، سریان ستا تر مخه نا سته وه او داسې ناسته وه چې ستا شا ستا د مور او پلار په لور وه. نو ددې فرصت نه په ګټې اخستوسره د علي پاشا مور ستا مور اوپلار ددې ټول پلان څخه خبر کړل . نو دغه لوبه چې له تاسره و لوبول شوه. په دې کې یواځې دعلي پاشا مور نه بلکه دهغه خور سریان هم شامله وه ، ستا مور اوپلار هم په کې ورګډو او زه په کې هم . خو یوازې هغه څوک چې ددې معاملې څخه بې خبره دي هغه ته او علي پاشا دواړه یاست . اوس ووایه ته څه ویل غواړې ؟
د نریوس په دې انکشاف سره د ریونا حال په سلګیو کې ډوب شو ، تر لږ څه وخته پورې یې د نریوس په دې انکشاف باندې عکس العمل و نه شو ښودای ،خو بیا هم هغه دسپوږمۍ په څیر رونه و ګرځیده او په مخ او څیره کې یې ډیر خوشحاله بدلون

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغي. هغه لږ څه په فکر کې شو ه او بيا يې په يوه منډه نريوس نه غيږ چاپيره کړه دهغې مخ ، تندې او وجود يې ښکلاوه ، او د ډيرې مينې وروسته يې ځان جدا کړ او نريوس ته يې وويل :
زما ډيرې درنې خورې نريوس جانې ! تا خو په دې خبرو زما ټول غم او هم ، ټولې اندېښنې او ټول ... په يوه وار له منځه يوړل . تا خو په ريښتوني توګه د يوې خور حق ادا کړې دې ، نريوس ! کله چې تا زه دخيمې دې لورې ته راوستلم نو ما په خپل زړه کې دا فکر کاوه چې کاشکې زه د اوبو پوکڼۍ وې او پر زمکه باندې د لوېدلو سره سم چاودېدلې وې، ما دا ارزو کوله چې کاشکې دا زمکه و چوې او زه په کې ژوندۍ ور ننوځم . نريوس خورجانې ! ته پوهيږې چې دځان له پاره دعلي پاشا غوښتلو زما دمحبت او مينې ټولې پولې له منځه وړې دي،اوس خو علي پاشا زما منزل او نښه ده. د هغه پرته زه د ژوندۍ پاته کيدو هيله او اميدهم نه شم کوولې ، تا خو د خپل سلوک په واسطه زما ځولۍ د خوشحاليونه ډکه کړه او زما په لمن کې دې د مينې ګلاب وا چول .
تردې ځايه دخبرو وروسته ريونا د يوې لمحې له پاره چپ شوه ، لږ څه فکر يې وکړ اوبيا يې په خبرو پيل وکړ.
نريوس خورجانې ! اوس چې تا زه د ټول حقيقت څخه خبره کړم ، اوس را ته ووايه چې زه څه وکړم ؟ ايا ته ما له لاسه نيسې او د ټولو تر مخ مې دروې ،
دريونا په دې خبره نريوس يوه نرۍ غونډې خندا وکړه او بيايې وويل:
ريونا خورجانې ! ستا خبره سهي ده . اوس به زه تا د علي پاشا د کوژدې شوې په څير له لاسه نيسم او د خيمې هغې بلې برخې ته به دې بوزم . په دې باندې به ټول خوشحاله شي خو يوازې علي پاشا به حيران دريان وي ، ريونا جانې ! کل چې علي پاشا په دې خبر شي چې دکومې نجلۍ سره چې دهغه کوژدن کيږي هغه د ريونا پرته بل څوک نه ده ، نو ياد ساته چې د علي پاشا د خوشحاليو به انتها نه وی .
د نريوس په دې خبرو باندې ريونا ډيره زياته خوشحاله شوه، کله چې نريوس خپلې خبرې خلاصې کړې نو ريونا ورته وکتل او ويې ويل :
که چيرې خبره همداسې وي نو درځه د هغه بلې برخې په لور ولاړ شو !
په دې وخت کې نريوس ريونا ته په ډير غور سره وکتل او ورته يې وويل: ته خو دې اول دا خپل ځان ووينه ، ستا د سترګو څخه را بيدونکې اوښکې ستا پر ګلابې مخ باندې لارې کړې دي . هغه مخامخ د لاس پريمنځلو ځاې دې ولاړه شه ، او خپل مخ لاس پريمنځه ، په آينه کې دې خپل ځان په غور سره ووينه ، خپله څيره ، خپل کالې او لباس دې سهي کړه دهغې وروسته به زه تا د خيمې هغه بلې برخې ته له ځانه سره يوسم .
ريونا د نريوس په خبره سمدلاسه پا څيده او د ځان پريمنځلو ځاې ته ورغله ، لمړۍ يې مخ لاس پريمنځل بيا د آينې تر مخ و دريده خپل ويښتان يې سهي کړل ، خپل کالې يې و کتل او بيا نريوس ته را نژدې شو ه دهغه لاس يې و نيو او ورته يې وويل :
را ځه خورې ، چې نور ورځو .
نريوس دهغې په دې خبره تر ډيره پورې مسکۍ وه اودهغې لورې ته يې کتل ، بيا يې د ريونا تر ملا لاس چاپيره کړ او د ناوې په څير يې د لاسه و نيوله او دخيمې هغې بلې لورې ته يې يوړه چيرې چې رستاک ، کيتهنا ، قيرات ، سريان او علي پاشا ټولو په ډيره بې قرارۍ سره دوې ته منتظر ناست و.
کله چې نريوس به داسې حال کې چې لاس يې د ريونا د ملا څخه را تاو کړې و د خيمې هغه برخې ته ورننوتل چيرې چې ټول ناست و نو په دې ډول ددوې د راننوتلو سره چې تر کومه ځايه قيرات ، سريان ، کيتهنا او رستاک دخوشحالۍ نه په کاليو کې نه ځايدل ، هلته علي پاشا سخت آنديښمن ، حيران او تجسس کې و . نريوس غوښتل ريونا په هغه ځاې باندې بيرته کينوی د کومه ځايه چې هغه را پاځيدلې وه خو دعلي پاشا مور قيرات پرې نه ښود ه او نريوس ته يې وويل :
نريوس لورې ! ريونا دلته نه هلته د علي پاشا تر څنګ چې کوم ځاې مونږ ورته خالي کړې او جوړکړې هلته کينوه ، د قيرات په دې خبره ريونا ټکان وخوړ او خپل مور او پلار ته يې په احتجاجي توګه ور وکتل. په دې وخت کې د ريونا مور کيتهنا وويل :
ريونا جانې لورې ! اوس خو به ته کوم اعتراض نه لرې ته هملته دعلي پاشا تر څنګ کينه ، ځکه چې اوس خو دعلي پاشا پر تا او ستا پر علي پاشا باندې ډير حقونه دي . تاسې دواړه يوه بل ته منسوبيږئ ، زما لورې ! د همدې شيبې وروسته ته دعلي پاشا امانت يې .او علي پاشا ستا ژوند ، ستا ځان ،ستا ابرو او ستا د عصمت خاوند او ساتندوي دی .
دخپلې موو د دې خبرو په اوريدو سره ريونا دخوشحالۍ په ټالنوکې زنګيده خو بيا يې هم نه غوښتل د خپلې خوشحالۍ نښې په خپل مخ باندې را څرګندې کړې . بس هغه چپ خوله ، ټيټ سر د علي پاشا تر څنګ اوږه په اوږه کيناسته ، په دې وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعلي پاشا سر هم ښکته و او په فکرونو کې ډوب ناست و. خو دهغه دا ډول کيناستل د ريونا له پاره د زغم وړ نه و. ځکه هغې غوښتل هغه خندان او خوشحاله وويني ،دهغه تر څنګ د کيناستو وروسته به ريونا کله کله هغه ته په غلنيو سترګو کتل ،او دهمغې په لور به يې سترګې ور ښکته کړې وې .
کله چې دا ټول مراسم سر ته ورسيدل ، نو قيرات او سريان دواړه د ريونا تر څنګ کيناستل ، په دې وخت کې قيرات ريونا ته وويل :
ريونا جانې ! هغه څه چې تر اوسه پورې وشول هغه داسې و ګنه چې ستا د محبت او مينې يو ازمېښت شانته و. لورجانې ! ما دبروصې څخه دخپل ځانه سره کومه نجلۍ نه وه راوړې ، ماته مې نريوس لور دخپلو مخبرانو په خوله ځواب راليږلې و چې ته دعلي پاشا سره او علي پاشا له تاسره مينه کوي ، سوګند په خداې چې کله د بروصې په ښار کې ماته دا خبر راورسيد نو زما د خوشحاليو پاې نه و. هغه وخت چې ته د لمړي ځل له پاره د بروصې ښار ته راغلې وې او يوه اونۍ دې له مونږ ه سره تيره کړه نو په همغه وخت کې ما ته د علي پاشا له پاره خوښه کړې وې ، خو ما نه غوښتل خپله خوښه پر تاسې باندې و منم . ما غوښتل چې هر وخت ستا له اړخه ددې غوښتنه وشي نو زه به تا دعلي پاشا سره منسوب کړم. نن زه ډيره زياته خوشحاله يم چې ته دعلي پاشا او علي پاشا ستا شو .
قيرات تر دې ځايه ريونا ته خبرې وکړې او بيا يې علي پاشا ته مخ کړ او ورته يې وويل :
علي پاشا زويه ! ما کله کولې شول ستا واده او کوژدن ستا د خوښې پرته تر سره کړم . او دا چې تاسې مې تر يوه وخته پورې په تجسس کې واچولې نو په دې پلان کې ستا خور نريوس له مونږ ه سره برابره شريکه ده . خو زما بچيانو! زما خبره په غور سره واورئ:
په دې کې شک نه شته چې زما خاوند او زما دوه زامن ددښمن په لاسو وژل شوې او دهغې څخه وروسته تر ننه پورې ماته خوشحالي نه وه تر لاسه شوې ، خو نن زه ددووخوشحاليو سره مخ شوې يم ، تر هر څه لمړۍ خوشحالي ما ته داده چې زما زوې علي پاشا د خپل پلار او ورونو قاتلان له منځه يوړل ، دا دا سې يو ستر ګار دې چې زه به يې په ټول ژوند کې له ياده و نه کاږم. زه په واورينو سيمو او د ګرمۍ نه په را خوټيدونکو لمرونو کې لوڅې پښې ګرزيدلم ، دا پر ما دعلي پاشا احسان دې چې هغه قاتلان له منځه يوړل او زما پښو ته يې پڼې واچولې .
بله ستره خوشحالي چې ماته تر لاسه شوه هغه دا ده چې ما ته د نريوس نه وروسته دريونا په څير لور په نصيب شوه . لمړۍ زه يواځې د يوې لور مور وم او اوس ددرې لونو مور يم . او دا زما له پاره دډيرې خوښۍ ځاې دې .
علي پاشا ! ستا ددې کوژدنې مراسم د سلطان بايزيد يلدرم په حکم او غوښتنه تر سره کيږي کله چې زه دبروصې څخه دې لورې ته راتللم نو د راتګ تر مخه مې محترم برهان الدين ورور دخپل پلان څخه خبر کړ ، هغه دا پلان ټول سلطان بايزيد ته وايه ، نو سلطان بايزيد يلدريم زما د کتلو له پاره په خپله زما حويلۍ ته را غې او ويې ويل چې د علي پاشا ددې کوژدنې د مراسمو په خاطر د سلطان بايزيد له اړخه تا ته مبارکي وايم ، هغه زما په لاس تاته د ددې کوژدنې په خاطر يوه ګوته هم را ليږلې ده، ډيره ارزښتناکه ګوته . دا ګوته د سلطان عثمان د شاهي زيوراتو څخه يوه ده. چې د کلونو کلونو راهيسې په عثماني کورنۍ کې ساتل کيږي . سلطان بايزيد همداسې يوه ګوته د ريونا له پاره هم را ليږلې ده . سلطان حکم کړې دې چې هغه ګوته چې علي پاشا ته په ګوته کيږی هغه د ريونا مور اوپلار ته ورکړئ او هغه چې ريونا ته په ګوته کيږی هغه علي پاشا ته ورکړئ . علي پاشا دې ريونا ته په خپله دا ګوته په ګوته کړي ، ددې څخه اخوا سلطان د ريونا له پاره څه نور قيمتي زيورات را ليږلي دي. تر څنګ يې ماته دخداې پامانۍ په وخت کې دا هم وويل چې ځرنګه چې علي پاشا د سلطان د زوې په څير دې نو سلطان ريونا ته هم خپل لور وويله ، او دايې وويل چې د کوژدنې په دې مراسمو کې زه ريونا ته د خپلې لور په څير د زړه له کومې مبارکي وايم .
په دې وخت کې قيرات په يوه ځانګړې انداز سره خپلې لور سريان ته وکتل . سريان دهغې په اشاره سمدستي پورته شوه او دخپل سامان څخه يې يوه څرمنې خلطه را وويسته ، دخلطې خوله يې پرانسته اوخپلې مور ته يې ور حواله کړه . قيرات په هغه خلطه کې سترګې ور ښکته کړې ، بيا يې ترې دوه ډيرې قيمتي ګوتې را وويستې ، دا ګوتې د سرو زرو څخه جوړې شوې وې چې ډير زيات جواهرات په کې کارول شوي و. دهغې څخه يې يوه ګوته علي پاشا ته ورکړه او ورته يې وويل :
علي پاشا ! ته به دا ګوته زما لور ريونا ته په ګوته کړې ، هغې هغه بله ګوته د ريونا مور کيتهنا ته ورکړه او ورته يې وويل :
کيتهنا خورې !ته داګوته په خپل لاس ريونا ته ورکړه تر څو هغه يې د کوژدنې دمراسمو په وخت کې علي پاشا ته په ګوته کړي ،
کيتهناتر يوه وخته پورې هغه ګوته په لاس کې اړوله را اړوله او هغې ته يې په حيرانتيا سره کتل ، ډيره زياته خوشحاله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بيا پورته شوه او هغه ګوته يې ريونا ته ورکړه ، په دې وخت کې قيرات وويل :
علي پاشا زويه ! او ريونا لورجانې ! اوس چې ددې ټولو تر مخه ستاسو ددواړو د کوژدنې مراسم تر سره کيږي نو تاسې هم زمونږ د ټولو په موجوديت کې دا ګوتې يو بل ته په ګوته کړ ئ ، علي پاشا ! ريونا نجلی ده ،هغه به شرميږ ي نو ته دا کار لمړی پيل کړه . ته ريونا ته ګوته په لاس کړه نو بيا به ريونا تاته ګوته په لاس کړې ،
علی پاشا دخپلې مور خبره و منله او خپل لاس يې ور مخته کړ او د ريونا لاس يې په خپل لاس کې را ونيو خو هغه و کتل چې د ريونا لاس لړزيږي او رپيږي ،خو بيا هم علي پاشا ريونا ته ګوته په ګوته کړه .
د علي پاشا نه وروسته ريونا په داسې حال کې چې لړزيده د غلې په څير يې خپل لاس ور اوږود کړ د علي پاشا لاس يې په خپل لاس کې و نيو او دکوژدنې ګوته يې ور ته په ګوته کړه . کله چې دواړو يو بل ته ګوتې په لاسو کړې نو قيرات ددعا له پاره خپل لاسونه اسمان ته پورته کړل ، تر لږه ځنده پورې هغې په ډيره عاجزئ او انکسارئ سره دعاوې کولې او دهغې وروسته يې علي پاشا او ريونا دواړو ته مخ کړ او ورته يې وويل :
علي پاشا او ريونا ، زما بچيانو ! ما نه غوښتل ستاسې کوژدن وکړم ما غوښتل چې ستاسې واده وکړم ، خو دا زما د ورور برهان الدين او په خپله د سلطان بايزيد يلدرم غوښتنه وه چې د علي پاشا واده به د بروصې په ښار کې کيږي نو په دې خاطر تاسې دواړه تر هر څه لمړی د کوژدنې د مراسمو سره مخ شوئ. ستاسې دواړو د واده له پاره به زما لور ريونا د بروصې ښار ته وړل کيږي ، د ريونا پلار رستاک او مور کيتهنا به هم له مونږ ه سره همله ځي ، اوبيا به هلته د ټولو تر مخه په پوره شان او شوکت سره ستاسې واده تر سره کوو . ريونا لورې ! د علي پاشا واده زما د ژوند تر ټولو ستره خوشحالې او د ټولو ستره غوښتنه ده . د واده ټول انتظامات به زه د خپلې لور نريوس په غاړه کې واچوم . او زه غواړم چې ددې واده وروسته نريوس د خپلو دواړو کوچنيانو اومور سره يو ځاې هملته په بروصه کې زمونږ سره تم شي .
قيرات د لږو خبرو وروسته يو ځل بيا ريونا ته مخ کړ او ورته يې وويل :
ريونا جانې لورې ! اوس خو ته هم دعلي پاشا په څير زما خزانه او زما دولت يې ،داسې لکه څنګه چې نريوس لور جانه ده .اوس نو ته او نريوس دواړه زما د هغه حويلی ، چې په بروصه کې ده ، څښتنان ياست . تاسې دواړه کله او څه وخت چې وغواړئ د بروصې ښار ته را تللاې شئ ، ريونا لورجانې ! تر هغې چې د نريوس جانې پورې اړه لري نو دهغې او دهغې د دواړو کوچنيان په اړه خداې ته دعاده چې هغوې تل خوښ او خوشحال وساتي. څرنګه چې سلطان بايزيد يلدرم زمونږ د ټولو حالاتو څخه پوره خبر دې نو کله چې زه دې لورې ته راتللم نو هغه د بروصې د ښار په چاپيريال کې دنريوس له پاره يوه ستره ټوټه زمکه ځانګړې کړه ، په دې اساس به دهغې ټوټې زمکې مالکه نريوس او دهغې کوچنيان وي ، په دې ټوټه کې څو باغونه دې او ډيره زياته ښه زراعتي زمکه ده . دهغې لاسته راوړنه او حاصلات به تر يوه کاله پورې پيل شي . زما لورجانې ! هغه ټوټه زمکه او باغونه چې همدا اوس زما په ملکيت کې دي نو دهغې خاوندان ته او علي پاشا ياست . زه دعا کوم چې تاسې د تل له پاره خوشحاله او خوښ و اوسئ.
قيرات تر لږ ځنده وروسته رستاک او کيتهنا ته و کتل او ورته يې وويل :
زما درنې خورې ، او زما دروند وروره ! هغه څه چې ما علي پاشا او ريونا ته ويل غوښتل هغه مې ورته وويل ، اوس نو ستاسې د دواړو څخه که دوې ته څه ويل غواړئ نو ورته يې ويلې شئ.
دقيرات ددې خبرې په ځواب کې د ريونا پلار رستاک په خبرو پيل وکړاو ريونا ته يې وويل:
ريونا ! اوس چې ته په رسمي توګه علي پاشا ته منسوب شوې ، نو زما لورې ، ته اوس دعلي پاشا امانت يې ، لورجانې ! هر هغه څه چې علي پاشا در څخه وغواړي هغه کوه ،او دکوم کار څخه دې چې منه کوي د هغې څخه ځان ساته ، زما لورې ! په همدې کې ستا خوشحالي او په همدې کې ستا خير دې .
اوس چې ته دعلي پاشا شوې نو زه تاته اجازه درکوم چې ته په خپل کور کې ، د نريوس په کور کې ، په دې لښکر ځاې کې ،هر چيرې چې ته وغواړې او هر وخت وغواړې د علي پاشا سره ليدل کتل کولې شې . دا په دې خاطر چې ته دعلي پاشا امانت يې، اوکله چې زمونږ خور قيرات بيرته ستيږي نو مونږ به تا د بروصې ښار ته له ځان سره يوسو او هلته به دې د علی پاشا سره واده ترسره کړو .
ددې خبرو وروسته رستاک چپ شو ، په خيمه کې هم چپه چپتيا شوه، ددې وروسته قيرات دغه چپتيا ماته کړه او وی ويل :
سريان ! هغه دواړ ټوکرئ چې کالي په کې پراته دي ، راواخله ،
دهغې په دې خبره سريان ولاړه او دواړه ټوکرئ يې ر ا واخستې او دخپلې مور په غيږ کې يې کيښودې ، قيرات ددواړو خولې پرانستې او بيا يې په پلټونکو سترګو په کې و کتل، دهغې څخه يې يوه د ريونا په غيږ ې کيښوده او ورته يې وويل :
ريونا په دې ټوکرئ کې ستا او ستا د مور و پلار کالي هم دې . دا ما تاسې ته د بروصې د ښار نه د همدې کوژدنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحالى کې راوړې دي . خو دا خبره ياد ساتئ چې هر هغه څه چې ما دلته د ځانه سره راوړې ددې ټولو انتظام په خپله سلطان بايزيد کړې دې ، ځکه چې سلطان بايزيد ، علي پاشا خپل زوې ګڼلي دې د بروصې د ښاره د راتللو په وخت کې هغه ماته په څرګندو ټکو دا وويل چې : کله چې د علي پاشا واده وي نو د واده ټول مصارف به د سلطان په غاړه وي . لورجانې ! تر هغې چې زه د علي پاشا دمور په حيث د ښه نصيب خاونده يم نو لورجانې زه غواړم چې د علي پاشا له لورې ستا قسمت هم دخوشحالۍ قدمونه ښکل کړي . زه دعا کوم چې ته به دعلي پاشا سره د ډيرښه او بريالي ژوند خاونده شې.
قيرات تر دې ځايه دخبرو وروسته و دريده ، دمه يې وکړه او بيا يې تر څنګ ايښې هغه بله ټوکرۍ را پرانسته او هغه يې د نريوس په غيږ کې کيښوده ، او ورته يې وويل چې : په دې کې ستا ، ستا د مور او زما ددواړو بچيانو کالي دي. تاسې ته هم دا کالي سلطان بايزيد تياري کړې دې ، لورجانې تادې هم خداې د ريونا سره يو ځاې ښاده او اباده لرې ، لورې ! نن ورځ زما د خوشحاليو ډيره ستره ورځ ده . ځکه له يوه اړخه علي پاشا زما د خاوند او دواړو زامنو قاتلينو ته سزا ورکړې ، تر څنګ يې زما پښې ابلې پښې را پټې کړې او پښې يې را په پښو کړې او تر څنګ يې تر ټولو لويه خوشحالي داده چې ما ته يې د يونا په څير يوه لور راکړه . خداې دې يې تل د علي پاشا سره دخوښۍ نه ډک ژوند په برخه کړي .
قيرات د لږ څه تم کيدو نه وروسته يو ځل بيا نريوس ته مخ کړ او ور ته يې وويل :
نريوس ! ته او ريونا ما ته يو ډول ياست . اوس زه ډاډمنه يم چې زه يواځې د سريان مور نه بلکه ستاسې ددواړو مور هم يم او زما يوه لور نه بلکه درې لوڼي دي . واورئ زما لوڼو! زما سره چې هر څه د علي پاشا له پاره دي هغه ستاسو د ټولو امانت دې . او بيا د سلطان بايزيد نه ممنونه يو چې هغه موږ ته نوره زمکه او باغونه هم را وبښل . خو هغه څه چې بايزيد موږ ته را کړې نو نريوس لورې ! هغه ستا او ستا د کوچنيانو دي .
کله چې د يونانيانو او اروپايانو د خطر اوګواښ مخه و نيول شي ،او دعلي پاشا د لښکر پړاو له دې ځايه پورته شي، نو لورې زه به تاسې ټول د بروصې ښار ته راوبولم، هلته به دسلطان بايزيد په شتون کې د علي پاشا او ريونا واده تر سره شي ، د واده وروسته ک چيرې د ريونا پلار رستاک اومور کيتهنا بيرته خپل کلي ته راستنيدل غواړې نو کوم ممانعت به ورته نه وی ځکه د ريونا پلار د خپل کلي سردار دې ، او دلته هغه د پراخې زمکې او باغونو مالک دې ، خو نريوس لورې ! تر هغې چې تا پورې اړه لري نو زه غواړم چې کله ته د ريونا د واده په خاطر هلته راشې نو بيا بيرته دې کلي ته مه را ستنيږه ، هملته واوسه ، او هغه جايداد چې سلطان تاته درکړې د خپلو بچيانو او مور سره دې د هغو ساتنه وکړه . که چيرې ته همداسې وکړې نو زما لورې د ا به ماته د ډير ډاډ او خوشحالۍ سبب وګرځي .
دقيرات د چپتيا نه وروسته نريوس په خبرو پيل وکړ او ويې ويل :
اې مورجانې ! زه ستا د هيڅ پريکړې خلاف ورزی نه کوم . که چيرې ته غواړ ی چې د ريونا او علي پاشا د واده نه وروسته زه دې کلي ته بيرته را ستنه نه شم ، نو مور جانې ! زه به همداسې وکړم . اوس چې تا ماته د بروصې په ښار کې د زمکې او باغونو د ورکړې ژمنه کړې ده ، نوکه چيرې زه ټول عمر ستا خدمت وکړ م بيا به هم ستا احسان ادا نه کړاې شم . دا زما خوش قسمتي وه چې ماته ستا د زوې په څير خاونداو ستا په څير درنه مور تر لاسه شوې .
نريوس همدومره خبره وکړه او چپ شوه ، نو د ريونا پلار رستاک په خبرو پيل وکړ .
قيرات خورې ! هغه پريکړه چې تا د نريوس په هکله کوې زه د هغې سره اختلاف لرم ، کله چې د ريونا د واده نه وروسته زه او زما ښځه کيتهنا بيرته را ستنيږو نو نريوس ، دهغې مور او دواړه زامن هم له ځانه سره بيرته راوړو .
درستاک په دې خبره باندې قيرات حيرانه شو او په عجيبه توګه يې هغه ته و کتل . ريونا هم ټکان وخوړ او په ډيره سواليه توګه يې خپل پلار ته وکتل ،دهغوې په دې حيرانتياو باندې رستاک و خندل او بيا يې وويل: زما خورې ! دا چې تا ما ته په حيرانتيا سره وکتل دا ستا حق دې ، او ريونا هم حق لری ما ته په سواليه سترګو سره ووينې ، خو تر اوسه پورې ما خپله خبره نه ده خلاصه کړې ، زما خورې او زما لورې! هغه څه چې زه يې وايم په غور سره يې واورئ . کله چې ريونا دعلي پاشا سره واده وکړي اودهغې د ښځې په څير هلته په بروصه کې واوسي ، نو ښکاره ده چې ستا همدا يو زوې دې او هغه څه چې د علي پاشا دي هغه ټول د ريونا هم دي . نريوس به په هغه جايداد او ملکيتونو کې هيڅ ډول برخه نه لري .
د رستاک په دې خبرو باندې ريونا نوره هم برګه شوه او په ډيرو تيزو سترګو يې پلار ته وکتل ، درستاک ښځه هم دخپل ميره په خبرو باندې نا خوښه معلوميده ، خو رستاک خندل او ويې ويل :
کيتهنا او ريونا ما ته په داسې برګو سترګو مه وينئ ، ما تاسو ته مخته هم وويل چې ما د خپلې خبرې تر خلاصيدو پور ې پريږدئ ، هو ! ما وويل چې په بروصه کې چې څومره جايداد تاسې لرئ ، نو په هغې کې نريوس ته کومه برخه او کوم حق نه شته . دهغې مالکين به علي پاشا او د هغې ښځه ريونا وي . خو قيرات خورې ! ته پوهيږې چې ما ايکې يوه لور درلوده اوهغه ريونا وه، زما نور اولاد نه شته ، نه زوې نه لور! نو په دې خاطر به نريوس ددې کلي څخه نه وځي ، زه چې څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جایداد لرم زه به هغه د نریوس ددواړو زامنو په نامه کړم ، دوې به زما نه وروسته دهمدې کلي سرداران و ي، قیرات خورې ! داسې کول اوس ماته اړین دي ،ځکه چې که ریونا ددې ځایه ولاړه شي نوبیا خو به زه او کیتهنا په دې کلي کې ځانته پاته شو او دا به مونږ ته دزغم وړ نه وی .

دریونا د واده وروسته به نریوس ، دواړه کوچنیان او د نریوس مور پربیسا ټول دخپلې حویلی څخه زمونږ لورې ته راشي او زه به هم خپله ټوله دارایی اوملکیت ددې کوچنیانو په نوم منتقل کړم . ددې څخه به دوه ګټې تر لاسه شي ، لمړۍدا چې د ریونا د تګ وروسته به زما د حویلی ښایست په خپل ځای پا ته شي او بله ستره ګټه به یې داوي چې ماته به تیار روزل شوې دوه لمسیان په لاس راشي چې دوې به زما د جایداد مالکین او زما د هر شي حقداره وي . ددوې په شتون کې به زما په حویلی کې داسې رڼا را پیدا شي لکه څنګه چې په تاکونو کې د پسرلي په راتلو سر خوشحالي راځي ، رستاک تر دې ځایه خبره وکړه او بیا یې قیرات ته وکتل او دوباره یې خپله خبره پیل کړه.

دغه واړاندیز چې ما وکړ نو فکر کوم چې ته به ورسره اختلاف و نه کړې ؟

پخوا له دې چې قیرات د رستاک دخبرو ځواب ورکړي نو ریونا په خبرو پیل وکړ، هغه دعلي پاشا د خوا څخه را پورته شو او منده یې کړه د خپل پلار رستاک ته یې غاړه ورکړه،او بیا یې دخوشحالیواوخوښیو په اواز کې وویل چې :

اې زما پلار جانه ! ته ډیر زیات ستر انسان یې . کله چې تا خپلې خبرې پیل کړې ا و ودې ویل چې د بروصې دښار د ټول جایداد مالکین به ریونا اوعلي پاشا و ي ،او په هغې کې به نریوس ته هیڅ برخه اوحق نه ورکول کیږي نو اې پلارجانه ! ستا هغه خبرو ماته ډیرې زیاتې ګیلي ، شکوې او دردونه راپیدا کړی و، خو زه تاته سلام کوم ،او ستا دغه فیاضی ته په درنښت قایله یم ، چې تا د خپل کلي ټول جایداد زما د خور نریوس د زامنو په نوم کړ . اې پلار جانه ! زه چې ستا د دې پریکړې څومره شکریه اداکړم هغه به بیا هم لږه وي .

کله چې ریونا چپ شوه نو علي پاشا د لمړي ځل له پاره ریونا ته وکتل او ورته یې وویل :

ریونا ! تا خو د خپل پلار شکریه ادا کړه نو په دې خاطر زه ستا ممنون یم ، دا کار باید ما کړې وایې .

بیا علي پاشا خپل خسر رستاک ته مخ کړ او ورته یې وویل:

تاچې زما دخور نریوس او دهغې د زامنو په نوم دخپل ټول جایداد د انتقالولو اعلان وکړ، نو د هغې له پاره ریونا ته په کار نه و چې ستا شکریه یې ادا کړې وای ، دا شکریه باید ما ، زما مور او زما خور نریوس ادا کړې وې ، ریونا ته خو ددې پریکړې زیان ور سیږي . ځکه چې هغه د خپلې برخې څخه بې برخې کیږي . په هر صورت زه د خپلې مور اوخپلې خور نریوس په نمایندګۍ باندې دا وایم چې دا وړاندیز چې تا کړې دا د هر چا د وسې کار نه دې ، هیڅوک به هم خپله ټوله شتمني دبل په نامه منتقل نه کړي. درونده رستاکه ! مونږ به ستا دا ښیګڼه تر خپله عمره پورې هیره نه کړو .تا د ریونا په څیر زما خور نریوس ، دهغې زامو او مور ته ډیرزیات درنښت ورکړې نو په دې خاطر به زه ، زما مور او زما خور نریوس ستا دا احسان د تل له پاره په یاد ساتو.

د علي پاشا په دې خبرو باندې درستاک په مخکې د خوشحالیو لیکې را پیدا شوې .او بیا یې وویل :

علي پاشا! اوس خو د ریونا کوژدن له تا سره تر سره شوه. خو په مسیح باندې سوګند چې ما ته له دې مخته هم خپل زوې ګڼلې وې ،که څه هم ما دخپل کلي یوه ځوان سره د ریونا خبره کړې وه خو ډیر وخت به مې په زړه کې دا راتلل چې کاشکې دریونا خبره مې د علي پاشا سره پښخه کړې وې . ما به زیات وخت دا خبره په خپل فکر کې را ګرځوله چې کاشکې ریونا ستا دښځې په څیر له تاسره تللې وې ، ما دا خبره د کیتهنا سره هم څو ځلې یاده کړې وه . خو ما نه غوښتل ددې کار پیلامه زه په خپله وکړم ما غوښتل چې ددې رشتې غوښتنه ستا یاستا د مور له اړخه تر سر ه شي . اوس چې ستا مور د بایزید یلدرم له اړخه ددې معاملی د کولو له پاره دلته راغلې ده نو علي پاشا جانه ! نن زما دخوشحالیو انتها نه شته ، ما ته پخوا هم خپل زوې ګڼلې او اوس خو دریونا په حواله زما د وجود یوه برخه او زما مټ وګرزیدې ، واوره علي پاشا! ما ریونا دخپل حق څخه نه ده بې برخې کړې ، زه په دې پوهیږم چې هغه څه چې له تا سره دې هغه د ریونا له پاره بسنه کوی او هغه څه چې زما سره دې هغه د نریوس او دهغې د زامنو له پاره بسیا دي .

ریونا بیرته پورته شوه او دعلي پاشا تر څنګ کیناستله ، او بیا یې په ډیر ټیټ اواز سره علي پاشا ته وویل:

تا څنګه زما پلار ته وویل چې تا ریونا دخپله حقه بې برخې کړې ده ؟ علي پاشازه هیڅ هم نه غواړم ، دا چې ته ماته تر لاسه شوې لکه دټولې نړۍ خزانی او خوشحالیګاني مې چې تر لاسه کړې وي .

د ریونا په دې خبرو باندې علي پاشا مسکې شو هغه غوښتل د ریونا ځواب ورکړي خو رستاک قیرات ته په خبرو پیل وکړ .

اوس چې د کوژدنې ټول مراسم پای ته ورسیدل نو زه غواړم چې ټول د حویلی په لور ولاړ شو ، تاسې چې هر څومره ورځې اوسیدل غواړۍ نو هملته واوسئ زه به علي پاشا ته هم ووایم چې هغه هم حویلی ته راشي، هغه دې خپل سالار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايي چې دهغه مور د هغه کوژدن د سلطان په حکم د ريونا سره کړي ده نو په دې خاطر به هغه د خپلې مور سره يوځاې د ريونا په کور کې وي .
د رستاک په دې وړانديز علي پاشا لږ څه فکر وکړ خو تر څنګ ناستې ريونا هغه و سکونډه او ورته يې په پټه وويل چې ، انکار و نه کړې.
د ريونا په دې خبره علي پاشا و خندل اوو يې ويل :
درونده رستاکه ! زه انکار نه کوم ، خو هغه کلي چې ما بيګاه شپه محاصره کړې و هغه اوس هم زما د هلکانو په محاصره کې دې، تاسي لږ څه کينئ زه يو دوه کسه مخبران د پولو پ د جزيرې په لور استوم ،تر څو د هغه ځاې پادرې کرسپاس ته زما په لاسو دخپلې تباهی خبر ورکړي ،، او بيا زه غواړم چې دا معلومه کړم چې دپادريانو د انجمن عکس العمل به زما د تيرې شپې د عملياتو په هکله څه ډول وي، زما دا دواړه جاسوسان به دهغه کلي د وژلو شوو خلکو د خپلوانو په څير هلته پولوپ ته ورځي او د ستر پادرې تر مخه به حاضريږي او د کلي ټول حال به ورته ا وروي ، ددې وروسته چې دهغوې کوم عکس العمل وی نو دوې به د هغې په هکله ما ته راپور راکړی او بيا به زه دهغوې د راپور په رڼا کې تصميم نيسم ، او ددې پادريانو او راهبانو د انجمن ، دا د انسانيت د قاتلينو ، په خلاف پلان جوړو اوهغوې ته به د سزا ورکولو په خاطرهلته ورځم .
ددې خبرې سره سم علی پاشا د خپله ځايه پورته ش اوو ويې ويل :
تاسي لږ کينئ زه لږه شيبه وروسته بيرته راستنيږم.
بيا علي پاشا په ډيره بيړه بيرون را ووت ، دهغه د راوتلوو سره پاته ناسته خلکوو د کوژدې په رسم و رواج باندې خبر ې اترې وکړې .
علی پاشا ډی ژر بيرته خپلې خيمي ته راستون شو ، بيا ټول د خيمي څخه بيرون ووتل ، په آسونو سپاره شول او د ريونا د کلي په لور روان شول .
پرلپسې لري.......

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

**عثماني امپراطوري او پرخلاف يې د صليبيانوسازشونه ( ۱۵ )**

مکمل غير سياسي : يوتاريخي په زړه پورې ناول .
زمونږ دهيواد ګوډ يتمور څوک دی ؟
تبره (۱۴) برخه له دې ځايه ولولئ
اوس تاسې ددې تاريخي ناول پنځلسمه برخه لولئ:

پرلپسې***** ۲۶

شپه خپلې اخرې پړاو ته رسيدلې وه او د سهار وړمې تازه تازه را ليږيدلې چې دوه کسه په خپلو آسونو سپاره دخپل منزل په لور روان و . دوې په ډيره چټکی سره د يونان د جزيرې د پولوپ د سميې په منځنی برخې کې داسې يوه ځاې ته ورسيدل ، چې تر مخه يې يوه ستره او شانداره ابادي راغله ، ددې ابادی په کټلو سره سپرو يو بل ته د دريدو اشاره وکړه. دواړو سپور و دخپلو آسونو واږې کش کړې او ودريدل .
دا دواړه سپاره هر يو مظفرالدين او قادرخان وو. دا د علي پاشا مخبران و او دوې هماغه دواړه و چې علي پاشا د يونانې راهبانو او پادريانو د انجمن په اړه د معلوماتو د راټولولو له پاره استولي و . کله چې دوې دواړه و دريدل نو قادرخان مظفرالدين خان ته مخ کړ او ورته يې وويلې :
مظفرالدين خانه ! مونږ اوس د دښمن په زمکه کې يو. ته اوس مظفرالدين نه يې او زه قادر خان نه يم . داسې و ګڼه چې دې زمکو ته په راتلو سره زمونږ نومونه هم تبديل شول ،پس له دې زما نوم مارس دې او ستا نوم اريوس ، نو کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ دواړه يو دبله سره خبرې کوو او يا د نورو خلکو سره مخ کيږو نو يو بل ته به په همدې نصراني نومونو نوم اخلو. په دې سيمه کې خپل اصلي نوم بلکل له ياده و کاږه .
دقادرخان په دې خبره مظفرالدين مسکې شو . بيا يې د خپل آس غاړه و ټپوله او قادرخان ته يې وويل :
قادرخانه ! هيڅ فکر مه کوه ، زه او ته چې دکوم د کولو له پاره راغلي يو نو که خداې و غوښتل د همدې نوو نومونو سره به هغه تر سره کړو اوبيرته به دهمدې نومونو سر يو ځاې خپل امير علي پاشا ته ستانه شو. زه فکر کوم چې مونږ لږ څه نور ګړندی ولاړ شو او دپادريانو او راهبانو د انجمن دسترو مشرانو سره د ليدو کتو له پاره لاره پيدا کړو .
قادرخان هم د مظفرالدين ددې خبرو سره اتفاق وکړ . بيا دواړو يو ځاې خپل آسونه په ځغاسته کړل او مختنه دکلي لورې ته يې ور تاو کړل.
کلي ته دننووتلوسره سم قادرخان دکلي په کوڅه کې د تيريدو په وخت کې د يوه سړي څخه په ډيره عاجزئ او انکساریٔ سره و پوښتل :
اې دوسته ! مونږ د پولوپ په حزيره کې نا بلده يو ، مونږ غواړو ستر پادري کرسپاس او يا دهغې نائب ارديس سره ووينو ، مونږ دواړه د روميل د ولايت څخه راغلي يو او د کرسپاس يا ارديس له پاره مو ډير مهم پيغام راوړې دې .
د دې خبرو په جريان کې قادرخان په خپله غاړه کې را زوړند صليب برابر کړ . په دې وخت کې هغه کس چې قاردخان ور څخه پوښتلي و لمړئ دې دواړو ته په ډير ژوره توګه وکتل ، او بيا يې په ډيره نرمه ژبه دوې ته وويل : که چيرې تاسې دواړه په دې جزيره کې نابلده ياست نو زه به ستاسې لارښوونه وکړ م . او که تاسو د روميل څخه راغلي ياست نو داسې معلوميږي چې تاسې به دپادريانو له پاره ډير مهم پيغام راوستي وي . په دغه کوڅه کې چې تاسې همدا اوس له ماسره ولاړ ياست په همدې کې مختنه ولاړ شئ ،او دکلي هغه بل اړخ ته ووځئ ، مخ ته به درته يو ستر ه مانئ راشي ، دا مانئ په پخوا زمانو کې ډير ستر عبادت ځاې و ، همدې عبادتځاې لورې ته ورشئ هملته به تاسې ته دواړه پادريان په لاس درشي . د پادريانو او راهبانو ټولې سترې غونډې په همدې ځاې کې جوړيږي . فکر کوم چې همدومره لار ښوونه به تاسو ته کافي وی . ددې وروسته هغه سړې مختنه ولاړ او قادرخان او مظفرالدين خپل اسونه هغه لورې ته د ژر رسيدو په خاطر و ځغلول .
دکلي د منځ څخه دتيريدو وروسته دوې دواړه دکلي جنوبي برخې ته ووتل ، هلته يې يوه ستره مانئ تر سترګو شوه ، هغوې دې مانئ ته ورغلل او د مانئ په ستره دروازه کې يې آسونه و درول . هلته د دروازې سره نژدې دوه کسه ساتونکې ولاړ و ، دوې دواړه دخپلو آسونو څخه را ښکته شول نو بيا قادرخان دغه دواړو ساتونکو ته وويل :
زما دوستانو ! مونږ د روميل د ولايت څخه راغلي يو . په دغه جزيره کې نا بلده يو . مونږ غواړو سمدستي د ستر پادري کرسپاس او يا دهغه د نائب ارديس سره ووينو ، مونږ هغوې ته يو ډير مهم پيغام راوړې دې . داسې و ګڼئ چې مونږ هغوې ته يوډير خراب خبر او خپل فرياد راوړې دې ، زه فکر کوم چې تاسې دواړه به زمونږه لار ښوونه وکړئ .
دقادرخان د خبرو وروسته ددواړو ساتونکو څخه يې يوه وويل :
دغه ښې لاسته چې کوم عمارت په سترګو کې کيږی دا د آسونو د تړلو ځاې دې ، ولاړ شئ خپل آسونه هلته و تړئ، هلته ستاسې د آسونو له پاره د وښو او ګياه انتظام شته ، بيا بيرته دلته راشئ زه به تاسې ستر پادرې کرسپاس ته ورسوم ، نائب پادري ارديس هم هملته دې ، دواړه په کومه مهمه موضوع باندې په خپلو منځو کې خبرې کوې. دا ستاسې له پاره ډيره ښه وخت دې تاسې کولاې شې ددواړو سره په يوه وخت کې ووينئ .
دساتونکې په دې خبرو باندې دواړه مظفرالدين او قادر خان ډير خوشحاله شول. لمړې د هغه ورښوول شوي عمارت په لور ولاړل اوهلته يې خپل آسونه وتړل،او وابښه او ګيا يې ورته واچوله ،خو خپلې بسترې يې چې د زينونو سره تړلې وې هماغسې تړلې پريښودې . مګر هغه ضرورې سامان او خورجينه يې ترې را واخستل اوپه خپلو اوږو يې بار کړل اوبيا بيرته د عمارت مرکزې دروازې ته را ستانه شول. يو ساتونکې هملته ولاړ پاته شو اويو له دوې سره د عمارت دننه ولاړ . عمارت ته د ورننوتلو وروسته هغه ساتونکې د يوې خونې مختنه ودريد، هلته ددې تر مخه يو بل ساتونکې هم ولاړ و ، هغه ساتونکې چې دوې يې له ځانه سره وړې و دهغه دروازې تر مخ ولاړ ساتونکې سره د لږې شيبې له پاره په راز کې خبرې اترې وکړې ، بيا د قادرخان او مظفرالدين لورې ته راغې او هغوې دواړو ته يې وويل : دغه مخامخ ځوان چې دلته ولاړ دې هغه د ټولو د ستر پادرې د ساتونکو څخه يو دې . هغه به ستاسې له پاره د ستر پادري کرسپاس اويا د هغه د نائب ارديس سره د کتلو زمينه برابره کړې .
ددې خبرې سره سم هغه بيرته مرکزي دروازې ته ولاړ او هغه د خونې مخ ته ولاړ ساتونکې دوې ته مخ کړ او ورته يې وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسي دواړه لږ ځنډ وکړئ ، زه دننه کوټې ته ورځم او ستر پادرۍ به ستاسي د راتللو څخه خبر کړ م. و به ګورم چې هغه څه وايي ، ددې خبرې سره يې سم دروازه پرانسته او دننه ولاړ.
لږه شيبه وروسته هغه ساتونکې بيرته بيرون را ووت او دواړو مظفرالدين او قادر خان ته يې وويل :ما دواړو پادريانو ته ستاسي د راتلو په هکله خبر ورکړي دي هغوې سخت ټکان و خوړ ، تاسو سمدستي دننه ورشئ هغوې غواړي له تاسي سره سمدستي ووينې .
ددې خبرې سره سم هغه د خونې دروازه پرانسته او دوې دواړه مظفرالدين او قادرخان دننه ور ننوتل :
د خونې په منځنی برخه کې د منځني عمر دوه کسان ناست و، مظفرالدين او قادرخان ور مخته شول او دهغوې يې ډير زيات تعظيم او احترام وکړ . بيا د هغوې څخه يوه يې دوې ته په لاس د کيناستو اشاره وکړه او ويې ويل :
دوستانو! تاسو ته ښه راغلاست وايم ، زما نوم کرسپاس او زما تر مخه ناست ارديس دې تاسې دواړه به زمونږ دحقيقت څخه خبر ياست ، ما ته وويل شول چې تاسو د روميل دولايت څخه راغلي ياست .او څه فرياد لرئ ، وواياست ،ستاسې فرياد څه دې ؟
د ستر پادرۍ د پوښتني په اساس قادرخان لږ څه فکر وکړ ،خپل ستونې يې پاک کړ او بيا يې دواړو پادريانو ته وويل :
زه او زما ملګرې وياړو چې مونږ ته نن د نصرانيت د عالم ددوو ستر و شخصيتونو سره د ليدنې شرف حاصل شوې دې ، مقدسه پلاره ، کرسپاس ! مونږ دواړه د روميل دولايت څخه راغلي يو . پرتاسو دې نه بده ولږيږي او نه پرې خفه شئ چې زه ستاسي څخه وپوښتم چې تاسې د روميل په ولايت کې داسي څوک پيژنی چې نوم يې يونيسيس دې ؟دقادرخان په دې خبره ستر پادرۍ ټکان وخوړ او تر ډيره يې قادرخان او مظفرالدين ته وکتل او بيا يې وويل :
دروميل په ولايت کې هغه زمونږ تر ټولو ښه او ګړندې غړې دې ، کوم کلي کې چې هغه اوسی هغه ټول کلي زمونږ د انجمن غړي دي او هغوې د انجمن له پاره ډير ستر ستر او قيمتي کارونه تر سره کړې دې . دا خويونيسيس و چې هلته د روميل په ولايت کې يې هيڅ مسلما مبلغ پری نه ښود چې د اسلام تبليغ وکړي . وواياست تاسو د يونيسيس په اړه څه ويل غوښتل ؟ دهغه پرخلاف د څه خبرې نه مخته او ياد هغه پرخلاف د کوم شکايت کولو تر څنګ دا فکر وکړئ چې يونيسيس مونږ ته ډير عزتمند انسان دې که چيرې دهغه څخه کومه کوچنی غلطي او يا تيروتنه هم وشي ، نو ياد ساتئ چې هغه به د ښښنې وړ وي . اوس وواياست تاسي څه ويل غواړئ؟
د ستر پادرۍ په خبرو باندې د قادرخان سر ټيټ شوې و ، مظفرالدين هم دهغه په لور په کتلوسره خپل سر ټيټ کړ ، ددواړو په مخونو باندې د ډيرې زياتي انديښنې اوخفګان اثار را څرګند شوي و . دهغوې ددې حالت په کتلو سره ستر پادري کرسپاس او دهغه نائب ارديوس هم ډير انديښمن شول . بيا قادرخان مخته وکتل او ستر پادرۍ کرسپاس ته يې وويل :
مقدسه پلاره !مونږ د يونيسيس پر خلاف نه کوم شکايت راوړې او نه کومه ګيله ، مونږ تاسو ته يو ډير افسوسناک خبر راوړې او هغه دا چې يونيسيس اوس په دې نړۍ کې نه شته .
قادرخان تر دې ځايه خبره وکړه نو چپ کيدو ته اړ شو ځکه چې ستر پادري کرسپاس په خپل ځاې کې پورته شو اوبيرته را پريوت . بيا يې قادرخان ته وکتل او ورنه يې وپوښتل : زما درنو راغلو ميلمنو ! زه نه پوهيږم چې ستاسي نومونه څه دې خو دومره درته وايم چې وواياست هر څه چې وايي په زغرده يې ووايي؟
دهغه دخبرې په ځواب کې قادرخان يو ځل بيا پيل وکړ .
«د مسلمانانو يو سالار چې علي پاشا نوميږي ، دخپل لښکر سره يو ځاې يې د روميل په ولايت کې پړاو کړې دې ، ددې تر مخه دعلي پاشا پلار او دهغه دوه مشران ورونه د يونيسيس او دهغه د ملګرو په لاسو له منځه تللي و، ځکه چې دعلي پاشا پلار داسلام مبلغ و او د اسلام د تبليغ له پاره هلته د روميل ولايت ته را ننوتي و . على پاشا د سلطان بايزيد يلدرم د لښکر يو ستر سالار دې او هماغه ورسره په جنګونو کې برخه اخلي او اوس يې همله‌ته د روميل په ولايت کې لښکر ديره کړې دې . دهمدې پړاو په دوران کې هغه د خپل پلار او ورونو د قاتلانو په لټه کې و ،هغه ددې کار له پاره مخبران هم خواره کړی و ، اوس دا معلومه نه ده چې دې مخبرانو له کومه دا خبرونه تر لاسه کړې و چې علي پاشا ته يې ورسوي چې دهغه د پلار او ورونو په قتل کې يونيسيس او ددې کلي ټول خلک برخمن دې ، د هغه مخبرانو هغه ته دا اطلاع هم ورکړې وه چې د يونيسيس ټول کلي د يونان د پادريانو او راهبانو دانجمن غړيتوب لري ، او ددې پادريانو د ګرمي د اوسيدو تم ځاې د پولوپ سيمه ده .
مقدسه پلاره ! علي پاشا ددې خبرونو د تر لاسه کولو وروسته په دغه کلي باندې يرغل وکړ د شپې په تياره کې يې خپل لښکر ددې کلي چار چاپير خپور کړ او دکلي څخه يې د ځوانانو د تيښتې ټولې لارې بندې کړې ، بيا علي پاشا په خپله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونیسیس حویلی ته ور ننوت لمړی یې د یونیسیس سره خبرې و کړ ې او بیا یې دخپل پلار او ورونو قاتلان هملته د یونیسیس په حویلی کې سره را ټول کړ ل ، او هملته یې ووژل . سهار یې یونیسیس ته حکم وکړ چې د کلي ټول خلک د کلي مخې ته راټول کړي.
د علي پاشا په حکم یونیسیس د کلي ټول خلک د کلي مخ ته را ټول کړ ل د یلدرم دې جرنیل د کلي ځوانان دښځو ، کوچنیانو ، زړو او معذور و ځخه جدا کړ ل او بیا یې د یونیسیس په ګډون د کلي ټول ځوانان یو په بل پسې له تیغه تیر کړل. خو زاړه ، ښځې ، کوچنیان او معذور یې و ښنل ، او هغوې ته یې بیرته په هماغه کلي کې د اوسیدو اجازه ورکړه .
مقدسه پلاره ! مونږ دواړه د تولک د کلي اوسیدونکی یو ، زمونږ د کلي مشر او سردار رستاک دې مونږ د رستاک په حکم دلته راغلی یو او دا خبر مو تاسو ته راوړې دې . رستاک د یونیسیس دکلي د ځوانانو په هلاکت باندې ډیر زیات خواشیني او غمګین دې ، خو د هغه هیڅ په وسه پوره نه دی . ځکه چې د رومیل په ولایت کې د مسلمانانو یو ډیر ستر لښکر د علي پاشا تر قوماندې لاندې پروت دې . په دې ولایت کې چې هر نصراني د سر د راپورته کولو هڅه کوي نو مسلمانان یې سمدستي وژني ، مقدسه پلاره ! دا هغه بد خبرو چې مونږ دواړه تر دې ځایه تاسو ته راوړ .
د قادرخان په دې ځرګندونو باندې دواړو پادریانو ، ستر پادري کرسپاس او نائب یې اردیوس ، په خپلو منځو کې یو بل ته وکتل او سرونه یې ټیټ کړل .د هغوې په مخونو باندې د غم او درد نښې او لیکي راخپرې شوې وې ، تر ډیره هغوې دواړه په همداسې حال کې کیناستي و،بیا کرسپاس قادرخان ته مخ کړ او ورته یې وویل :
زه ستاسې د دواړو ډیر زیات ممنون او شکر کونکي یم چې تاسو دواړو دومره زحمت وګاله او دا خبر مو تر مونږ پورې را ورساوه . زه د تولک د کلي د سردار رستاک هم ډیر زیات ممنون یم چې هغه تاسې دواړه ددې خبر د رسولو له پاره دلته را استولي یاست . ګوری ! تاسې به تر سهاره پورې دلته میلمانه یاست ، سبا دلته د ټولو پادریانو اوراهبانو غونډه کیدونکې ده ، چې په هغه کې به ډیرې مهمې پریکړې و شي ، دا غونډه مونږ ستاسو د راتلو تر مخه رابللې وه. ځکه چې ددې ځخه مخته هم په دې سیمو کې ډیرې مهمې پیښې تر سره شوې دي ، او یوه د هغوې ځخه د سرویه د پادشاه ماتي او دسلطان بایزید سره دهغه سوله ده.
تاسې دواړه پوهیږئ چې استیفن د بایزید اوعلي پاشا په مقابله کې ماته وخوړه و ددې ماتې به پایلو کې هغه نه یواځې هغه سیمه چې هلته د زړو کانونه دې دسلطان یزید په واک کې ورکړه ، بلکه تر ټولو ستر حماقت یې دا وکړ چې خپله ډیره ښایسته خور ،دسپنا ، یې هم دسلطان په حرم کې ور ننویسته .
شاید تاسې دواړه په دې پوه نه شئ چې ډسپنا هغه نجلی ده چې به ښایست او حسن کې په ټوله اروپا کې مثال نه لري ، د اروپا هر حکمران دهغې سره د واده کولو ارزو او تمنا درلوده ، خو استیفن ډیر بد وکړل ، هغه ته په کار وو چې لمړیئ خو یې د جنګ پیلامه نه وی کړې او که بیا یې خامخا جنګ ته زړه کیداي نو داروپایي حکمرانانو ځخه به یې مرسته او ملاتړ تر لاسه کړې واې ، بیا به د یوه ستر ا و قوي ځواک سره یو ځاې مقابلي ته ور وتلاې وې نو زه دا ویلاې شم چې په هغه صورت کې به یې سلطان ته ډیره بده ماتې ورکړې وه. او که چیرې دې ته ماتې ور په برخه کیده نو خراج یې باید منلي وې اوخپله ډیره ښکلي او ښایسته خور به یې سلطان بایزید ته نه ورکوله . بس د همدې موضوع له پاره مو سبا غونډه را بللې ده. تاسې دواړه هم تر سبا همدلته اوسئ ،کومې پریکړې چې وشي نو بیا رستاک هم د هغې ځخه خبر کړئ ، زما درونو راغلو میلمنو! زه هیله من یم چې مونږ به ډیر ژر په دې و توانیږو چې مسلمانان ددې سیمو ځخه چې اوس پرې مسلط شوي بیرته و کاږو .
کرسپاس ددې خبرو ځخه وروسته لږ ځه توقف وکړ او بیا یې خپل لاسونه و پړکول ، دهغه د لاس داواز سره سم هغه ساتونکې چې بهر په دروازه کې ولاړ و راننوت ، کرسپاس ورته وویل :
دا دواړه زمونږ ډیر د قدر وړ میلمانه دي په دې عمارت کې ددوې د خوراک ځښا ک او دشپې د پاته کیدو ډیر ښه انتظام وکړئ، سبا چې د راهبانو او پادریانو دانجمن کومه غونډه کیږي ، دوې به هم په هغې کې ګډون کوي ، دوې مونږ ته ډیر مهم خبرونه را وړي دي . ځرنګه چې دوې د ډیر لرې سفر ځخه دلته را غلي دي نو دوې به ستومانه شوی وې، نو دوې له ځانه سره یوسه ،او د خوراک ځښاک ښه انتظام یې وکړه اوکله چې سبا د انجمن غونډه کیږي نومونږ به دوې خبر کړو اوله ځانه سره به یې راړې .
خپل ساتونکی ته د خبرو وروسته ستر پادري کرسپاس قادرخان ا و مظفرالدین ته مخ کړ او ورته یې وویل :
زما دوستانو! زما د ساتونکې سره ولاړشئ دوې به ستاسې دتم کیدو انتظا و کړي ، سبا به بیا یو دبل سره ووینو.
ددې خبرې سره سم قادرخان اومظفرلدین دواړه دخپلوځایو ځخه پورته شو ل او د هغه ساتونکې سره یوځاې دخوني ځخه وو تل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل سهار کله چې قادرخان او مظفرالدين په خپلو منځو کې خبرې کولې چې د پادري هغه ساتونکي راغې چې ددوی ميليمستيا يې کړ ې وه ، دوی ته را نژدې شو ، ددوی ډېر زيات احترام اودرنښت يې وکړ اوبيا يې دواړو ته وويل .
زما دوستانو ! له ماسره را ځئ ، ستر پادرې کرسپاس تاسي بللي ياست ، همدا اوس ستر پادرې کرسپاس او کوچني ارديس هملته په همغه کمره کې ستاسي انتظار کوي چې پرون مو وروسره کتلي و،
د ساتونکې په دې خبره قادرخان او مظفرالدين خان لږ څه ټکان غوندې وخوړ او د راغلي ساتونکي څخه يې و پوښتل :
دوسته ! تا وويل چې ستر پادر ې کرسپاس او نائب يې ارديس په هماغه خونه کې دې چې پرون مو ورسره ليدلي و په داسي حال کې چې ستر پادرې مونږ ته وويلي و چې د راهبانواوپادريانو ستره غونډه کيدونکي ده اومونږ به په دغه غونډه کې را بولي ،او هلته به د تيرو شوو حالاتو په رڼا کې د راتلونکوحالاتو په هکله هم تصاميم نيول کيږي .
د قادرخان په دې خبره باندې هغه ساتونکي هغه ته د لږڅه وخت له پاره په غور سره وکتل او بيا يې ورته وويل : درونده ميلمه ! ستا خبره سهي ده . لمړئ خو ستر پادري کرسپاس غوښتل تاسي د پادريانواوراهبانو دانجمن په غونډه کې ور و غواړي خو بيا پوه نه شوم چې څه وشول چې هغه دا کار و نه کړ اوس خودا غونډه خلاصه شوې ده او د غونډې پريکړې هم منځته راغلي دي زما په فکر چې ستر پادري غواړې تاسي د هغو پريکړ و څخه خبر کړي ، نو په دې خاطر تاسي دواړه له ماسره راځئ.
دساتونکې په دې څرګندونو باندې قادرخان اومظفرالدين يو بل ته په غور سره وکتل او بيا يې په سترګو سترګو کې کومه پريکړه وکړه ،دهغې وروسته دواړه دخپلو ځايو څخه پورته شول اوپه چپه خوله دهغه ساتونکي سره يوځاى روان شول .
دې ساتونکي دوې دواړه همغه کمرې ته يوړل چې يوه ورځ دمخه يې دستر پادرې اودهغه د نائب سره په کې ليدنه شوې وه . کله چې دوې هغه کمرې ته ور ننوتل نودواړو پادريانو يې ښه دروند ښه راغلاست وکړ. اوپه خپل مخ کې يې ورته د کيناستو وويل : کله چې قادرخان اومظفرالدين په خپلو خپلو ځايو باندې کيناستل ،نوستر پادرې کرسپاس ورته مخ کړ او ورته يې وويل:
زما دوستانو ! تاسي يې بده و نه ګڼئ ، پرون چې ما له تاسو سره خبرې کړې وې په هغه کې مو پريکړه کړې وه چې نن چې د پادريانواوراهبانو دانجمن کومه غونډه کيدونکي وه په هغې غونډې کې به تاسو ته هم دګډون ويل کيږي، اوکومې پريکړې چې کيږي نو هغه به ستاسو ترمخه اوستاسي په شتون کې وشي . خو وروسته ما دخپلو ملګرو سره د مشورې وروسته تاسو ته زحمت دنه درکولو پريکړه وکړه. زما ساتونکې به تاسو ته ويلي وې چې د انجمن غونډه پاې ته رسيدلې ده . اوکومې پريکړې چې په هغې کې شويدې زه به تاسو د هغو څخه خبر کړم . تر څو تاسو په پوره راز سره دا پريکړې د روميل ولايت کې خلکو ته ورسوئ ، تر څو دهغوې په عزم کې سستي او کمزورتيا را پيدا نه شي او ورته وواياست چې د راتلونکي مناسب وخت انتظار وکاږي .
زما دوستانو ! کومې پريکړې چې زه يې تاسو ته داګيزه کوم هغه به په پټه توګه د روميل نصرانيانو ته ورسوئ، مسلمانان بايد ترې بلکل خبر نه شي ، که چيرې تاسي په ښکاره توګه د روميل دولايت نصرانيانو کې دا تبليغ کړئ نود بايزيد سالار علي پاشا به ستاسو پر خلاف متحر ک شي ،اوپه ياد ساتئ چې هغه به په هر صورت تاسي دواړه د مرګ له کومي تيرکړي نو په دې خاطر زه تاسي ته خبر درکوم چې دا پريکړې په ډيره پټه توګه د روميل نصرانيانو ته ورسوئ تر څو دهغوې هغه پستې حوصلي ددې پريکړو په اوريدو سره بيرته را تازه شي ، اوس چې څه درته وايم هغه په پوره غور سره واورئ ،دا ټولې خبرې نن د انجمن په غونډه کې فيصله شوې دي.
تر ټولو لمړئ هغه معامله چې په دې غونډه کې تر بحث لاندې راغله ، هغه داده چې د مسلمانو پرخلاف د صليبي جنګ اعلان وکړل شي . ددې صليبي جنګ دپيلامې له پاره همدا نن څو هيئتونه د صليبي حکمرانانو په لور استول شوې دې ، تر څو هغوې هغه په ګوته کړل شوو ځايونو ته خپل خپل لښکر را وليږي.، په دې لړ کې چې کومو هيوادو ته هيئتونه تللې دي په هغو کې هنګرې ،بلغاريه ، دلاچيه بويريا، سسلي، فرانس ، انګلستان، او دقسطنطنيې پادشاه مينوئل شامل دي . مونږ ددې ټولو حکمرانانو په نومونو ليکونه استولي دي او ورته مو ليکلي دي چې ک چيرې د نصرانيت پاينښت غواړې اودا چې که غواړي چې د اروپا خلک دخوشحالۍ نه ډک ژوند تر سره کړي نو بيا دې د اروپا دزمکو څخه مسلمانان بيرون کړي ، او دا کار دصليبي جنګ د اعلان نه وروسته شونې دې . په دې ډله کې يو قاصد مو د روم پاپا ته هلته ايټاليې ته استولی،د روم دپاپا نه مو غوښتې چې هغه دې د خپل ذاتي پيغام په ذريعې د ټولو اروپايي هيوادونود حکمرانانو څخه وغواړي چې د مسلمانانو پر خلاف د صليبي جنګ اغاز وکړی ، زه هيله من يم چې د پاپاى اعظم له اړخه دداسي ليکونو په ليږلو سره به ټوله اروپا په ډير قهر اوغضب سره د مسلمانانو پر خلاف را پورته شي .
مونږ دې اروپايي حکمرانانو ته دا پيغام هم استولي دې چې هغوې دې په خپله د خپل لښکر مشرې وکړي اويا دې هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیرو تکړو سالارانو تر مشرۍ لاندې دلته د یونان لورې ته را ولیږي . تر څو د مسلمانانو پر خلاف یو نه پاې ته رسیدونکې صلیبي جنګ پیل کړل شي ، اودا جنګ به تر هغه وخته پورې روان وې تر څو چې مسلمانان د فاسفورس د بحیرې نه اخواد اسیا اوانا طولیه د میدانو په لور نه وې تیل وهل شوي .
په دې غونډه کې بله مهمه پریکړه دا وشوه ، چې د مسلمانانو دوه ستر حکمرانان په خپلو منځوکې یو له بله سره و جنګوی ،یو بایزیدیلدرم اوبل تیمور لنګ ، په اوسنیو وختوکې تیمور لنګ د خپلو فتوحاتو لړۍ د هندوستان نه اخوا د شمال اوشرقي روسي سیمو ته ور غځولي ده . څرنګه چې روسان نصرانیان دي نو مونږ باید د هغوې ساتنه هم وکړو ، که چیرې دا دواړه مسلمان حکمرانان همدا ډول خپلو سوبو ته دوام ورکړي ، نو بیا خو به نصرانیت ته نه جبیره کیدونکې زیان ورسیږي . که تیمور لنګ همداسې برياو ته دوام ورکړي اوهندوستان د نیولو وروسته د مسکو په لور مخه کړي ، لکه څنګه چې اطلاعات دي ، نو هغه به د مسکو عیسایي هیواد هم له منځه یوسي،د بله اړخه بایزید یلدرم دې تاسو پوهیږئ چې هغه په اروپا کې یو توپان را پورته کړې دې. دهغه پلار هم اروپایې حکمرانانو ته په پر لپسې توګه ماتې ورکړي او دهغې د مرګ نه روسته د هغه زوې بایزید یلدرم دا کار پیل کړې دې . اوزمونږ د بدبختی دا حال دې چې د سرویه پادشاه استیفن خپله ډیره ښایسته خور ډسپنا د بایزید یلدرم په حرم کې ورکړه، دا یو داسې دروند جرم دې چې تل به زمونږ په سینو کې دا غ وي ، ځکه ډسپنا داسې یوه ښایسته اوښکلې نجلۍ وه چې داروپا هر حکمران غوښتل دهغې سره واده وکړي ، نو استیفن دې تباه شي چې هغه دغه ښکلې نجلۍ سلطان بایزید ته حوال کړه . اوزه هغه وخت ډیر زیات خفه شوم چې وامې وریدل چې دا کار په خپله د ډسپنا په خوښه تر سره شوې دې.
اوس نودعیسایي سلطنت او د اروپا د پاته سیمو دخوندې کولو له پاره چې کوم کار باید مونږ وکړ و هغه دادې چې په یوډول نه یوډول تیمور لنګ اوسلطان بایزید یو د بل په مقابل کې و دروو، که چیرې دا دواړه مسلمان ځواکونه یو دبل سره ټکر شي نودهغوې ځواک اوتوان به په خپله له منځه ولاړ شي اوپه دې ترتیب به نه یواځې روسی سلطنت په خپل ځاې پاته شي بلکه اروپایي سیمي به هم د بایزید یلدرم د یرغلونو څخه خوندې پاته شي .
ستر پادرې ددې خبرو وروسته لږ څه دمه وکړه . لږ څه فکر یې وکړ اوبیا یې خپله خبرې ته دوام ورکړ.
زما دوستانو !دمسلمانانو دپادشاه تیمور لنګ اوسلطان بایزید تر منځ د جنګ کولو له پاره او یودبل مخې ته په راوړو سره مونږ څه تدابیر نیولې دي، دهغوې څخه یو دا چې زمونږ مخبرانو مونږ ته خبر راکړې چې دتیمور لنګ څه داسې سرداران چې د هغې د رویې څخه نالانه دي هغوې د بایزید یلدرم سره پناه اخستی ده . تیمور لنګ دهغوې د بیرته ورکولو غوښتنه کوي اوبایزید دهغوې د بیرته ورسپارلو څخه ډډه کوي ، ځکه چې هغه هغوې ته په خپل ځاې کې پناه ورکړې .
اوهمدا کار ددې دواړو حکمرانانوتر منځ د فساد د راپورته کولو له پاره ډیره ښه بهانه جوړوی ، که په دې لړ کې تیمورلنګ را وپارول شي اوهغه د خپلو هغو سردارانو چې دهغه څخه نالانه دي اود بایزید سره یې پنا ه اخستې د بیرته را ستینو غوښتنه په جدي توګ وکړی نو دبایزید له لورې د انکار په صورت کې به ددوې تر منځ د شخړې نوبت ډیر په اسانی سره راځي.
ددې خبرې د نور مخکې تګ له پاره دا تدبیر هم نیول شوې چې د بلغاریه دواړه شهزادګان ، سائرکن اوایکسلا، چې پخوا یې د بایزید یلدرم اوعلي پاشا سره په جنګونو کې هم برخه اخستی وه اونن زمونږ په دې غونډه کې هم موجود وول نو په غونډه کې چې څومره پادریان اوراهبان وول د ټولو مشترکه خبره داوه چې سائرکن اوایکسلا دواړه دخپلو لښکرو سره یوځاې د اروپا څخه ووځي اود تیمور لنګ په لښکر کې دې شامل شي ،تاسې پوهیږئ چې تیمور لنګ نن سبا د هندوستان نه علاوه د شمالي سیمو په نیولو بوخت دې ، په دې فتوحاتو کې به دغه دواړه شهزادګان دهغه پوره پوره ملاتړ وکړي ، اوتر څنګ به یې هغه د سلطان بایزید پر خلاف هم را پاروي ، بلکه د تیمورلنګ په ذهن کې به داخبره ور غورځوي چې د بایزید د لښکر ماتول د تیمور لنګ له پاره ډیر زیات د اهمیت وړ دي ، اوکه چیرې هغه داسې ونه کړل نو د اروپا د فتوحاتونه په فراغت سره به په خپله سلطان بایزید دهغه پرخلاف راولاړ شي . اوهغه به له هر څه سره له منځه یوسي .
زما په فکر چې دغه دواړه شهزادګان ، سائرکن اوایکسلا، به په خپل کار کې بریمند شي ، دوې به په یوڅو ورځو کې د خپل لښکر سره یو ځاې د اروپا څخه ووځي ،او دتیمور لنګ په لښکر کې به ورګډ شي، اوپه دې ترتب به دتیمورلنګ اود بایزید یلدرم تر منځ د ټکر له پاره د کار اغاز وشي .
اوس زمونږ تر خه دوه حالات دي ، لمړ ی دا چې د اروپا ټول ځواکونه د صلیبي جګړې له پاره تیار شي ، نو که د اروپا ټول حکمرانان چې مونږ ورته هیئتونه استولی دي په پوره اخلاص سره خپلې لښکرې دلته یونان ته راولیږي نو زما په فکر چې د تیمور لنګ اوبایزید تر منځ به د ټکر کولو وخت هم پیدا نه شي مونږ به په خپله د خپل توان او قوت په زور بایزید یلدرم اوعلي پاشا د اروپا څخه بیرون کړو .ځکه چې په دې هکله په خپله پاپایې اعظم هر زمونږ سره دې . کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاپا یې اعظم له اړخه احکامات جاري کړل شي چې دمسلمانانو پر خلاف دې دصلیبي جګړې پیل و شي ، نو زما د فکر په اساس داروپا ټول حکمرانان به خپل لښکر په پوره شوق او جذبي سره راټول کړي چې بیا به دهغې لښکر مقابله نه خو بایزید یلدرم وکولي شي اونه دهغې جرنیل علي پاشا .
خو که چیرې زمونږ د بدبختی اوبدنصیبی حدود خپل اخري حد ته رسیدلي وې اومونږدخپل دغه جمعي ځواک په واسطه بایزید اودهغې جرنیل علي پاشا ته ماته ورنه کړای شوه او یا څنګه چې مونږ هیله لرو هغسې د اروپا حکمرانان خپل ځواکونه سره را ټول نه کړي نو بیا به هغه مخکني تدبیر ته عملی شکل ورکول کیږی او هغه دا چې مونږ به ټوله توجه د تیمور لنګ او بایزید تر منځ د جنګ جګړې له پاره ور اړوو . اوهڅه به کوو چې په هر شوني حال کې هغوې دواړه په خپلو منځوکې په جګړه بوخت کړو. ددې لار ې به تیمور لنګ و نه توانیږي چې روسیه فتحه کړي ځکه همدا اوس په روسیه کې یو ډیر ټینګ نصراني نظام دې اودبله اړخه به بایزید ددې وړتیا و نه لرئ چې په اروپا کې خپل مخته تګ ته دوام ورکړي . زه تاسې دواړو ته دا هم ډاګیزه کوم چې که په اروپاکې بایزید یلدرم همداسې خپل وړاندی تګ ته دوام ورکړي نو بیا یاد ساتئ چې قسطنطنیه به د بایزید تر مخه مقاومت و نه شي کړاې او دا پخوانې او مقدس ښار به دمسلمانانو په ولکه کې راشي .
د کرسپاس ددې خبرو وروسته سمدستي قادرخان هغه ته مخ کړ او ورته یې وویل :
مقدس پلاره ! دغه دواړه تدابیر چې نیول شوي مونږ دواړو ته د ډیر زیات قدر په سترګو ګورو ، زه هیله من یم چې دهغه صلیبي جنګ پیل چې تاسې کول غواړئ نودهغه له پاره که د اروپا حکمرانان د زړه د اخلاصه کار واخلي نو هغوې به د یونان په دې زمکو کې دومره ستر لښکر را ټول کړي چې دهغې په کومک به مسلمانان د دې زمکو څخه بیرون کړل شي . خو که چیرې د بدقسمتی څخه داسې و نه شول ، نو دغه بل تدبیر او وړاندیز هم د مسلمانانو له پاره د ډیر زیان سبب ګرځیداې شی . که چیرې تیمورلنګ اوبایزید په خپلو منځو کې یو له بل سره ټکر کیږي نو د مسلمانانو ټولنیز ځواک به ټوټې ټوټې شي اواروپا به تل د بایزید د ګواښ څخه خوندی پاته شي . همدا راز به د روس نصراني حکومت هم د تیمور لنګ د حملې نه خوندي وي .
تر دې ځایه قادر خان خبرې وکړې او بیایې څه فکر کاوه بیایې ستر پادري کرسپاس ته و کتل اوورته یې وویل : مونږ باید د یوه بل صورت له پاره هم تیار واوسو .
د قادرخان په دې خبره باندې ستر پادري کرسپاس ، دهغه نائب اردیس دواړو ټکان وخوړ او قادر خان ته یې وکتل ،خو پخوا له دې نه چې دوې څه ووایې قادرخان یو ځل بیا په خبرو پیل وکړ. او ویې ویل :
مقدسه پلاره ! دریم صورت دادې چې که چیرې مونږ په صلیبي جنګونو کې بریالي نه شو اوکه چیرې بایزید یلدرم او دهغه جرنیل علي پاشا د صلیبیانو متحده ځواک ته په یونان کې ماته ورکړي نو دهغې نه وروسته چې مونږ کوم دویم صورت اختیاروو،او هغه د تیمورلنګ اوبایزید تر منځه خپل منځې جګړې را پارول دي نو بیا خو مونږ ته دا فکر هم کول په کار دي چې زمونږ انجام به څه ډول وي .؟
د قادرخان د پوښتنې په ځواب کې ستر پادري په ژوره وخندل اوبیا یې په ډیر عجیبه توګه قادرخان ته وکتل او ورته یې وویل :
درونده میلمه ! زه ستا د اندیښنو سره متفق نه یم . لمړئ خو زه هیله من یم چې مونږ به په صلیبي جنګونو کې بریالي را ووزو . زه همدا راز هیله لرم چې یسوع مسیح اودهغې مقدسه مور به له مونږ ه تر دې حده خفه نه وي چې زمونږ په خپلو زمکو کې زمونږ کومک و نه کړي ، خو که چیرې زمونږ دعملونو په خاطر د یونان په زمکو کې مونږ دماتې سره مخ شو نو بیا هم زه تاسې دواړو ته ډاډ درکوم چې ساړکن او ایکسلا دواړه شهزادګان به د تیمورلنګ په لښکر کې د ورګډیدو وروسته داسې حالات را پیدا کړې وي چې دبایزید او تیمورلنګ تر منځ ټکر منځته را وړي او بیا همدا ټکر د دواړو لورو ځواکونه تباه کړی ، ددواړو د ځواکونو د تباه کیدو سره سم به بیا دوې ددې جوګه نه وي چې زمونږ پر خلاف کوم عمل وکړي .
ستر پادري کرسپاس لږ څه تم شو اوبیا یې قادرخان او مظفرالدین ته وکتل اوورته یې وویل :
زما درونو میلمنو ! که چیرې تاسو ددېنه زیات دلته په پولوپ جزیره کې تم کیدل غواړئ نو مونږ تاسې ته ښه راغلاست وایو . خو دهغه مقصد له پاره چې تاسې دلته راغلي واست هغه یو ډول تاسې تر لاسه کړ، بیرته خپلو زمکو ته ستانه شئ او په ډیره خفیه اوپټه توګه داپیغام کور کور ،اوکلي کلي ته ورسوئ او ورته ووایاست چې په ډیرو نژدې ورځوکې به په اروپا کې د مسلمانانوپر خلاف یو ستر صلیبي جنګ پیل شي ، همدار از په یوناني زمکو کې اوسیدونکي عیسایان هم ددې له پاره تیار کړئ چې د صلیبي جنګ په تیاریو کې د صلیبیانو د لښکرو پوره پوره بسپنه اوملاتړ وکړي . د زړه د اخلاصه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې هغوې ته وسلې او د خوراک زیرمې تیارې کړې ، که چیرې د یونان خلک همداسې وکړي نو زه تاسې ته ډاډ درکوم چې د یونان په زمکو کې به د بایزید یلدرم ځواکونه دړې وړې شي .
ددې سره قادرخان او مظفر الدین دواړه دخپلو ځایو څخه پورته شول ، قادرخان یو ځل بیا ستر پادری کرسپاس ته وکتل اوورته یې وویل :
مقدس پلاره ! مونږ خو ډیره ناهیلې دخپلو زمکو څخه دلته راغلي و خو ستاسې خبرو اوارادو زمونږه حوصله او عزم نوې کړ، زه او زما ملګرې همدا اوس ددې ځایه بیرته ستنیږو اودخپل کلي نه علاوه نورو کلیو ته به هم داپیغام ور ورسوو او ورته به ووایو چې د ناهیلی ته اړتیا نه شته ځکه چې د مسلمانانو پر خلاف دصلیبي ستر جنګ پیلامه کیدونکې ده او په هغه کې د مسلمانانو په مقدر کې دناکامی ، ماتي ، ذلت او رسوایي پرته نور څه نه شته.
ددې وینا سمدستي وروسته قادرخان اومظفرالدین دواړو د ستر پادري کرسپاس او دهغه د نائب اردیس سره په ډیره درنه توګه خداې پاماني وکړه او بیا د کمرې څخه بیرون را ووتل .
دلږځنډ وروسته قادرخان او مظفرالدین دواړه په خپلو خپلو آسونو باندې سپاره شول اود یونان د جزیرې پولوپ څخه بیرته د علي پاشا د لښکر په لورې را روان شول .
پرلپسې لري .......

دقریب الرحمن سعید ژباړه

ټک وکړ . علي پاشا غوښتل چې دخپله ځایه پورته شي خو دهغه څخه د مخه رستاک پورته شو او علي پاشا ته یې وکتل او

علي پاشا ته وویل :
ډګلوې هم دي ،ځکه چې ستا د وینا په اساس دوې د نریوس ساتنه اوحفاظت هم کوي .
ل نو علي پاشا دواړو ته وکتل او ورته یې وویل :
ن د نقل وحرکت په هکله زما څخه معلومات غوښته ، نو اوس چې تاسې راغلي یاست د سلطان بایزید له لورې راغلي مخبران

دا ډاګیزه کړه چې څه ډول د سلطان بایزید جرنیل علي پاشا د یونیسیس کلي محاصره کړ اوپه هغه کلي کې چې څومره د انجمن

ډسپنا دومره ښایسته نجلی وه چې د اروپا هر حکمران غوښتل دهغه سره نژدې والي وکړي خو استیفن ډیره بې عقلي وکړه چې

ې پریکړې وکړی :
ژدې وخت کې به د اروپا ټول ځواکونه د مسلمانانو پر خلاف د صلیبي جنګ اغاز وکړي .
نیولو څخه علاوه دهندوستا ن په نیولو هم مصروف دې، او همدا راز غواړې د روسیې په نصرانی حکومت باندې هم ور
و په خپل منځي جنګ کې دمسلمانان عظمت اود هغوې قوت ټوټه ټوټه شي اوپه هغه صورت کې به د بایزید له اړخه اروپا ته
املیږي ،هغوې همدا اوس هغه لورې ته روان شوي دي، هغوې به هلته د تیمورشا ه په لښکر کې د شاملیدو وروسته دا کار
اوس پرې په پوره چټکتیا سره عمل کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ځليدې ، بيا علي پاشا قادرخان او مظفرالدين ته وکتل او ورته يې وويل :
ودواړه کوچنيان پس له دې همدلته تم کيږي ، تاسې يې په خپله هم ياد ساتئ اونورو ملګرو ته يې هم وواياست . اوس زما دخور

ته بيرون تړلي دي . ځکه چې مونږ غوښتل تاته هغه پيغام چې مونږ له ځانه سره راوړې در ورسوو اوبيرته خپل لښکر ته ستانه
ددې سره سم علي پاشا دخپله ځايه پورته شو او قادرخان او مظفرالدين ته يې وکتل او ورته يې وويل :

وخفګان ، هجر او بيلتون نښې و کتلې ، هغه وکتل چې دريونا په سترګو کې د سترتيا نښې، دهغې په څيره باندې خړوالي .....را
ې اواز سره ورته وويل :
ډول وي ؟ پاشا ! هغه حالات چې دې مخبرانو ووايه ، نو دهغې په مطابق تر څو چې دا خبر بروصې ته سلطان ته ور رسيږي
کې به نه پاې ته رسيدونکې صليبي جنګ و نښلي ، نو علي پاشا! په هغه حالاتو کې به ماته ستا انتظار څومره سخت او د زغم
لامتی له پاره لاس په دعا يم خو ترڅنګ به يې په ډيره بې قرارئ سره ستا د بيرته راستنيدو په تمه يم . علي پاشا ! زما هيله ده
ه چې د صليبي جنګونو لړئ پيل شي نو بيا نه پوهيږ م چې ماته به څومره ورځې ، څومره اونۍ ،څومره مياشتې ستا جداي

چې د صليبي جنګونو لړئ نه وی پيل شوې نوزه له تاسره وعده کوم چې زه به هره ورځ ستا کتلو ته را ځم اومابنامي به هم له
ه هم ستا څخه لرې اوسيدل دزغم وړ نه دي ، خو ګوره ريونا ! کله چې د قومي اهميت داسی پيښې مخته راځي نو هره ستونزه

وې په لور په کتلو سره علي پاشا ورته وويل :

، اوس خو هغه ستا امانت دې ، ستا د ژوند ملګرې ده اوستا ماندينه هم .
اته اوپه وير کې ولاړه و ه او ژړل يې.

يګماتوپه نسبت هغه خپل ځانته ډيره رانژدې او دسلطان ډيره ګرانه اومحبوبه ملکه و ګرزيده .
پادشاه بايزيد ته هم د شرابو د څښلو په لور رغبت ورکړ . د ترکيي د قوانينو له مخې شراب منه و او سلطان بايزيد په خ پله
غې سلطان په داسې عاداتو باندې را واړوه چې دسلطان پلرونو او نيکونو ترې ځان ساته .
بوبې په خاطر په شرابو څکلو پيل وکړ.
ه کتلي و چې کوم وخت چې برهان الدين دهغه کمری ته را ننوت نو د هغې سترګې د قهر اوغضب نه تکې سرې وې ، دخپل
جذبه نه وه ،

چې :
ه منل ستا کار دې، په هر صورت هغه فرض چې زما په غاړه دي زه به دهغې په پوره کولو کې کمې و نه کړم .

هغو خلکو اولاد يو چې سرتيرې او صف ماتونکي و . چې د غرونو او رغونو فاتحين و ،د قوم او ملت ابرو او عزت و او دښمن

رې ،او د زرو نظام ، دکانو ښکار وګرزي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

و د مشيت په راز کې د ابن ادم نمايندګي کونکي اوسي .

ا حالت وي نو بيا د خداوند قدوس عناصر هم په حرکت راځي ،هغه د بدل شوو موسمونو د تيزو څنډو په څير را نازليږی او هر
ږ کيږي نو بيا ياد ساته چې د ظلم او تيرې ښکار شوې يو سوالګر،بينوا ګرځي ، زه هيله لرم چې ته به خپل قوم اوخپل ولس

ورځ به ته د خداې د قهر او غضب سره مخ کيږي . بايزيده ! هغه څه چې مې ويل ومې ويل ، په راتلونکې کې به هم زه د ويلو

ې دې .
ت ورسيدو سره سم يې يو ځل بيرته شاته را وکتل اوبايزيد ته يې وويل :
و ددې وروسته برهان الدين په پرلپسې توګه بايزيد ته د نصيحت کولو په خاطر را ته . د برهان الدين د تللو وروسته بايزيد خپل

ي چې د اروپا د زمکو څخه مسلمانان وويستل شی ، دا انجمن دا کار کوي چې هغه مسلمان مبلغين وژني چې د اروپا په مفتوحه
څو هغه هم د اروپا حکمرانانو ته حکم وکړی چې ټول دې د نائکوپولس د ښار په چاپير کې خپل فوځونه را ټول کړي او

ت په خپلمنځي ربړو کې له منځه ولاړ شي او له يوه اړخه اروپا خوندي پاته شي او دبله اړخه د تيمور لنګ د يرغل څخه د

ې متحرک شوې دې . هغه د دې پادريانو اوراهبانو دپيغام په ځواب کې يو ستر لښکر جوړ کړي دي ، هغه خپل لښکر په دوو
سلمانانو په ولکه کې دي. ددلاچيه دپادشاه او دهغه د زوې مائرچ مقصد دادې چې تر هر څه لمړیَ علي پاشا تر حملې لاندی و
د دلاچيه حکمران او دهغه زوې مائرچ غواړی د نورو اروپايي حکمرانانو څخه مخته شي . هغوې غواړي چې که د نورو څخه
ې ، بس دهمدې ارادو سره يوځاې د دلاچيه پادشاه د خپل مرکزی ښار څخه را بهر شوي او دعلي پاشا په لور وړاندی تګ کوي

ريوس هم ميلمستون ته ورغله ، هغې په ميلمستوون کې شاوخوا ته وکتل او بيايي د ريونا پلار رستاک ته وويل:

ران او دهغه د زوې دمقابلې له پاره هغه لورې ته کوچ کړي .

ه ماته وويل چې علي پاشا د سلطان بايزيد يلدرم سره يوځاې ددې ځايه کوچ کړې دې.
يوس سمدلاسه د ميلمستون څخه را ووتله خو ريونا دنريوس په کتلو سره سمدستي خپل ځان سنبال کړ، دخپل آس واګې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیدلي دي ، زه پوهیدم چې د علي پاشا سره د نه کتلو په خاطر به ډیره ناهیلي شوې یې، زه ستا حال وینم ، زه پوهیږم چې د

ریوس تر څنګ کیناسته. په دې وخت کې دهغې مور کیتهنا ورته وویل :

ی که دعلي پاشا سره وخت وایي نو ضرور به یې ماته دخپل کوچ څخه دمخه خبر راکړې و . زه فکر کوم چې سلطان با یزید
روې په لور وي، ځکه چې څو ورځې دمخه علي پاشا ماته ویلي و
ونود لړی د پیل کیدو کومه غوښتنه کړې نو دهغې غوښتني دپوره کولو له پاره تر ټولو د مخه د دلاچیه پادشاه اودهغه زوې را
هغه د اروپایې هیوادو په منځ کې را وځلیږي او دپلار او زوې دواړو عزت اودرنښت کې به ډیرښت راشي . خو اوس به کتل

ی کي روښنایي را پیدا کیږي . لورې ! هغه زما له پاره دسکون او ارام سبب ګرځي . لورې ! زه پوهیږم چې دعلي پاشا د تللو
رځي همدلته اوسئ ، په دې ترتیب به د علي پاشا د تللو سره ستا په شتون کې د ریونا ناهیلي او غم لږ څه را کم شي .

او دهغه زوې ته د مسلمانانو زمکو ته د راننوتلو موقع هم ورنه کړه . په دې جنګ کې د سلطان سره دهغه کشر زوې شهزاده

دا فکر کاوه چې سلطان بایزید د خپل لښکر سره یو ځاې د بروصې څخه دومره لرې واټن وهلي ، دهغه لښکر به پوره ستومانه
صفونه درست کړل . نو سلطان بایزید هم همداسې وکړ ل.
ې دهمغه دقومندې لاندې پریښوده . نوپه دې ترتیب هغه خپل لښکر په درې برخو وویشه .
ې قومندان و ټاکه . اوپه دې ترتیب یې ځان دسلطان بایزید ، علي پاشا اومحمد په مقابل کې تیار کړ .
ې په یواځې ځان د چا سره مقابله وکړي .

پاشا ته په استفهامیه توګه وویل :
ې سره د علي پاشا په مخ باندې مسکا راغله اوویې ویل :
مقابلې له پاره اخلي او ما غواړی نودرونده سلطانه ! ته به ووینې چې زه څه ډول ددې لیوني سپې ورمیږ ورماتوم. ددې سره

ج ته خپل آس په ځغاسته کړ .

یدو سره سم په ډیره مسحورونکي توګه د تکبیر اوازونه پورته کړل . داسې اوازونه چې زړونوته سکون اوارام وربښې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل مقابل لورې دیوه قهر په څیر را خپور شي ، اې زما درویش صفته مجاهده ! زما دعا ده چې ته به د الله په فضل او ارادې

ې ارادی واک ....وخت مه ضایع کوه ، ژر کوه نوم دې را وښیه ، تر څو د مقابلې اغاز وشي ، او ستا دا سهارني نشاتات په

م موجود. خوعلي پاشا ، دمقابلې په وخت کې به زه ستا هر څه به اضمحلال او زوال باندې تبدیل کړم.

م. او څنګه ستا ذهني اوعقلي ځواکونه مفلوجوم ، د یونیسیس وروره ! دمقابلې پیل وکړه .. لکه څنګه مې چې ستا ورور

پاشا هم د یوه وینه تویونکي ، خونړی انسان په څیر پرې خپل یرغل پیل کړ .

کې پریوتې و . هغه فکر کاوه چې ډیر ژر به دعلي پاشا کار ور ختم کړي خو علي پاشا هغه داسې را ښلولې و چې په خپله
ړکه دا را څرګندیده چې خپل ځان د علي پاشا په مقابل کې بې وسه احساسوي ، علي پاشا په ډیر عجیبه انداز کې څو ځلې د تکبیر

وویني چې زه ستا تر مخه د لرې اونژدې تر منځ واټن د تل له پاره له منځه یوسم . نیاسیس ، ځان تیار کړه چې زه یو ځل بیا

پل ډال دهغه مخته کړ ، څنګه چې هغه خپل ډال را مخته کړ نو علي پاشا دخپلې تورې به واسطه دهغه څټ او اوږي ان ترپښتیو

د محمد دخپل فوځ سره یو ځاې کتله ، نو په دې اساس سلطان دخپله ځانه سره وویل :
ړد تاریخ لیکوالان به ستا د غه جرأت او بهادري چې دخپل دښمن په مقابل کې دې وښوده په زرینو ټکو ولیکي .

ں ته لښته ورکړه ، اس هم شړیندونکي ،غریدونکي شو او یو ځل بیا یې د الف شکل خآنته ونیو . په دې وخت کې علي پاشا خپله

نه پرې کړ.
حکمران په خپله زما مقابلې ته راشي تر څو ووینو چې څوک غالب او څوک مغلوبیږي. خو که چیرې ددلاچیه حکمران خپل
ر ! که چیرې په تاسې کې لږ څه غیرت هم وي نو خپل شهزاده مائیرچ زما مقابلې ته را وباسی.
یه دخلکو له خوا کوم غبرګون را معلوم نه شو . کله چې دهغوې له اړخه کوم څوک دمقابلې له پاره رامعلوم نه شو نو علي پاشا

ره سم علي پاشا خپل آس را وڅرخاوه اودهغه مړ شوي کس اس یې هم له واګو ونیو اودخپل فوځ په لورراستون شو.

چا د وس کار نه دې ، تا څومره په ښه توګه او په حیرانونکي توګه د دلاچیه خنزیر د ځان لاندې کړ او له منځه دې یوړ. تا
ا سره الفاظ نه شته چې زه هغه استعمال کړم او د هغې له لارې ستا د جرأت مندۍ ، بهادرۍ او میرانې تعریف وکړم.

کي وي . زما وروره ! ستا سلامتي ، زمونږ له پاره ډیره مهمه ده . زه محمد بن بایزید ستا دې جرأت ، میرانې او بهادرۍ ته

خلکو څټ پرې کول زمونږ په فرائضو کې شامل دي . درونده سلطانه ! دا خویوه معمولې جګړه وه چې ما په کې دخپلو
انو او پادریانو د انجمن پر وینا زمونږ پرخلاف جنګ پیل کړې وې نو دوې به په خپلو دې ارادو کې ډیر ژر پښیمانه شي .

ې علي پاشا له ځانه سره راوړې و هغه یې د لښکر اخری برخې ته و لیږه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي ستاسي د عقيدو رڼا ، ستاسي ارزوګاني او روايات ، ستاسي اسلوب اوکړچار د نفرتونو په توپان اووينه تويونکي تعبيرونو

ي حملې سره دهغوي هغه دخوبونو انځورونه ، د بې خوبه سترګو د بې نومه غوښتنو په وينه لتاړو ناهيليو باندي بدلي کړي .
صرت او کومک هم له تاسي سره دي . زه ستاسو څخه دمخه روان يم ، او دخپل زوي وليعهد محمد او دخپل ستر جرنيل علي
ت دتاريخ پوهانو ، د قسمتونو د ليکونکو او دفطرت د کاتبانو او د تقدير د پاسبانانو په څير را څرګند شئ ، زه تاسي ته ډاډ
کومک له تاسي سره وی . الله دي تاسي ته په دې ستر جهاد کې برې او کاميابي در په برخه کړي .
زيد هم دهغوي د دغه حال په کتلو سره خپلو فوځونو ته د را مخته کيدو حکم وکړ ، دمسلمانانو لښکر د حکم سره سم د توپاني باد

غانودسيلاب او د توپاني باد په څير راپريوتل .

سلطان بايزيد خپل زوي وليعهد محمد دخپل پړاو دخوندي ساتلو سره سره ددښمن په پړاو باندي هم د ولکي کولو له پاره موظف

که څه هم د اروپا په دې زمکو کي سلطان بايزيد اوعلی پاشا د دلاچيه حکمران او دهغه زوي مائرچ ته سخته ماته ورکړه ، خو
ځي ، خو دهغوي هر تدبير ، هره هڅه د ناکامۍ سره مخ شوه ، ځکه سلطان بايزيد او علي پاشا دهغوي هره هڅه ، هر ځواک او
ي کوم څه د راهبانو او پادريانو په وينا ور اچول شوي و هغه په موږي باندي بدل شول .
ړي وه. هر څه يې چي ددښمن څخه تر لاسه ړ کړي و نو هغه يې د سلطان او علي پاشا له نظره تيرکړل ، بيا دوي دري ړواړه

اپورته کيدو هڅه ونه کړی .

دلته به ددښمن په ټولو کړو وړو باندي څارنه کوم .

ه هلته د ځاي واکمنان و ټاکو. نو همدغه واکمنان به هلته د لښکر سره يو ځاي ددښمن په ټولو حرکاتو باندي څارنه او نظارت

ه نريوس ، دهغي دواړه کوچنيان او دهغي مور پر بيسا ټول له ځانه سره يو ځاي د بروصې په لور بوځو . هلته به زما ګرانه !
، دهغوي غوښتنه ده چي ستا او دريونا واده ژر تر ژره تر سره شي. برهان الدين هم په ډيره بې قرارۍ سره منتظر دي ، او

يصلي پر خلاف کومه خبره وکړاي شم ، درونده سلطان ! په دې هکله چي ته څنګه وايې همغسي به وکړم .
. اسونه يې ودرول ، را ښکته شول او سلطان ته يې تعظيم وکړ . سلطان هم هغوي وپيژندل . ځکه هغوي د سلطان جاسوسان و.

قيقت کي د کرميا حکمران دکومې غلطي انګيرنی ښکار شوي دي . هغه کتلي چي تاسي او علي پاشا دواړه په اروپا کي په
د ورکړل شوي اودا کار په ځانګړی توګه دهغو نصرانيانو له اړخه شوي چي د تيمورلنګ په لښکر کي ور ننوتي دي او د همغه

ټول زما سره يو ځاي د بروصي په لور کوچ کوي ، علی پاشا زويه ! زه پوهيږم چي د کرميا حکمرا ن به زمونږ پر خلاف د
و اوس خو زما اراده ده چي د کرميا باغي حکمران ته دددې بغاوت داسي سزا ورکړم چي هغه دټولو سيمو څخه بې واکه او
يرته بروصي ته راستانه شو او درا ستنيدو سره سم به ستا او د ريونا واده په پوره جوش اوخروش سره تر سره کړو . راځئ

اکل او بيا سلطان بايزيد دخپل زوي وليعهد محمد او علی پاشا سره يو ځاي د روميل د ولايت په لور کوچ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ، نو درې واړه وارخطا شول او د وارخطايې او اندېښنو په ګډ آند کې له ميلمستون څخه راووتل ، کله چې نريوس را نزدې

ي کوم بد خبر راوړې او نه ماته زما د ځان په اړه کوم ګواښ متوجه دې ، بلکه ماتاسو ټولو ته يو ډير ښه خبر راوړې دې.

مد اوعلي پاشا هم ملګری وول.
تاسې درې واړه هم د سلطان او علي پاشا د راتلو سره سم تيار اوسئ ځکه چې مونږ ټول د سلطان اوعلي پاشا سره يو ځای د

مراسم پر ځای کړې .
رته يې وويل :
وهيږم چې علي پاشا د ريونا سره څومره مينه او محبت لری ، زه په دې هم پوهيږم چې ددې پرته به دهغه حالت څه ډول وی ؟

علي پاشا ته ډيره څه په لاس ورغلی دی . خو دددې جنګ نه وروسته سلطان ته يو ډير بد خبر راغلي اوهغه دا چې په اسيا کې
ز ټول هلته په بروصه کې دعلي پاشا په کور کې تم کيږو. په خپله سلطا ن او علی پاشا به د کرميان په لور، دهغه ځای دحکمرا

دې . دا به دعلي پاشا د جاېيداد ، دهغه د باغونو ، زمکو او هر څه مالکه وی اودا ځکه چې علي پاشا بل کوم ورور نه لري چې

ی برخه درکړي ،خو زما لورې ته دهغوې دا وړانديز هيڅکله هم و نه منې ،
سوګند چې زما په ذهن کې هم دا خبره نه ده راغلي او نه به کله هم راشي . بلکه زه غواړم چې دريونا د دې ځايه د تللو وروسته

ی يو .د قبر په غاړه ولاړ يو . لورجانې ! د ريونا د واده وروسته زه به په ليکلي توګه عهدپاڼه و ليکم چې زما او زما د ښځې
د علي پاشا مور ، يا خور او يا په خپله علي پاشا له تا څخه هلته د تم کيدو غوښتنه وکړي نو ته د هغوې دا خبره و نه منی او
رم .
باغونو مالکين زما کوچنيان ګرځي . زه به ددې څخه زيات نور څه غواړم ، خو زه له تاڅخه يوه هيله لرم چې ددومره ستړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاشریک خداي سوګند چې همدا د ریونا غوښتنه ،دهغې هیله ، اود هغې د خوښې عین مطابق ده ، نریو س خورې ! په دې هکله
او تل پاتې واوسي .
ه فیصله شوې توګه اعلان وکړ چې:
سلطان د لښکر په لور ولاړ شو .

ه راوړو اوبیا به دلته مونږ هم خپل ځان تیار کړ و . که چیرې تر ماښامه پورې سلطان اوعلي پاشا را ورسیدل ، نوبیا به مونږ

ټول کړل ، ویې ټړل ، نریوس خپل کوچنیان اوخپله مور هم له ځانه سره را روان کړل ،دې حویلی ته یې راوستل اوبیا رستاک

رستا ک په اسونو د زینونو د ایښولو نه وروسته په توبرو کې دخوراک اوڅښاک شیان په ځاې کول . په همدوخت کې ریونا د

کیتهنا ریونا د خپله ځانه را چاپیره کړه دهغې تندې یې ښکل کړ او بیا یې ورته وویل :

ل ، زه هیله منده یم چې علي پاشا به اورمرو زمونږ پسې دلته کلي ته راشي ، مور ې ما کتل چې یو سپور د لښکر څخه را ووت

ې تاسو ته په د ې اړه کوم اعتراض نه وي .

ه نولورجانې ! څوک به ولی اعتراض کوي ؟ ځکه چې اوس خو ته او علي پاشا دواړه یو له بله سره منسلک شوي یاست ،
بې هغه به هم هیڅکله هم په دې خبره اعتراض و نه کړي . که چیرې ته د حویلۍ نه بیرون دخپل علی پاشا استقبال کوې ، اوهغه

ه یو ځاې دحویلی په انګړ کې ولاړه وه. کیتهنا د آسونو اخور ته راغله ،او رستاک ته یې وویل:

که چې سلطان بایزید ا وعلي پاشا دلته راځي اومونږ ټول د هغوې سره یو ځاې د بروصې په لور درومو.
اظهار په خوله نه شم کولې .

کلي ته د رارسیدو سره سم دلته تم شوې دې ، اوعلي پاشا د لښکر څخه را بیرون شوې او زمونږ دحویلی په لور را روان دې .
ې اجازه ورکړه او اوس ریونا دحویلۍ څخه بیرون دعلي پاشا د استقبال له پاره ولاړه ده.

. په دې خاطر په دې ورځو کې مونږ باید د ریونا د ډیرو وړو وړو غوښتنو خیال هم وساتو . فکر کوم چې مونږ هم باید د

هم د هغوې سره یو ځاې هملته ودریږو . په دې خاطر چې علي پاشا زمونږ له پاره اوس هر څه دي. رستاک د کیتهنا خبره و

و ځلیده علي پاشا هم وکتل چې هغه دحویلی په دروازه کې دده د استقبال له پاره ولاړه ده . په دې وخت کې ریونا دخپلو نازکو

څیر ګرزیدلي وه ، دهغې په سترګو کې د محبت او الفت هیلي د ورایه ځلیدې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه وویل :

لم او دننه حویلی ته یې یونه سم .

ې را وسپړم ، تر اسمانه به څېرې کړم ، او ستا په لیندی کې به غشي شم او ستا د توري تیره ژی به شم او ستا ددښمنانو ټولې

منډه کړه او علي پاشا ته ور غاړې وت ، هغه یې په تندې باندې ښکل کړ ، د هغه وروسته د هغې ښځې کیتهنا د علی پاشا سره
یا بیا یې دهغوی سره مینه وکړه او ښکل یې کړل . ترڈې وخته پورې ریونا دعلی پاشا آس په اخور باندې د ترلو له پاره روان

ی ؤ، زما دبیرته ستنیدو سره سم لښکر د بروصې په لور روانیږي ، په دې خاطر زه ستاسې څخه غواړم ، چې د وخت د ضایع

مونږ د ځانونو په تیارولو باندې پیل کړې ، زویه ! اوس خو مونږ ستا د راتګ انتظار کاوه ، ریونا هلته په چت ختلې وه او ستا
ازې څخه یې بیرون ستا انتظار پیل کړ . تر څو هملته ستا استقبال وکړي . زویه ! که ته اوس بیره کوې نو لږ ځندوکړه مونږ

ی پاشا سره یو ځای حرکت وکړو .
خوندي ساتلو دنده و سپارله ، او پخپله د علي پاشا سره یو ځای په سفر روان شول.
تاک ، کیتهنا ، نریوس ، د هغې دمور پربیسا او دواړو کوچنیانو پیژندګلوي وکړه ، سلطان بایزید او ولیعهد محمد هم د رستاک

نته را نزدې کړه او دهغې په سر یې هم د شفقت او مهربانی لاس را ښکود ،او ورته یې وویلې :
ن محسوس نه کړې ، مونږ ټول له تاسره یو .
یر خفه شو ، خو بیا سلطان نریوس ته مخ کړ او ورته یې وویل چې :

ځان زما په څیر غریبې کوندې ښځې ته دا ډول الفاظ نه و ویلې . ستا ددغه الفاظو په خاطر خپل ځان ډیر زیات سعادتمنده او

ل جائیداد د نریوس د کوچنیانو په نامه کړې او نریوس دې دخپلې لور په ځیر د ځانه سره دیو ځای اوسیدولو ژمنه کړې ده .
ه په بروصه کې ددې نه زیاتې خوشحالی او اسانتیاو تیارې کړل شي ، که چیرې تا نریوس خپله لور ګرځولې ده نو بیا دا هم و

لو آسونو باندې سپاره شول او دلښکر سره یې یو ځای د بروصې په لور حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوې ته د سلطان بايزيد د لښکر د راتللو په هکله خبرو رکړي و . صليبيانو د نايکوپولس د ښار محاصره پرې ښودې وه او

شا او وليعهد محمد دواړه ځانته نژدې را وبلل،د جنګ په پلان يې کار پيل کړ، د لږځند وروسته ددرې واړو په خوله خندا وه او

ې درې واړه بيرته دخپلو خپلو فوځونو مخې ته راغلل. په دې وخت کې سلطان بايزيد ددښمن لورې ته کتل ، هغه چې چيرې هم
کتل ، په سترګو کې يې اوښکې راغلي ، بيا دخپله آسه را ښکته شو ، په زمکه کيناست ، بيا يې سجده وکړه اوپه ډيرې عاجزۍ

او محمد ته وويل :

فوځ ترتيب د پخوا څخه جوړ کړې و . سلطان د خپل خداې تر مخه په سجده پريوتو او دهغه د ذات څخه په ډيره عاجزی دخپل
دهغې وروسته يې د علي پاشا او محمد لورې ته وکتل او ورته يې وويل :

نو دهغوې وړاندې راتګ ، دهغوې يلغار د خپل جوړ شوي پلان په مطابق دفعه کړئ .

ح چپ اړخ په لور ولاړ . خو د لښکر د منځنی برخې په لور په خپله سلطان ولاړ . کله چې دا کار دپلان مطابق پاې ته ورسيد نو
هد محمد دواړو هم خپل ځانونه د لښکر په دريمو صفونو کې ځاې په ځاې کړل . په دې وخت کې سلطان تر ډيره وخته په خپل

هغه به تاسې ته د ټولو اسر ارو او رازونو دښکاره کولو،د برې او فضيلت دسبب کيدو سوبه درو ښې.

د تيارو ، په هوا کې دچټک تلونکو وريځو په څير په حرکت راغي ، مخته راتګ يې پيل کړ، او بيا د سلطان بايزيد په لښکر

مسلمانانو په لښکرو باندې دومره فشار راوست چې هغوې د فشار له امله ښي او چپ اړخه ته شول او دوې ته يې لاره ورکړه
تلو تر مخه سلطان بايزيد يلدرم ، علي پاشا او وليعهد محمد درې واړه و لاړ و . بيا پخوا له دې چې صليبيان د مسلمانانو ددرې
مره سم دسلطان بايزيد يلدرم شاته نژدې څلويښت زره نيزه ويشتونکي د يوه ستر ځنګل په څير را پورته شول ، په دې وخت کې
کبير غږ پورته کاوه ، دعلي پاشا او وليعهد محمد تر شا هم همداسې حال و . صليبيانو وکتل چې دهغوې مخې او شاته همدا حال

لامه کوله ، سلطان بايزيدیلدرم ، علي پاشا او وليعهد محمد د څو ثانيو له پاره دتکبير اوازونه پورته کړل خوکله چې هغوې چپ
ان بايزيدیلدرم ، علي پاشا او وليعهد محمد ځوابي حمله پيل کړه .

ې ددښمن پرخلاف په يوې وينه تويونکي لوبه باندې مصروف وي ، دسلطان دجنګ دا طريقه د صليبيانو له پاره نوې وه ،
وي اودهغوې کار به يې ور تمام کړې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیابي ډاډ منه وه ، اوبیا کله چي سلطان بایزیدیلدرم ، علي پاشا او ولیعهد محمددخپلو لښکرو سره د صلیبیانو ځپول پیل کړل ، وستي څادر د تښتیدونکو خوبونو په څیر،بدلیدل شروع شول .

ښتي ، چي هغې په خپلو لښکر و باندې چیغې وهلي او هغوې يې د مسلمانانو پرخلاف را پارول. سلطان بایزیدیلدرم د سجسمنډ په سره يې دعا وکړه .

ول ته ، بلکه ستا اخری دین ته يې هم سپکاوې کړي دې ، اې الله ! ما اوس هغه خپل هدف ټاکلې دې ، نو یا الله ماته دهغه په

هغه سلطان بایزیدیلدرم دشکله پیژانده ، هغه بایزید پیژندلې و . په دې وخت کي یو ځل دهغه په زړه کي دا فکر را پیدا شو چي ړه او ډال را واخستل او د سلطان بایزیدیلدرم مقابلې ته په ډیره نازړه توگه تیار شو .

ر ستا تر مخه ولاړ یم او ستا ددې گستاخۍ او بدژبۍ سزا درکوم.

زیدیلدرم پر هغه د توري گذار وکړ نو دهغې ډال يې لرې و غورځاوه او دسلطان درنې تورې د هغه اوږی تر اخره پورې د

ر دهمغې ځایه يې په صلیبیانو باندې له یوه اړخه یرغل راوست ،دې حملې د صلیبیانو هغه پاته روحیه هم له منځه یوړه ، او په مانانو رحم وکرم ته پریښودې او په خپله ټولو دتیښتې لاره خپله کړه . سلطان بایزیدیلدرم د نایکوپولس ښاروال د خپل فوځ سره

ړل شوي و ې ، هم د هماغه صلیبیانو خیمو کي ځای په ځای کړې او پر هغې يې پهره و درولـه .

غبر وکړ ، ددښمن دلښکر کومه برخه چي سلطان له ځانه سره بندیان کړي و هغوې يې ټول په یوه ځای کي سره را ټول کړل وي شیان يې ورته و ښوول . خو کله چي سلطان د خیمو لورې ته ولاړ نو په سوالیه توگه يې خپل ښاروال ته وکتل او غوښتل

پاره دعیش اوعشرت سامان و له بله اړخه يې دخپلو فوځونو په راپارولو کي هم ډیر ستر رول لوباوه ، دوې ټولې همدلته په خوا دیخوا و نه تښتي .

یوه وخته پورې سلطان د جنگ د میدان جایزه واخیسته ، اوبیا په یوه ځای کي پر زمکه باندې کیناست ، اوبیا يې علي پاشا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلم د نائټو څخه اخوا د اروپا د هر قوم ستر ستر خلک زما مخې ته را حاضر کړئ.

ئټ ، بویري ، د هنګري سورمار هم شامل و .کله چې هغوې سلطان ته را نژدې شول نوټولو خپل سرونه ښکته کړ ل ، سلطان
اوف ډي نیورس او دهغه ملګرو ته یې هم دخپل ځان سره د کیناستو له پاره وویل : ددې سره سم دفرانسې جنرال دخپلو نورو

ي بندیانو په څیر نیول شوي او د اروپا ډیر ستر ستر سورماران او جنګي پوهان په کې شامل و ، دهغې وروسته یې ټولو ته په

میرې خاوندان هم . کیداې شي ستاسې د لمړۍ میرانې په هڅو کې ستاسې خلک تاسې ته مجرمین ووایي ، او تاسې خپل

لو او نه به په راتلونکي کې ستا پر خلاف دجنګ له پاره ځان تیاروو . خو زه ستاسې د ټولو اوستاسې هغه ملګري چې دلته نه

ي یم ،تر څو تاسې هر یو خپل خپل هیواد ته ولاړ شئ . هغه حماقت او بې عقلی چې تاسې زما سره د جنګ کولو په خاطر کړې

ل وکړ او ورته یې وویل :

حالی سره زما لورې ته راشئ، څومره فوځ مو چې زړه وی زماپر خلاف یې راوړئ ، تاسو به تل ما د جنګ په ډګر کې
نو په څیر پراته دي . ټولو ته ووایاست ! چې هر هیواد،هر حکومت ، هر جنرال ، چې غواړی ما سره د جنګ ازمیښت وکړ ي

ندې راوړم . خو زه داسې هیڅکله هم نه کوم . زه تاسې ټولو ته د خپلو کورونو په لور د تللو اجازه درکوم او دهغه غضب په اړه

هغه بیرته کیناست او سلطان بیا په خبرو پیل وکړ.

له تاسې سره په بربنده زمکه ناست یم . نو په دې خاطر تاسې که غواړئ څه ووایی نو په کیناستو یې ووایي ، د دریدو اړتیا نه

دزړه پراخوالي ، ستا حوصلي ، ستا هوډ او عزم ته سلام کوم . چې تا مونږ وبښلو ،او مونږ ته دې د تللو اجازه راکړي ده .

،که څه هم زه دهغوې د زړونو ترجماني نه شم کولې او زه د خپل زړه خبره کوم چې که کاؤنټ ډی نیورس که د انسان زوي
ه والي ورکړي ، زه یو ځل بیا ستاسې عظمت ته سلام کوم . ایا ته اوس ما ته او زما د ې نورو ملګرو ته د تللو اجازه راکوئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځ .

فرازي له ځانه سره لري .

کډې شوی یاست . تر څو دخپلو لښکریانو زړونه خوشحاله او هغوې دجنګ په لور تشویق کړئ ، په هغه څه چې زه تر ټولو
د مفتوحو سره داسې سلوک کوي ، خوستاسې خپل صلیبي لښکر چې دخپله اړخه د یوه مقدس جنګ د پیلامې له پاره دلته راغلي
ړي ګندګۍ او چټلۍ کې تر پښو لاندې کړې ده . تاسو خلکو د نسوانیت جوهر د تمرد ، بې حیایي او فنا انجام ته رسولې دې .

یم. ما تاسې ټول دلته په دې خاطر را وغوښتلئ چې هغه وخت چې ما تېښتیدونکي دښمن دخپلو سالارانو او جنرالانو سره یو
ې وي او یاکومې نجلۍ ته د داړول زحمت ورکولو هڅه شوي وي نو خپل لاس دې پورته کړي .

فرانسي جنرال کاؤنټ دي نیورس په حیرانونکي توګه کله دغه نجونو ته او کله هم سلطان ته کتل ، په دې وخت کې هغه غوښتل

څخه کوم تحقیق، زه تاسې په بندیخانه کې هم نه ور اچوم ، او نه به مو خپل اسیران کړم . بلکه لږه شیبه وروسته زه غواړم تاسې

م نه ښکته شو ،دهغه تر څنګ د اروپا نور جنګي مشران چې دخپلو لښکرو سره دلته راغلي و او اوس د سلطان تر مخ ناست و

ه او ورکړه ده . د ښځې عزت د ګل د رګ څخه هم ډېر اعلي او پورته وي ،د هغې عصمت او پت د ورځې په رڼا کې ، دشپې
ه باپته وي نو هغه د نصبې شرافت پیژندګلو،او دخوشحالیویو غوړیدلي جال دې ، خو یوه بې ابرو او بې عصمته ښځه ، یوه بې
ه ، نو هغوې دغه ډول انځور نه شي وړاندې کولې ، ستاسې په ټولنه کې دښځې ابرو د غوښتنو دسوند پر موادو دبې ابرویي د

وخت چې تاسې دلته را بلل شوي وئ نو یقیننا چې تاسې به ویریدلي یاست چې مسلمانان به له تاسې سره ډېر بد سلوک وکړي ،
مه درېږئ ، کینئ ، زه ستاسې په هکله یوه پریکړه کوم ، ماته لږ څه مهلت را کړئ ، زه به ستاسې په اړه د فرانسې د کاؤنټ

زه هغوې ټولو ته ښننه کوم . نیورس ! زما مخبرانو ماته خبر راکړې دې چې د صلیبیې جنګیالیو او دهغې د مشرانو له پاره یو
وو میزبانانو کومک او دهغوې د ژوند خوندیتوب پورې را نغښتې دې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ر یم چې هغه هغه ته کتل خو هیڅ تعرض یې پرې و نه کړ . نه یې د لاش وړونکې منه کړل او نه یې دهغوې تعاقب وکړ . بلکه

ه زرګونو اروپایي نجوني چې دلته ولاړې دي دوې هم ته د خپلو فوځونو په خوندي ساتنه کې دډینوب دریاب په غاړه ولاړې

سلطان سمدستي خپلې پښې شاته کړې . بیا کاؤنټ دي نیورس بیرته سیخ کیناست او سلطان بایزیدیلدرم ته یې وویل :

ر که چیرې داسې نجوني د کوم اروپایي حکمران پر لاس ورغلي واې نوتر هر څه لمړی به هغه په هغوې کې ښه ځریدلي واې
چې تا دې ټولو نجونو ته ازادی ورکړه او اوس چې ته دا نجوني زما سره یو ځاې اروپایي جنګي بندیانو ته ورسپارې او هغوې
ف ، عدل ، اخلاقو او کردرا ته سلام وړاندی کوم . یقینا چې ته دزړونو قاید یی او د اخلاقو او کړچار یو ډیر ستر معلم یې .
طان ! زه یو ځل بیا خپله ژمنه تکرار وم ، چې که چیرې په راتلونکې کې کله هم صلیبي ځواکونو ستا پر خلاف سر راپورته کړ
لاسه څه ډول وهل خوري .

ر ته ور سپارم ، ددې ځایه لږ مخته په لږ واټن کې دډینوس د دریاب په غاړه یو بحری بیړه ولاړه ده ، نیورس به دخپلو ملګرو په

نه نجونو هم دا کارو کړ .او د سلطان بایزیدیلدرم په صفت کې یې شعارونه ورکول پیل کړل. په ځواب کې یې سلطان د هغوې

ي پاشا ته وکتل او ورته یې وویل :

رتیب دروم پاپای اعظم ته هم پوره سپکاوی تر غاړه شوې دې .اود ا ځکه چې دا صلیبي جنګ دهمغه به خطوطو او لیکنو
شم . او ددښمن د عکس العمل انتظار وکړ م.ددې نه علاوه ، علي پاشا او محمد زویه ! تاسې پوهیږئ د بروصې دښارڅخه د

ه دې جنګ کې د برخې اخستلو له پاره تر ټولو ستر لښکر را استولې و،دا په داسې حال کې چې ددې تر مخه مونږ د قسطنطنیې

یم او دروم په لور ، چیرې چې د سینټ پیټر دعبادتځاې قربان ځاې دې ، مخه کوم او هلته به د خپل سوګند سره سم خپل آس ترم
ا صلیبی جنګ د پیلولو فکر او جرأت و نه کړاې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړه شیبه وروسته به مونږ او تاسي ټول د دښمن ديږاو معاينه وکړو ، دهغه ځايه چې هر څه تر لاسه شول نو دهغې يوه برخه به
کتلو وروسته ، علي پاشا ! ته به سمدلاسه د ريونا پسي ولاړ شې، که زما منې نو تر هغو چې مونږ په نايکوپولس ښار کې تم
ې ؟

شاهي خزانې ته وليږله ، بله برخه يې په نايکو پولس ښار کې د تم کيدو نه علاوه ددښمن پر خلاف د خوزښتونو د مصارفو

شوي و نو لښکر ته يې هملته د پړاو کولو حکم ورکړ . په دې تم ځاي کې د سالارانو د اوسيدو له پاره ډيرې ښې خونې جوړې
ې د حکم په اساس د ريونا د راوستلو له پاره دهغې د کلي په لور روان شوي . تر څوريونا له ځانه سره د نايکوپولس ښار ته

ډينيوب د درياب څخه د يونان پورې او ان تر دجله او فرات پورې د اسيا ټولواک واکمن و. او د اروپا خلکو ورته د نړۍ فاتح

صيبت خو بلکل په حساب کې نه را ته .

و د افاقو شونډې سرې شوې وې اولمر دډوبيدو لورې ته ور ښکته شوي و، په همدې وخت کې ريونا په داسې حال کې چې د
اګې يې نيولې وې دننه را ننوت ، ريونا په ډيره حيرانونکې او خاصو احساساتو سره علي پاشا ته کتل اوبيا يې د ډيرې زياتې
ه کيدونکې نه وه ، نو دهمدې فکر په اساس دهغې قدم درېدلې و. تر څو شيبو هغې په ډير شوق ، ډير محبت سره علي پاشا ته

ې په کتلو سره علي پاشا خپل دواړه لاسونه پرانستل ، دواړه ماشومان د علي پاشا سره ور غاړې وتل . علي پاشا پر زمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې وروسته علي پاشا نورو ټولو ته سلام وکړ،نریوس را مخته شوه او هغه یې په تندي باندې ښکل کړ او ورته یې وویل:

رانسې جنرال کاؤنټ دی نیورس هم و ، ددې تر څنګ د صلیبي لښکر و په زرګونو نجونې هم و نیول شوې ، بیا سلطان
ه دلته راغلي دي نودوې بیرته همغو خپلو خپلو سیمو ته ورسوي، څرنګه چې په جنګ کې د ګډون له پاره د ډینس بحري بیړه
ورکړه .

ځانه سره یوسم ،ځکه چې سلطان بایزیدیلدرم همله د نایکوپولس په ښار کې زما او د ریونا داوسیدلو له پاره ځای تیار کړې دې
ه وي ، خو په هر صورت بروصې ته د تللو تر مخه به زه اوریونا یو ځل دلته له تاسو سره ووینو.

ولس ښار کې تیارکړې دې . په دې ترتیب ته کولې شې ریونا له ځانه سره همله دیره کړې ،خو دا را ته ووایه زویه ! چې ته به

باره اوسم . اوس پریږده چې اس دې په اخور وتړم او بیرته را ستنه شم نو نورې خبرې به کوو .

زما څخه اخلې نو زه هم دهمدې رشتې احترام کوم چې زما او ستا تر منځ شتون لري. ته همدلته و دریږه ، زه په خپله اس تر

نند مه کوه ، اس به زه وړم او هلته به یې همدا زه تړم .

و زویه ! دا غواړی پر تا باندې هم خپله خبره و مني .

ه واسطه ستومانه شوې او هم یې دومره اوږود سفر کړې دې .

ه زوره وخندل .

او قیضه ترې لرې کړه ، او د زین سره چې کومه څرمنیزه خلطه نښتي ده هغه ترې را واخله او له ځانه سره یې راوړه ، په

ره یې راوړه ، دعلي پاشا څنګ ته راغله او بیا یې ورته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل:

، ځکه چې په هغې سامانونو کې د قيمتي زيوراتو نه علاوه جواهرات او دښايست او تزئين ډير زيات شيان موجود و ول. د

ګه غواړي هغسې يې وويشه .

ي پريکړه تاسې ميره او ښځه کوئ .

خه يې يوه برخه د نريوس له پاره ، بله يې د ريونا او دريمه برخه يې د سريان له پاره کيږدئ. اوس نو که چيرې تاسې په دې

ور سريان له پاره ورکړئ .

يونا دعلي پاشا په لور وکتل او ورځخه يې وپوښتل چې ايا ته زما ددې خبرو سره اختلاف لرې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

، اوپاته دواړه برخي چي ستا او د سريان رسيدلي هغه دخپله ځان سره خوندی و ساته . بيا ريونا دخپلي مور په لور مخ کړ او

ري لښکر عکس العمل نه وې را څرګند شوې ، اوکه اروپايي ځواکونه غواړې له تاسي څخه د انتقام له پاره ر ا ووځي نو ته ،
ده چي ريونا به له تاسره يو ځاې ځي ، نو زه غواړم تاته دا ووايم چي کله چي ستاسي لښکر د نايکوپولس څخه بروصي لورې

او تااو بايزيدلدرم ته بل کوم لورې ته دهغوې دمقابلې له پاره کوچ کولو ته اړتيا پيدا شي نو زويه ! ته به بيا د ريونا سره څه

له پاره دلته راولم تر څو له تاسو ټولو سره ووينم ، ددې وروسته بيا دواړه د لښکر سره يو ځاې د بروصي په لور حرکت کوو .

خاطر دلته راوړم او زه به بيرته ستون شم.

ن مو ور رسولي دي خو بيا هم سلطان په خپلو ټولو سيمو کي جاسوسان خپاره کړي دي او سلطان هغوې ته تاکيد کړې دې ،
، هغوې پر مونږ د يرغل پلان لري خبر راکړي ترڅو مونږ د مخه دهغوې پلان شنډ او ځواکونه يې دړې وړې کړو .

روسته به ريونا له ځانه سره اخلم او بروصي ته به ځم . اوس ما دخپل پلان تفصيل تاسي ته ووايه، که چيرې په دې لړ کي

ه زړه زړه کي يې ورته وويل :

ه ځايه پورته شو تر څنګ يې نريوس او موريې پر بيسا هم د خپلو ځايو څخه پورته شول او ددواړو کوچنيانو سره يو ځاې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

كوم ، ما به هيڅكله هم نه وي كړې ، ځكه چې ته دمور يوائځني زوی يې ، نو په دې خاطر زما هلته په بروصه كې ستا د مور

ه خود هغې د نښې په توګه دهغې ور سره ناسته ده . نو په دې توګه به هغه ته يو ډول اطمينان ور په برخه واې ، دويمه خبره
سته دې لورې ته را وستم ، نو ايا دا خبره به زما مور قيرات نه وي محسوس كړې ؟ او يا په باطني توګه هغې ته دا احساس نه
اشا ! په دې كې هيڅ شک نه شته ، چې ريونا له پاره ته تر ټولو قيمتي پانګه يې . خو علي پاشا ! مونږ دواړو ميره او ښځې ته د

ت كول په كار و چې ما ته د لښكر سره يو ځاې د بروصې ښځه دې سيمو ته راوستلې!

ستنه همدا وه ، چې زه له تاسره په لښكر كې و اوسيږم. خو كه چيرې په هغه وخت كې تا ويلې وې او سلطان دې هم په دې خبره

رې وكړم . خو كله چې لږه شيبه مخكې تا زما د مور او پلار سره دلته په ميلمستون كې خبرې كولې چې كه چيرې نوې جنګ و
دې ځاې كې د تم كيدو په ځاې بروصې ته د مور څنګ ته ولېږه ، ما ته به دهغې په خدمت كې ډاډ او سكون تر لاسه كيږې او

ه ګيله شكوه وكړې . څرنګه چې ته دلته راغلې يې ، نو اوس همدلته اوسه ، زه هيله لرم چې په ډيرو لنډو ورځو كې به مونږ د
ډير ژر كار و ختم كړو . او بيا به د بروصې په لور كوچ وكړو . دهغې وروسته كه بيا كوم داسې پروګرام را مخته كيږې نوبيا
دواړه ميره اوښځه د هغې سره تفصيلې خبرې وكړو اودهغې ښځه به ښښه هم و غواړو . زما په فكر كه دهغې په زړه كې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي د هغوې خولې پرانستې . په هغو کې يې دننه سترګې ور ننويستې او بيا يې بيرته دواړه کڅوړې د ريونا په غيږ کې کينودې

س چې ته ځنګه غواړې هغه وويشې نو وې ويشه .

، مونږ دواړه د يوه بل له پاره يو او د يوه بل له پاره به اوسو . علي پاشا ! که ته اجازه راکړې نو زه به خپل پلار دلته را وبلم

ع باندې و غږيږه . بيا نوټول يو ځاې يوه پريکړه کوو او دهمغې په مطابق به عمل کوو .

ه ورکړې و ې ، هغه هغې په خپله مخکې کينودې او بيا يې خپل پلارته مخ کړ او ورته يې ووېلې .

غشو د خلطې په منځ کې اينودې وې، بيا وروسته يې چې له ماسره په ميلمستون کې خبرې کولې دا ورته را يادې شوې ، اوس
ې لړ کې ما د علي پاشا سره مشوره کړې ده خو دا بلکل په دې باندې خبره نه کوی ، هغه دا خبره تاسې ټولو ته پرې اينې ده.

ه ددې خبرې ځواب ورکړ م ؟

ن سامان هلته بروصې ته د علي پاشا مور ته له ځانه سره وروړې وې ، او همغې ددې سامان د ويش کار په خپله تر سره کړې
مغې حقداره يې ، هغه له ځانه سره بروصې ته يوسه ، خورې ! داستاسې په کاريږي . خورې ! ته خو وينې او پرې پوهيږې هم
خه زما برخه هم را وکاږې ، ريونا ! زه ستا د فکر نه ښه خبره يم . زه ستا ممنون او شکريه کونکې يم ، چې ته زما دومره غم

يتهنا ته هغه د منلو وړ وې نو زه به پرې څه نيوکه وکړاې شم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونا علي پاشا له ځانه سره خپلې خونې ته یوړ.

او په دې ترتیب د ریونا سره یو ځاې مخته ولاړ .

لی پاشا یو دم دخپله آسه را ښکته شو ، د علي پاشا په لور په کتلو سره ریونا هم په تیزی سره دخپله آسه را ښکته شوه . او دخپلو

ې :

ڼا ته وکتل او ورته یې وویل :

، په انګړ کې و درید او علي پاشا ته یې وویل :

ستنه شوه چیرې چې علي پاشا او سلطان ولاړ وو. کله چې هغه را ورسیده نو سلطان ورته وویل :

 وه ، په دې وخت کې ولیعهد محمد دخپلې حویلی څخه یوه خورجین را وړې وه ، هغه دا خورجین د سلطان بایزیدیلدرم تر مخه

ې و . ددې نه اخوا په کې نور ډیر قسم جواهرات هم موجود و . علي پاشا او ریونا ددې شیانو په کتلو باندې هک پک حیران پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يه ! رارسيدلي ده . علي پاشا ! په تير جنګ کې چې د غنيمت کوم مالونه مونږ ته رارسيدلي و په هغې کې د سروزرو او طلاو
وخت چې هغه زما د توري د ګذار لاندې راغي نو دا تاج يې د سر څخه ولويد . او ما همغه وخت را و ا خست او دخپل آس په
ه ، کيدائ شي هغې خپل تاج هملته په پړاو کې پرې ايښې وي او يا يې د ويرې او تيښتې په حال کې خپل تاج هم له ياده ويستلي

ي کړاې ، ځکه د کرميان د جنګ دميدانو څخه د فراغت نه وروسته مونږ غوښتل دبروصې په ښار کې ستاسي واده په شاهي
ه ښار کې ستاسو د دواړو نکاح وکړو . زما لورې ! علي پاشا ماته دخپل زوي په څير حيثيت لري ، ما دخپل زوې په واده کې
ي کړو .

نه تاته د بروصې په ښار کې تر لاسه شي . خو لورجانې ! په دې ځاې کې ته اوس همدا شيان قبول کړه . ګوره ريونا ! ته هم

يونا لورې ! هغه څه چې ستا تر مخه دې نو دا ټول له ځانه سره و ساته ، ددې وروسته به د بلې موضوع په هکله خبرې کوو.

ه ،

فکر کوم چې دا صليبيان مونږ د انتقام پرته نه پريږدي . ځکه مونږ چې هغوې ته کومه ماتې ورکړې ده هغه ډيره د ذلت نه ډکه
د وينه داده چې زمونږ په لاسو د ماتې څخه وروسته د اروپا متحده لښکر به د پولوپ د جزيرې په لور مخه کوى ، او هلته به نه
ى داسې هم وکړي نو مونږ به دخپل خداې په نصرت او کومک سره دهغوې په ځپلو باندې بريالي شو. اويو ځل بيا به دهغوې

ې دي . او هغوې ته مې حکم کړې دې چې هغوې دې په دښمن باندې څارنه وکړي او ددښمن د هر حرکت څخه دې مونږ ته خبر

ه پاته شو . تر هغو چې مونږ دلته د نايکوپولس په ښار کې اوسيږو نوريونا به هم له تاسره وي . خو کله چې مونږ د کوم جنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز څو زما د مور قيرات خدمت يې کولې ، ريونا وايي چې زما مشره ورندار د پخوا څخه په دې سيمو کې مقيم ده ، او د بله
.

کړې واې . ځکه چې ستاسې ددواړو د نکاح وروسته لښکر دغو سيمو ته کوچ کړي و او تا ته د ريونا سره د يوځاې کيناستو
ځي.

ې د ريونا فکر په حقيقت ولاړ دې ، دنکاح او واده وروسته ريونا بايد هملته دقيرات سره يو ځاې پاته شوې وې ، هغې به هلته د
هغه وخت کې چې ما کومه پريکړه کړې وه هغه د حالاتو غوښتنه و ه او ماته همغسې کول په کارو . او اوس چې ريونا څه

يو ځل بيا دکوم جنګى پلان له پاره حرکت کوو ، نو مونږ به بيا هم همدلته تا ستا دمور او پلار کور ته ليږو . اوکله چې مونږ د

زينونو سره تړل شوې هغه را پرانيزم . او د حويلۍ دننه برخې ته يې راوړم .

سونو د تړلو يوه کوچنۍ اخور هم شته . د اخور مخامخ د اودسونو او ځان پاکولو له پاره او هم د پخلنځي ځاې شته ، ريونا ولاړه
يوه لرونکی ونې او بوټې او ګلونه و . ريونا هلته تر ډيره وخت پورې و ګرزيده ، بيا بيرته دعلي پاشا خواته هملته انګړ ته

ونو د حالاتو په هکله پوره معلومات مونږ ته نه وي راوړې .

ى څه ډير تزئين نه دي کړې . همدا راز دحويلۍ د پخلنځي څخه هم ډير کار نه شى اخستل کيداې ، ځکه زمونږ د دواړو ميره او

په دې حويلۍ کې کيداې شي مونږ يواځې يو څو ورځې و اوسيږو ، اويا څو مياشتې ، په هر حال اوس زما اوستا د اوسيدو ځاې
ځاې څخه زما او ستا دواړو ډوډۍ تياره را ځى .

ه ورکړلې ، اسونو په مړه ګيډه اوبه و څښلې او بيا يې د دانې او ګياه اخورې ته و درول .

ى په ښار کې د ماښام اذانونه پيل شوي و. دواړو ميره او ښځې هملته په حويلۍ کې خپل لمونځونه ادا کړل ، اوبيا وروسته د لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړدې دوه میاشتې پوره شوې ، لږ څه دمخه هغه مخبران ، چې ما د لته د پولوپ د جزیرې په شاوخوا کې د دښمن د نقل و حرکت
پل پړاو کړې ، ددې ماتې خوړلې لښکر جنرالانو چې دله یوه اړخه زمونږ څخه د خپل انتقام د اخستلو له پاره ټولو اروپایې
انو ته تاکیدی لیکونه استولې تر څو ددې ماتې خوړلې لښکر سره چې دلته په اروپا کې یې پړاو کړیدې هر ډول مرستې وکړي .
.

ل چې دا ټولنه به نژدې همغومره ستره وه لکه څومره ټولنې ته چې مونږ د نایکوپولس په ښار کې ماتې ورکړې وه ، راغلیو
، چې تر ولکې لاندې یې راوستې ، تر هغې به د جنګ څخه لاس و نه کاږی . مخبر دا خبر هم راوړې چې په دې جنګ کې د
خپله د خپلې ژمنې څخه تیرشوې دې نو ما اوس یو پلان تر تیب کړې دې :

که په دې سیمو کې ددښمن نقل وحرکت تر سترګو شو نو ښاروال به په اسانۍ سره هغه و څیوي .

وپه ځپلو کې له مونږ سره کړې و ، نو زما زویه ! نو هلته به د صلیبیانو د ملا دماتولو وروسته ، زما اراده چې د خپل لښکر

څه لمړۍ مونږ ته یو ډیر ښکلې د اوسیدو ښار تر لاسه کیږي ، دویم دا چې د قسطنطنیې پادشاه اوس د صلیبیانو یو سترپنا ه ځاې
ځي ځواک هملته را ټول کړو او بیا به له همغه ځایه هر اروپایی ځواک چې سر را پورته کوی مونږ به یې د ځپلو له پاره تیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره پوره اشنايي لري ، زويه ! څرنګه چې هغه دواړه ستړی ستومانه دي نوپه د خاطر ما هغوۍ ولیږل تر څو لږ څه ارام

د پولوپ د جزيرې په لور خوزیږو ، زما په فکر چې سبا سهر به دخپلو فوځونو سره يو ځاې ددې ځايه کوچ کوو . مونږ به د

غو سيمو کې د صليبي جنګونو پيلونکي دغه راهبان اوپادريان دي چې ددې کارونو د ترسره کولو له پاره يې يو انجمن (ټولنه )
وه ، دهمدې انجمن پادريانو د روم پاپای اعظم ته ليکونه استولي و او د هغې څخه يې د جنګ دپيلامې له پاره د کومک غوښتنه
وپا حکمرانانو ته تاکيدي خطونه ليکلي و اوزمونږ پر خلاف يې د صليبي جنګ دپيلامې له پاره تشويق او ترغيب ورکړی و .

ي نو دا خبره ياده ساتئ چې هغه راهبان اوپادريان چې دغه انجمن يې جوړ کړی دي او هغه صليبيان چې د جنګ څخه تيښته
په غاړه دې . زه هيله لرم چې دپادريانو او راهبانو د انجمن ټول غړي و نيول شي ، دواړه ستر پادريان هم و نيول شی . هغوې

ن کړل . چې په دې ډله کې ستا پلار هم شامل دی . په دې اساس د مبلغينو ددې وژنو په خاطر هم دا انجمن د ښښنې وړ نه دې .
چې څومره پادريان او راهبان دي او هغوې هلته دپولوپ د جزيرې په غاړه د ولاړو کشتيو په واسطه خپلو ځانو ته د تيښتې لاره

کړ او سلطان ته يې وويل :

ه دروميل ولايت ته ولاړ شو ، ريونا به هلته دخپل پلار رستاک په کور کې پريږدو اومونږ به د پولوپ په لور مخه کړو ، مونږ
خلاف جنګ پيل هم کړی نو هغه به سهار وختي وي او سهار سهار به هغوې د جنګ نغاره و ډبوي ، تر دې وخته پورې به زه د
عهد محمد چې کله د شپې په تياره کې د پولوپ جزيرې ته ورسيږو او هلته ددښمن تر مخه پړاو وکړو ، زه به دخپل لښکر سره
دريانو سره يو ځاې لاس نيولي له ځانه سره تاسې ته راوړم . تاسې چې د خپل لښکر تر شاو پړاو کړی وی نو زه به دغه

ل ځواک له منځه وړې دي. په ساحل باندې ولاړو کشتيو ته يې اور لګولې ، او د راهبانو او پادريانو دانجمن چې څومره وګړي
کيږي . او دا ټول په دښمن باندې د غلبې له پاره ډير اغيزمن ثابتيږي .

مي . زمازويه ! اوس ته ولاړ شه ، ريونا به په ډيره بې قراری سره ستا انتظار کوي او بيا دهغې سره يو ځاې د سهار وختي

و پوښتل : علي پاشا، زما حبيبه ! ته سلطان د څه له پاره ور غوښتې وې ؟ ايا کومه مهمه مسئله وه ؟

ړې و ، همغومره ځواکونه يو ځل بيا هلته په پولوپ کې را ټول شوي دي ، د سلطان بايزيدېلدرم سره دخبرو وروسته پريکړه
په لورې کوچ کوو . دعلی پاشا ددې خبرو په اړه ريونا غوښتل چې څه ووايي خو هلته د نايکوپولس په ښار کې د ماښام

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پولوپ د جزيرې په لور وخوزيدل .

ه منځه وړل ، بلکه د سلطان بايزيد يلدرم د لښکر لار ښوونه يې هم کوله ، کله چې دسلطان لښکر ې د جزيرې څخه نژدې پنځه

.ې

جزيرې ته د ننوتلو يوائځنۍ لاره هم همدا ده . د شپې په ژوره تياره کې دغې کوچنۍ او نرۍ پټۍ ته په رسيدو سره علي پاشا خپل
، خو د لښکرد بلې برخې سره يو ځاې علي پاشا د سمندر په څنګ څنګ کې روان و ، د سمندر په ساحل باندې چې څومره

له کونکو په مقابل کې يې د عاجزۍ او انکسار نه کار واخست، هغوې يې ټول و ښل . په دې ترتيب دشپې په تياره کې علي

سره را يوځاې کړې او د سهار د لمر خاته تر مخه هغه هلته د صليبي لښکر تر مخه پړاو کونکي سلطان بايزيد يلدرم د لښکر

ه جوړول پيل کړل ،هغه وخت چې سلطان بايزيد يلدرم د خپل لښکر صفونه جوړول ، نو په هغه وخت کې علي پاشا او وليعهد

ه وخت کې چې و ه . اوس زمونږ د لښکرو شميره نژدې يولک او پنځه ويشت زره کسان دي ، خو زه چې وينم د صليبيانو د

نږ د جنګ دهغې طريقې سره بلدتيا لري .

مو چې د نايکو پولس دښار په جنګ کې جوړ کړی و ، په منځنۍ برخه کې به زه اوسم ، ښې لورې ته علي پاشا او چپ لورې ته
تړئ .

من د قوت اندازه اخستي ده ،او هغه مو په خپل مخکې درولې دې ، دتکبير د اواز داوريدو سره سم به ، زامنو! تاسې په کار پيل

پيدا کيږي . ستاسې ددواړو د لښکرو د غشو د ويشتلو په اساس به ددښمن دعسکرو صفونه يو په بل پسې له منځه ولاړ شي ،
عسکری ځواکونو تر منځ يوه ګډوډي رامنځته شي ، او مخامخ به زه دخپلو حملو په واسطه دهغوې تر منځ همداسې کيفيت را

اړو خواو څخه دغشو حمله و دروئ او پرې په پوره قوت سره حمله وکړئ . نو که چيرې مونږ ددې پلان په پلې کولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ږ. هغه طريقه دومره اغيزمنه نه وی . که چيرې مونږ د جنګ په عروج کې د ښي او چپ اړخه نه ددښمن په صفونو باندې غشي

جذبو دريښتونوالي ،او ستاسي د روح د پايمالولو پسې دي .

ه دې ميدانو کې به هم تاسو په دښمن باندې لکه د توپان په څير را وغورزئ ، زه تاسو ته ډاډ درکوم که چيرې تاسې يوائی يو
ه مو ماته ورکړه همدا سې به پدې جنګ کې هم ستاسي تر مخه ددښمن پر خلاف جنګيږم او دښمن ته به دا ثابته کړم چې مرګ

همغه ذات به ستاسي ملاتړې ، ستاسي دوست او ناصر وي او په دې ميدان کې به تاسي ته هم بې له شکه برې په برخه کړي .

او وليعهد محمد هم همداسې وکړل او دخپلوخپلو لښکرو مخې ته ورغلل .

د خپل لښکر سره يو ځاې د خپل مرکز څخه ډير لرې دې ، او بيا هغه د صليبيانو په زمکه کې ور ننوتي و . اوصليبيان پر دې
ې څو وارې زيات و .

ې ډير خفه و چې دخپل ټول توان په استعمالولو سره بيا هم نه و توانيدلي د سلطان بايزيد يلدرم لښکر لږ څه هم شاته و تمبوي ،

او وليعهد محمد لښکری د سترګو په رپ کې دد ښمن په صفوفو کې ور ننوتي ، اوبيا يې داسې په تيزۍ سره لکه د تيز باران په
ږ تر منځه ستر ه ګډوډی راپيدا شوي وه . کله چې ددښمن مخکنيو صفونو وکتل چې د هغوې په ښي او چپ اړخ باندې دمخالف
سره نيمايی کوي نو په دې خاطر به مخکې صفونه ددښمن په منځ کې پاته شي . نو په دې اساس به دهغوې مرګ يقيني شي .

کو باندې حمله وکړه ،د سلطان بايزيد يلدرم دا حمله دومره سخته ، او تيزه و ه چې مختته صفونه يې يو په بل پسې و ځپول او

سترګو تر ليدو پورې وه . د صليبيانو له پاره دا حال د زغم وړ نه و . نو په دې خاطر يې خپله ماتې و منله او څوک چې توانيدل

چې توانيدل و ځپول ، کله چې سلطان وکتل چې تښتيدونکي صليبيان اوس دهغه د فوځ له پاره د خطر سبب نه ګرځي نودخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ځخه هم ډېره وه . زه د هغه خداې ممنون يم چې ددې توپير سره سره يې بيا هم مونږ ته په دښمن د همغوې په زمکو باندې

جنګونو ځخه دا خلک ډېر مجرمان او فساد ی دي . په داسې حال کې چې د الله حکم دې چې «فتنه » د قتل ځخه هم بدتره ده .

يل :

علي پاشا غوږ ته ور نزدې کړه او په ډېره مينه او شفقت سره يې ورته وويل :

نه په لړزه کې شول ، په سترګو کې يې ويره را پيدا شوه ، سلطان لږ ځه نور هم ور نزدې شو . ځومره پادريان او راهبان چې
ه په لړزه کې و . په ځهرو يې د مرګ ويره ، په سترګو کې نا اميدي . سلطان يو ځل د ټولو جايزه واخسته ،اوبيا د ستر پادري

ې راهبان او ستاسې پادريان ستړې ستړې ډلې د تبليغې ډلو تر نامه لاندې زمونږ سيمو ته راوړې او دخپل دين او مذهب تبليغ
نو تاسو زمونږ پر خلاف د صليبي جنګ پيلامه وکړه ، داسې خلک مو مخته راوړل چې د لوښتيا انځور يې جوړاو ، د نوې

 کې مونږ د اروپا په زرګونو ښايسته نجوني و نيولي ، هغوې ټولې ستاسې صليبي عسکرو زمونږ د نيولو ځخه د مخه بې عفته
نيولې او نه زما په هوډ کې کوم تغير چا رواستلې شو . خو ما داسې و نه کړ ل ، ما دهغو نجونو درنښت وکړ او په ډېر درنښت
و کوم ځواب شته ؟ زه پر تاسو باندې د عامې وژنې الزام لګوم ، ځکه چې تاسې مسلمان مبلغين وژنئ نو ايا تاسو سره ددې

ې د ټولو د وژلو حکم ورکوم .

او راهبا ن يوې لورې ته يوړل او ټول يې له منځه يوړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه لمړۍ د قسطنطنيي لورې ته ځم ، هغه محاصره کوم ، هيله لرم چې تر څو ورځو پورې به قسطنطنيه ولکه کړم ، کله چې
و غوښتل نو خپل قسم به پوره کړم ، اوس راځئ چې دخپل فوځ له پاره د قيام او طعام انتظام وکړو .

خپل اس تړۍ نو د هغه ددغه اعلان په اوريدو سره د اروپا ټول راهبان او پادريان د حکمرانانو په ګډون په لړزه شوي وو .
چې سلطان بايزيديلدرم د صليبيانو متحده لښکر ته د نايکوپولس د ښار په څنډو کې ماتې ورکړه نو بيا هم اروپا په لړزه شوه ، نه
ې ووايې چې په سلطان بايزيديلدرم باندې حمله وکړي او دا ډاډ دې هم ورکړي چې که چيرې هغه په سلطان بايزيديلدرم باندې
پاپای عظم له اړخه د پيغام د ورسيدو سره سم روسې نصراني حکمرانانو د سلطان بايزيديلدرم په خلاف دتيمور لنګ د ملاتړ له

هغوې هم تيمور لنګ د سلطان بايزيديلدرم پر خلاف د جنګ له پاره تياراوه ، په حقيقت کې تيمورلنګ تر اوسه پورې د سلطان
طان بايزيديلدرم يو داسې سلطان دې چې په جنګ کې دخپل لښکر مخته ځي ،او په دښمن باندې د يرغل کولو پوره پوهه لري،

ر خلاف د حملې ترغيب ورکوو . روسانو هم هغه ته يو لوې لښکر تيار او ور استولې و. او اخرکې پاپای اعظم او د قسطنطنيي
رلنګ به هم مات او د شمال په لور به يې واوريني سيمي ته په شا کړي .

و په ملاتړ عملي پروګرام ته تيار شو او د سلطان بايزيديلدرم پر خلاف يې د جنګ کولو هوډ وکړ . نو هغه اته لکه قوي فوځ را

نه جوړ کړل ، نهرونه يې و غځول ، او ديوه بند په واسطه يې د سمرقند پايتخت ته د ذرفشان ددرياب اوبه را واړولې .

ې د فتح د هنر په اړه يو يادګار عمارت هلته جوړ کړي.

ې باغونه پراته و . چې په هغوې کې ډير سترې ستر ې مانۍ چې زياتو کې يې زمرد او نور ښايسته کانۍ لګيدلې و تر سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ل . دهغه د هځو پايلې داشوې چې د اسيا د هرکسب خلک اود هر قوم وګړي دلته موجود شول. د صنعت او حرفت له پاره يې

سمرقند په ما نيو کې د ټولو شاندار عمارت د تيمور لنګ څلور منزله مانی ده چې د ترک د سراې په نامه يې شهرت موندلې دې

ځانګړتيا داده چې دهغې پر مخه يو آيت په ډېر ښايسته بڼه ليکل شوې دې ، دا آيت «کوس » لري څخه هم لوستل کيداې شي .
تان د بابر د شهنشاه الفاظ دی )

نه کړ.ددې ځايه به تجارتي قافلي له يوه لورې هندوستان ته او دبلې لورې جرمني او ان تر جينوا پورې رسيدلې ، تيمور اوقافو
کړ .

وراءنهر په ښار باندې ولکه وکړه ، بيا يې ترکستان سوبه کړ ، اودهغې وروسته يې تر څنګ ګاونډې هيوادونه اوسيمي يوپه بل
ې او ان تر کوچنی اسيا پورې ورسيد . دهغه ځايه د شام او مصر په لور ولاړ او په منځني ختيز باندې ور و غوزيد ، او دا

، خو هغه دخپلو عزايمو او غوښتنو په خاطر تر خپله ځانه پورته ډيرو جابرو او ظالمو ،سفاکو غيرمسلمانو فاتحينو ته هم ماتي

د ذهنونو څخه وويستي .

وانه وه ، او بيا يې د پاته ابادی د له منځه وړلو په خاطر د مرغاب ددرياب بند ورمات کړ . دغه بند دهغه ځاې زراعت ته اوبه
د ښختو سره و جنګولي ، په هر صورت د تيمور په بل مخ کې ددنيا داسې ظلم او تيرې نه و چې هغه د انسانانو په خلاف نه و

سلطان بايزيديلدرم تر مخه د راتلو له پاره ډيرې زياتي بهاني جوړولې ، او کله چې هغه ته د روس څخه هم د هغه ملاتړي ستر

ڼيده په کې را ولوشي يوې خواته کينود او ددروازې لورې ته ورغله ،

ي وکتل ، نو هغې هم خپل لوښې په هماغه ځاې کې کينود چيرې چې سريان خپل لوښې اينښې و .او دمرکزي دروازې په لور

ت هم دروازې ته ور رسيدلې وه . بيا د سريان څخه د جدا کيدو وروسته ريونا د قيرات په لور ورمنډه کړه او هغې ته ورغاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په دې حساب زه ستا مشر ورور هم يم . نو کله چې هم داسې موقع مخ ته راځي ،زما درنې خورې ! زما د اس واګې مه نيسه

ره چې کوم سامان تړلې و نو کله يې چې هغه را خسته نو سريان هم ورمنده کړه او څه سامان يې دريونا سره را واخست ،اوبيا

سريان دواړو به د وزو څخه شيده را واخلو او دهغې وروسته به بيا همدلته کينو او په خپلو منځو کې به خبرې اترې وکړو .

ول. دواړو خويندو په ډېره چټکۍ سره د وزو څخه شيده واخستل .

خميانو د مرهم پټۍ په خاطر هلته درې ورځې تم شو ، ددرې ورځو ددې پړاو نه تر مخ سلطان بايزيديلدرم علي پاشا زما پسې
ري ولاړ او هغه ښار يې محاصره کړ

چې د قسطنطنيې محاصره به اوږده شي ، تر څنګ يې سلطان هوډ درلود چې د دې ښارد سوبې وروسته به هغه د روم په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي ښار ته را ولیږلم . نومور جاني زه دهمدې ساتونکو په ساتنه کې دادې دلته راورسیدم.

م شوني وه چې د قسطنطنيې محاصره اوږده شي ، او هلته تا ته ځانته په خيمه کې ژوند کول د اذیت او درد نه ډک و ګرځي.
خاطر زه ډېره خوشحاله يم چې ته زما لورې ترې دلته راغلې ، ددې تر څنګ لورې ! ما او سريان خپل ځانونه يواځې احساسول

طنطنيې د محاصرې په وخت کې هغه د سلطان تر خوا وي. ددې ښار د سوبې نه وروسته کله چې سلطان د روم په لور کوچ

ې يئ ، اوس به زه تاته حکماً وو ايم چې ته همدلته په ميلمستون کې کينه زه او سريان به ولاړې شو او ډوډۍ به تياره کړو .اوبيا

تياره کړې نو بيا داسې و ګڼه چې د ريونا په ژوند باندې لعنت دې ،که چيرې زما په موجوديت کې زما مور ټول کارونه کوی

مکمل غیرسیاسي : يو تاريخي په زړه پورې ناول .
زمونږ د هيواد ګوډ تيمور څوک دې ؟
اوس تاسې ددې تاريخي ناول څلور ويشتمه برخه لولئ :

. ښار د ساتنې له پاره د سلطان بايزيديلدرم زوي ار طغرال مامور و . دهغه سره همغه د سيواس د ساتنې له پاره
نه د تيمورلنګ د عسکرو مقابله وکړه چې داسې وختونه په تاريخ کې ډېر کم تر لاسه کيږي .

آس يا اوښ باندې د سفر کولو په وخت کې د اوسپنې د سيخانو څخه جوړ شوي يو کجاوه جوړه کړې وه ، نو هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل زوي عمر شيخ لا ترمخه د نړۍ څخه کوچ کړې و . دهغه دريم زوې ميران شاه ډيره ناوړه او بې عقله انسان و .
ه ورتياوو ميرانې په اساس په لښکر کې هم محبوبيت درلود.

نه اخوا د خپل عقل او فکر له اړخه هم دوې دواړه د تيمور لنګ د سترګو دنور حيثييت درلود. خو ددې سره سره بيا

برخه يې د خپل سپه سالار نور الدين تر قوماندې لاندې پرې ښوولـه ، اوبله برخه يې د خپل لمسي شهزاده محمد تر

و چې د تيمور لنګ تاتاريان په هيڅصورت و نه توانيږي چې د ښار دروازې ماتې کړې اودننه را ننوځي ، نو په دې
ې خپل نور پنځه زره فوځونه يې په هغې لورې و ټاکل چې د تيمورلنګ وليعهداو دهغه لمسي شهزاده محمد د هغې

انې کې ټولو ترکانو ته ماته ورکړې وه. هغه وخت چې تيمورلنګ دخپلو اته لکو فوځونو سره د سيواس د ښار په لور
ه کړې و.

ددې منجنيقونو تر مخه يې د خپلو غشو ويشتونکو ډلې و ټاکلې او د منجنيقونو تر شا يې هم د غشو ډيرې کيښول ، ددې
خه جوړ شوي ډير زيات لوښي ايښودي و، چې په هغه وخت کې د ارطغرال د وينا په اساس خلکو د اوره څخه ډک کړل

وې باندې د غشو باران و اوريد چې په پايلو کې يې زيات شمير تاتاريان دلدل شول ، په دې خاطر دهغوې لښکر هملته تم

ميره يې په ښار کې د لسو زرو څخه زياته نه ده ، په هيڅصورت زمونږ د حملې څخه خوندې پاته نه شي. نو کله چې
داسې اندازه او په داسې ګړندی توګه را خوشې کړې چې زيات شمير تاتاريان يې هملته وسوځول او له منځه يې

و کيږي . ځکه هر ځل د تاتاريانو دا يرغل په شا تمبول شوي ،پر هغوې د جوش اوبو او د اور د سکروټو را وروول هغوې

ثبوت وړاندې کړ نو دهغې مثالونه هم په تاريخ کې ډير کم تر لاسه کيږي ، ارطغرال و توانيد چې پوره اته لکه فوځ د
چنۍ قلعه سوبه نه شوه کړاې .

زياته اوږده شوه نو دهغه سره د خوراک ذخيرې په ختميدو شوې ، او مجبور شو چې د تيمور لنګ سره سوله وکړي او

حشي انسان په دنياکې بل پيدا کيږي نه . کله چې ارطغرال د سيواس ښار تيمور لنګ ته حواله کړ نو تيمور لنګ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغوې د سالارد سلطان بايزيريلدرم د زوي ارطغرال په ګډون ووژل . د ارطغرال او دهغې دملګرو جرم داو چې

ه دمي په خاطر هملته دسيواس په ښار کې پړاو وکړ .

دتيمور زوې شا رخ ، لمسي او وليعهد محمد ، بل لمسي الخ خان او شاملګ شامل و . کله چې دوې ټول د تيمور خيمي

زرو په شاوخوا کې ده ، ددې نه اخوا د هغه په لښکر کې دوه کسه ډېره تکړه سالاران دي ، دهغوې څخه يو دهغه
د اروپا په ټولو جنګونو کې هغه په خپل سپه سالار علي پاشا باندې ډيره تکيه کړی وه ، په ورستيو جنګونو کې د بايزيد

دی . خوبيا هم که چيرې تاسې ته دهغه په هکله څه نور معلومات وي نو وي واياست ، دا به زما د خوښی سبب شي

برخې د لښکر لار ښوونه کوي ، په دښمن باندې د ګذار کولو له پاره پخپله مخکې کيږي نو په دې خاطر دهغه لښکرپر

اسي ځواکونو باندې يې شپينی حملې وکړې چې خپل ځانونه يې نا قابل تسخير ګڼل ، اودهغوې پر خلاف يې ډير ښه
ې و د همدې يونانيانو ښکار و ګر ځيدل . بيا دا علي پاشا ډګر ته راووت . هغه ټول يونانيان له منځه يوړل چې د

څومره د خپلو اسلافو داخلاقو ممنون دی په همغه اندازه د محمد د طبيعت ،زکاوت ، او ميرانې احسان مند هم دی . دا
خه ډير فوځ دې او دوه سالاران لري ، چې يو يې علي پاشا او بل يې وليعهد محمد دې .

واړه جاسوسان لږ څه را نژدې شول خو بيا هملته تم شول اما هغه ورته د نور رانزدې کيدو حکم وکړ . کله چې هغوې

برخې اخستلو وړ نه دې ، او نه يې پخوا په دغسې وينه تويونکو جنګونوکې برخه اخستی ده ، هغه غواړي د جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه رپ کي به  هغوې  هملته ډيرې کړل  شي . له تاسره يواځې  ستا سالار  نور الدين اوستا لمسي  وليعهد محمد دې  چې

.غو  دواړو جاسوسانو په خبره  چې همدا  اوس دخيمي  څخه  ووتل ، د ترکانو پادشاه سلطان بايزيريلدرم د پولوپ  په  جزيره
 خپل  آس  تړي ، دا ځکه  چې هغه ددې کار  له پاره  سوګند کړې دې . خو مونږ  به هغه ته دداسې کار  کولو  مهلت  ورنه

ې دې نو  ياد  ساتئ  چې  سلطان بايزيريلدرم   به  زمونږد لښکر و  د شميرې   د په نظر کي نيولو  پرته  دفاسفور س  د
نو په څير  به مونږ ته د ماتي د راکولو  هڅه کوي .

مات کړي دي .

 چې هغه ته دا خبرونه ور  ورسيږی نو زما په فکر  چې هغه  به  په قسطنطنيه کي  يوه   ورځ  زيات وکم  تم شی او بيا  به
دجنګ  کومه طريقه  چې  ما  خپله کړې هغه  ته هم غوږ  کيږدئ.

 شوې  فوځ  دې ، کله  چې د بايزيد  د لښکرو سره  ټکر  پيليږي  نو اول  به دغه ټول  لښکر  د هغه د لښکر  سره  ټکر وکړي
بنديان  کړې  او ماته  به  يې  راوړي ،او دبروصې په خزاني به  ولکه  وکړي .

ځو  نو  مونږ  ته  به  يې  ډيره ستره  ګټه تر لاسه شی .

لکه فوځونه  له ځانه  سره   يوسئ  ، نو بيا به هم زما  سره څلور  لکه فوځ  پاته شي ، زما لمسي  الخ خان ، او شا ملګ  به  د

پاته کيږی ، او ددغه دوو نوي پرانستل  شوي  محاذونو په لور به  خپل  سالار  علی پاشا او  وليعهد  محمد  استوي ، که  چيرې
وځ  دې  نو دهغې په  مقابله کې د بايزيد سره يواځې  څلويښت  زره  فوځ  پاته کيږی . او هغوې ته هم هلته  زما د سالار نور
ر تيب  به  نور الدين او محمد  هم  دعلي پاشا او  وليعهمد محمد  په فوځونو باندې  غلبه  تر لاسه کړي  .  کله  چې داسي
لطان دې  چې تر  نن ورځې پورې  يې  د سترو سترو  جابرانو  تر مخ  يې د فتحې او سوبې  علاوه  د ماتې نوم هم  نه دې
 په تاريخ کې په  طلاي  ټکو  وليکل  شي .

ل  منتظر واوسو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې یوه ورځ نه وه تیره شوې چې یو سپاهي ستړې ستومانه او مات مات را ورسید. په دې وخت کې بایزید د خپلو

وپوښتل :

هغه مخبر وویل :

رحدي ښار سیواس ولکه کړې ، په سیواس کې ستا زوې ارطغرال دا اته لکه فوځ په مقابل کې یوه اونۍ و جنګیده
ره . درونده سلطانه! هغه د سیواس په ښار کې زمونږ ټول لښکر له منځه یوړ ، څلورزر ه مسلمان سپاهیان یې ژوندې

وخته هغه ګونګ ،صُم او په غم کې ډوب ناست و .د علي پاشا او ولیعهد حالت هم د سلطان د حال څخه کم نه و . تر

رمونږ پر خلاف د جنګ کولو له پاره کوم کار پیل کړې نو هغه په یقین سره د اسلامي ملت له پاره دجنګ د ویرونکي

شال وګرزیده .

انځورونود پټولو له پاره خپل لوځوالې نه را څرګندولې ،او نه یې دخپلو د بیلتون په خاطر دتورې شپې دجدایي د توپان په

ندې بریالي شول ، که چیرې دې تیمورلنګ د اته لکه لښکرو سره یو ځاې زمونږ پر سلطنت باندې یرغل نه وې کړې
دې کار مخنیوي وکړي ، نو په دې خاطر یې ددې کار له پاره زمونږ دخپل یوه ورور سره معامله وکړه ، زه نه پوهیږم

ن په سازشونو باندې ځان نه خبروي ، د خټوپه دیوالونو په خامو رنګونو سره د خپل عظمت او ستروالي دداستانونو
صف جوړوی خو کاش چې دا تیمور لنګ د ملت د خوړو شونډو خندا باندې د زهرو جام انه اړولی ، کاشکي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی کتل. په دې وخت کې دسلطان په سترګو کې يو غم ، يو الم او يو افسوس و ، نو يو ځل بيا يې په خبرو پيل وکړ او

رلنګ زما زوی هم وژلي دې ، لکه چې تاسې هم واوريدل ، هغه څلور زره مسلمانان ژوندې تر خاورو لاندې کړل ،

ه وسله وال موجود دي ، تاسي ته معلومه ده چې د اروپا په دي سيمو کې مونږ د شمير ډيرښت ته کوم اهميت نه دې
ره . زامنو! پورته شئ او لښکر ته د تللو حکم وکړئ . اوس مونږ دلته د قسطنطنيي په محاصره کولو باندې بايد خپل وخت
ح د مقابلې کولو جرأت هم لري .

څخه يي غيره چاپيره کړه په داسې حال کې چې ريونا د علي پاشا څخه د اس واګې واخستې ،او په خوږو خوږو سترګو
غم او خفګان دې ، ريونا هم علی پاشا ته کتل او هغه هم دعلي پاشا په خفګان باندې غمګينه وه ، بيا مخکې له دې چې

ې تندې دماتولو په خاطر د تيغه نه وې تير کړي ، دې ظالم د سلطان بايزيد يلدرم زوی هم له تيغه تير کړې دې .

و نو په همدې توګه به مونږ د تيمور لنګ مقابله هم وکړو. خو څه چې ما زوروي هغه دادی چې دا تيمور لنګ د
ه د غم او صدمي سبب ګرځيدلې ده .

ختـه پورې ريونا ، علي پاشا او قيرات درې واړه هلته په ميلمستون کې ناست و ، سريان هم بيرته ور ستنه شوه او دخپل

همدلته پرې ښوول شي . او دلته دبروصې څخه به تازه فوځونه واخستل شي . ددې تر څنګ به سلطان د بروصې څخه د

رتلې او پخلنځي ته د ډوډۍ د تيارولو له پاره ولاړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه کوچ کړې دې . په بروصې کې د يوې شپې په تم کيدو سره سلطان د لښکر زخميان همدلته په بروصې کې پريښودل

وروسته هغه همدلته د درياب په غاړه په غرنی سيمو کې خپل لښکر ور ننويست ، ددې سره سم سلطان د سيواس پورې

رم په همدې غرنيو سيمو کې د تيمور لنګ سره د مقابلې له پاره تيار او بيدا ر و .

لته تم شو خو تيمور لنګ دخپل فوځ سره د سلطان مقابلې ته حاضر نه شو .

ې خبر د اوريدو سره سم سلطان بايزيد يلدرم د غرنيو لمنو څخه را ووت او د هيلس ددرياب غاړې ته راغې .

ورود چکر و هلو ته اړتيا ده ، او سلطان د همدې چکر په دننه کې خپل لښکر راټول کړ اوپه دې انتظار کې و چې

ه حقيقت کې تيمور لنګ ته د فوځونو برتري هم تر لاسه وه ځکه دهغه د فوځونو شميره اته لکه وه په داسې حال کې

ټکر هڅه وکړه نو سلطان بايزيد يلدرم به دهغه لښکر د شميرې د زياتوالي سره سره نابوده کړی او له منځه به يې

مور جرأ ت و نه کړ چې ددرياب څخه را تير شي او د سلطان مقابلې ته راشي . په اتمه ورځ سلطان ته خبر راغې

ه په دې خاطر هغه د خپل اته لکو فوځونو سره په ډيره بيړه د انقري په لور وخوځيد او انقره يې محاصره کړه او په پوره

، هغه وخت چې د تيمورلښکر د رسيو اوزينو په واسطه په ديوالونو د ورختلو هڅه وکړه نو انقرې کې ميشت د
خبرانو خبر ورکړ چې سلطان بايزيد يلدرم په ډيره چټکتيا سره دهغه په لور را روان دې ، ددې خبر د اوريدو سره
ته وويل :

ګاره لويدلې وي سمدستي ټکر کول دي ، خو ياد ساتئ چې دا تدبيرونه هم زمونږ له پاره زيانمن ثابتيداې شی . که
ګوته کوي چې هغه نه شاته تلونکې دې او نه د جنګ څخه مخه ګرځونکی دې .

يواد هر کلي ، هر ښار چې مخ ته راځي هغه د تباهۍ سره مخ کړ و . اوپه دې ترتيب بايزيد مجبور کړو زمونږ تر شا
اوبو د ذخير نه د ګټې دپورته کولو په وخت کې د زهرو سره مخ کيږي اوپه دې ترتيب به هغوې له منځه ځّي او د
حساس کړي نو که چيرې په داسې وخت کې مونږ پر بايزيد باندې يرغل وکړ و نو دبايزيد ماتې به حتمی او زمونږ بريا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي ځخه خوندی پاته شي .

، په دې تر تيب هغه اته لکه فوځ مخکي مخکي په تيښته کي روان و او د سلطان بايزيد يلدرم يولک شل زره فوځ د

ايزيد يلدرم د لښکر د ويرې د خندق د ويستلو حکم وکړ .

سي سفر کړې و او دې ميدانو ته رارسيدلې و .

اچولي واو دا يو داسې حرکت دې چې د انسانيت پر خلاف ګڼل کيږي .

سلطان ځني خويونه او کړچار نه خوښولې نو هغه به يې د خپلو سفيرانو د ليرلو را ليږلو په واسطه حل کړې وې ، او دا

ي دسلطان بايزيديلدرم د مقابلې له پاره تيار کړل تر څو دخپلې ماتې امکانات را کم کړي .

ده کي يې پريکړه کړې وه چې کله سلطان بايزيديلدرم ددې مقابلې له پاره راشي نو تيمورلنګ به د الخ خان او شا ملک
سي پورې او دخپل لمسي وليعهد محمد سره يې دوه لکه لښکر د انقرې په لور د استولو حکم کړې و.

ه ورسته تيمورلنګ په خپل لمسي وليعهد محمد باندې تر ټولو ډير باور درلود .نو په دې خاطر يې نه غوښتل هغوې
حشت سره سره چې دې په کې دسلطان بايزيديلدرم له اړخه ککړ و بيا يې هم دخپل زوې شارخ سره په خپله خيمه

علاوه په لښکر کې ډير کلک نظم او نسق موجود و اودهغه هر وګړې د بايزيد همدومره وفادرا و لکه څومره چې يو
ځارنه کوله چې دغه ټول اذيتونه او ستونزې يې زغملې او هيڅ ډول شکايت يې نه کاوه .

و مخته خپله خيمه و دروله نو بيا دتيمور لنګ سره د جنګ پرته بله لاره نه وه . سلطان بايزيديلدرم د راتلو سره سم د
ح ته يو ګوټ اوبه هم نه وې تر لاسه شوې ، نو دخپلو فوځونو د همدغو ستونزو او کړاو په کتلو سره هغه يوه لمحه

ي يې له ځانه سره هملته پريښود ، دويمه برخه يې وليعهد محمد ته او دريمه برخه يې د علي پاشا په قومندې کي ورکړه

د لښکر په مقابلکې د جنګ له پاره صفونه جوړ کړی و . دسلطان بايزيديلدرم په لور د کتلو سره سم هغوې هم خپل
شهزادګانو سايرکن اوايکسلا سره يو ځاې پاته شول..

په دې ترتيب د تيمور لنګ ټول لښکر د دسلطان بايزيديلدرم په لښکر لکه د مچو او ميږيو په څير را پريوت .

رو باندې ور پريوتل .

د زوې وليعهد محمد لښکر شاته و تمباوه ، وليعهد محمد د خپل لښکر سره ځکه لږ څه شاته شو چې پر هغه ددښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسته تګ ته مجبور شو .

همداسې وینه تویونکې حمله وکړه او هغوی یې تر ډیره شاته و زغلول . په دې وخت کې سائرکن د ډیر جرأت نه کار
ب یې داروپایي دوو شهزادګانو څخه د یوه کار و ر خلاص کړ. اوس ایکسلا پاته و ، کله چې هغه وکتل چې ورور یې

، کله چې د تیمورلنګ سالارانو وکتل چې د وخت په تیریدو سره کیداې شي علي پاشا دهغوی منځته ورسیږي نو هغوی

هم دا ښه درک کړې وه . بیا سلطان بایزیدیلدرم دتیمورلنګ د عسکرو سره په جنګ دوه تیز زغلیدونکي آس سپاره
ئ او یوې لورې ته دوتلو هڅه وکړئ ، او ددښمن د پنجې څخه د وتلو سره سم لږ څه شاته ولاړ شئ اوبیا د نوې جنګ

عه لښکر چې ددوې د اړخونو څخه تیریده تر سختي ضربي لاندې راووست . د علي پاشا دا حمله دومره قوي وه چې
ه تبنتې . په دې تر تیب علي پاشا دخپلو توپاني حملو په واسطه د هغه په اړخ کې تیریدونکې دښمن له منځه یوړ او پخپله

ب عسکرو یې زغم و نه شو کولاې اویوې لورې اوبلې ته یې د تیښتې مخه کړه ، بیا ولیعهد تر ډیره پورې شاته ، ان
ب پیل شي.

ښار راوړي او په دې ترتیب په پا شاکیدو باندې بریالي شي .

باندې د ملخانو په څیر را توې شول.، سلطان بایزیدیلدرم دهمدې حالاتو په کتلو سره شاته شوې و .د سلطان شاته یوه

ړخونه د څو فرلانګو پورې خپاره شوی و . په دې خاطر ددومره دښمن له منځه وړل او ځان ترې ویستل شوني نه
دسلطان ټول لښکر له منځه ولاړ اوسلطان یې ژوندې و نیوه ، او هغه یې و تاړه او په پړاو کې پروت تیمور لنګ ته یې

راړو پلار اوزوې وکتل چې د سلطان د سترګو څخه د قهر اوغضب لمبې را وځي ، دهغه سینه زخمي شوې وه او

او ستا زوې ولیعهد محمد هم د خپل څلویښت زره عسکرو سره یو ځاې د تیښتې لار خپله کړې ده .

څه وم او ستا عسکر مې ځپل ، زه د نورو د بچیانو د حلالو او دهغوې په واسطه دخپلې سوبې د یقیني کولو له پاره دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاف جنګ کړې دې . خو ګوره تیموره ! فتح اوما ته د قدوس خداې له لورې وې خو یاد ساته چې په اخلاقي توګه ته

یمه کي د خپل زوې شارخ سره د شطرنج لوبه کوي دا لوبه خو ښځې هم د حرم په یوه خونه کي کیني اوکوی یي .
ته لږ څه د انصاف په حد کي فکر وکړه ، هغه خبرې و تله ، او بیا ووایه چې ایا رښتیا ته فاتح یي ؟ ایا تا په جنګ
شکو لې وې ، که اوس هم تاته شک وي نو پلار او زوې دواړه تورې را واخلئ او ځانته زما سره مقابله وکړئ ، بیا

زید لاسونه ور پرانزي ، په دې خبره هغو سپاهیانو چې بایزید یې لاس تړلي دلته د تیمور خیمي ته راوستي و دهغه
، هم سلطان ته راوست .

جره کي بند کړئ په کومې کي چې تیمور لنګ په خپله سفر کاوه ، دتیمور لنګ د حکم سره سم یې سلطان د اوسپنې

ل شول چې د سلطان بایزیدیلدرم سپه سالار علي پاشا او زوې ولیعهد محمد دواړه تښتیدلي دي . دهغه په سالارانو کې
ښکرو سره یو ځاې په وتلو بریالي شول . هغوې د هیلس دریاب څخه تیر شوي دي او په هغه بل لورې غرنی سیمو کي

طوری په مرکزې خزانه باندې ولکه وکړئ او ټوله خزانه دلته خپل پړاو ته را منتقل کړئ .

ګ هغوې ته قاصد ور ولیږه اوخبر یې ورکړ چې سلطان ته مو ماتې ورکړې او پخپله سلطان مو نیولی دې او اوس

پیه سالار و . هغه د اسلامي امت او مسلمانانو سره ډیره همدردي درلوده ،که څه هم هغه د تیمور لنګ په حکم د بروصې په

مکمل غیرسیاسي : یو تاریخي په زړه پورې ناول .
زمونږ د هیواد ګوډ تیمور څوک دې ؟
اوس تاسې ددې تاریخې ناول شپږ ویشتمه برخه لولئ :
۴۵ *****
رالدین سره په خیمه کي ناست و او په څه مسله یې خبرې کولې چې د هغه یو ساتونکي راغي او ورته یې وویل :
اقا! د بایزید د لښکر سره چې کوم بندیان مونږ نیولي دي په هغوې کي یو معمر شخص برهان الدین هم شامل دی.
سره ټکان وخوړ او ساتونکي ته یې وویل چې هر څه چې د برهان الدین په هکله وایي ویې وایه . اوژر یې راته ووایه .
ساتونکي وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې ټاکل شويدي ،وايي چې د بنديانو دډلې څخه دغه برهان الدين له تاسره ليدل غواړي. اوس دوه ساتونکو دغه برهان الدين دلته راوړې دي او د خيمې نه بيرون ولاړ دي او د اجازې غوښتنه کوي.

ځان ځارني ، دهغه ددیانت په هکله ډیرې قصې اوريدلي دي . هغه په ډير درنښت سره دلته خيمې ته راوړئ، زه غواړم و پوهيږم چې هغه څه غواړي .

ه . دهغه په راتللو سره ولي عهد محمد ، الغ خان ،نورالدين ، او شارخ ټول ودريدل . تيمورلنګ هغه ته په يوه ځاې کې د ره و کړه ، خو برهان الدين حرکت و نه کړ . اوپه خپل ځاې ولاړ پاته شو او بيا يې په نفي سره سر و خوځاوه او ويې ويل :

ند هم يواځې دا و چې زه ستا په خدمت کې حاضر شم او درته ووايم چې ماته د بايزيد سره د کتلو له پاره وخت راکړه . زه تاسي ته دا ډاګيزه کوم چې زه د بروصې اوسيدونکې يم ، زما نوم برهان الدين دې او يو وخت د بايزيد يلدرم استاد وم.

تيمورلنګ په ډيره درنه توګه برهان الدين ته وکتل او ورته يې وويل:

ونده مشره ! ته کينه .زه بايزيد را غواړم . بيا چې ته دهغه سره څه ويل غواړې نو زما په موجوديت کې يې يزيد ته ووايه .

برهان الدين يوځل بيا خپل سر د نفي په توګه وخوځاوه ، او ورته يې وويل :

ې تا هغه په اوسپنيزه پنجره کې بند کړې دې ، زه غواړم په همغه پنجره کې بند بايزيد ووينم او بيا ورسره خبرې وکړ م.

د برهان الدين په خبرو باندې تيمورلنګ تر يوه وخته پورې فکر وکړ او بيا يې د څه فکر او سوچ وروسته وويل :

ته اوسئ زه بيرته ژر راستنيږم . ددې خبرې سره سم تيمور لنګ دخپلې خيمې څخه د برهان الدين سره يو ځاې بيرون شو. ې وې ، سر يې ښکته و ، د پنجرې تر مخه د برهان الدين د درولو سره سم تيمور لنګ هغه ته دا وښووله چې هغه د خيمې د دې . خو هغه د همدې پنجرې شاته پټ ولاړ و .تر څو ځان خبر کړي چې برهان الدين د بايزيد سره څه خبرې کوی..

تر ډيره پورې بايزيد ته کتل اوبيا يې په ډير ناست او ژړه غوني اواز غږ وکړ چې : بايزيده....بايزيده ،بايزيده زما زويه ! په خپل مخکې برهان الدين وکوت نو بايزيد په پنجره کې ددريدو هڅه وکړه ، برهان الدين په ډير غوره سره بايزيد ته کتل . رو يو بل ته کتل ، اوبيا داسې لکه چې په چپو خولو اوولاړو ژبو يو بل ته څه وايي . بيا برهان الدين بايزيد ته وويل : ې . ما تاته څو وارې ياد ه کړی و ه چې کله چې ستا نيکونو او غورنيکونو شرابو ته لاس هم نه و ور وړې نو تا ولې دا په راتولونکي وختو کې به زه تا په کومو ځنګلونو کې ، دغرونو په لمنو کې ،او دجنګ په ميدانونو کې لټوم . نه يواځې زه ،بايزيده ! بلکه ستا ټول رعيت ، ستا سره مينه کونکي به ټول ستا په لټه کې و ي.

برهان الدين د لږڅه وقفې نه وروسته بيا بايزيدیلدرم ته وويل :

ت يې پرې تمام کړي وې ، قدوس خداې هر قوم ، اودهر ملت دلاربښووني له پاره وسايل برابروي او په عذاب دککړيدو تر کړيږي. بايزيده ! اوس چې تا ماتې خوړلې ، او دا چې ته اوس د اوسپنې په دې پنجره کې بند يې نو دا هم دخپل خداې له ه خبر درکاوه ، ته مې پوهه ولې ، ته مې د شرابو دڅکلو څخه منه کولې ، او د راتلونکي عذاب او اذيت څخه مې ويرولې وويستلې ، بايزيده ! تا د سمندر دهغې غاړې څخه راوړې د خپلې نوې ناوې په طلسم کې ورک شوې ، اودهغې د هرې غوښتنې او د هغې د هر خواهش په پوره کولو کې اود هغې دهرې خبرې په منلو کې دې دريغ و نه کړ .

ا خپله دغه نوې ښځه دخپل ذهن د معبوديت نغمه ، د خپل زړه صومعه ګڼله ، خو نن هغه ستا هيڅ درد نه دوا کوي ، دا ځکه چې کله چې دخداې له اړخه نيول کيږي نو بيا هر څه دهغه تر مخه بې وسې اومجبور شي .

دې ، اوس نه ستا کوم نوم شته ا و نه کوم عنوان . تا دخپل رعيت خوشبوي او خوشحالي د يتمانو په اوښکو تبديله کړه . و سيلاب را روان و ، سلګۍ يې وهلې ، او دبرهان الدين په څير يې خپلې شوندې سره خوړلې ، د پنجرې شاته پټ ولاړ هان الدين د خبرو څخه د سرنه تر پښو پورې په خولو کې ډوب شو ... برهان الدين يو ځل بيا خبرې پيل کړې او ويې ويل :

بايزيده ! زه دشپود تيارو په چاودنو کې دخندا سهار ، اود وطن د سهار له پاره د هنر نوې اسلو ب له کومه راوړم ؟ شهيدانو دخاورو شفق ، اودقوس قزح څخه روښانه ستورې را وکاږی؟ برهان الدين تردې ځايه خبرې و کړې او چپ شو.

سلطان بايزيد يلدرم ورته وويل :

نه ورنژدې کاوه ، ما داکار دهمدې نوې ناوې په راوستلو سره پيل کړ، زه ړوند شوې وم ، او ما په هغه وخت کې ستا په وب وې ، نود خداې عذاب پر ده ولې نه را نازليږي ؟ ولې يې خداې نه نيسي ؟ دا عذاب ولې يواځې پر مانازل شوي دې ؟

دسلطان ددې خبرو په اوريدو سره برهان الدين تر يوې شيبې پورې چپ پاته شو اوبيا يې ورته وويل :

بايزيده ! ما په خپل ژوند کې هيڅکله هم تا ته غلطه مشوره نه ده درکړې ، تا دا فکر هم ونه کړ چې برهان الدين يوه د د خپلو رعاياو له پاره يو ډول د رحمت سيوری وې . ستا پلار او نيکونه په رينښتانی توګه دخپل رعيت له پاره د خداې که چيرې ته زما د پوهاوی په واسطه توبه کړې وې نو تا ته به داډ درکوم چې تا ته به نن دا ورځ نه وې په برخه شوې . ې تمام شوي ، خو ياد ساته چې که څه هم تيمور لنګ په ډيرو بدو فعلونو کې ککړ دې نو هغه ورځ به ډيره ژر راشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کو په خیر په هوا کې محوه اوله منځه ولاړ شي ، ټولې ارزوګانې د خاورو سره خاورې شي ، هغه ورځ به خامخا راځي .
برهان الدين لږڅه تم شو او بيايې دلږ څه فکر کولو وروسته وويل :
ه برابره کړه او له ما سره پخپله تر دې ځايه راغې . بايزيده ! هغه څه چې ما تا ته ويل غوښتل هغه مې درته وويل ،
ک هم ستا په خير په اعمالو باندې چلند وکړي نو د قدرت نيونه ډيره سخته ده او هيڅوک ترې خوندې نه شي پاته کيدې .
دقسمتي وه چې د ځلورو خواو څخه مې را پرېوتونکي پانې و نه شواې کتلې . يواځې د تورو شپو له پاره مې د ښايست
د اخلاص وريځې لټوم ، هاې افسوس ! هاې افسوس ! زه به اوس چيرې د خپلو تندو مداوا لټوم . ددې پنجرې نښې د
عمراذيتونه زما ملګرې او زما سره غملړلې دي .
ا اوس چې د شا له دروازې را ننوتې وي . دتيمورلنګ په کتلو سره بايزيد خپلې سترګې بلې لورې ته واړولې ، په همدې
وخت کې برهان الدين تيمورلنګ ته وويل :
ما هغه ته داسې کومه خبره نه ده کړې چې ستا پر خلاف کوم ساز وباز وګڼل شي ، او نه مې دهغه سره داسې کومه خبره
چې خداې پرې اوس نيولې دې ، ما چې څه ويل غوښتل هغه مې ورته وويلې ، اوس نو ماته د خپلو هغو ملګرو سره
ديو ځاې کيدو د بيرته ستنيدو اجازه راکړه چې له ماسره يو ځاې بنديان دي .
راځه ، زما سره يو ځاې راځه ، تيمورلنګ په مړژواندي اواز وويل :
هغه تر شا روان و کله چې دخپلې خيمې څنګ ته راغې نو هملته و دريد . او برهان الدين ته يې مخ کړا و ورته يې وويل:
ه ته دهغه آينه ور وښووله ،برهان الدينه ! په هغې اينې کې ماته خپل ځان هم را څرګند شو . برهان الدينه ! ته اوس زمونږ
ه زه تا او ستا ټول ملګري پرېږدم . ته دخپلو ټولو ملګرو سره بروصې ته ولاړ شه ، پرتاسو باندې هيڅ ډول بنديز نه شته.
شيبه وروسته برهان الدين دخپلو نورو ملګرو سره يو ځاې د بروصې په لور ولاړ. ځکه چې تيمورلنګ هغوې ازاد کړي و .
۴۶ *****
او د ميلمستون ديوال ته يې ځان تکيه کړ. دهغې د حال څخه څرګنديده چې هغه بلکل ماته شوي ده . ريونا او سريان
رسيدو سره سم قيرات په خپله غيږ کې و نيوله ، او د شا له اړخه سريان هغې ته را غاړې وته ، او په ژړا يې پيل وکړ. خو
ږي ځکه ريونا هم ژړل او د سترګو څخه يې اوښکې را رواني وې، او په خپل ژړغوني اواز سره يې قيرات ته وويل :
پيل شوې ته هره ورځ قصر ته ورځې ، او دعلي پاشا پوښتنه کوې ، خو نن چې ته په کوم حال بيرته راستنه شوې ېې پخوا
نوځې ، ريونا ددې څخه نور زيات څه و نه ويل خو خپل سر يې د قيرات په اوږې ايښودې و او په کوکو کوکو يې ژړل .
ه يوه اړخ کې ريونا او په بل کې سريان را ونغاړلې ، ميلمستون ته يې ننويستلې اوپه ډير غمژن اواز سره يې وويلې .
ره څرګنده ده چې هغوې ددښمن په قيد کې نه دې ورغلې . لوڼو! د ماښام اذانونه و شول ، راځئ چې د هر څه تر مخه د
ماښام لمونځونه ادا کړو ،بيا به د لمانځه د اداء کولو وروسته له تاسې سره تفصيلي خبره وکړم.
 واړه هلته ميلمستون ته راغلې اوکيناستې ،قيرات چې په کوم ځاې کې خبره پرې ايښې و ه د هماغه ځايه يې بيا وويل :
 محترم ، زمونږ محسن ، زمونږ مربي ،او زمونږ سلطان او دسر سيورې ، زمونږ د هيلو او اميدونو اسمان سلطان بايزيد
 د عيش او عشرت نه ګټه پورته نه شي کړاې . نن چې کوم خلک راغلې هغوې هم دا ډاګيزه کړېده چې د سلطان بايزيد
يلدرم سره دهغه زوې موسې هم نيول شوي دې .
قيرات لږ شيبه چپ شوه او بيا يې خپلې خبرې پيل کړې .
مير وايي چې نورالدين د ډير نيک خوې انسان دې ، د لمانځه اوروژې پابندي کوې او ددين د سترو خدمت کونکو څخه ګڼل
ې له ځانو سره ورې واې او ټول ښار به يې لوټلې و . نو خداې دې نورالدين ته خير ورکړي . تا سو وکتل چې هغه د خپل
 نه يې کوم اوسيدونکي ته زيان ور ساوه او نه يې په چا لاس پورته کړ . زه فکر کوم چې دا به هم د قدوس خداې له
اړخه پر مونږ باندې يو احسان وي چې د بروصې ښار د تباهۍ اوبربادۍ څخه خوندي پاته شو .
دقيرات د چپ کيدو سره سم ريونا خپلې سترګې د اوښکو څخه وچې کړې او بيا يې په ډيره غمژنه توګه وويل.
کر سره را وتلي وې او په کوم خوندې ځاې کې به ځاې په ځاې شوې وې ، هغه به په کوم موزون او مناسب وخت کې
اړی ، کيداې شي هغه دا کار هغه وخت وکړی چې تيمورلنګ ددې ځايه څخه د خپل لښکر سره يو ځاې کوچ وکړی .
دريونا ددې خبرو وروسته قيرات وويلې :
وپايي حکمرانانو ته چې همدا اوس د قسطنطنيې په ښار کې سره راټول شوي دي بلنه ورکړې تر څو د هغه د فتحې په
سې وکړي نو زما زوې علي پاشا اووليعهد محمد به هم خپل ځانونه را ښکاره کړي او دبروصې په لور به راستانه شي.
يزيد يلدرم تر قومندې لاندې وه دهغوې ډيره برخه له منځه تللې دی ، او لږه پاته برخه يې بنديان شوي دي ، په دې بنديانو
کې زما وروور برهان الدين هم شامل دې ، زه دعا کوم چې زما وررور برهان الدين د دښمن د ظلم څخه خلاصون ومومي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړو د میلمستون ددروازې په لور ورغلل ، چې برهان الدین هم په همدې ګړی میلمستون ته ور ننوت . د برهان الدین په
وشحاله شوې ، برهان الدین هغوې درې واړو ته د کیناستو وویل ، کله چې هغوې ټول کیناستل نو برهان الدین ورته وویل :
په هکله اودهغه د سلامتیا اوروغتیا په اړه کوم خبر نه دې درکول شوې ، قیرات خورې ! زه د تیمورلنګ د پړاو نه نیغ
ې نه یواځې علي پاشا بلکه ولیعهد محمد هم ژوندې او سلامت دي ،او دهغوې دواړو لښکر هم دهغوې سره یو ځاې دي .
تردې ځایه دخبرو وروسته برهان الدین لږه شیبه تم شو او بیا یې د خپلو خبرو سلسله پیل کړه او ویې ویل :
تر مخ د وړاندې کیدو وروسته د اوسپنې په بنجره کې بند سلطان بایزیدیلدرم سره د خبروڅخه هغوې درې واړه خبرې کړې .
کله چې برهان الدین خپله خبره خلاصه کړه ه د لږې شیبې د چپتیا وروسته قیرات په خبرو پیل وکړ او وې ویل :
جره کې بند کړې دې ، خو وروره تا را ته دا ونه ویل چې علي پاشا او ولیعهد محمد د جنګ څخه څنګه خوندی را ووتل ؟
سلطان بایزید یلدرم سره یواځې یولک شل زره عسکر وو ، خو د هغې په مقابل کې د تیمور لنګ سره اته لکه لښکر و .
، دجنګ په وخت کې تیمور لنګ په خپله په جنګ کې نه و موجود، بلکه دخپل زوې شارخ سره یې د شطرنج لوبه کوله ،
وه چې دخپل لښکر سره یو ځاې ددښمن د قوت په هغه برخه باندې په پوره قوت سره یرغل وکړي چې د اړخونو له
لورې مخته راځي ، د هغوې زور مات کړئ او خپل ځانونه خوندی ځایوته و کاږئ.
الدین ددمې په خاطر توقف وکړ. سرېې ښکته کړ او څه فکر یې وکړ . او دوپاره یې خپله خبره جاري وساتله ، اوویې ویل :
و سره د دښمن د اته لکه فوځونو سره جنګیدل که شوني نه دی نو ستونزمن خو ضرور دي . بیا خو حالاتو او شرایطو
نو کې دخپل همدې عسکرې ځواک په واسطه هغه د صلیبیانو شپږ شپږ، اته اته ، لکو فوځونو ته ماتې ورکړې وه نو
یدلي و چې تر څو ورځو پورې یې مخکې مخکې منډې وهلې ، هغه ته د اته لکو عسکرو سره بیا هم د ا جرأ ت نه و په
، د انقرې ښاروال ډیره هڅه وکړه چې هغوې په دیوالو باندې د را ختلو څخه دفع کړي ، خو هغه بریالي نه شو . خو کله
و هلته لرې په ازادو میدانونو کې یې پړاو وکړ . دهغې د ویرې او ډار اندازه دددې څخه اخستلي شئ چې هغه خپلو اته
ر خندقونه و کاږی ، تر څو سلطان بایزید د شپې له اړخه پرې یرغل را نه وړی او دوې دشپې دشپې له منځه یونه سي.
لي ، که څه د بایزید جاسوسانو دهرې پیښې خبر ورکاوه چې په لاره کې تولې اوبه په زهرو ککړې دي ، نوسلطان د ډیر
، شو نو هغه وخت د بایزید لښکر ې وږې تږې وې او دهغوې دجنګ کومه طریقه چې وه نو هغوې دهغې په مطابق
خپل کار ونه کړاې شو.
کم سره سم علي پاشا او ولیعهد محمد په خپلو اړخونوکې را خپریدونکي دښمن تر سختي ضربي لاندې ونیو ، هغوې یې
علي پاشا او ولیعهد محمد خپل ځانونه او خپلې لښکرې خوندې ځایو ته یوسي ، نو دهغوې د وتلو سره سم دښمن د څلورو
حاصرې څخه خوندي کړي ، خو سلطان په خپله ددښمن په جال کې را ونغښت ، او ان د سترګو تر دیده پورې یې په
، په پنجه کې ولوید اوهغه هم هغه په اوسپنیزه پنجره کې بند کړ . زه هم په همدې بندیانو کې وم . خو وروسته تیمور زه
ي کور ته راغلم ، زه پوهیدم چې تاسې به دعلي پاشا په اړه اندیښمن یاست . نو ما غوښتل تاسې دعلي پاشا څخه خبر کړم .
ذیت سبب وي . دا ځکه چې تا د دې څخه د مخه خپل میړه او دوه زامن له لاسه ورکړي دي ، خو زه تاته ډاډ درکوم چې
حمد دواړو خپلې لښکرې دهیلس ددریاب څخه را تیرې کړې او ددریاب دې غاړې ته په غرنیو سیموکې پټ شوي دي .
، درې واړه تر یوه ځایه پورې تکیه شولې او لږ څه تسلي ورته پیدا شوه . په دې وخت کې ریونا برهان الدین ته وویلې :
خپلو لښکرو سره پټ شویدې تیمور لنګ هم هلته ور ننوځي اوعلي پاشا ، ولیعهد محمد او د هغوې لښکرو ته زیان ورسوي.
دریونا په دې پوښتنو باندې برهان الدین داسې مسکې شو چې په هغه کې تمسخر هم و او طنز هم . بیا هغه ریونا ته وویل :
رسوی، ځکه هغه وخت چې سلطان بایزید د خپلو لښکرو سره دبروصې څخه حرکت کاوه نوسلطان دهیلس ددریاب څخه د
تیریدو وروسته ، همدې غرنیو سلسلو کې ور ننوتې واوهملته یې دخپل لښکر سره یو ځاې پړاو کړې و .
هغه ته څرګنده وه چې سلطان بایزید په میداني او غرنیو دواړو جنګونو کې په تیمور باندې لوړتیا لري . هغه په دې هم
جنګ نه ځان ویسته ،او د انقرې پراخو میدانونو ته ورغې او بیا یې هلته پړاو وکړ. او اوس هم زه تاسې ته ډاډ درکوم چې
نیو سیمو څخه را ووزي او داسې کوم کار به وکړي چې د خپلې ماتې دغه داغ به پریمنځي او خپل تیر تاریخ بیرته را
تازه کړي .
الدین په دې خبرو باندې قیرات ، ریونا او سریان درې واړه ډاډمنې شوې وې او بیا قیرات دخپله ځایه پورته شوه او وې ویل:
ي پاشا نه وې راستون شوې ته به همدلته اوسیږي ، اوس ته کینه چې زه ډوډۍ راوړم . بیا به یې ټول سره یو ځاې وخورو .
ې واړو سره یو ځاې د ډوډۍ خوړلو وروسته رخصتیږم . خو ژمنه کوم چې هره ورځ به ستاسې دکتلو له پاره دلته یوځل
راځم . اوکه چیرې جنګ بیا پیښ شو نو زه به دعلي پاشا او لیعهد محمد د کړچار په هکله تاسې ته خبر درکړم .
ه شوه ، قیرات یې د لاسه و نیوله ، او په خپل هغه ځاې یې بیرته کنیوله چې ترې را پورته شوې وه ،اوبیا یې ورته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته هغوۍ دواړو میلمستون ته ډوډۍ راوړه ، څلورو واړو یو ځاۍ ډوډۍ وخوړله ، اوبیا برهان الدین بیرته ولاړ.
پرلپسې لري ........

مکمل غیرسیاسي : یو تاریخي په زړه پورې ناول .
زمونږ د هیواد ګوډ تیمور څوک دې ؟
اوس تاسي ددې تاریخي ناول و ویشتمه برخه لولئ :
۴۷ *****

او درلود دهغې پړاو موجود ټول سامان او وسایل یی هم له ځانه سره راټول کړي و او را وتلي و. هغوۍ ته دداسې کولو
تي اخستلو سره د خپل پړاو ټول شیان را ټول کړي و او د هیلس ددریاب څخه تیر او په غرنیو لمنو کې یې پناه اخستې و.
درلودې ، نو په دې خاطر دوې همدلته په دې غرنیو سیموکې پړاو وکړ او د حالاتو د معلومولو له پاره منتظر پاته شول.
۴۸ *****

ولیعهد محمد هغوۍ و پیژندل چې ددوۍ مخبران دي ، د رارسیدو سره سم دوۍ د خپلو اسونو څخه را ښکته شول ، علي پاشا
او ولیعهد محمد هم په خپلو ځایو کې و دریدل، دراتلونکو څخه یوه یې علي پاشا او ولیعهد محمد ته وویل چې :
ې وکړه خو تر دې وخته پورې دښمن دهغې څخه را چاپیر شوې و، نو په دې خاطر د سلطان بایزیدیلدرم د راوتلو هڅه د
کې بند کړې چې د خپل سفر په دوران کې یې په اوښ یا آس باندې د ځان له پاره استعمالوی ، داسې و ګڼئ چې سلطان
بایزید یلدرم د تیمور لنګ بندي دې .
اجازه ورکړی ، تیمورلنګ هغه ته د سلطان سره د کتلو اجازه ورکړې ده ، برهان الدین د سلطان سره وکتل او دهغه سره یې
زمونږ د لښکر نیول شوې ټول کسان ازاد شوي دي او اوس ټول د برهان الدین سره یو ځاې د بروصې په لور تللي دي .
ځونو سره بروصې ته رسیدلې ، خو ویل کیږی چې نورالدین ډیر نیک انسان دې ، ښه جنګي پوهه لري ،او دمذهب او
ماني سلطنت پر خزاني باندې ولکه وکړه ،او دسلطان بایزید د حرم ټول وګړي یې بندیان کړل او له ځانه سره یې یوړل .
ښار کې عامه وژنه وکړه او نه یې ښار لوټ او تالا کړ او نه یې خپل لښکر ته ددې لوټولو او تا لا کولو موقع برابره کړه .
ه پاره را ټولو شوي و ، بلنه ورکړي چې هغوۍ دې د تیمورلنګ سره یو ځاې د دې ستري سوبې په جشن کې ګډون
ې کې ګڼ شمیر نصراني حکمرانان د تیمورلنګ فوځ ته ورسیدلي دي او اوس به دوه ورځی وروسته جشن جوړیږي .
ددې ټولو خبرونو په اوریدو سره علي پاشا دواړو مخبرانو ته وکتل او دهغوۍ شکریه وکړه او بیا ورته وویل :
دخپل ورور محمد سره خبرې کوم بیا به تاسې ته ووایم چې تاسو ددې ځایه د تللو وروسته کوم کارونه باید تر سره کړئ.
ددې وروسته علي پاشا د ولیعهدمحمد په لورې وکتل او ورته یې وویل :
ک هغه په اوسپنیزه پنجره کې بند کړې دې ، نودا خبر زمونږ په مصیبتونو کې نور هم ډیرښت راوست . وروره ! زه
غواړم یو کار وکړم ، زه دهغې تفصیل تا ته وایم او بیا ستا راې پرې غواړم
تعقیب پسې روان و نو تیمور لنګ ته زمونږ ددې تعقیب په هکله معلومات نه و . هغه د انقرې په ښار باندې یرغل و
تید ، اولري یې په پراخه میدانونو کې پړاو وکړ او خندقونه یې وویستل ، خو بیا هم دهغه په زړه کې د انقری د نیولو هیله
همغسې پاته ده . اوس زه غواړم دهغه دا هیله را وپاروم .
تیریږم او دانقری په لور ورځم . محمده وروره ! ته دخپل لښکر سره همدلته اوسه ، زه د انقرې ښار ته ور ننوځم . تر لږه
لږ وخت پاته کیدل اوبیا د بلې دروازې څخه بیرته راوتل او بیرته دلته راتلل د کوم عاقل سړي کار دې او مونږ ته به
یې ګټه څه وي ؟
سالاران او لښکر دخپل ځان له پاره خطر احساس کړي ، اودا فکر به وکړي چې زه کوم وخت د انقری د ښار څخه را
همدلته به خپل پړاو وکړي ، نوکه چیرې هغوۍ همدا سې وکړي نو زه او ته به دهغوۍ په پړاو باندې حمله وکړو او په پړاو
کې دهغوۍ د لښکرو د تباه کیدو وروسته به خپل سلطان دهغوۍ د لاسه ازاد کړو .
داسې وکړي نوزه به دشپې په تیاره کې د تیمور لنګ په دغه فوځ باندې حمله کوم اوزه هیله لرم چې زه به دهغه دا برخه
کې ما خپل دښمن ته ماتې ورکړه اودهغوۍ لښکر مې ټول له منځه یوړل ، نو پوه شه چې ما دخپلې ماتې بدله واخستله .
نو څخه راوتلي اودخپلو لښکرو سره یو ځاې د انقرې ښار ته و ر ننوتی دي. کیدائ شې انقرې ته زمونږد ورننوتلو خبر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ر ته ونه رسيږي ، خوكله چې زمونږ جاسوسان دا خبرونه خپار كړي نو بيا به ډير ژر تر تيمور لنګ پورې ورسيږي .
وي له منځه يوسي ، ترڅو دښمن ته په هيڅ صورت دا خبر و نه رسيږي چې زه د انقرې دښار په يوې دروازې ور
لكه څارنه كوي او زما ددې عمل څخه چې د دښمن په لښكر كې څه عكس العمل راپيدا كيږي دهغه څخه به ما خبروي.
چې علي پاشا خپله خبره بس كړه نو تر يوه وخته پورې هلته چپه چپتيا وه ، بيا وليعهد محمد په خبرو پيل وكړ او ويې ويل :
ستله ، بيا ګوره وروره ! ددښمن په پړاو او يا دانقرې په شاوخوا كې ددښمن په لښكرو باندې به د حملې پلان او طريقه څه
ډول وي ؟
حمله وكړو او يا د انقري دښار په اطر افو كې د هغوې په لښكر باندې شپينۍ وينه تويونكې بريد وكړو . هر څه چې مونږ
ن نو دواړه ورونه به دهمغه په مطابق د جنګ پلان جوړ كړو . علي پاشا په ډير ډاډ سره داخبرې وليعهد محمد ته كولې .
په دې وخت كې علي پاشا مخبرانو ته مخ كړاو ورته يې وويل چې :
ښار ته ننوځي ، بياد لږ وخت لپاره هلته تم كيږي او بيا به دشرقي دروازې څخه بيرته را وزي او د غرنيو لمنو خواته به
ستاسې په شتون كې دخپل ورور وليعهدمحمد سره جوړ كړ ددې پلان ټول تفصيل به د انقرې د ښاروال سره شريک كړئ.
ښار ته را رسيدلې دې ، تر څو د تيمورلنګ لښكرو ته زمونږ انقرې ته د ورتللو دا خبر و رسيږي . بيا به دهغوې دعكس
العمل انتظار كوو،اوس تاسې دددې ځايه د انقرې په لور كوچ وكړئ .
دخپل فوځ سره دغرنيو سيمو څخه كوچ وكړ، په ډيره پټه توګه د هيلس درياب څخه تير او د انقرې په لور وخوځيدل.
۴۹ *****
دښار جنوبي دروازې ته را ورسيد نو هغه څراغونه چې په برج او ديوالونو باندې روښانه و دهمغوې په رڼا كې ښاروال
علي پاشا و پيژانده ، بيا نو د ښاروال لوړ غږ تر غوږو شو .
دروازه پرانيزئ !!
سپور په ښار كې و ر ننوت نو ښاروال په يوه منډه هغه ته ور ورسيد. علي پاشا د آسه را ښكته شواو ښاروال ته يې غاړه
ه پورې خپل فوځ هملته په پراخه ميدان كې د پړاو او ارام كولو له پاره پريښود اوتر څنګ ولاړ ښاروال ته يې وويل :
ونو لمنې كې به ورننوځم او دخپل ورور وليعهد محمد سره به يو ځاې شم . مونږ ته خبر را رسيدلې او تا ته به هم داخبر را
وبې د جشن د جوړولو په كار بوخت دې ، هغه په دې جشن كې د ګډون له پاره اروپايي حكمرانانو ته هم بلنه وركړې ده
رې دراپورونو په اساس يو شمير حكمرانان د هغوې په جشن كې د ګډون له پاره د تيمورلنګ د فوځ پړاو ته ورسيدلې دې .
هد محمد هم دخپل لښكر سره يو ځاې دانقرې ښار ته ور ننوتې دي . كله چې تيمورلنګ ته دا خبر ورسيږي نو هغه به د خپل
ې بيرون ددښمن سره څه وكړل شي ، دا كار ماته او وليعهد محمد ته پريږده . كه چيرې تيمورلنګ دخپل فوځ يوه برخه
ې كوم زيان د تيمورلنګ له اړخه رارسيدلې دې نو كه خداې غوښتل نو تيمورلنګ ته به دهغه څخه ډير زيان ور ورسوو .
ازادوم . كله چې دا خبر تيمور ته ورسيږي نو ياد ساته كله چې هغه انقره محاصره كړه نو بيا به هغه خپله محاصره بيرته
وي نو په هر صورت كې به ته د انقرې په ښار كې ځان محاصره كوې . او دا چې ستا سره دخوراک څښاک څه حال دې ؟
مياشتو پورې هم محاصره اوږده كړي نوبيا به هم زمونږ سره دخوراک زيرمي پاتې وې ، ما دخوراک څښاک يوه ډيره
ت كې ما تاته او د وليعهد محمد لښكريانو ته ددې انتظام كړې و . دا خوراک تاسې له ځانه سره دخپل لښكر له پاره يوسئ .
ښاروال ددې خبرو نه وروسته توقف وكړ او د لږ څه فكر نه وروسته يې وويل:
خپله خوشحالي تاسې ته نه شم بيانولې ، په هر حال هغه پلان چې تاسې ددښمن له پاره تيار كړې دې نو زه دعا كوم چې
لان كې بريمند كړي ، اوس ته له ماسره يو ځاې شه تر څو تاته هغه زيرمې و ښايم چې ته به يې دخپله ځانه سره وړې .
ډيري لږيدلې و . تر ډيره پورې علي پاشا د زيرمو په كتلو باندې ډير زيات خوشحالي خووله ،اوبيا يې ښاروال ته وويلې :
س ځم ، زما جاسوسانو به خپل كار پيل كړی وي اوتر لرې لرې پورې به يې د دې خبرو دخپرولو له پاره كار كړي وي .
خبرې سره سم دعلي پاشا لښكر ې د سترګو په رپ كې تيارې شوې او په زياتو شوو اسونو يې د خوراک سامان بار كړ. او
په پاته نيمو يې دوه دوه عسكر سپاره شول او د انقرې د ښار د شرقي دروازې څخه بيرته بيرون ووتل .
محمد هم په ډيره بې قرارۍ سره د علي پاشا او دهغه د لښكرو انتظار كاوه ، څنګه چې د علي پاشا لښكر را ښكاره شو
د محمد د ډيرې خوشحالۍ څخه ورمنډه كړه او علي پاشا ته يې غيږ وركړه كله چې سره جدا شول نو علي پاشا ورته وويل:
! دا سامان چې په آسونو باندې بار دې ، دا ټول د خوراک څښاک شيان دي ،د انقرې ښاروال مونږ دواړو ته راكړې دې .
يې هملته په غارونو كې ور ننويستل ، او ددې وروسته علي پاشا او وليعهد محمد خپلو لښكرو ته د ارام كولو حكم وكړ .
خيمې ته د ننوتلو وروسته د تيمورلنګ په اشاره باندې كيناستل ، بيا وروسته دتيمورلنګ دې ټولو ته وكتل او ويې ويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ايا تاسو په خپل لښکر کې کوم خبر اوريدلي دې ؟
د تيمور لنګ وليعهد او لمسي محمد ورته په ځواب کې وويل :
ور داخل شوي دي زه پوهيږم چې دا خبر دومره بد نه دې ، بلکه ډيره ښه خبر دې ، په تير جنګ همدې علي پاشا او وليعهد
نيو لمنو کې ور ننوتل ، هغوې ته په دې تيښته کې بايزيد هم بسپنه کړې ده ،خو هغه و نيول شو او دوې دواړه و تښتيدل.
سره دلته د کټلو تر مخه مونږ ټول ناست و او په دغه موضوع مو بحث وکړ او زه هيله لرم چې هغه پلان چې مونږ ټولو
يوځاې تيار کړې دې هغه به تا ته هم منظور وي .
ې ته مخ کړ او ورته يې وويل، ما ته وواياست چې تاسي څه ډول پلان جوړ کړې چې هغه ته اخري بڼه ورکول غواړئ ؟
اتونوکي دسهار اذانونه پيل شي نو بيا به زه د يرغل له پاره ځان چمتو کړم . اوپه همدې وخت کې به په ښار باندې حمله
وال فوځونه قتل عام کړم ، د عامې وژنې داسې منظره به جوړه کړم چې د انقرې خلکو تر اوسه پورې نه وي کتلې ،
د خپلې لمسي په دا ډول خبرو باندې تيمور لنګ ډير زيات خوشحاله شو او بيا يې په ډيره مينه خپل لمسی ته وويل :
دا چې ځانته هلته مه ورځه ، يا له ځانه سره خپل ورور الغ خان يوسه او يا سپه سالار نور الدين له ځانه سره ملګري کړه .
ول يواځې ستا د لمسي کار دې ، زه به هيڅکله هم بل څوک له ځانه سره په دې کار کې ملګری نه کړم . اوس خپله دويمه
خبره را ته وکړه.
بيا ددې جشن نه وروسته په انقره باندې يرغل وکړه ، نو په دې تر تيب به مونږ د انقرې د فتحې دويم جشن هم و لمانځو .
چيرې دکوم علت په واسطه د انقرې د ښار په سوبې کې او يا دهغې په انتظام کې ماته ستونزه پيدا شوه نو ته به د فتح
سې هغې ته د اخري بڼې ورکولو حکم وکړئ . زه هيله لرم چې اوس به ته په هغې پلان باندې کومه نيوکه و نه کړې .
تيمور لنګ تر يوه وخته پورې دخندانه شين و . بيا چپ شو او څه فکر يې وکړ بيا را پورته شو او ويې ويل:
مله کول غواړې نو تر هغه وخته پورې خپل لښکر په خوندی ځايو کې و ساته ، که چيرې ته د وخت نه مخته هلته ور
ې هم ورسيږې نو داسي يلغار وکړه چې ستا پر هماغه لمړي يلغار سره انقره د ښنو و غورزيږي او تاته سلامي شي .
ې په جشن کې په ډيره بې صبری سره ستا انتظار کوم ، اوس تاسي ولاړ شئ ، او دمحمد د فوځ د کوچ تيارې وکړئ .
ددې خبرې سره سم ټول د تيمورلنګ دخيمې څخه ووتل .
پرلپسې لري ......

عثماني امپراطوري او پر خلاف يې د صليبيانو سازشونه (۲۸)

عثماني امپراطوري او پر خلاف يې د صليبيانو سازشونه (۲۸مه)
مکمل غيرسياسي : يو تاريخي په زړه پورې ناول .
زمونږ د هيواد ګوډ تيمور څوک دې ؟
اوس تاسي ددې تاريخي ناول اته ويشتمه برخه لولئ :
۵۰ *****
هلته د سلطان بايزيديلدرم جاسوسانو په ډيره بيړه خپل کارونه تر سره کول ، هغوې د انقرې ښاروال هم ددې خبرو اترو
څخه چې د تيمور لنګ اودهغې د سالارانو تر منځ شوې و ې ،خبر کړ. هغوې ښاروال ته دا خبر هم ورکړ چې د تيمورلنګ
لمسي به د انقرې په ښار باندې هغه وخت يرغل کوي چې د ښار په دننه کې د سهار اذانونه پيل شي .
دانقرې ښاروال ددې خبر د اوريدو سره سم خپل جنګي تيارې نور هم ځواکمن کړ . دانقرې دښار په ديوالونو باندې لا د
پخوا څخه کوچني کوچني منجنيقونه نصب شوی و او تر څنګ يې د تيرو ډيرې لا هماغسې موجود و . ښاروال د برجونو
دننه غشي ويشتونکی کينول او دهغوې سره يې دغشو انبارونه کيښودل . تر څنګ يې دديوال دپاسه د تيرو بارې جوړې
کړې ، اوښاريانو ته يې دا لارښوونه وکړه چې څنګه چې دښمن په ښار باندې حمله وکړي نو نر او ښځې دې ټول د
ديوالونو لورې ته مخه کړي او داسې تيرې دې ووروي چې دښمن ته ددې موقع په لاس ور نشی چې ديوالونو ته را نږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.
دا خبر هلته په غرنيولمنو کې علي پاشا او وليعهد محمد ته هم وررورسيد . په ځواب کې علي پاشا او وليعهد محمد دواړو خپلې لښکرې د غرنيو سيمو څخه راوويستې او د هيلس ددرياب څخه تيرې او همله يې په پوره تياری سره سنګرونه و نيول .علي پاشا و اوليعهد محمد دواړه د هيلس ددرياب په غاړه د غره په يوه اوچته څوکه باندې کيناستل او انتظار يې کاوه ،کله چې د شرق نه دسهار سپينوالې راښکاره شو نوعلي پاشا وليعهد محمد ته وويلې :
وروره ! زمونږ د ازميښت او امتحان وخت را ورسيد. تر لږه څه وخته پورې به دانقرې په جوماتونو کې اذانونه پيل شي ، اودهغې سره سم به دتيمورلنګ لمسي د انقرې په ښار باندې يرغل پيلوې .
واوره زما وروره ! زه به لږه شيبه وروسته د هيلس ددرياب په غاړه غاړه د شمال په لورې ولاړ شم ته دخپل لښکر سره همدلته پړاو وکړه ، کله دې چې د انقري په جوماتونوکې دسهار د لمانځه اواز تر غوږو شو نوبيا د خپل لښکر سره يو ځای د هيلس ددرياب څخه راتير شه ، اودجنوب له اړخه په دښمن باندې ځپونکې ګذارونه وکړه . ښکاره ده چې کله چې ته په دښمن باندې حمله وکړې نو دښمن به په پوره ځواک سره ستا په لور را ټول شي . اود ښار په ديوالونو باندې دختلو اراده به له ياده و کاږی ، تر هغې وخته پورې به زه هم خپل کار پيل کړم . زه به هم ستاسې په څير د هيلس ددرياب څخه تير شم . اوهغه وخت چې دښمن له تاسره دټکر له پاره هغې لورې ته درځي د شا له اړخه به پرې ځپونکې حمله وکړم. زه هيله لرم چې مونږ به ددې لښکر په لمنځه وړلو کې بريالي شو.
علي پاشا د خبرو په منځ کې دلږ څه فکر کولو له پاره تم شو اوبيايې وليعهد ته وويلې :
محمده ! زما وروره ! ددې تر مخه ما تاته دخپل زړه يوه خبره لانده کړې او هغه داچې ، هغه وخت چې ماښام کې زما مخبرانو ماته خبر راوړې و چې د تيمورلنګ لمسي ، ولي عهد محمد ، د سهار د اذانونو سره سم په انقره باندې حمله کوي نو ما همغه وخت يوه اراد ه وکړه ، چې هغه دا ډول ده :
وروره ! لکه څنګه چې سلطان بايزيديلدرم ، ته او زه دخپلو لښکرو تر مخه اوسيږو اوپه دښمن باندې ګذارونه کوو نو تيمورلنګ او دهغه سالار نورالدين داسې نه کوي ، يا خو دوی دخپلو لښکرو په منځ کې اوسی او يا دهغوی تر شا ولاړ وي او خپل لښکر جنګ ته ور ټيله کوی ، کله چې زه ددښمن پر خلاف دشا له اړخه حمله وکړم . نو زما تر ټولو لوی مقصد او تر ټولو لويه اراده به داوي چې زه خو يا د تيمور لنګ لمسي وليعهد محمد ژوندي و نيسم او يا لږ تر لږه هغه له منځه يوسم . نو تيمورلنګ ته چې دخپل لمسي د مړيني او يا ژوندي نيولو خبر د جشن په منځ کې ور سيږي نو بيا فکر کوه چې تيمورلنګ به په څه حال کې وي ؟
دعلي پاشا په دې خبرو باندې وليعهد محمد خندان و . غوښتل يې څه ووايي چې علي پاشا بيا ورته په ويلو پيل وکړ . که چيرې زه په شمال کې او ته په جنوب کې د هيلس ددريا ب غاړه د سهار د اذانونو پورې انتظار وکړو نو لمړی خو د انقرې ښار له دې ځايه دومره لرې نه دې ، اودويم دا چې دشپې له اړخه اواز تر ډيره پورې بيرته انګاز ې کوي او منعکس کيږی نو وروره ! زما اوستا پلان همدا دی چې کله دې اواز واوريد نو دهيلس له دريابه تيريږه او ځان د جنوب اړخ ته ور رسوه ،اوپه دښمن باندې را لويږه . زه به تر لږه وخته پورې انتظا ر وکړم چې دښمن له تاسره پوره په جنګ کې و نښلي نود شا له خوا به پرې ځپونکې بريد کوم ،نو دښمن ته به د ځان د سنبالولو فرصت په لاس ورنشي . اودشا له اړخه به زه هيله لرم چې دښمن به يوپه بل پسې د پښو ورغورزوم ، همدا به زما او ستا تر منځه اخری پريکړه وي . نو اوس که ته په دې کې کوم بدلون راوستل غواړې نو وې وايه .
وليعهد محمد تر ډيره پورې چپ چاپ و اوبيا يې وويل : علي پاشا! بې شکه چې زه وليعهد يم ، خوزما وروره ! ستا د جنګونو تجربه زما څخه ډيره ده ، تا زما دپلار سره داروپا په ډيرو جنګونو کې ګډون کړې دې او ددښمن د ځپلو په اړه بريالي تجربې لرې ، نو وروره ! ستا پريکړه ماته اخري پريکړه ده .اودهمدې په مطابق به په دښمن باندې ګذار کوو.
علي پاشا ودريد.
که چيرې خبره همداسې وې نو ته دخپل لښکر سره همدلته تم شه ، زه به دخپل لښکر سره يو ځای دهيلس ددرياب په غاړه غاړه باندې ځم او د سهار د اذانونو تر وخته به انتظار کوم . ددې خبرې سره سم علي پاشا خپلې لښکرې د شمال په لور و خوزولې . په دې تر تيب د جنوب له اړخه وليعهد محمد او د شمال له اړخه علي پاشا په دښمن باندې د ور پريوتلو له پاره ځانونه چمتو کړل او په ډيره بې قرارۍ سره يې دسهار د اذانونو انتظار کاوه .
شپې د مصلحت قلف مات کړ ، هر شې را بيدار شوې و ، ځکه چې د انقرې د جوماتونو څخه د اذانونو اواز هر شې په خپله غيږ کې را نيولې و.
دانقري د جوماتونو د اذانونو سره سم درې مهم انقلابونه جوړ کړل شول . لمړی دا چې د تيمورلنګ لمسي وليعهدمحمد چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپلو دوو لکو فوځيانو سره په سنگر کې ناست و په ناڅاپي توگه د سنگر څخه راووت اود انقرې د ښار دديوالونو په لور لکه د توپان په څير ور خوځيدل .
بل انقلاب په ښار کې را پيدا شو . لاتر اوسه د انقرې دښار ديوالونه په تيارو کې ډوب و خو بيا هم په ديوالونو باندې ټول لښکر مستعد ولاړ و . کيداې شي ښاروال قصدا ديوال په تياره کې پرې ايښي وي . خو کله چې دانقرې په جوماتونوکې د سهار اذان پيل شو نو يو نا څاپه ټول هغه مشالونه چې د ديوالونو دننه اينبول شوي و بيرون را وويستل شول اودديوال دپاسه کينبودل شو ل. په دې ترتيب د ديوال ټوله برخه روښانه کړل شوه ، د روښنايي دا انقلاب د ښار په لور ور تلونکی يرغل کونکو اودهغوې مشر دتيمورلنگ لمسي هم په سترگو کاته ، او دا خبره په يقين سره دهغه له پاره ټکان ورکونکي وه ، هغه پوه شوي و چې دهغه د حملې اويرغل خبر دانقرې ښاروال ته رسيدلي دې ، اوهغه د ښاره ددفاع کولو له پاره مستعد دې .
خو بيا هم د تيمور لنگ لمسي ډاډمن و چې دهغه سره دوه لکه عسکر دي او دښار دننه د علي پاشا ، وليعهد محمد او ښاروال سره ټول فوځونه تر يوه لک نه نه زياتيږی ، او هغه به ډير ژر هغوې و ځپوي .
دتيمورلنگ لمسی دا فکر هم کاوه چې دلمړی فتحې په واسطه دهغوې د فوځونو حوصلي کلکې شي ،ځکه چې د بايزيديلدرم د ماتې په اساس د ترکانو حوصلي ډيرې ماتې شوې وې نو په دې خاطر د انقرې تر څنگ دهغه د فوځ برې او د بايزيد د فوځ ناکامي هغه ته يو ډاډمنه خبره وه .
ددې نه اخوا چې کوم دريم ستر انقلاب راغې ، هغه دا و چې علي پاشا او وليعهد محمد دواړو د سهار داذانونو سره سم خپلې لښکرې د هيلس دريابه تيرې کړې او علي پاشا د شمال له اړخه او وليعهد محمد د جنوب له اړخه په دښمن دگذار کولو له پاره مخکې تگ کاوه .
دښار ديوالونو ته د رسيدو سره سم د تيمورلنگ لمسي خپله دوه لکه فوځونه د ښار په شمال غرب او شرقی سيموکې خپاره کړل ، څنگه چې هغوې دښار ديوالونو ته د ور نزدې کيدو هڅه پيل کړه او د رسيو پاتخۍ يې و غورزولې تر څو د ښار په ديوالونو باندې پورته وخيژې نو پر هغوې باندې د غشو ، او منجنيقيون په واسطه د تيږو ورول پيل شول، هغه کسان چې د مخکې نه په ديوالونو ناست و هغوې پر دښمن باندې داسې تيږې وورولې چې ددښمن په عسکرو کې يې يوه واويلا خپره کړه ، د تيږ او غشو باران هغوې د سختو ستونزوسره مخ کړل او دخپلو ځانونودخوندې ساتلو په خاطر يې وروسته تگ پيل کړ . اوپه دې تر تيب د تيمورلنگ د لمسي لمړی یر غل د ناکامۍ سره مخ شو .
کوم وخت چې د تيمور لنگ لمسي د انقرې دښار په ديوالونو باندې د دويمې حملې له پاره ځان جوړاوه نو په همدې وخت کې پرې د سلطان بايزيديلدرم د زوې وليعهد محمد لښکر را څرگند شو اوبيا يې د جنوب له اړخه د تيمورلنگ په لمسي هغه ناتار جوړ کړ چې تاريخ يې ياد لرې .
د وليعهد محمد دلښکر ددې ناتار په اساس د تيمورلنگ د لمسي عسکرو هم په جوابې عمل لاس پورې کړ او دجنگ ډگر د تنور په څير گرم شو .
دجنوب له اړخه د وليعهد د حملې څخه د تيمورلنگ لمسي دا فکر کړې و چې د علي پاشا او وليعهد محمد دواړو څخه به يو خامخا په ښار کې دننه پاته وي اوبل يې دښاره راوتلې اوپر دې يې حملې پيل کړې دې نو په دې خاطر يې په ديوال د ورختلو پريکړه ودروله ،اودخپل ټول لښکر سره يو ځاې د جنوب په لور د بايزيد د زوې وليعهد محمد په لور د حملې کولو حکم ورکړ .
تاتاريان د حکم سره سم د خپل قايد د تيمورلنگ دلمسي سره يو ځاې د بايزيد پر زوې را توې شول خو په همدې وخت کې فطرت حالات بل منگه کړل .
ځکه چې د هيلس ددرياب څخه د راتيريدو وروسته علي پاشا د خپل لښکر سره يوځاې هملته په سنگر کې ناست و . کله چې دتيمورلنگ د لمسی دوو لکو فوځونو په وليعهد باندې يرغل وکړ نو د هغوې تر شا علي پاشا د خپل لښکر سره را څرگند شو . اوبيايې د شا له اړخه دتاتاريانو لښکر تارو ما رکول پيل کړل
د شا له اړخه د علي پاشا د لښکرو حمله د سمرقند څخه د راغلي لښکر تر مخ د مرگ نښې راو ځلولې ،د هغوې ژوندونونه د زنځير په څير يو په بل پسې له منځه تلل ، هغوې زخميان د اسونو د سومونو لاندې دليدل ، دعلي پاشا د تيزو حملو په اساس د تيمورلنگ د لمسي لښکر يوې اوبلې لورې ته و تښتيد .
جنگ تر ډيره وخت پورې روان و . ان ترد ې چې لمر د شرق څخه را ښکاره شواو په خندا خندا د انقرې د ښار شاوخوا ته راغې او ددواړو لښکرو د ټکر په وخت کې پورته کيده ،اوخپله گرمي يې هرې خوا ته شنيدله .
د شا له اړخه د حملې په واسطه د ثمرقند لښکرې د ډيرې بدنظمۍ سره مخ شوې وې او تر لږه وخته پورې د تيمورلنگ د لمسي هغه لښکر چې شميره يې دوه لکه وه دعلي پاشا او وليعهد محمد دحملو په واسطه د ماتي اينې په څير گرځيدلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه تر ډیره وخته پورې دهغوې بیرته منظم کیدل شونې نه ښکاریدل ، دهغوې ټولې لیکي ، دننه او دباندې ، مخکنۍ اوورستنۍ ټولې د بدنظمي ښکار شوې وې ، خو د تیمورلنګ لمسي چې دخپل لښکر په منځنۍ برخه کې و ډیره هڅه وکړه چې خپل لښکر سره راټول او ددښمن پر خلاف یې د حملې له پاره و هڅوي ، که څه هم هغوې یو ځل بیا خپل ځانونه را سنبال کړل خو د شا له اړخه د علي پاشا ضربه په کلکه او شدت سره روا نه وه او هغه ان تر نیمایی پورې ، هغه ځاې ته ځان ر ا رسولې و چیرې چې د تیمورلنګ لمسي ولیعهد خپلې لښکرې ددښمن پر خلاف را ټولولې .
د جنګ د پیلامې دمخه علي پاشا ولیعهد محمد ته ویلي و چې هغه به هڅه وکړي چې هغه د تیمورلنګ لمسی ژوندې ونیسی اویا یې له منځه یوسي . دخپلې همدې ارادې د تکمیل په خاطر علي پاشا د خپلو ساتونکو سره یو ځاې د تاتاریانو لښکرې سره وشکو لې او د تیمورلنګ د لمسي پورې یې ځان را ورساوه . اوبیایی په ډیر قهر جن او دغضب نه ډک اواز سره د تیمورلنګ لمسي ته وویل :
د تیمورلنګ ظالمه لمسیه ! زه د بایزیدیلدرم سپه سالار علي پاشا ستا تر مخه ولاړ یم ، اوتا ته زیرې درکوم چې که زما خداې وغواړي نو راتلونکې سهار به ستا څیره د وینو ډکه ووینې .
د علي پاشا په داسې ناڅاپي راتلو سره د تیمورلنګ لمسي ټکان وخوړ خو علي پاشا ورته یوځل بیا وویل :
د تیمور لمسیه واوره ! په خدې سوګند چې تاسې زمونږ د سلطان سره دوکه کړې ده ، هغه دخپل ملت له پاره ابرو اوعزت دې ، دخپل قوم له پاره دروح په څیر دې دهغه په نیولو تاسې اسلامي امت د فنا لورې ته د وړلو پرته نور څه نه دی کړي .
د تیمورلمسییه !اوس چې ته زما تر مخ یې نو ولیکه چې : ته به اوس زما څخه خوندی پاته نه شي . زه علی پاشا به تا ته دمرګ راوړنکي اوسم. او کله چې ستا دمرګ خبر ستا دادا تیمور ته ورسیږي نو یاد ساته چې دهغه عمر به د سلګي وهونکې ژوند په څیر په نوحه ویلو باندې تبدیل شي .
د علي پاشا په دې خبرو باندې د تیمورلنګ لمسی ډیر په غضب شو او په ډیره بې باکۍ سره یې علي پاشا ته وویل :
علي پاشا ته بکواس کوې ، زما تر مخ ستا حیثیت څه دې ، ایا ته پوهیږې چې د شا له اړخه دڅلوېښت زرو عسکر وسره او ولیعهد محمد به دڅلویښت زرو عسکرو څخه د حنوب له اړخه زما دوه لکه فوځونه لاندې کړي . که چیرې تاسو دا فکر کړې وې نو د ا ستاسې خوب اوخیال دې ، له ځانه سره ولیکه چې زه به تا د جنګ په میدان کې و نه وژنم بلکه د بایزید په څیر به دې بندي کړم ، لاسونه به دې تر شاو تړم اودخپل دادا تر مخ به دې حاضر کړم . تا ته به همغسې اوسپنیزه پنجره تیاره کړم تر څو د طوطي په څیر په کې پروت اوسې. اوبیا به همغه پنجره چې ته پکې پروت اوسې د خپل ځان مخې مخې ته وړم اوسمر قند ته به دې ور ننه باسم .
د تیمورلنګ لمسي چې کله خاموشه شو ، نوعلي پاشا ورته وویل :
د تیمورلنګ لمسیه ، زه به تر سمرقنده په پنجره کې ناست له تاسره نه ځم ، که چیرې زما خداې ، زما مالک او زما مرستندوې ته منظور وي نو دجنګ په دې ډګر کې به زه پر تا غالبیږم او زه تاته یقین درکوم چې زه به تر ثمرقنده پورې نه ، بلکه ستا لاش به تر هغه ځایه پورې ځي. اوس ځان جوړ کړه چې زه درباندې حمله کوم . که زما حمله درولې شی نو ویي دروه ، ددې خبرې سره سم علي پاشا دتیمورلنګ پر لمسی باندې ور هئ کړل .
تر ډیره پورې یې یو په بل باندې ځان وړونکی حملې کولې ، یو بل ته یې د تورې د فن ، د ډال د استعمالولو دفن او د زاویي د بدلون په اړه او .... خطرناکې حملې رواني وې ، په دې حملو کې علي پاشا ډیر زر د تیمورلنګ په لمسي باندې غالب شوې و خو یو ځل بیا د زاویي په بدلون سره علي پاشا د تیمور لنګ لمسي ته یوه موقع ورکړه خو بیا یې خپل توره په داسې شان پرې را خوشې کړه چې د تیمورلنګ د لمسې اوږه یې ور پرې کړه .او ان د هغې د شا څخه ووته ، دتیمورلنګ لمسي د آسه پریوت او چیغو اوسورو یې ټول میدان و نیو. کله چې تاتاریانو خپل سالار په وینو رنګ د آس نه راپریوتې او پر زمکه لوغړیدلې وکوت ، نودهغوې تر منځ یو هنګامه جوړه شوه ، او په ډیره بیړه دتیمور لنګ په لښکر کې دا خبر خپور شو چې دسلطان بایزید یلدرم سپه سالار علي پاشا د تیمور لنګ لمسی وواژه .
دخبر په خبریدو سره سم دتیمورلنګ ددوو لکو لښکرو تر منځ د افراتفري یو ډیر بد حال را پیدا شو ، علي پاشا او د بایزید زوې ددې افراتفري څخه پوره ګټه پورته کړه ، د سترګو په رپ کې د ښار دروازې پرانستل شوې اوښاروال هم دخپل لښکر سره یو ځاې د انقرې د ښاره راووت ،اوپه تاتاریانو باندې یې حمله وکړه .
اوس نو د تیمور لښکر ددرې اړخونو څخه له منځه تّه. د تیمورلنګ ددې لښکر نه کوم وارث و اونه کوم لاربښوداو دجنګ قومنده ورکونکې و، ددرې اړخونو څخه دهغوې عامه وژنه پیل شوې وه ، هغوې نه د شمال لورې ته تښتیدلې شول ځکه دهغه لورې علي پاشا ددښمن دځپلو له پاره تیار کار پیلکړې و . په دې اساس په ډیره چټکۍ سره د هغوې د فوځونو شمیره مخ په کمیدو شوه ، اودجنوب له اړخه پرې همداسې کیفیبت د بایزید زوې ولیعهد محمد راوستې و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو دهغوي د ځانونو دخوندي کولو له پاره يواځې يوه لاره وه اوهغه هم دهيلس ددرياب په لور .نو کله چې هغوي متيقين شول چې جنګ کول بې کاره دي ،او ماتي دهغوي مقدر ګرځيدلي ده نو بيا هغوي ټول د هيلس ددرياب غاړې ته را وتښتيدل. خو دې لورې ته تيښته هم څه اسانه کار نه و..
علي پاشا ، وليعهد محمد او د انقري ښاروال دهغوي داسي تعقيب کړل چې په تيزۍ سره يې دهغوي وروسته ټول دتيغه تيرول او دهغوي شميره يې بيخي را ښکته کړه ، هغوي چې خوندي پاته شوی و دخپلو اسونو سره يو ځاې د هيلس په درياب کي ځانونه ور واچول خو علي پاشا ، وليعهدمحمد او دانقری ښاروال هغوي ته د تيښتي فرصت هم نه ورکاوه ، ځکه هغوي غوښتل د خپلي پخوانۍ ماتي بدله واخلي ، په دې خاطر ډيرو لږو ته د درياب څخه د تيريدلو فرصت تر لاسه شو .
دهيلس ددرياب اوبه د تيمور لنګ د لښکر په وينو باندې سرې وې .
د تيمورلنګ لښکرو ته د ماتي د ورکولو وروسته دهغوي هغه کسان چې ژوندي نيول شوي و هغوي ټول يې په يوه ځاې کي سره راټول کړل ، اوبيا علي پاشا د جنګ په ميدان کي هغه ځاې ته راغې چيرې چې دتيمورلنګ د لمسی لاش پروت و هغه د خپلي خورجين څخه يوه بنګه را وويسته ، هغه يې د تيمورلنګ د لمسي د وجود څخه په تلونکې وينه کي ککړه کړه ، پر هغې يې يو خط و ليکه ، لږه شيبه يې د خولي په پوکې هغه په وينه ليکل شوې خط وچ کړ. اوبيا يې هغه کاغذ سره قط کړ او په خپله خورجين کی يې وا چاوه .
هلته نژدې ولاړ وليعهد محمد او د انقري ښاروال د علي پاشا دا ټول کړچار د نژدې څخه کوت . په دې وخت وليعهد محمد دعلي پاشا څخه وپوښتل .
وروره ! تا خود تيمور لنګ د لمسي په وينه باندې دا کاغذ وليکه ، ايا زه ددې په مقصد او مطلب باندې پوهيدې شم ؟
علي پاشا دخپله ځايه راپورته شو او وليعهد ته يې وويلي :
زما وروره ! له ماسره را ځه ، ته به په خپله وګورې چې زه ددې ليک څخه څه ډول کار اخلم.
وليعهد محمد او د انقري ښاروال چپ چاپ د علي پاشا پسي روان شول ، علي پاشا دوې هغو عسکرو ته راوړل چې دتيمورلنګ د لمسي دلښکر خلک و . علي پاشا دهغو بنديانو څخه يو د خپل لاس په اشارې سره راوغوښت . بيا د تيمور دلمسي په وينو ليکلي کاغذ يې دهغه په لاس کي ورکړ او ورته يې وويل :
زه تاسې ټول ازادوم . تاسي بيرته خپل پړاو ته تللي شئ ، دغه کاغذ باندې ما دتيمورلنګ د لمسي په وينه يو ليک ليکلي دې ،کله چې تاسي خپل پړاو ته ورسيږئ نو دا کاغذبه شهنشاه تيمورلنګ ته ور کړئ ، اوس تاسې ټول ازاد ياست ، تاسې تللې شئ.
دعلي پاشا ددې پريکړې څخه بنديان تاتاريان ټول ډير زيات خوشحاله شول. بياد هغوې څخه يود علي پاشا خوا ته راغي او په ډير عجز او انکسار سره يې وويل :
مونږ ستا ممنون يو چې مونږ ته دې ازادي راکړه ،او مونږ دې پريښودو چې بيرته خپل پړاو ته ستانه شو . خو ته به له مونږ ه سره يوه بله مهرباني هم وکړې ،ته پوهيږې چې مونږ دومره اوږود واټن په پښو نه شو وهلې ،نو مونږ ته اجازه راکړه چې په هغو اسونو چې مونږ سپاره راغلي و بيرته په همغو اسونو سپاره ولاړ شو .
علي پاشا ورته ددې اجازه هم ورکړه ، هغوې په ډيرې خوشحالی سره هغه لورې ته ولاړل چيرې چې ددوی آسونه تړل شوي و. هلته يې خپل آسونه و لټول اوبيا چې کوم آس کوم يو ته په ګوتو ورته ، په همغه يې پښه اړوله اودخپل پړاو په لور ور روانيده . علي پاشا او وليعهد محمد هم دهيلس له دريابه را تير شول .هغوې د همدې غرنيو لمنو څخه تير شوې و او د تيمورلنګ په لښکرو باندې يې يرغل ور وستي و . د انقري ښاروال هم بيرته خپل لښکر د انقري ښار کي خپلو ځايو ته يوړ او په ښار کې يې ځان د پخوا په څير يو ځل بيا په محاصره کې واچوه .
***** ٥١

هلته په پړاو کي تيمورلنګ جشن جوړ کړې و . په دې جشن کي تيمورلنګ سلطان بايزيد هم د اوسپنې د پنجرې څخه را ويستلي و او په جشن کي يې را ګډ او ور ته يې د خپل ځان تر څنګ د ناستې ځاې برابر کړې و . دتيمورلنګ سالار نورالدين چې د بروصې د ولکي کولو څخه وروسته کومې خزاني او دسلطان د حرم څه وکړي له ځانه سره راوړي و هغوې يې هم د جشن په وخت کې دنمايش له پاره خلکو ته وړاندي کړل . سلطان بايزيد ته يې هم د هغه يوه جوړه کالي ورکړل چې وايي غوندی ،خو هغه د هغوکاليو د اغوستلو څخه ځان وژغوره ، مګر هغه چپنه يې چې دهغه د کوره د بروصې څخه را وستې وه هغه يې ورته په زور واغوستله ، هغه ته يې په زور عمامه (لونګۍ) ور په سر کړه او دشاهنشاهي نښې په څير يې هغه امصا هم په لاس کي ورکړه چې هغه به تل له ځانه سره په لاس کې ګرځوله .
ددې ټولو هر څه وروسته تيمورلنګ د جشن د پيلولو حکم وکړ . او ټولو هغو وينځو او د سلطان د حرم ښځو ته يې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بروصې څخه نورالدين را وستې وې ، حکم وکړ چې د خپلو سالارانو نه علاوه د اروپا نه راغليو ميلمنو ته هم شراب ورکړي ،
دبايزيد له پاره دا حال د زغم وړ نه و . په داسې حال کې چې خپل شاهي کالي يې په ځان کې و او ولاړ و نو ورته يې همغه شراب ور وړاندې کړل چې د خپلې نوې ناوې« ډسپنا» د را واده کولو وروسته يې د هغې په څښلو پيل کړې و. خو سلطان د شرابو د څښلو څخه منه والي وکړ . دهغه سترګې د سلطنتي کورنی په ټولو هغو ښايسته او ښکلو وينځو ، ښځو او نجونو باندې نښتې وې چې شر اب يې خلکو ته ورکول .
د بروصې ددې ښځواونجونو څخه يې د شرابو د ورکولو کار اخست . په دې ډله کې د سلطان بايزيد نوې محبوبه ډسپنا هم شامله وه . دبروصې هغه ښکلې او ښايسته ښځې چې نورالدين نيولې وې او له ځانه سره يې راوړې وې د هغوې يو شمير داسې وې چې ددې نه مخته يې دحرم څخه بيرون هم قدم نه و ايښودې . دهغوې حسن او ښکلتيا بې مثاله وه ، خو تيمورلنګ هغوې دومره ذليلې اورسوا کړې چې هغوې بې چاره ګانو په لوڅو ځانو خلکو ته د شرابو ورکول پيل کړ ل .
په دې جشن کې د اروپا دحکمرانانو څخه علاوه داسيا څه پادشاهان هم ناست و چې تيمور لنګ ددې جشن له پاره په ځانګړی توګه را بللې و. په دې وخت کې ټولو پادشاهانو د سلطان بايزيد يلدرم په لورې کتل . يوشمير د سلطان په حال باندې حيران و او په تعجب يې ورته کتل ، يو شمير نورو غوښتل چې ښه او نرم سلوک ورسره وشي ، خو بايزيد په خپل ځاې باندې چپ چاپ ناست و او هغو شرابو ته چې تر مخ ورته ايښول شوي و لاس هم ور نه وړ .
هغه وخت چې د فتحې دا جشن په پوره جوش کې و نو دتيمورلنګ ساتونکې دننه راغې ، دهغه مخ باندې د انديښنو سيورې را پريوتې و . هغه تيمورلنګ ته را نژدې شو او په ډير رازدانه توګه يې ورته وويل :
اقا!د انقرې څخه يو څو کسه سواره راغلي دي ، هغوې غواړی له تاسره ووينی.
تيمورلنګ هغه وخت د شرابو او فتحې په جشن کې مست و ، خپل ساتونکې ته يې وويل : ته دا خبرې ولې دومره پټې ماته کوې ؟ په لوړ اواز يېووايه تر څو زما تر څنګ ناست بايزيد يې هم واوري ، بايزيد ته وګوره د هغه زوې موسې هم دلته ناست دې . هغه خبره چې ته کوې دهغوې غوږونو ته يې هم ورسوه ، ددې نه علاوه دلته چې په دې جشن کې څومره خلک ناست دی هغوې ټولو ته يې هم اعلان کړه . ځکه چې زه ډاډه يم چې د انقرې څخه چې کوم سواره راغلي دي هغوې به خامخا زما د لمسي محمد د فتحې خبر راوړي وي .
په دې وخت کې د تيمورلنګ ساتونکې غوښتل څه نور هم ووايي ، خو تيمورلنګ پرلپسې خبرې کولې اوده ته يې د ويلو فرصت نه ورکاوه ، هغه يو ځل بيا خپل ساتونکی ته وکتل او ورته يې وويل : اوس نو ته ما په خبرو کې مه را نښلوه او دجشن دا خوشحالي را باندې مه کموه . ولاړ شه اود انقرې څخه د راغلي سورو څخه چې کوم يې ډير مهم دې ماته راوړه ، هغه چې څه وايې نو وابه يې ورم . ځکه زه ډاډمن يم چې هغوې به ماته زما د لمسي د سوبې خبر راوستي وي . اوس ورځه ، وخت مه ضايع کوه ،دهغوې د ډلې څخه يو کس ماته را واستوه ، تر څو دخپل لمسي د پيغام څخه خبر شم .
څرنګه چې ساتونکې غوښتل تيمورلنګ ته لږ څه نور هم ووايې خو د تيمورلنګ وينا هغه په شک اوتردد کې واچاوه ، هغه د ډير يو تذبذب په حال کې د تيمور لنګ د خوا څخه لرې شو او ولاړ .
د تيمورلنګ او د هغه د ساتونکې تر منځ خبرو سلطان بايزيد او دهغه زوې موسې هم متوجه کړې و . هغوې هم په ډيره توجه او غور سره د هغوې خبرې اوريدې . اوس نو سلطان بايزيد اودهغه زوي موسې د تيمورلنګ د سترګو لاندې هغه لورې ته کتل چې ساتونکې ترې راغلې و.
لږه شيبه وروسته يو وسله وال کس تيمور لنګ ته راغې ، زمکې ته يې کتل او تيمورلنګ ته يې احترام وړاندې کړ. او ورته يې وويل:
اقا! ستا ساتونکې زه تاته را ليږلې يم . زه د انقرې څخه راغلي يم اوله ماسره تاته يو پيغام دې .
تيمورلنګ په ډير غور سره وسلوال ځوان ته وکتل ، او ورته يې وويل : چې که له تاسره کوم پيغام وی نو ولې ځند کوې سمدستي يې ووايه .
په دې وخت کې هغه ځوان خپلو کاليوته لاس کړ او د يو قط شوې کاغذ يې د تيمور لنګ په لاس کې ورکړ ، اوبيا په ډير افسوس سره وويل : اقا ! هغه څه چې زه ويل غواړم ، زما په ژبه باندې ښه نه شکار ی چې وي وايم ، ته پخپله خط ولوله ، دا ليک د بايزيد يلدرم دسپه سالار علي پاشا له لورې دې .
د علي پاشا د نوم په اوريدو سره د سلطا بايزيد او دهغه د زوې موسې په سترګو کې يو قسم نور او رڼا را پيدا شوه ، او په ډيره بې قرارئ سره يې کله تيمورلنګ ته اوکله هغه وسلوال ځواته کتل چې د خپل لښکر څخه دلته راغلې و.
دسلطان بايزيد د سترګو تر مخ تيمورلنګ هغه کاغذ پرانست ، دا همغه کاغذ و چې علی پاشا د تيمورلنګ د لمسی په وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکلي و . کله چې تيمور لنګ هغه کاغذ لوست نو سلطان بايزيد اودهغه زوی موسی هم په هغه ليک باندې سترګې نښلولې وې. او په ډېره چټکۍ سره يې په وينو ليکلی دا کاغذ ولوست . په دې کاغذ کې ليکل شوي و:
تيمورلنګه ! ته دخپلو وينه تويونکو ارزوګانو له پاره يو حيله ناک ، ظالم او د انساني اخلاقو نه عاري انسان يې . ته د خير وشر تر منځه د توپير نه خبر نه يې . ته کولی شي په لارو کې صليبونه و دروې اوپه لاسونوکې خلکو ته دميخونو دټک وهلو پوهه و لرې ، اې د سمرقند ليوه ! واوره ! هغه خبر چې زه ددې ليک په واسطه تا ته درکول غواړم ، دهغه په اوريدو به ستا حهره په خولو کې ډوبه شي او ستاپه سترګو کې به د فنا فکر را خپور شی . اوستا حال به په تيرو کې د بيدونکي ويني په څير وګرځي .
تيمور لنګه !ستا ژوند په وينه تويونکو تعبيرونو باندې ولاړ دې ،ته د نورو د وينو په واسطه د خپلوغوښتنواو هيلو رنګينونکې يې ، خو نن ما ستا د ځان آينه کې زنګ او ستا د روح په ساغر کې زهر وا چول .
دا ليک زه علي پاشا تاته ليکم . تا به اوريدلې وي چې علي پاشا د سلطان بايزيد يلدرم يو سالار دې. تيمورلنګه ،علی پاشا به ستا له پاره دزهرو يوه بګوله ،اودسلطان بايزيد له پاره د هغه يو خدمت ګار او دهغه په غم کې دهغه ملګری او دهغه ممنون او مشکودر زوی اوسي .
تيمورلنګه ! داليک چې دا اوس يې ته لولې ، ما ستا دلمسي ، ستا د وليعهد محمد په وينه ليکلي دې ، د انقري به جنګ کې ما هغه ته ماتې ورکړه اوهغه مي له منځه يوړ . تيمورلنګه ! اوس نو خپله اوزمونږ سوبه سره موازنه کړه ، هغه جنګ چې تا زمونږ سره پخوا وکړ نو په هغه کې تا زمونږ نږدې څلويښت زره سپاهيان له منځه يوړل ،او زمونږ محترم سلطان بايزيد دې له ځانه سره قيدی کړ .
هغه جنګ چې مونږ د انقري په چاپيريا ل کې ستا د لمسي اووليعهد محمد سره وکړ نو به هغه کې مو ستا نږدې دوه لکه فوځونه له منځه يوړل اوستا لمسي محمد مو قتل کړ . اوس ته په خپله فکر وکړه چې په دې جنګ کې څوک فاتح دی ، ته ، او که مونږه . زه پوهيږم چې ددې ليک په لوستلو سره به هغه جشن چې ته يې همدا اوس لمانځې ودروي ، اوستا جشن درول به ددې خبرې ګواه وي چې تاته فتح نه بلکه ماته درکړل شوي ده .
تيمورلنګه ! ته څه فکر کوې چې ته به زمونږدترکانو جرأت هسې په ټوکو مسخرو باندې واخلې ؟ او زمونږد تاريخ طلايی باب به له يوه سره له منځه يوسې ، هيڅکله هم نه ، مونږدخپلې زمکې امينان يو ، تيمورلنګه! اوس خو اصل جنګ پيل شو، يواځې دوه درې کاله نه ، بلکه مونږ تر پيړيو پيړيو پورې ستا سره دمقابلې توان لرو. زمونږد سلطان په پنجره کې د بندولو څخه تا څه فکر کړې چې ته به فاتح وګرځې ؟ مونږ به دلوح و قلم رڼا شو او تا به تعقيب کړو . تيمورلنګه ! مونږ په خپلو کوڅو کې د وينو خوب ، په سترګو کې لوږه او نارو غتيا نڅونکې نه شو کتلی .
تيمور لنګه ! ما علي پاشا اود سلطان بايزيد زوی وليعهد محمد د خپلو لښکرو سره ستا لمسي اوستا لښکر له منځه يوړ .او اوس بيرته د هيلس ددرياب څخه تيرشوي يو او په غرنيو لمنو کې ځای په ځای شوي يو . که چيرې ته دخپل لمسي د انتقام اخستلو جرأت لرې نوبيا را مخته شه ، ملا وتړه او دغه غرنيو لمنو ته را ننوځه چې مونږ په کې همدا اوس موجود يو . زه تاته د مقابلې بلنه درکوم . که چيرې تا له مونږ ه سره په دې غرنيو سيموکې جنګ وکړ نو په خدای سوګند چې مونږ به ستا د ګوتو سرونو د وينو په چينو باندې بدل کړو .
زه پوهيږم چې زماد ليک په لوستلو سره به ستا د دعا په لاس کې غم ، انديښنې او مصيبت نه اخوا نور څه پاته نه شي . اې په مسلمان قوم باندې جبرکونکيه سوداګره ! واوره ! ، دا د ستر خدای له اړخه عذاب وګڼه . تيمور لنګه ! ته د اسلامي امت ډير ستر دښمن يې ، ته تل د خپلو له پاره دشپې صليب دروی ، ته د غمونو په دې وخت کې دمسلمانانو له پاره تل دترخې وژونکې دوا ګولې تياروې ، اوس نو دمرګ دغه نشتر ، اودا وينه تويونه لږ څه د ځان له پاره هم قبوله کړه ، تيمورلنګه ! ته فاتح نه يې بلکه مفتوح يې ، مونږ تاته ډير بده ماتې درکړې ،تا زمونږ څلويښت زره عسکر له منځه وړ ي خو مونږ ستا دوه لکه له منځه يوړل ، خوتيمورلنګه ! مونږ تښتيدلي نه يو . همدلته يو ، که چيرې همت لرې نو دغه غرنيو لمنو ته راشه او بيا مقابله و ګوره .
د علي پاشا دغه خط چې د تيمورلنګ د لمسي په وينه يې ليکلي و همدلته ختم شو . ددې ليک د لوستلو نه وروسته د تيمورلنګ حالات داسې بدل شول لکه داسمان څخه چې پرې تندر ر ا نازل شوي وی ،دا سې احساس کيده چې د هغه د ذات دداخلي دنيا ټولې سطحې دې خبر لړزولې او ټوټه ټوټه کړی وي .
دخط د لوستلو وروسته تيمورلنګ دلاش په قسم زير و ګرزيد ، او چپ شو .د هغه سر لاندې پريوتې و. په دې وخت کې په ډير ه ارامه توګه سلطان بايزيد هغه ته وويل :
تيمورلنګه ! تر اوسه پورې په ترکانو کې داسې ځوانان شته چې د خپلې خاورې څخه دګلبڼ د جوړولو په فن ښه پوهيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمورلنګ د سلطا ن بایزید ددې خبرو ځوا ب ورنه کړ ، چپ چاپ او په غم کې ډوب پر خپل ځاې ناست و . نو سلطان بایزید یو ځل بیا تیمورلنګ ته مخ کړ او ورته یې وویل:

تیمورلنګه ! وخت ټول عمر یو شانته نه وي . زه تا دخپله ځانه سره بندی کړې یم . بې شکه چې دا به ستا کامیابي اوبرې وې ، خو هغه ضربه چې زما زوې علي پاشا تاسې ته درکړې ده هغه هم کمه نه ده . دې ته د قدرت احتساب وایې او دا د خداې له اړخه مکافات وګڼه . تیمورلنګه ! زه پوهیږم چې ددې خبر نه وروسته به ته جشن و دروې ، په دې خاطر ما ته اجازه راکړه چې خپلې پنجرې ته ولاړ شم ، له ماسره دې خپل ساتونکې ولیږه .

تیمورلنګ په خوله څه و نه ویل ، خپلو څو کسو ساتونکو ته یې اشاره وکړه ، اوهغوې سلطان او دهغه زوې موسې د پنجرې په لور یوړل اوهلته یې بند کړل. موسې دخپل پلار د پنجرې مختته کیناست .

سلطان په پنجرې کې ناست په څه فکرونوکې ډوب و ،ناڅاپه په سجده شو او په ډېره عاجزۍ سره یې خداې ته سوال وکړ .

اې قدوس خدایه ! اې مهربانه خالقه ! یا حي یا قیوم ! تا په څومره ښه توګه ظالمانو ته د هغوې د کړو سزا په همدې زمکه باندې ورکړه ، اې زما ربه ! تا چې زمونږ نصرت او کومک کړې زه ستا د ډېر عاجز بنده په حیث دهغې ډېر زیات شکر کونکې او ممنون یم .

ددې سره سم سلطان د سجدې څخه را پورته شو اوبیا پر خپل ځاې تر ډېره پورې په فکر کې ډوب ناست و چې یو ناڅاپه ورته فکر راغې ، اوداوسپني د پنجرې څخه یې بیرون کتل او ویل یې :

علي پاشا زویه ! تا د وطن ګټو ته تازه روح او نوې جرأت ورکړ . تا څومره په حکمت سره دښمن په خپلو وینوکې لت پت کړ .اې زما دقوم اوناموس ساتونکیه ! زه ستا جرأت ، میړانې ، شجاعت او بهادرۍ ته سلام کوم . زویه ! تا په څومره ښه کمال سره د تیمورلنګ فکر ونه خپاره کړل ، او دهغه اطمینان او ډاډ دې په وینوکې و لمباوه ، دهغه د فوځ غرور دې ور مات کړ ، اود هغه امیدونه اوهیلې دې په ویره او بې غیرتۍ بدلې کړې ، زما زویه ! ته رښتیا هم دخپلو زمکو د ازادۍ یو ستر عزت ،د خپل وطن د قوت او عظمت ستر ه نښه یې .زه یو ځل بیا ستا ځان ځارنې ، ستا سر تیرۍ ، ستا عظمت او ستا جرأت ته سلام وړاندې کوم .

سلطان تردې ځایه خپل فکر کې روان و خو ودرید، ځکه چې هغه ته د تیمورلنګ د لښکر څخه د کومې ښځې د تکلیف چیغې ، ژړا او په زوره زوره واویلا تر غوږو شوه ، په دې وخت کې سلطان د خپل ځان سره نزدې ناست خپل زوې موسې ته غوښتل څه ووایې چې ټکان یې و خوړ . ځکه چې د سلطان ښځه ډسپنا دهغه دپنجرې په لور را روانه وه.

څنګه چې دسلطان زوې خپل ناسکه مور ډسپنا د پنجرې په لور را روانه وکتله ، نو دهغې د عزت او دهغې عظمت په خاطر د خپله ځایه پورته شو. ډسپنا را نزدې شوه او په خندا یې موسې ته د بیرته کیناستو اشاره وکړه ،او په ډېره خوشحاله خوله یې موسې ته وویل :

زما زویه ! په خپل ځاې کینه !

تر څنګ یې ډسپنا په خپله هم په لوڅه زمکه کیناسته ،او د سلطان بایزید اوسپنیزې پنجرې ته یې تکیه وکړه ، خو پخوا له دې چې سلطان ورته څه ووایې ډسپنا ورته مخ کړ او ویې ویل :

ما ته تیمورلنګ د بندې خانې او غلامۍ څخه ازادی راکړه او ستا تر څنګ یې داوسیدو حکم راته وکړ . اوس به زه دخپل زوې موسې په څیر ستا د پنجرې تر څنګ ناسته یم او ستا خدمت به کوم .

د ډسپنا په دې خبرو باندې د سلطان په مخ د اطمنیان اوډاډ نښې را ښکار ه شوې .

ډسپنا ! ته یې اورې کومه ښځه ژاړي ، چیغې وهی، ..ایا تو پوهیږي چې دا به څوک وي ؟

دسلطان بایزید په دې خبره ډسپنا په ډېره ارامه توګه او په محبت سره سلطان ته وویل چې :

هغه ښځې چې ژړا او واویلا کوي هغه یوه د تیمورلنګ نګور ، دهغه د لمسی محمد ښځه اوبله د مړشوي ولیعهد مور ده .

هغوې ته دعلي پاشا په لاسو دتیمورلنګ د لمسي د وژلو خبر ورکړل شوي دې .

سلطان بایزید یلدرم تر یوه وخت پورې چپ ناست و . خو وروسته یې بیا ډسپنا ته وویلې :

ډسپنا ! زما زوې علي پاشا تیمورلنګ ته یولیک را استولي دې . کیدې شي د خط د مضمون په اړه به تاته چا څه ویلي وي ، کله یې چې دا خط تیمورلنګ ته راوست ، نو په هغه وخت کې هغه جشن لمانځه ، زه هم هلته د تیمورلنګ تر څنګ ناست وم ، ما هم هغه خط ولوست ، هغه لیک علي پاشا د تیمورلنګ د لمسی په وینه باندې لیکلي و او راالیږلي یی و. په هغه کې یی ورته لیکلي و چې که تا زمونږ څلوینښت زره عسکر وژلې نو ما ستا دوه لکه له منځه وړې دي ، هغه په دغه لیک کې تیمورلنګ ته چلنج هم ورکړې و چې که رښتیا هم جنګجو وی نو د هیلس ددریاب څخه دې را تیر شي او دغرونو دغه لمنو ته دې دجنګ اوانتقام له پاره راشي . زه او ولیعهد محمد به ورته منتظر اوسو . ډسپنا ! ګوره چې تیمورلنګ به دعلي پاشا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لیک ځواب څه ډول ورکوي ، ایا دهغه پرخلاف به کوم عمل کوي او یا دهغه پرخلاف به دغه غرنۍ سیمې چې علي پاشا او زما زوي محمد په کې دي ، محاصره کوي .
په دې وخت کې د ډسپینا په مخ باندې خندا را خپره شوه . بیا یې سلطان ته وویلي :
درونده سلطانه ! دا تیمورلنګ هیڅ هم نه شي کولی ، هغه د علي پاشا چلنج نه دې منلی ، بلکه زه به تا ته دا ډاګیزه کړم چې تیمورلنګ خپل لښکرته د سمرقند په لور د کوچ کولو حکم کړې دې . کیداې شي هغوې د هیلس ددریاب په غاړه په غرنیو لمنو کې د علي پاشا او ولیعهد سره مخامخ کیدل نه غواړي ، زه فکر کوم چې په همدې خاطر هغه ددې ځایه دکوچ کول تابیا کړی ده ، هغه ددې نه ویریږي چې هسې نه چې علي پاشا اوولیعهد محمد پرهغوې دلته هم یرغل را نه وړي .او ددې لښکر ته نه تلافي کونکي زیان ور ورسوی.
د ډسپینا داخبره سهي ثابته شوه ، ځکه چې لږه شیبه وروسته تیمورلنګ خپل پړاو ختم کړ او هر څه یې په اوښانو او نور و باریدونکو حیواناتو باندې بار کړل او هغه اته لکه لښکر یې چې د سمرقند څخه له ځانه سره راوستی و او په هغه لښکر کې دخوشحالۍ نغاری وهل کیدی او د سوبې او فتحې جشنونو له پاره په کې تیارې نیول کیده ،اوس د هغې څخه د تیمورلنګ دلمسي په ګډون دوه لکه له منځه تللي و. کله چې تیمورلنګ د شپږو لکو لښکرو سره بیرته د سمر قند په لور ته ، نو بیا په هغه لښکر کې یې د خپل لمسي په غم کې تورې جنډې پورته کړې وې . او هرې لورې ته چپه چپتیا وه.
پرلپسې لري .....

دقریب الرحمن سعید ژباړه

عثماني امپراطوري او پر خلاف یي د صلیبیانو سازشونه (۲۹مه )

مکمل غیرسیاسي : یو تاریخي په زړه پورې ناول .

زمونږ د هیواد ګوډ تیمور څوک دې ؟

اوس تاسي ددې تاریخي ناول نهه ویشتمه برخه لولئ :

پرلپسې **** ۵۲

هسې خو تیمورلنګ فکر کاوه چې هغه د ترکي عثمانیانو سلطنت ورختم کړې او اوس د سمرقند په لور روان دې ، ځکه چې سلطان بایزید دهغه سره بندي و او دسلطان زوې هم دهغه سره روان و . د سلطان سپه سالار علي پاشا او دهغه زوي ولیعهد د سترګو نه ورک و . او رینښتیا هم په څرګنده تو ګه داسې بریښیده چې د عثمانیانو سلطنت د تل له پاره له منځه ولاړ . خو راتلونکې وختو ډیره ژر دا خبره غلطه ثابته کړه . خوبیا هم هغه وخت چې تیمورلنګ په عثماني سلطنت باندی ګذار وکړ او بیرته سمرقند ته روان و نو په اروپا کې ډیرو دښمنانو دهمدې حالاتو انتظار کاوه ، او غوښتل یې چې د ترکانو څخه خپلې د لاسه تللې زمکې بیرته واخلي .
که څه دا دهغوې له پاره ډیره خطرناکه مرحله او خطرناکه لوبه وه . خو بیا هم هنګری ، بلغاریه ،دالاچي ، او ډیرو نورو زمکو کې بغاوتونو او سرکشیو سرونه را پورته کړل . یعنې هغوې د تیمورلنګ د حملې په اساس عثماني ترکان د تل له پاره مړه تصور کړي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د ترکانو دژوند قوت او نمو په حیرانونکي توګه څه ځانګړتیاوي لري . ډیر ځله به یوهانو ددی امپراطورۍ د تباهی وړاند وینه کوله خو بیا به هم دا سلطنت قایم او دایم و. ولایت ولایت ددې سلطنت څخه جدا شوی هم دي خوبیا به هم ترک عثماني سلطنت په پراخه زمکه باندې په پوره عزم اودبدبه کې قایم او دایم و.

ډیر زیات داسې هم کتل شویدي چې عثماني حکمرانان ، که هر څومره هم ډیر کم د حکمرانۍ په ځانګړتیاو باندي متصف و خو د خپلې تورې په زور یې تل مفتوحه رعایا ارام کړې دي . د حیرانتیا خبره ده چې عزت او وقار که هر څومره پاته شوني څیز نه دي او که دهغوې ځواک څومره هم متزلزل و خو بیا یې هم خپل ځواک په ځای ساتلې او دد ښمن په مقابل کې خم شوي نه دي.

کله چې د تیمورلنګ لښکر د فاسفور س د بحیرې د جنوبي ساحل څخه تیریده اوعثماني سلطنت د خوب څخه رابیداریده او په خپلو دلاسه تللو مفتوحه اروپایي سیمو باندې یې بیا د ولکې کولو هڅې کولې ، نو هر چا دا فکر کاوه چې د تیمورلنګ ددې ضربې په واسطه عثماني سلطنت نور له منځه تللې د ی ، خو قدرت د ترکانو په وجودونو کې د ژوند نوې نښې نښانې راپیدا کړې اوپه ډیره لږه موده کې د سلطان بایزیدیلدرم زوي ولیعهد محمد دخپل ځواک او وړتیا په سبب ټولې هغه سیمي بیرته دعثماني سلطنت برخې و ګرځولې چې ترې جلا شوي وې. عثماني سلطنت دتیمورلنګ د دې تباه کونکي ګذار څخه هم و نه مړ . بلکه خپل ځواکونه یې بیرته سره راټول کړل اود پخوا څخه یی زیاد په پوره شجاعت او میړانې سره داسې کارونه تر سره کړل چې تاریخ یې مثال نه لري اودا ټول د علي پاشا او ولیعهد محمد د یوځای کار کولو ، د هغوې دپوهې ، شجاعت ، زړه ورتیا او میرانی په سبب وشول.

مشهور یوناني تاریخ پوه «فنلي » د عثماني سلطنت حیرانونکي ځواک او کمزورتیا څخه بیرته ځواک ته د راګرزیدو په هکله ډیر څه لیکلي دي لکه چې وایي :

د عثماني ترکانو د حکومت جوړښت ، په عیسایي ډیره کیو سیمو باندې د ډیرو لږو مسلمانانو حمله او دهغوې سیمي لاندې کول او پر هغوې باندې بریاوې تر لاسه کول او د متمدنو هیوادونو د اوسیدونکو په مقابل کې د غیرمتمدنو قومونو دوباره ابادول د هغوې اخرین مثال دې .

هغه مخته لیکي چې:

ددې تر مخه، ګات، جرمنیانو او رومیانو هم د همداسې ځواک او قوت څرګندونه کړې وه ، اوداسې حکومتونه یې جوړ کړی و لکه څنګه چې د عثماني سلطنت تر ولکې لاندې مختلف قومونه ،رنګونه او نژادونه سره را ټول او اباد شوی و . خو د ګات ، جرمنیانو ، رومیانو او ترکانو تر منځ ډیر زیات توپیر موجود دی .

هغه لیکي چې : ګاتیانو ، جرمنیانو او رومیانو خپل رعیت په زور دخپلې سلطې لاندې را ټول کړې و خود ترکانو کار څه بل منګه و . ځکه چې هغوې تر خپل بیرغ لاندې بې شمیره مسلمان او عیسایي قبایل را ټول او دهغوې تر منځ یې داسې ټولنه جوړه کړې وه چې په خوشحالۍ سره یې دهغوې محکمې او پریکړې منلې . په ډیر عزت او احترام سره یې عثمانیانو او دهغوې ځای ناستو ته کتل او همدا دهغوې د فوقیت او لوړتیا ثبوت و. که څه هم څه نورو وحشي قومونو هم همداسې په زور ځواک تر لاسه کړې و اوشتمن ولایتونه یې یو په بل پسې نیول. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ټول دهغوی په عیش او عشرت او بداخلاقیو کې مصرفیدل. عثمانیانو د خپل عظمت ، ځواک او خپلې برترۍ له پاره د انسانیت لوړتیا معیار وګرځاوله ، او په ډیرې نیکې طر یقې سره یې د خپل لاس لاندې مختلف قومونه خوشحاله او هوسا و ساتل .

فنلي مخته لیکي چې : د عثمانیانو لمړی پادشا اورخان او دهغه ورور علاؤالدین و . دوې دحکومت په نظم او جوړښت کې ډیره زیاته پوهه درلوده ، هغوې د عدل ، تنظیم او فوځي امورو له پاره خپلو لښکرو ته ځانګړی روزینز نظا م جوړ کړی و .او دا دعثماني سلطنت د ځواک سر چینه شمیرل کیږي . دې خلکو د عثماني سلطنت تر واک لاندې دخپلو خپلوانو ، دوستانو او د خپل مورني وطن سره خپل ټول اړیکې پرې کړې و اویواځې او یوځې دسلطان په لمن کې سره راټول شوی و . دهغې فرمانبردار او پر هغه یې ویاړ محسوساوه .

بیا د دهغوې د نورې زیاتې حوصلې په خاطرد عثماني ترک سلاطینو له اړخه هغوې ته ځانګړې روزنه ،تربیه ، ترقي ، اعزاز، او مراتب ورکول کیدل ، چې دهغې په واسطه دهغوې په حوصلوکې ، دهغوې په ولولو کې ډ اډ او دهغوې په هیلو کې یوه نوې جذبه را ټوکیده ، او د هر وخت نه په زیات د عثماني ترکانو تابع او مطیع ګرزیدل.

دا د عثماني ترکانو داخلاقي ، تمدني او دهغوې د کړچار ، د هغوې د صاف اوپاک سلوک اغیزو چې مسلمانان اوعیسایانو دوه مختلف النوع قومونه په یوې لومې کې داسې را نښتي و لکه څنګه چې یو وخت دروم په شهنشاهیت کې ټول ولایتونه تر یوه مرکزه پورې تړل شوي او متحد و . دې خلکو سلطاني بیرغ په فاتحانه توګه رپاوه ، اودهمدې بیرغ په رپیدو سره د اسیا تر زړه او د اروپا او افریقا تر ساحلونو پورې ورسیدل.

په هرصورت دا یوه پریکړې خبره ده چې کله چې هم عثماني ترکان په کوم ازمیښت کې اچول شوي دي نوهغوې د یوه نوې ځواک سره بیرته ظهور کړې دې ، او همدا ډول حالات په دغه وخت کې هم تکرارشول .

تیمورلنګ د خپلو اتو لکو فوځونو په واسطه دعثمانیانو سلطنت تباه کړ ، دهغوې سلطان یې و نیوه ،او دخپله ځانه سره یې سمرقند ته روا ن کړ ې و . خو د عثماني سلطنت رعب ا و دبدبه په همغو سیمو کې لا هماغسې پاته وه . او ددې ځواک د بیرته را پورته کولو ټول کره وړه د علي پاشا او ولیعهد د پو هې ، اتحاد ، زړه ورتیا ، شجاعت ، او ځان ځارنی پورې را نغښتي و .

دبلې خوا نه کله چې اروپایانو ته خبر ورسید چې بایزید یلدرم د تیمورلنګ له خوا بندي شوي دې او هغه یې د اوسپنې په پنجره کې بندې له ځانه سره سمرقند ته روان کړي دې نو په اروپا کې دځواونیو له پاره د فتح اوسوبې جشن لمانځل کیده . کله چې هغوې ته دا خبر را ورسید چې د عثماني سلطنت د تیمورلنګ له خوا بلکل تر پښو لاندې شوی دې نو هغوې د عثماني ترکانو څخه دبدلې د اخستلو هوډ وکړ .

ددې مقصد له پاره اروپایي صلیبیانو یو ځل بیا خپل ځواک سره را ټول کړ . او دټولو ځواکونو تر منځ دخپلمنځې سلا مشورو وروسته دا پریکړه و شوه چې یو ستر لښکر ، لکه د پخوا په څیر، د نایکوپولس د ښار په څنډو کې سره راټول کړي . اول د ترکانو تر ولکې لاندې ټولې اروپایي سیمې بیرته ترخپلې ولکې لاندې راوړي ، هلته خپل ځانونه منظم او ځواکونه منسجم کړي ، اودهغې وروسته د فاسفورس د بحیرې څخه تیر شي او د ترکانو اسیاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکز د تباهی او بربادۍ وروسته ولکه کړی او په دې تر تیب د عثماني ترکانو ټوله سیمه تر خپلې ولکې لاندې راوړې .

هغوې دخپلو ارادو د پوره کولو له پاره په ډیره چټکه توګه صلیبي ځواکونه سره را ټول کړل او د نایکوپولس د ښار سره یې ځای په ځای کړل .

که څه هم تیمورلنګ په خپل فکر کې عثماني سلطنت له منځه وړې و ، خودا دهغه خام خیالي وه ، ځکه د تیمورلنګ د مړیني وروسته پخپله دهغه سلطنت او پادشاهي دوړی وړې شوه ، خو دسلطان بایزید د مړیني وروسته دهغه سلطنت نور هم ځواکمن اوقوي را څرګند شو.

د بایزید د نیولو اودهغې د مړیني وروسته ترکانو ته داسې یو شجاع ، با انصافه ، زړه ور ، زغم کونکې او ازاد فکره سلطان ته اړتیا وه چې د تیمورلنګ دمظالمو او تیریو تلافي وکړاې شی او عثماني سلطنت بیرته خپل هغه عروج او لوړتیا و ته ورسوی چې د تیمورلنګ د یرغل د مخه و .

د سلطان بایزید یلدرم په زوې ولیعهد محمد کې دا ټولې خوبیاني را ټولې شوي وې ، یونانیانو به دې ولیعهد ته د اوښ په څیر د ازاد مزاج خاوند وایه . عثماني سلطنت چې څومره د خپلو اخلافو او اسلافو د جنګي وړتیا و احسان مند دي نو همغومره د ولیعهد محمد د ذکاوت ، او محتاط طبیعت احسان مند هم دی ..

هیڅ شاهي کورنۍ دداسې ذکي حکمرانانو او ځای ناستو په پرلپسې والې باندې دومره ویاړ نه شي کولی لکه څومره چې عثماني سلطنت حکمرانانو په څوارلسمه ، پنځلسمه ، شپاړسمه او اولسمه پیړۍ کې شهرت پیدا کړ او خپل سلطنت یې عروج ته ورساوه .

د عثمانیانو عروج د سلطان اورخان څخه پیل شوي و، چې دخپل پلار عثمان وروسته یې دعثماني سلطنت دنسټ ډبره کیښوده ، دهغې کورنۍ دویم کس چې د جنګ په ډګرونو کې یې دښمن ډیرې ډیري را وپرځول هغه مراد اول دې ، دریم یې سلطان بایزید یلدرم دې چې د نایکوپولس په میدانو کې یې د صلیبیانو متحده ځواک ته ماتی ورکړه او هغوې یې دپوره تباهۍ سره مخ کړل . څلورم کس د بایزیدیلدرم زوې ولیعهد محمد و چې د ترکانو درالویدلې مانۍ معمار دې . پنځم یې مراد ثاني دې چې سکندر یې پرې نښود چې د ترکانو پر خلاف د سترګو د راپورته کولو جرأت هم و نه کړي . شپږم یې محمد ثاني دې چې قسطنطنیه یې ونیوله او د عثماني سلطنت برخه یې و ګرځوله ، اوم یې اول سلیم دې چې کردستان ، سوریه او مصر یې د عثماني سلطنت برخه وګرځول ، او اتم یې سلیمان عالیشان دې چې نه یواځې د موهاکو د میدانو فاتح و بلکه د ویانا دروازه یې هم ور وهله ،او دسمندرونو له لارې یې دخپل امیر البحر په تعاون سره د اروپایانو ټول بحري ځواکونه سره مات را مات کړل.

په هیڅ هیواد کې په پرلپسې توګه داسې ځاېناستي نه دې تیر شوي اونه دداسې حکمرانانو د ځای ناستو له اړخه دوه پیړۍ په پرلپسې توګه حکومت شوې او خپلې واکمنۍ ته یې پراختیا ورکړي ده .

علي پاشا او ولي عهد محمد دهیلس ددریاب دې غاړې ته په غرنیو لمنو کې قیام وکړ ، دهغوې سره د خوراک څښنا ک کافي ذخیره موجوده وه . وسله یې هم په کافي اندازه درلوده ،نو هغوې ډاډمن و خو بیا تر اوسه پورې هغوې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تیمورلنګ له اړخه کوم عکس العمل رانغي ، خو ددې سره سره دوې هیله من و او دهمدې له پاره یې خپل تکړه جاسوسان ټاکلي و.
علي پاشا د تیمورلنګ لمسی وژلې و او بیا یې د هغه په وینه تیمورلنګ ته د سپکاوي ډک لیک لیکلي و او وراستولې یې و . په دې خاطر علي پاشا او لیعهد محمد د تیمورلنګ له اړخه دکومې ناڅاپې یرغل اویا شپیني یرغل منتظر و .او هر وخت یې دا خطر هم احساساوه . نو په دې خاطر دهر ناڅاپې یرغل په مقابل کې تیار ولاړو .
۵۳ *****
یوه ورځ د ماښام د مخه علي پاشا او ولیعهد محمد دواړه ولاړ و اود لښکرو له پاره یې د ډوډۍ دتیارولو څارنه کوله چې څو کسه سپاره دهغوې لورې ته په ګړندی توګه را ورسیدل . هغوې علي پاشا او ولیعهد محمد ته د رارسیدو سره سم خپل آسونه ودرول او دخپلو اسونو څخه راښکته شول . علي پاشا او ولیعهد محمد هغوې دواړه و پیژندل ، هغوې ډیر باوري مخبران وو. دهغوې په لور په کتلو سره علي پاشا او ولیعهد محمد دواړه ډیر هیله من شوي و او په پلټونکي توګه یې خپلو مخبرانو ته کتل . دخپلو اسونو څخه د را ښکته کیدو سره سم دهغو مخبرانو څخه یوه وویل :
سلطان محمد بن بایزید: اودروند امیر علي پاشا ! تاسې دواړو ته دوه ډیر بد خبرونه او دوه ډیر ښه خبرونه مونږ له ځانه سره لرو.
څرنګه چې راغلي مخبر ولیعهد محمد ته د سلطان خطاب وکړ نو ولیعهد محمد هغه ته په ډیرو خیره سترګو و کتل ، مخبر هم په همغه ډول هغوې ته وکتل او ورته یې وویل :
سلطان محمد بن بایزید ! زه ستا د سترګو په کتلو باندې پوه شوم خو زه د حقیقت څخه کار اخلم ، هغه څلور خبرونه مې چې له ځانه سره راوړي دي نو دهمغې خبرونو په بنسټ مې تاته د سلطان په نامه خطاب کړې . لمړۍ دوه ښه خبرونه در ته اوایم او بیا به دوه خراب خبرونه چې زمونږ له پاره زیانمن ثابتیږی درته واورم .
ښه خبرونه دادې چې د بروصې په ښار کې د سلطنت ټول اراکین را ټول شوي دي ،دهغوې دا غونډه محترم برهان الدین را بللې وه ، په دې غونډه کې ټولو په یوه خوله ته د سلطان په څیر و ټاکلي ،ځکه کوم حالات اوواقعات چې مخته راځي د هغې په مطابق تیمورلنګ زمونږ سلطان نه را خوشی کوي ، نو دهغه په نه موجودیت کې بل څوک ، پرته له تا نشته چې د سلطنت امور مخته بوځي ، او بیروني یرغلګرو څخه د هیواد دفاع وکړي ، په همدې خاطر په بروصې کې د سلطنت اراکینو د برهان الدین په مشرۍ غونډه وکړ ه اوتاسې یې د سلطان په حیث و ټاکلئ ، شونې ده چې برهان الدین پخپله ستاسې په خدمت کې حاضر شي اودا خبر تاسې ته واوروي .
دې خبر په ولیعهد محمد باندې ډیر بد اغیز وکړ ، تر ډیره پورې په خپل ځای ولاړ و او خپلې شونډی یې چیچلې ، ځکه په دې خبر کې دسلطان بایزید نیول او بندي کول هم شامل و . بیا وروسته ولیعهد په ژړا شو په زمکه کیناست ، بیا یې د زمکې په تیرلوړه ځاې باندی سجده وکړه ،اوپه ډیره عاجزۍ او انکسارۍ سره یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې زما خدایه ! زه ستا ډېر عاجز او مسکین بنده یم ، زما ارزو سلطاني او حکمراني نه ده . خو اې خدایه ! که چیرې خلکو زه ددې منصب له پاره ټاکلي یم نو اې پروردګاره ! ماته استطاعت ، استقامت ، او همت را په برخه کړه تر څو زه خپل قوم او ولس ددغه مصیبتونو ، غمونو ، تیارو او توپانو څخه به بري سره بیرون کړم . اې پروردګاره ! زما قوم همدا اوس په ډېرو مصیبتونو ، تکلیفونو او غمونو کې اخته دي نو ما ته همت او قدرت را په برخه کړه ، زما سره نصرت وکړه تر څو دهغوخلکو پر خلاف توره وګرځم چې په ستره بیدیا کې ځلیدا سپوږمۍ او شګې اوبه ګڼي . اې پروردګاره ! زما سره کومک وکړه چې ستا د همدې نصرت په واسطه د خپل قوم له پاره په دې تیارې لارې کې منزل ته د رسیدو له پاره روښناي ولټوم .....

ولیعهد ددې دعا وروست چپ شو . را پورته شو ، خپلې سترګې یې په خپلې لنګۍ باندې وچې کړې ، د ولیعهد ددې حالت په کتلو باندې علي پاشا هم ژړغونی و خو وروسته بیا علي پاشا ورته وویل :

په دې غرنیو لمنو کې دهر چا دمخه زه تاته د سلطان کیدو مبارکي وایم ، سلطان محمده ! زه له تاسره ژمنه کوم چې هغه نا هیلي چې د تیمورلنګ په واسطه پیدا شوې ده نو ډېر ژر به مونږ دا د ویرې اوخوف غلام لري و غورزوو.، خپل پخواني عظمت اولوړتیا به بیرته ر ا وګرځوو. درونده سلطانه! د سلطان په حیث ستا د ټاکلو سره سم زه دا ژمنه کوم چې زه به دخپلې وینې تر اخري ځاڅکي پورې دخپل قوم اوولس د ښیګڼې له پاره خپل ژوند وقف کړم .

دعلي پاشا په دې خبرو باندې محمد چپ شو خو کله چې علي پاشا چپ شو نو بیایې علي پاشا ته وکتل او ورته یې وویل :علي پاشا وروره ! ماته به ته یواځې ورور او یا محمد وای .

ددخبرې وروسته ولیعهد محمد چپ شو خو غوښتل یې نور څه هم ووایي خو علی پاشا یې خبرې غوږې کړې او ورته یې وویل :

درونده سلطانه ! تر هغې چې د خطاب کولو پوښتنه را ولاړیږي ،نو زه به تاته سلطان وایم ، کله چې ته د قوم له اړخه سلطان و ټاکل شوي نو بیا علي پاشا څوک دې چې هغه به تاته سلطان نه وایي . او لکه څنګه مې چې دپوره ریښتونولې سره د بایزیدیلدرم سره هر ډول ځان ځارنه کړې ده په همدې ترتیب به یې له تاسره هم وکړم. دعلي پاشا په دې خبرو باندې سلطان محمد خوشحاله شو او علي پاشا ته یې وویل :

زما درونده وروره ! څه چې ته وایې هغه وایه ، ځکه چې ماته څرګنده ده چې ته د ملت د ښیګڼې او پرمختګ له پاره زما څخه ډېر مصروف یې . زما وروره ! په دغو نا مساعده حالاتو کې ، په ډېرو بدو وختو کې یواځې ته زما ښې لاس یې ، همدا ته زما ځواک یې ،او همدا ته زما مټ یې ، زما تر مخه همدا ته یواځنې شخصیت یې چې د خدای نه وروسته پرې باور او اعتماد سره په دښمن باندې دګذار کولو همت او قوت را کې پیدا کیږي . زما وروره ! راغلیو مخبرانو لا تر اوسه پورې یوه خبره کړې ده ، او تر اوسه دهغوې سره درې نور مهم خبرونه هم شته . را ځه چې دهغوې څخه هغه خبرونه هم واورو . بیا به دواړه وورونه کینو او یوځاې به د راتلونکي له پاره پلان جوړ کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطان محمد ، دعلي پاشا نه مخ مخبرانو لورې ته کړ او دهغو څخه هغه یوه چې خبره کوله هغه ته یې وویل :
ستا دوینا په اساس یو خبر خو ښه و چې تا مونږ ته وویلې ، خو تا په پیل کې ویلي و چې دوه ښه خبرونه دی ، بل ښه خبر څه دې ؟
په ځواب کې مخبر ورته وویلې : هغه بل ښه خبر چې غواړم تاسې ته یې واوروم چې هغه خط چې علي پاشا د تیمورلنګ له پاره دهغه د لمسي په وینه لیکلي او ور استولې و، تیمورلنګ دهغې په لوستلو باندې ولړزید،د هغې لیک په لوست سره ، داسې و ګڼې ، چې د تیمور لنګ ملا ور ماته شوه . تر ډیره پورې هغه دخبرو اترو څخه وتلي و . ګونګ ناست و . هغه وخت چې لیک هغه ته ورکړ شو نو هغه د جشن په مستیو کې مست و او زمونږ سلطان بایزید یلدرم هم دهغه به څنګ کې ناست و نو دعلي پاشا د لیک په لوستلو باندې زمونږ د سلطان په مخ باندې د خوشحالۍ نښې را ښکاره شوې .
درونده سلطانه ! په دې لیک کې علي پاشا تیمورلنګ ته په غرنیو لمنوکې د خپل ځای ځیګي په اړه هم پوره معلومات ورکړي و . خو د هغو غرنیو سیمو ته د راتګ پر ځای تیمورلنګ د سمرقند په لور خپل فوځ ته دکوچ کولو حکم وکړ. او هغه لښکر چې د سمرقند څخه یې دعثماني سلطنت د نیولو د خوشحالیو نغاری و هلي اوس بیرته د سمرقند په لور به ژړا او فریاد سره د تورو جنډو تر سیورې لاندې روان دې . په دې لښکر کې د علي پاشا په لاسو دتیمورلنګ د وژل شوې ولیعهد مور ، خانزاده ، هم ورګډه ده . ویل کیږي چې دتیمورلنګ په لښکر کې دهغې ژړا، واویلا ، چغو او سورو په خپله تیمور لنګ څخه لیوني جوړ کړې دې.
ددې مخبر د خبرو په منځ کې سلطان محمد وویل :
داسې وګڼه چې دا خبر دهغه لمړي خبر څخه هم ډیر خوشحاله ونکي دې . نو که چیرې تیمورلنګ دخپل لښکر سره یو ځای د سمرقند په لور خوزیدلې وي نو داسې وګڼئ چې هغه په خپل زړه کې دا ګمان کړې دې چې هغه به د انقرې په میدان کې یو ځل د په شاتګ وروسته ، زمونږ د قوت خاتمه کړی وي دا دهغه خیال دې ، په ترکانو باندې داسې ډیر وختونه راغلی دي خو په هر وخت کې ترکان د پخوا څخه ډیر ځواکمن شوي دي . اوس نو دهغه دوو خرابو خبرونو پیل وکړه ترڅو وپوهیږو چې دهغو دوو ښو خبرونو څخه وروسته دا بد خبرونه کوم کوم دي .
دسلطان محمد به دې خبره باندې د مخبر خوله خندانه شوه او په ډیر احترام یې وویل :
درونده سلطانه ! ما لا تراوسه خپله خبره نه ده پوره کړې ، ما چې دومره ښه خبر اوراوه نو تا په منځ کې زما خبره غوڅه کړه . اوکه نه ما خو دهغې خبر یواځې هغه لمړنی برخه تاته واوروله ، اصل خبره خو زه اوس کوم . دتیمورلنګ د لښکر سره یو ځای زمونږ څه ملګری اوړی را اوړي ، کله چې هغه کوچ کاوه نو هغه وخت هم ښي او چپ لور ې ته اوهم شاته او مخې ته دهغوې څارنه کیدله ، او اوس چې دهغه ښه خبر اخري برخه ده هغه داده چې د شمال په لور دځومیلو تګ نه وروسته په یو ځای کې تیمورلنګ خپل فوځ ته د پړاو کولو حکم وکړ . د بروصې د خزانو د لوټولو نه وروسته چې کوم څه دهغه لاس ته ورغلي و هغه یې هملته د خپل قیام په وخت کې په څو برخو وویشله . دهغوې څخه یې یوه برخه روسی او اروپایی لښکرو ته ورکړه ، دا روسي اواروپایي لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس سوکه سوکه مخکی تګ کوي او د تورې بحيرې غاړې غاړې ته به ځي هلته ورته د بحر په غاړه يو دينسي سمندري بيړه منتظره ولاړه ده . دغه بيړه روسي او اروپايې لښکر دفاسفورس د درياب څخه تيروي او ډينيوب ډلټا ته يي روسی ، درونده سلطانه ! تا ته به ياد وي چې د اروپا دوه شهزادګان ، سايرکن او ايکسلا ، د تيمورپه لښکر کې يوځاې شوی و،دهغوې څخه يو يي ، سائرکن ، په جنګ کې ووژل شو.او ايکسلا خوندی دې ، او اوس همدغه ايکسلا د اروپايي ټولو ځواکونو قومندانی په غاړه لري . خو دروسي فوځونو قومنداني پخپله يو روسي سپه سالار کوي.

درونده سلطانه ! ددې خبر نوعيت په دې کې دې چې که چيرې ته او علي پاشا ګړندې سفر وکړئ نو نو دغه روسی او اروپايي لښکر به د دينسي بحري بيړئ ته د ور رسيدو تر مخه ونيسئ او کار به يې ورتمام کړئ . نو که چيری تاسي دغه متحده لښکر د توری بحيري په غاړه له منځه يوسئ نو بيا ياد ساتئ چې دا خبر دسمرقند په لور د تلونکي تيمورلنګ پورې هم ور رسيږي ، هغه ته لمړئ ضربه دهغه د لمسي دمړيني ، ددوه لکو فوځونو د له منځه تللو په وخت کې ورکړل شوې دې او که خداې وغواړې نو دهغه ملا ته به دويمه ضربه د روسی او اروپايی لښکرو د ماتې په اساس ورکړل شي . زه هيله لرم چې دا خبر به تيمورلنګ له يوه سره مات کړي ، ځکه چې تيمورلنګ د ماتې خوړلو دغږ سره عادت نه لري . کله چې هغه ته خبر ورکړل شو چې د انقرې په شاوخوا کې د هغه لمسي ډيره خرابه ماتي خوړلې اوپخپله په کې هم له منځه تللې دې نو دهغه د مخ حال داسې و چې په خوله باندې نه شي بيانيدلاې .

مخبر تر دې ځايه خبرې وکړې او لږ څه توقف يی وکړ . څه فکر يی وکړ، سلطان او علي پاشا ته يې وکتل اوبيا يی خپله خبره شروع کړه.

درونده سلطانه ! لمړئ دوه ښه خبرونه مې تاسې ته وويل : خو زمونږ سره داسې خبرونه دې چې زمونږ له پاره خطرناک ګرځيداې شی . هغه درته وايم ، خو که چيرې ددې خبرونو څخه هم مونږ په خپل وخت لاس وګريوان شونو زه هيله لرم چې هغه خطر ات چې زمونږ په سرونو باندې ګرځي هغه به مونږ و ځنډولي شو.

لمړئ خبر د کرميان په اړه دې . پخوا سلطان بايزيدېلدرم د کرميانو قوت اوځواک ځپلي و .اودکرميان حاکم د ماتې خوړولو وروسته تښتيدلي و . اودهغې ټولې سيمې سلطان بايزيديلدرم په خپل سلطنت کې را ګډی کړی وې ، خو دهغه وخته چې عيسايي نړئ تيمورلنګ زمونږ پر خلاف را ولمساوه ،نو تيمورلنګ زمونږ مخې ته دراتللو څخه هم ويريده ، اودخپل ځان په شاوخوا يې ځواکونه تقويه کول ، په همدې ځواکونو کې يو دکرميان د حاکم هم دې .

زمونږ په لاسو د ماتې خوړلو وروسته دکرميان حاکم په خپله دتيمورلنګ دربار ته ورغلي و . اوزمونږ پر خلاف يې ترې کومک غوښتي و . تيمورلنګ دهغه موجوديت دخپل ځان له پاره يو غنيمت ګانه ، هغه د کرميان والي ته کومک هم ورکړ او فوځ يې هم ورسره ملګري کړ . نو اوس دکرميان والي د تيمور لنګ د ورکړل شوي ځواک سره يو ځاې يو ستر قوت راټول کړې دې .

ددې نه اخوا دا چې تيمورلنګ دکوچ کولو تر مخه دکرميان د حاکم سره د يوه قاصد په واسطه اړيکي کلک کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ته يې نورزيات مالي کومکونه هم استولي دي او دخپل لښکر څه دلګي يې هم ور ليږلي دي . تر څو د تيمورلنګ نه وروسته د کرميان حاکم زمونږ دغه پاته ځواکونه له منځه يوسي .اوپه راتلونکي کې ترکان ددې وړتيا و نه لري چې هغوی د تيمور دتاتاريانو پر خلاف کوم عمل وکړي .اودخپلې ناکامی انتقام واخلي. د کرميان حاکم ددې ځواک د تر لاسه کولو وروسته په مستی کې راغلې او هغه سيمي چې په تيرووختو کې يې تر خپل واک لاندې درلودې پر هغوی يرغل کړې او بيرته يې ولکه کړي دي ، خواوس هغه هڅه کوي چې خپل حکومت او نظام مستحکم کړي ، زما په فکر چې د نظام دټينګښت وروسته به هغه زمونږ پر سلطنت نورې حملې هم وکړ ي او زمونږ د کمزورۍ کولو له پاره به کار وکړي . دا لمړی بد خبر و .

دويم بد خبر په اروپا کې د صليبي ځواکونو په اړه دي . داروپا هر هيواد او هرې برخې ته دا خبر ورسيدلي دې چې د انقرې سره نژدې مونږ د تيمورلنګ په مقابل کې ماته خوړلې ده . اودا چې تيمورلنګ زمونږ ځواک په مکمله توګه له منځه وړې او تر پښو لاندې کړې يې دې ، اوس د اروپا دا ځواکونه فکر کوي چې تيمورلنګ د ترکانو ټول شته او ځواک د تاتاريانو د لښکرو په واسطه پناه کړ او ترکان اوس د بيرته را پورته کيدو وړ نه دي .

دې خبرو داروپايي ځواکونو حوصلې غښتلې کړي دي ، که څه هم مونږ په پولوپ کې د راهبانو او پادريانو انجمن له منځه وړې دې ځکه همغوی و چې د صليبي جنګونو له پاره يې خلک تيارول او دهمدې صليبي جنګونو پيلامه يې کړې وه ، خو لا تر اوسه دهغوی د ټولو مشر پاپای اعظم يې ژوندي دې او هغه به په هر صورت د صليبي جنګونو پيلامه يو ځل بيا کوي او د تيرو صليبي جنګونو د ماتې بدل به اخلي ، اوس دهمغې په وينا صليبي ځواکونه يوځل بيا زمونږ پر خلاف را ټوليږې او دنايکوپولس د ښار په شاوخوا کې يې د را ټوليدو لړی روانه ده ، تر اوسه هغوی په ډير لمړني حالت کې دې ، او ل داچې تر اوسه يې د فوځونو شميره دومره نه ده لوړه شوي چې زمونږ له پاره خطر ناکه و ګرځي ، خو بيا هم دټولې اروپا څخه صليبي جنګجويان ډلې ډلې هلته نايکوپولس ته را رسيږي ، او سوګند يې يادکړې چې نن تيمورلنګ د عثماني ترکانو فوځ تر پښو لاندې کړې نو مونږ به هم خپله بدله اخلو او خپلې د لاسه تللي سيمي بيرته ولکه کوو. بلکه تر څنګ به يې عثماني ترکان داروپا څخه بيرته باسو. هغوی دهمدې هوډ لاندې را ټوليږی .

مخبر مخته ولاړ او زياته يې کړه چې :

درونده سلطانه !دا هغه دوه بد خبرونه و چې تاسي ته مې په مخکې کيښودل ، اوس ،درونده سلطانه ! که ما او ملګري ته مي کوم حکم وی نو وي واياست .

زما دوستانو ! لږه شيبه ځنډ وکړئ . زه دخپل وررور علي پاشا سره مشوره کوم . د اخري پريکړې په هکله به تاسي خبر کړم . داخبرې سلطان په ډيرغور سره خپلو مخبرانو ته د کتلو وروسته وکړې او بيا سلطان د علي پاشا په لور ور وګرځيد او ورته يې وويل :

علي پاشا! زما وروره ! خبره خو ټوله هغه ده مخبرانو ستا تر مخ وکړه . وروره ! دخوشحالی خبره خو داده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمورلنګ ستا چلنچ نه دمنلې او د غرنیو سیمو په لور د راتګ په ځای یې د سمرقند په لور خپل فوځ کوچ کړې دې
.او زما له پاره د ناخوښۍ خبره دداده چې زما محبوب پلار د تیمور لنګ سره بندي دي . زما ورور موسی او زما
میرنۍ مور ډسپینا هم ورسره بندیان دي . زما له پاره همدا د ډیر درد او تکلیف نه ډکه خبره ده.
زماوروره ! اوس زمونږ تر مخ درې محاذه دي ، یو د روسانو او اروپایانو دمتحده لښکر چې همدا اوس د روم د
بحیرې په لور د ډینس د بیړۍ په لور روان دي . بل د کرمیان د حکمران چې همدا اوس یې زمونږ په ځینو سمیو
باندې ولکه کړي ده ، او دریم د صلیبي ځواکونو محاذ دې چې همدا اوس د نایکوپولس د ښار په شاوخوا کې سره
را غونډیږي . وروره ! زه دا ټول کارونه تا ته درسپارم ، ددې څخه مخته زما پلار بایزید یلدرم هم په ټولو کارونو
کې له تاسره مشوره کوله ،وروره ! ستا تجربه او پوهه له ماڅخه ډیره زیاته ده . زه ستا د پوهې او تجربې په مقابل
کې په نشت شمیرل کیږم . هر هغه پریکړه چې ته وکړې او هر هغه مشوره چې ته راکړې هغه به اخري وی اوس
ووایه چې ددې ټولو حالاتو د کنترولولو له پاره څه ډول پلان باید جوړ کړل شی .
د سلطان محمد دپوښتنې په هکله علي پاشا لږ څه توقف وکړ او په فکر کې ډوب شو .اوبیا یې وویل:
درونده سلطانه! ما ستا او د مخبرانو تر منځ دخبرو په وخت کې یوه ډیرهستره پریکړه کړې ده . هغه څه چې زه یې
وایم په غور سره یې واوره . دا چې اوس اروپایی او صلیبي ځواکونه یو ځل بیا د نایکوپولس دښار په شاوخوا کې
سره را ټولیږی ،همداسې یې پریږده چې راټول شي . دا چې هغوې زمونږپه مقابل کې خپل ځانونه سنبالوي په هغې
کې ډیر وخت لږیږي . مونږ ددې اړتیا نه لرو چې سمدستي دهغوی په مقابل کې متحرک شو. که چیری مونږ داسې
وکړو نو زیان به یې مونږ ته راشي . زمونږ له پاره بل محاذ دکرمیان محاذ دی ، خو دکرمیان حاکم هم هر څه یې
چې زړه غواړ ي و دې یې کړي ، هغه ته یو څو ورځې ازادي ورکړه . زه ګورم چې هغه به تر کومه ځایه زمونږ
به سیمو باندې ولکه وکړي ، خو کله چې وخت راشي نو د تیر وخت په څیر به کرمیان دحاکم ټول باد وویستل شي
.
اوس خو زمونږ تر مخه دروسانو او اروپایانو د متحدلښکر خبره پرته ده . پردوی باندې حمله کول زمونږ له پاره ډیره
ګټه ور ه ده .درونده سلطانه! لمړۍ خو ددوې سره د بروصې څخه د لوټ کړل شوي خزانې یوه برخه ده،خونږ باید
هغه بیرته ترې راستنه کړو . ددې نه علاوه د تیمورلنګ سره د ملاتړ په اساس به هغوې د تیمورلنګ له اړخه هم
نازول شوي وي او هغه شیان به هم ټول د هغوې سره وي ، نو په دې خاطر ددغو دوو علتونو په اساس په دغه
لښکر باندې تر هر څه لمړۍ ګذار کول په کاردي .
که چیرې مونږ د روسانو او اروپایانو دغه لښکر باندې سترګې پټې کړو او پریږدو چې ولاړ شي نویاد ساته چې
دا خلک به په ډینسي بیړۍ کې دسپریدو وروسته د ډینیوب دریاب کې د ډیلټا په اروپایی سیمو کې ښکته شي
اوهغه اروپایی لښکر چې همدا اوس په نایکوپولس کې سره راټولیږي ، دهغوې سره یو ځای شي او په دې تر تیب
به د صلیبیانو په ځواک کې ډیرزیاتوالي راشي او بیا به داخلک زمونږ له پاره ډیر زیات خطرناک و ګرځي ،
په دې حالاتو کې زه ، زه دا وایم چې مونږ باید همدا اوس دخپل لښکر سره یوځای ددې ځایه کوچ وکړو او په ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیره د توري بحیرې په لور ولاړ شو او د روسانو او اروپایانو متحده لښکر هلته ډینسي بیړۍ ته دورسیدو تر مخه زمونږ د لښکر په واسطه را وګرځوو .

زه پوهیږم چې د توري بحیرې په غاړه به زمونږه او د روسانو او اروپایانو د ګډ لښکر تر منځ خونړۍ نښته کېږی ، خو زه هیله لرم چې مونږ به هغوې همله د سمندر په غاړه د فنا سره مخ کړو . نو په دي خاطر زه ستا تر مخه یو وړاندیز کوم ،هغه دا چې د خپل کوچ څخه تر مخه خپل مخبران هم هغې لورې ته واستوئ تر څو د دښمن د حرکاتو څارنه وکړي او دهغوې په اړه تاسو ته په وخت معلومات درکړي . توري بحیرې ته د رسیدو سره سم تاسې ددښمن او بحري بیړۍ تر منځ حایل شئ ، له تاسې سره به ستاسې خپل لښکر وی زه به په غرنیو سیمو کې اخو دیخوا اوړم را اوړم ، کله چې دښمن له تاسره ټکر وکړي نو ته یې تر لږه وخته پورې مصروف کړه ، خوکله چې ددښمن ټول صفونه له تاسره په جنګ کې و نښلي نو زه به پرې د شا له اړخه یرغل دروړم ، اوزه هیله لرم چې دهغوې هیڅ عسکر به ژوندي ولاړ نه شي . ځکه چې د مخې له لورې به تاسې یاست او د شا له لورې به زه یم ، دهغوې شې اړخ ته به سمندر وي ، په دې ترتیب به دهغوې درې واړه اړخونه بند وي هغوې به

ت کې د روسانو او اروپایانو ګډ لښکر د توري بحیرې په څنډو څنډو کې سفر کاوه ، هغوې خوشحاله و ، د خوشحالۍ

ي ،[illegible] هغه زمونږ دهیواد پولې دي . اوکه چیرې هغه لورې ته و تښتیږي هم

ه پاره یو ستر خوزښت پیل کړی و نو دهغې مقصد د شندولو له پاره هغوې د تیمورلنګ په څیر یو غیرمسؤل وګړی

نو مونږ دهغوې تعقیب کوو [illegible] سره یې مخ کوئ شو او د ګابودي [illegible] سلطانه ! هغه څه چې ما ویل تومې ویل

دتوري بحیرې په غاړه غاړه بانډې د ډینس د بیړۍ پورې ور رسیدل ددوي خپل حق و .

. ددې خبرې وروسته علي پاشا چپ شو .

مخې ته را ودانګي ، خوکله چې سلطان محمد دخپل فوځ سره یوځای دهغوې لاره و نیوله نو هغوې ډیر حیران شول ،

د علي پاشا په دې ټولو خبرو سلطان مسکی و . مخکې ورغی او علي پاشا یې په مټلا و نیاوه ، علي پاشا وروره ! سوګند

سلا اوروسي جرنیل دواړو د بحیرې په غاړه دخپلو فوځونو د تم کیدو حکم وکړ . بیا ایکسلا خپل دوه سالاران مخته ور

ږدې په [illegible] خپل لښکر څخه مخته دی او وروسته ورپسې فوځ په ډیره منظمه توګه صفونه

بیا سلطان مخبرانو ته مخ کړ اوورته یې وویل :

[illegible]

همدا اوس له دې ځایه حرکت وکړئ ،مونږ ته د دښمن د تم ځایو اودهغوې د کړچار څخه په وخت خبر راکړئ ، لږه

[illegible]

جنګ کړي دي خو دا زمونږ بدقسمتي وه چې مونږ دهغې په مقابل کې په شا تګ ته مجبور شو . دهغه سره اته لکه فوځ

ددې سره یو ځای مخبرانو دهغه ځایه حرکت وکړ ، او ورپسې لږه شیبه وروسته سلطان او علي پاشا دواړو د خپلو

ه تر لاسه کړئ .

[illegible] شهزاده ایکسلا ته وواياست چې ستاسې پرلپسې لري.......

توري [illegible] له ډیرې بدې ماتې سره مخ شئ ، هیڅکله هم نه ، مونږ ددې څخه زیات له تاسره خبرې

ه لرو چې د همدې بحیرې په غاړه به هغوې ته ماتې ورکړو او له منځه به یې یوسو.

شخص زمونږ له پاره د مصیبتونو او ستونزو سبب وګرځي.

ې جنګ په پوره عروج کې و یو بل انقلاب منځته راغې اودغرونو دمنځه علي پاشا دخپل لښکر سره راووت اوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ره ډاد موجود و او فکر یې کاوه چې سلطان محمد به د خپلو ډیرو لږو عسکرو سره ډیر ژر تر پښو لاندي کړي .
سلا چي کله دا حال وکوت چي په مخکي ورته سلطان محمد ولاړ دئ او ددینس د بحري بیړۍ پوري یې رسیدل
ه غاړه لري نو دهغوې دا حال اوس درحم وړ وګرزید، ځکه چې دعلي پاشا نوم هغوې ته په خپله دهیبت او ویري

، په دې اساس روسي جنرال او اروپایي شهزاده فکر وکړ چي که چیرې جنګ اوږود شي نو دوې به دعلي پاشا په
نه یوه ډول یو لوري ته لاره پرانستل شی .او دوې د بحري بیړۍ پورې ور سیږي .
، بدقسمتي وه چي د خپل ټول ځواک په جنګولو سره یې بیا هم نه خو سلطان محمد او نه علي پاشا دخپله ځایه و خوځول

ږي تیاري نه د ژوند د رڼا په لور د تیښتي لاره لټوله، علي پاشا او سلطان محمد دواړو ددواړو اړخونو څخه دهغوې
ړې روسي سالار بلکه داروپا شهزاده هم ووژل شول.
سکته شو ،بیا سلطان محمد ورمنډه کړه اوعلي پاشا یې په خپله غیږ کې و نیو .دهغه تندي یې ښکل کړاو بیا یې په ډیره

ې د توري بحیرې تر څنګ د غرنیو لمنو څخه د را وتلو په وخت کې به دښمن باندې کوم ناتار ګډ کړ نو زه ستا هغه

که ته زما د میراني له پاره سلام کوې نو زه به هم ستا دمیړاې او جرأت له پاره سلام وکړم. که چیرې دواړو یو ځاې

ماتي چي مونږ د تیمورلنګ څخه وخوړه ،په هغې کې زما پلار و نیول شو ، او مونږ دواړه د هیلس ددریاب څخه دیخوا
ر شوکت او دبدبه چي مونږ ته په تیرو وختو کي را په برخه شوې وه هغه به بیا هیڅکله هم مونږ ته بیرته را ونه

ر لنګ د لمسي سر دې پرې کړ او بیا دې دهغې په وینه باندې د هغه دادا تیمورلنګ ته لیک و لیکه او روته دې
ځاې یې د سمرقند په لور مخه کړه . دتیمورلنګ دلمسي په وژلو او دهغه لښکر ته دماتې ورکولو سره تا دخپلو بریاو
ر وخت عظمت بیرته تر لاسه کولو کې بریالي شو.
ما وروره ! زه په دې خاطر ستا نوم اخلم چي ما دا ټول کارونه په ځانته ځان نه شو تر سره کولې ، په دې خاطر چي د
سره کړم . علي پاشا ! دا ته وې چي ستا په واسطه دا عظمت مونږ ته بیرته تر لاسه کیږي . د توري بحیرې په غاړه د
لار بایزیدیلدرم سره د اروپایی هیوادونو به پراخه میدانونو کې د صلیبیانو متحده ځواکونه مات کړل او هلته دې هم دخپل

ر بیا د توري بحیرې په ساحلونو کې د روسانو او اروپایانو متحده لښکر ته ماته ورکولو نه وروسته اوس زه دا
نکي په کوم عملي پلان باندې کار کوو .
. په دې خاطر چي دا زما فرض دي چي ستا د غوښتنو درنښت وکړم . اوس چي څه زما په فکر کې را ګرځي ، هغه
روسته همدلته انتظار وکړو ، دماښام د مخه یو مخبر چي په یوناني ژبه باندې ښه پوهیږي ، مخته ولیږۍ ، چي د توري
ي ، نو په دې خاطر تاسي دهغوې د ښه راغلاست له پاره لاندې و دریږۍ .
یو سره یو ځاې د اسود په بحیره کي ولاړې خپلې بحری بیړیو سره یو ځاې کړو ، دهغه نه وروسته بیا زمونږ تر مخه
خه خبر کړو . دویم دا چي مونږ د بروصې په لور څه مخبران ولیږو او هغوې دخپلو بریاو څخه خبر کړو خو دهغوې
کولو وروسته به مونږ د فاتحینو په څیر د بروصې ښار ته ور ننوځو.د بروصې په ښار کې د څو ورځو تم کیدو او په خپل
رماته کړو چي په راتلونکي وختو کي هغوې بیا زمونږ پر خلاف د راپورته کیدو جرأ ت و نه کړي .

یږو چي په یوناني ژبه باندې پوهه ولرى ، او هغوې ته د روسي او اروپایی لښکرو د راتګ خبرو رکړي .د دینس په
هر څه باندې ولکه وکړو اودهغې وروسته بیا دخپلو بریالیتوبو نو په لور قدم واخلو .
د خپلو لښکرو سره یو ځاې یو ځل بیا د توري بحیرې په غاړه غاړه ساحلونو کې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ.

څو دهغه ښه راغلاست وکړي . د حویلۍ انګړ ته د رارسیدو سره سم برهان الدین و درید او درې واړو ته یې مخ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وند دتيرولو په ښير حالت اوس په پوره توګه تبديل شوې دې . زما خورې ! زما لوڼو! د ځانونو هوډمن آند او د قوم
و ګڼئ چې دشپې په زړه کې د بې وسۍ لمر را وخوت .

په ارام زړه سره درته دهغوې په اړه خبرې وکړم.
ور واړه هملته په ميلمستون کې کيناستل ، تر لږه وخته پورې چپه چپتيا وه ، خو دا چوپتيا ريونا په خپلو خبرو باندې ماته

مو ځوانانو په اړه خبرې کوې ، چې د هغوې هوډمن تيور يو انقلاب راوړې دې . او د چا جرأتمندۍ د زړه په دښته

بندي کړل شو . او علي پاشا او وليعهد محمد دواړه د خپلو فوځونو سره يو ځاې دهيلس ددرياب څخه راتير او په غرنيو

. ځکه چې د بروصې دسلطنت ټولو اراکينو هغه د رايو په اتفاق سره د وليعهدۍ څخه سلطان محمد ټاکلي دې) . ما

وينه باندی يو ليک تيمورلنګ ته وليکه او ور ويې استاوه ، په دې ليک کې يې تيمور لنګ ته بلنه ورکړې وه چې

يرۍ دينس کې سپاره شي او د اروپا په ساحل باندې ښکته شی او هلته په نايکوپولس کې د اروپايي صليبيانو دلښکرو سره

ځخه راووتل اوپه ډيره چټکتيا سره يې د تورې بحيرې په لور مخه کړه .
يو عسکر او يو يو سپه سالار يی ورختم کړ ، بيا يې دخپلو لښکرو سره يو ځاې د دينس د بحرې بيړۍ په لور مخه کړه تر

اوپه هغه کې زمونږ سلطان بايزيد و نيول شو نو په هغه وخت کې چې زمونږ د قوم د تذبذب کوم حال و هغه اوس د سلطان
خپلې سترګې سمې کړو.

اخله ، برهان الدينه وروره ! ستا ددې زيرې په واسطه مونږ درې واړه د ځانته والي د عذاب او تعذيب اوتکليف

کينه ، مونږ به ډوډۍ تياره کړو ، نن ماښام به ډوډۍ دخپلې خور او دوو لوڼو سره يو ځاې خورو . دهغې وروسته بيا ولاړ

عثماني امپراطوري او پر خلاف يې د صليبيانو سازشونه (۳۱مه )

مکمل غيرسياسي : يو تاريخي په زړه پورې ناول .

زمونږ د هيواد ګوډ تيمور څوک دې ؟

اوس تاسي ددې تاريخي ناول يو ديرشتمه برخه لولئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسلطان محمد اوعلي پاشا یو جاسوس چي په یوناني ژبه باندي ښه پوهیده ، هغه ولاړ او د وینس د بحري بیړۍ کپتان ته یي دا پیغام ورساوه چي د روسانو او اروپایانو کوم متحده لښکر چي دهغي په بیړۍ کي سپریږي او د اروپا ساحلونو ته سفر کوي هغه په لږ واټن کي دي او ژر به را ورسیږی، په دې خاطر هغوې باید ټول راښکته شی او په وچه زمکه دهغوې ښه راغلاست وکړي .

د وینس د بحري بیړۍ وګړو اوسالارانو دا خبره دخپل ځان له پاره یوه نیک بختي وګڼله ، په دغه بیړۍ کي چي څومره ملاحان و هغوې د خپل امیر البحر په حکم باندې د جهازونو او لویو کشتیو څخه راښکته شول ، وچي ته راغلل تر څو روسي او اروپایی لښکرو ته د فاتحینو په څیر ښه راغلاست ووایي .

هلته سلطان محمد او علي پاشا ته دا ډاډ و چي دهغوې مخبر به خپل کار په ښه توګه تر سره کړې وي. په دې خاطر هغوې د توپا ن په څیر د بحري بیړۍ په لور دتورې بحیرې په غاړه غاړه را غلل . دواړه سلطان محمد اوعلي پاشا دخپلو متحده فوځونو سره یو ځاې داسي وخت بحري بیړۍ ته را ورسیدل چي ورځ تیاره شوي وه ، بیا د شپي په تکه توره تیاره کي یو بل انقلاب راغي او سلطان محمد اوعلي پاشا دخپلو لښکروسره یوځاې د بحري بیړۍ په ملاحانو او امیر البحر باندی یو ناڅابه راکیښودل .اودهغوې ټولو کار یي ورختم کړ. هغوې په دغه بحري بیړۍ کي خپل څو دلګي داسي عسکر سپاره کړل چي د بحري جنګ تجربه یی هم درلوده په دې خاطر د وینس دغه بحري بیړه یي دشپي په تیاره کي د ترکیي د بحري بیړۍ په لور یوړه .

خو څرنګه چي دا دومره زیات عسکری بریا نه معلومیده،نوپه دې اساس سلطان محمد او علي پاشا نه خو هلته تم شول او نه یي خپلو عسکروته ددمي کولو وخت ورکړ. بلکه په هماغه وخت کي یی خپل لوري تبدیل کړ او دواړو لښکرو د کرمیان په لور کوچ وکړ. ځکه هغه دعثماني سلطنت ځیني سیمي بیرته تر خپلي ولکي لاندې راوستی وي او نورو باندې یی هم یرغلونه کول .

څرنګه چي دکرمیان حاکم ته د تیمورلنګ له اړخه پوره مالي او عسکری کومک ور رسیده ، او تیمورلنګ ورته یو لوي لښکر هم په واک کي ورکړي و او تر څنګ یي هغه په خپله هم پوره لښکر درلود. کله چي هغه ته خبر ورسید چي د مسلمانانو نوی سلطان محمد دخپل سپه سالار علي پاشا سره یو ځاې دهغه په لورې را روان دي نو هغه سلطان محمد او علي پاشا ته کوم اهمیت ور نه کړ . ځکه چي د کرمیان حاکم په دې ګمان او غلطۍ کي و چي تیمورلنګ د عثماني ترکانو ټولو ځواک تارومار کړې دې ، هغه په همدې دوکې کي ککړ و چي نوې سلطان محمد او علي پاشا به د لږو لښکرو سره د هغه مقابلي ته راشي او هغه به یي د وزو او میږو د رمي په څیر مات کړی . هغه دا اندازه هم لګولي وه چي که هغه د نوی سلطان محمد اوعلي پاشا لښکروته ماتی ورکړه نوبیا هغه په عثماني سلطنت کي تر لرې لرې ځایو پورې یلغار کولې شی او دهغوې ډیرې سیمي تر خپل واک لاندې راوستلي شي او خپله واکمني پراخولي شی . ددې نه اخوا هغه لښکر چي دهغه د قوماندې لاندې کار کوي نو دهغوې حوصلي هم ټینګي وي او د تیرو څو اونیو را په دې خوا یی د عثماني ترکانو په سلطنت باندی حملی کولی او دنورور زیاتو حملو هوډ او هیله یی هم درلوده . تر څو ډیر زیات لوټول وکړي او په خپلو شتمنیو کي ډیرښت را وړي .

خو دکرمیان حاکم ته چي کله خبر ورکړل شو چي د عثماني ترکانو نوي سلطان ، سلطان محمد اودهغه جنرال علی پاشا په ډیرې چټکۍ سره ستا لورې ته مخ کړې او را روان دي نوهغه په یوه داسي ځاې کي خپل لښکر ته پړاو ورکړ چي شاته یي یوه ستره غرنۍ لړۍ پرته وه .

د کرمیان حاکم هلته په دې خاطر پړاو کړی و چي که چیرې د سلطان محمد اویا علي پاشا څخه ماتي وخوری نو هغه به سوکه سوکه خپل لښکر شاته و تمبوي اود دې غرونو اوغونډیو په سرونو به و خیژی اودښمن په لښکر باندې به داسي تیرې را وروی چي دښمن پخپله شاته تګ ته مجبور کړل شي . اوکله چي دښمن شاته و تمبیږي نو دي به پرې په پوره ځواک او قوت سره یوه درنه حمله وکړی او په دې تر تیب به ماتي په فتح او سوبي باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبدیله کړی . د کرمیان حاکم د همدي فکر په اساس غرنیو لړیو کې دخپل ځان له پاره دناستي ځاې او د عسکرو له پاره پړاو جوړ کړی و.

د کرمیان حاکم په زړه کې هم دا پتیبلي وه چې کله چې د سلطان محمد او علي پاشا لښکرې دهغه ترمخ راشی نو هغه به یې ارا م ته پرې نږدی ، د هغوې دلته د رارسیدو سره سم به پرې یرغل کوي او هغوې به له تیغه تیروي ، خو دا دکرمیان د حاکم غلطه انګیر نه وه ځکه د سلطان محمد او علي پاشا جاسوسانو ډیر په ګړندۍ توګه خپل کارونه سر ته رسول او هغوې سلطان د ټولو حالاتو څخه پوره پوره خبر کړې و. کله چې دسلطان لښکر په همدې غرنیو لړیو کې د کرمیان د حاکم سره مخامخ شي نو هغه دسلطان او علي پاشا د لښکر په کتلو سره سمدستي پر هغوې یرغل وکړي، نو سلطان او علي پاشا په خپلو منځو کې مشوره وکړه او دخپلو عسکرو صفونه یې لا د پخوا څخه منظم کړي و او د کرمیان دحاکم د لښکر مخې ته په همدې نظم سره را غلل . خو د کرمیان حاکم دخپلو جاسوسانو په وینا سمدستي یرغل تم کړ ، ځکه د هغه مخبرانو هغه ته خبر ورکړی و چې سلطان او علي پاشا ته د سمدستي حملې خبر دهغه مخبرانو ورکړی و نو په دې خاطر د هغه د سمدستي حملې د مخنیوي او شاته تمبونې په هکله سلطان او علي پاشا دواړو نوې پلان جوړ کړی .

دسمدستي حملی نه کولو یو علت دا هم و ، خو تر ټنګ یې دویم علت دا هم کیداې شی چې هغه غوښتل سلطان او علي پاشا پریږدي تر څو خپل پړاو جوړ کړی او بیا دهغه وروسته دجنګ پیلامه وشي . هغه ویریده چې که چیرې د پړاو د کولو پرته پر هغوې یرغل یوسی نو د ماتي په صورت کې به هغوې د پړاو ټول شیان له ځانه سره بیرته یوسي او دکرمیان حاکم او لښکرو ته به یې څه غنیمت په لاس ور نه شي . په دې خاطر هغه سلطان او علي پاشا ته بنه پوره وخت ورکړ چې خپل پړاو جوړ کړی او خپل صفونه منظم کړي .

کله چې د کرمیان حاکم ته معلومه شوه چې سلطان محمد او علي پاشا دخپل پړاو څخه فارغه شوی دې نو بیا یې په خپل لښکر کې دجنګ نغاره و ډبوله .

سلطان محمد او علي پاشا هم دخپلو فوځونو صفونو سمی کړل ، دپخوا په څیر یې فوځ په دوو برخو وویشه، دکرمیان حاکم هم دهغوې په لور دکتلو سره سم خپل فوځ په دوو برخو باندې وویشه . بیا ددښمن په لور د کتلو سره سم علي پاشا سلطان محمد ته وویل :

درونده سلطانه ! لکه څنګه چې زمونږ ه مخبرانو مونږ ته خبر راکړې چې کرمیان حاکم دلته ځکه پړاو کړې دې چې زمونږ پر لاسو د ماتې وروسته به شاته تمبیږي اوپه دې غرونو او غوندیو به ور خیژي او د هغه ځایه به پر مونږ باندې د تیرو باران را وروي تر څو زمونږ په لښکرو کې افراتفری را پیدا شي نوبیا به یوناڅاپه پر مونږ باندې یرغل وکړي او زمونږ پښې به د میدان څخه بیرون کړي . درونده سلطانه ! زه غواړم چې د کرمیان حاکم ته داسې فرصت په لاس ورنکړم ، زما په فکر په داسې ځاې کې دکرمیان حاکم پړاو د هغه په حماقت او بې عقلۍ باندې دلالت کوي . دا په دې نه پوهیږي چې که چیرې هغه زمونږ په لاسو د ماتې سره مخ شی نو د هغه او دلښکر دتیښتی ټولې لارې به یې تړلې وي ، خو فکر کوم دهغه سره یواځې یوه لاره ده چې دلته یې پړاو کړې دې اوهغه هم دا چې غواړې شاته و تمبیږي او د غرونو سرونو ته و خیژ ي او پرمونږ دهغه ځایه د تیرو باران وکړی خو زه غواړم چې د کرمیان د حاکم دا لوبه هم د ناکامۍ سره مخ کړم . په دې لړ کې له ماسره یو وړاندیز شته او غواړم له تاسره یې شریک کړم او هیله لرم چې ته به یې راسره ومنې.

سلطان ورته په ورین تندي وویل چې : علي پاشا ! وروره ! دا ته څنګه خبری کوی؟ ایا ته داسې فکر کوی چې د جنګ په میدان کې به زه ستا تجویز ونه منم . وروره ! زما له پاره ستا هر تجویز اخري دې ، اوس وواېه چې زه ستا په دې تجویز څه ډول عمل کولې شم . خو وروره ! هغه څه چې ته ویل غواړې د ویلو تر مخه په دې خبره باندې هم غور وکړه چې مونږ دواړه ورونه به هڅه کوو خپل لښکر ته دا هم وایو چې مونږ به د قدوس خداې په کومک سره د کرمیان حاکم اودهغه لښکر ته ماته ورکوو خو د کرمیان حاکم به ژوندي نیسو. زه غواړم هغه ته یو سبق ورکړم. ځکه چې په تیرو وختونو کې هم چې کله دې ته موقع برابره شوي زمونږ پر خلاف یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغاوت اوسرکشي کړي ده ، ارامو او بې ضرره خلکو ته يي ستونزي پيدا کړی دي او زيان يی ور رسولي دي . دخپلو سيمو څخه را وتلی او زمونږ په سلطنت کي يي تر لرې لرې ځايو پوري يلغار او لوټ مار کړي دي ،ښارونه اوکلي يی يوپه بل پسي له منځه وړی ا و کنډري يي ترې جوړې کړی دي ، زه غواړم دي ته دخپل دغه بد عمل سخته سزا ورکړم . زه نه غواړم چې نوموړي زمونږ څخه د ماتي خوړلو وروسته د تيښتې لار پيدا کړي او و تښتيږي ، اوس وايه وروره ته څه واي ؟

لکه څنگه چې زمونږ مخبرانو ويلي چې د کرميان حاکم غواړی چې زمونږ پر شا تمبولو باندې بريالي شي . هغه فکر کوي چې د لښکرو شميره يی زمونږ څخه ډيره ده . او دتيمورلنگ روزل شوي لښکر هم ورسره يو ځای دي . دا همغه لښکر دي چې دتيمورلنگ په جنگ يی زمونږ په شا تمبولو کی رول درلود ، ددې عسکرو حوصلي ستري او ځواني دي . او دهمدوي په وجه د کرميان حاکم دومره په غرور سره زمونږ مخي ته راغلي دي .دروند‌ه سلطانه ! مونږ دواړه په پوره ځواک او توان سره پر دښمن باندې ور غورزيږو ، او زه هيله لرم چې د کرميان حاکم ته به د ماتي او د هغوې د په شا تگ له پاره به ډير وخت و نه لگيږي او کله چې مونږ وينو چې ددښمن په صفونو کې په شاتگ پيل شوي دي نو ته په لوړ اواز باندې داسې تکبيرونه ووايه ، لکه څنگه چې به سلطان بايزيد يلدرم ويلي . ستا دا تکبيرونه به ماته ددې اشاره راکوي ، په ځواب کې به زه هم د تکبير اواز کوم ددې تکبيرنو په ځواب کې به ته د خپل لښکر سره د ښي اړخه او زه د چپ اړخه خپاره شو. په دې ترتيب د مخې او اړخونو دواړو له خوا به دښمن باندې ضرب و لگوو، مونږ به خپل لښکر د دښمن دلښکر شاته هم خپور کړو تر څو د ماتی او وروسته تگ په وخت کې دکرميان حاکم دغو غرنيو لړيو ته ونه رسيږي .

زه تا ته ډاډ درکوم ، چې مونږ به ددې کار دعملي کولو په صورت کې بريالي شونو بيا به د دې غرنيو سيمو لاندی د کرميان حاکم ژوندې و نيسو او لښکر به يی له منځّه يوسو .

سلطان محمد ورته ويل : علي پاشا وروره ! زه ستا په پلان ، ستا په تجويز ، او ستا په کړنلاره باندی پوره پوه شوم ، اوس نو ماته مه وايه چې زما ستا ددې تجويز سره اتفاق شته او کنه ؟ زما وروره ! ياد ساته چې زه به د عثماني سلطنت سلطان خامخا يم خو په جنگ کې ستا تجربه له ما ډيره زياته او عملي ده اوتاته له ما څخه ډير زما دپلار سره دکار کولو وخت په لاس درغلي دي . اوبيا خو زه داخبره هم منم چې ته د توری او تيغ په جنگ کې له ماڅخه ډير مخته يی نو په دې اساس ستا خبره ماته اخري خبره ده .

ستا دهمدې خبري په اساس به مونږ ددښمن په ښي او چپ اړخ کې د ځپلو کار پيلوو .او زه هيله لرم چې دښمن به تر ډيره پورې زمونږ فشار و نه شی زغملی . کله چې وينو دښمن شاته ځي نو د تکبير په ويلو سره به ددښمن ځواکونه محاصره کوو او زه هيله لرم چې په همدې پلان باندې دعمل کولو په صورت کې به دکرميان حاکم ژوندي و نيسو اولښکر به يی هم دتباهی کندي ته ور وسپارو.

علي پاشا ! که مونږ دکرميان حاکم ته ماته ورکړه نو تر ټولو مهمه خبره داده چې د تيمورلنگ هغه لښکر چې دده سره ملگری شوي دي هم زمونږ پر لاسو له منځه ځي اوتيمورلنگ چې همدا اوس د سمرقند په لاره روان دي په لاره کی به دهغه جاسوسان هغه ته په دې هکله خبر ورکړي چې هغه لښکر چې تا دکرميان دحاکم دکومک له پاره ور استولي و هغه د سلطان بايزيد يلدرم زوي سلطان محمد او علي پاشا په لاسو له منځه ولاړ نو ياد ساته چې دا به د تيمور لنگ له پاره پنځم بد خبر وي چې دهغه ملا به پرې نوره هم ورماته شی . علي پاشا غوښتل چې دسلطان محمد دخبرو ځوا ب ورکړي چې په همدې وخت کې د کرميان دحاکم په فوځ کې د جنگ نغاره ودريده . دنغاري دريدل ددې معنی ورکوله چې جنگ پيليدونکی دي ، سلطان محمد او علي پاشا يو بل ته سره وکتل ، به خپلو سترگو کي يي کومه پرکړه کړی وه ،اوبيا يی دخپل دښمن د مقابلې له پاره دخپل لښکر صفونه سره را ټول کړل او دتياری په حال کې و دريدل.

له بله اړخه د کرميان حاکم خپلو فوځونو ته د يرغل حکم وکړ. او هغوې هم په پوره ځواک سره د سلطان په لښکر باندې حمله راوړه ،سلطان او علي پاشا هم خپلې لښکرې دحملي له پاره ور مخته کړې او د تکبير اوازونه يی پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل . او په دښمن باندي يې يرغل يوړ.

دکرميان حاکم په خپلې همغه لمړنۍ حمله کې هڅه وکړه چې په يوه ډول نه يوه ډول سره علي پاشا او سلطان شاته تګ ته مجبور کړي ، هغه دا فکر هم کاوه چې که چيرې جنګ اوږود شي نو په هغه صورت کې به علي پاشا او سلطان محمد دکوم پلان څخه کارو اخلي او دهغه د لاندې کولو هڅه به وکړي ، هغه په ځانګړې توګه دعلي پاشا څخه ډير ويريده ، ځکه چې هغه د سلطان بايزيد سره کار کړی و او دجنګونو پوره تجربه يې درلوده . او ددښمن د زير کولو فن باندې هم ډير ښه پوهيده. ځکه دکرميان حاکم په دې هڅه کې و چې جنګ ډير ژر د هغه په حق کې پای ته ورسيږي ، په دې خاطر هغه خپل ټول ځواک او قوت مصرف کړ او ځان ځارونکې يرغل يې وکړ ترڅو خپله سوبه ډاډ منه کړي ،

که څه هم د کرميان حاکم خپل ټول زور لګولي و چې خپل ټول توان د جنګ په اور کې ور واچوي خو د سلطان محمد او علي پاشا د ځوابي حملې په واسطه دهغوې لمړي صفونو تارو مار شوي و او په ټول لښکر کې يې د بې قرارۍ او نه ډاډ احساس را پيدا شوي و.

دکرميان د حاکم له پاره دا حال د زغم وړ نه و ، کله چې هغه وکتل چې سلطان محمد او علي پاشا د هغه لمړي صفونه يوپه بل پسې له منځه يوړل نو هغه ډير په غضب شو او خپل لښکر ته يې د يوې قوي حملې حکم وکړ .د هغه لښکر کې هم نوې ولوله راپيدا شوه او يو ځل بيا يې د علي پاشا او سلطان محمد په لښکر باندې د تورور وريځو د باران په څير را وپرځيدل . بل خوا دسلطان محمد او علي پاشا د لښکرو تر منځ هم د تکبير ږغ پورته شو او د تکبير دغږ سره سم دواړو لښکرو تر منځ سخته جګړه و نښته ، دواړه لښکر ی يو به پل باندې ور پريوتې ،د سلطان محمد او علي پاشا دا نوې حمله د کرميان لښکر و نه شوه زغملې ، خوکله چې د کرميان حاکم دا اندازه ولګوله چې اوس يې ماتې به قسمت کې ليکلې خبره ده نو هغه خپل لښکرته دشاته تګ حکم وکړ .

خو د هغه ددې حکم د ورکولو څخه تر مخه سلطان محمد او علي پاشا دا ډاګيزه کړې وه چې اوس به دښمن دپه شا تګ په وخت کې غرنيو سيمو کې پورته غونډيوته د ور ختلو هڅه کوی تر څو دهغې ځايه پر دوې باندې د تيرو باران وکړ ي او ددوې په لښکر کې افراتفری او ګډوډي راپيدا کړي .

دهمدې خبرې په اساس سلطان محمد اوعلي پاشا په ډيره ګړندۍ توګه خپل عسکر د ښي او چپ لورې اړخونو کې خپاره کړل او د کرميان د لښکر وروستی برخه يې هم را بنده کړه دا هغه نوې حال و چې سلطان محمد اوعلي پاشا د کرميان حاکم ته را پيدا کړې و. ځکه اوس نو د کرميان لښکر د ټولو اړخونو څخه په محاصره کې را ګير شوې و.

ددې وروسته يو ځل بيا د سلطان محمد له خوا دتکبير اوازونه پورته شول چې په ځواب کې يې علي پاشا او دهغه عسکرو هم دتکبير اوازاونه پورته کړل ، ددې تکبيرونو سره سم د سلطان محمد اوعلي پاشا لښکرې د څلورو اړخونو څخه ددښمن په فوځونو باندې د توپان په څير را وختلی . او په دې ترتيب يې د کرميان حاکم ته د غرونو سرونو ته د ورختلو وخت او فرصت ورنه کړ ، په دې توګه د کرميان د حاکم د لښکر عامه وژنه پيل شوه .

د کرميان د حاکم په دې لښکر کې د تيمورلنګ جنګيدلي او تجربه کار لښکر هم شامل و هغه هم په مکمله توګه له منځّه ولاړ . د کرميان حاکم ژوندې و نيول شو. ددغې شاندار برې په اساس سلطان محمد خپل فوځ ته هملته د پړاو کولو حکم وکړ . د سترګو په رپ کې هلته د خيمو کلي او ښاروونه جوړ کړل شول. دهر څه دمخه يې ددښمن په پړاو باندې ولکه وکړه ، دهغه هر څه يې د خپلو ځانو سره خوندي کړل اوبيا سلطان محمد د خپلې خيمې مخې ته په يوه ساده لوړ ځاې د علي پاشا تر څنګ کيناست او خپل يو کوچنې سالار ته يې حکم وکړ تر څو د کرميان حاکم ورته حاضر کړي .

لږه شيبه وروسته د کرميان حاکم د سلطان محمد تر مخه ولاړ و . دواړه لاسونه يې تر شا تړلي و ، سلطان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غضب ناکه سترګو هغه ته وکتل اوبیا تر خپل ځنګ ولاړ سالار ته حکم وکړ تر څو لاسونه یی ور پرانځي ،

هغه سالار را مخته شو او دکرمیان دحاکم شاته تړلي لاسونه یې ورپرانستل ، بیا سلطان ورته په ډېر قهریدلي توګه وویل :

تا ددوېم ځل له پاره زمونږ پر خلاف بغاوت وکړ ، ددې تر مخه تا زما د محترم والد په خلاف بغاوت کړې و او دا ستا بدقسمتي وه چې زما والد او علي پاشا تاته ډېره بده ماتې درکړله اوستا ټولي سیمي یی له تا و نیولي او دخپل ستر سلطنت برخه یې و ګرځولې . ته و تښتیدلې او دوباره دې خپل ځان راټول او نوې فوځ دې جوړ کړ . کله چې تیمورلنګ هغو سیمو ته راغي نو تا هغه دخپل ځان لپاره ناجي وګاڼه ، دهغه سره دې و کتل ، او دخپلو سیمو دبیرته نیولو غوښتنه دې ترې وکړه ،تیمورلنګ تاته لښکر درکړ اوهغه لښکر تا د خپل لښکر سره یو ځاې کړ او یو ځل بیا دې زمونږ پر خلاف د بغاوت بیرغ پورته کړ .ددې بغاوتونو پایلې دادې ستا تر مخه دي .

څرنګه چې تا دوه ځلې زمونږ پر خلاف بغاوت او سرکشي کړې ده نو په دې خاطر په دریم ځل ته د ازمیښت وړ نه یې . اوس نو ته د خپلو دغو بغاوتونو او غدارئ پر خلاف که څه ویل غواړې نو تاته موقع درکول کیږي چې ویی وایی.

دکرمیان حاکم په ځواب کي څه و نه ویل ، دهغه سر ښکته و. په دې وخت کې ورته سلطان وویل :

ستا چپتیا ددې خبرې ګواهي وایی چې ته خپل جرم مني ، نو په دې خاطر ستا ددې بغاوت ، غدارئ او سرکشئ په خاطر ستا دوژلو حکم کوم .

ددې سره سم سلطان خپل سالار ته اشاره وکړه ، هغه دکرمیان حاکم له ځانه سره یوړ او دهغه سر یې د وجود څخه پرې کړ . او په دې ترتیب د یوه ستر غدار ژوند یی ور ختم کړ.

٥٧ *****

تیمورلنګ د خپل لښکر سره یو ځاې سوکه سوکه سفر کاوه او د سمر قند ښار ته نژدې شوې و .د سمرقند څخه څو میله واټن کې ، هغه وخت چې هغه خپل لښکر ته اخرې پړاو ورکړ نو هغه وخت سلطان بایزیدیلدرم چې د اوسپني په پنجري کې بند ود لمړي ځل له پاره احساس کړه چې دهغه چارچاپیر د ساتونکو پهره زیاته شوې ده . په دې وخت کې د سلطان بایزید یلدرم ښځه ډسپنا چې دسلطان د پنجري سره یې اوږه لږولي وه ناسته وه ، د سلطان بایزیدیلدرم زوي چې هغه هم د تیمورلنګ په قید کې و دهغو ساتونکو په لور په منډه راغې چې د سلطان چار چاپیر ولاړ و . هغه هم د سلطان د پنجري سره اوږه ولږوله اوکیناست ، او بیا یي بایزید ته وویل :

پلار جانه ! ما تاته یو ډیر ښه خبر راوړې . دې خبر د سمر قند دپادشاه تیمور لنګ ملا نوره هم ورماته کړې ده.

دخپل زوی موسې په دې خبره د سلطان او دهغه د ښځې ډسپنا دواړو په مخونو باندې د خوشحالی نښې را ښکاره شوې بیا سلطان خپل زوي موسی ته وویل :

زویه ! په دې بندي خانه کې دخپل وطن نه لرې ته ماته کوم ښه خبر راوستلي شې . ته خو لږ مخته د ښې لورې د ساتونکو سره ناست وې او هغوې پر خپلو منځو کې خبرې کولې ، تا دهغوې څخه څه اوریدلي دې .

په ځواب کې موسې ورته وویلې : یو ښه خبر خو د انقرې د چار چاپیر جنګ و چې دهغې په اړه تاته خبر دررسیدلي و . چې علي پاشا د تیمورلنګ لمسي له تیغه تیر کړې دې . خو اوس دتیمورلنګ مخبرانو هغه ته درې نور بد خبرونه راوړې دي . اودا درې خبرونه مونږ ته ډیر زیات مهم او زیرې را کونکي د ي . پلارجانه ! د سمرقند په لور د حرکت په وخت کې تیمور لنګ د روسانو او اروپایانو لښکر د خپله ځانه جدا کړې و او هغوې ته یې د بروصې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خزاني يوه برخه هم ورکړي وه ، ددې نه علاوه يې هغوې ته نور مال او خزاني هم ورکړي و ې ،د روسانو او اروپايانو دغه لښکر د تورې بحيرې په غاړه غاړه باندې سوکه سوکه سفر کاوه او دهغوې له پاره هملته په توره بحيره کي د دينس په نامه يوې سترې بيړۍ لنګر اچولې و دهمدې بيړۍ په واسطه دې روسانو او اروپايانو غوښتل تر د ډينيوب تر دريابه اخوا د اروپا تر ساحله ځان ورسوي اوبيا هلته د صليبيانو د ځواکونو سره يو ځاې شی چې د نايکو پولس د ښار په شاوخوا کې را ټوليږی ،تر څو زمونږ پر خلاف يوه ستر ه حمله وکړی او خپلې د لاسه وتلې سيمې بيرته تر لاسه کړي . خو پلار جانه ! د روسانو او اروپايانو دا خوب سهي نه شو ځکه هغه وخت چې هغوې د دينس د بيړۍ په لور حرکت کې و نو زما ورور محمد په ناڅاپی توګه د هغوې لاره و نيوله او دواړو لښکر و ترمنځ د توري بحيرې په غاړه سخت جنګ و نښت . خو د ا ټوله معامله د محمد او علی پاشا تر منځ پلان شوي وه کله چې جنګ په عروج کې و نو علي پاشا پرې د غرنيو سيمو څخه را پريوت او دشاله اړخه يې پرې يرغل وکړ ، داروپايانو ټول لښکر يی تارو مار کړ او د هغوې د سالارانو په ګډون يې ټول د تيغه تير کړل .

ددې وروسته بل خبر چې زمونږ له پاره د خوشحالی سبب دې هغه دا چې د روسي او اروپايی لښکرو د تباهی نه وروسته محمد اوعلي پاشا دهمدې توري بحيرې په ساحل باندې مخته ولاړل او ددينس په بحري بيړي باندي يي حمله وکړه اودهغي ټول ملاحان يې يو په بل پسې ووژل او ټوله بحري بيړه يي د ترکيی د بحري بيړۍ سره يو ځاې کړه . په دې وخت کې د کرميان حاکم بغاوت وکړ او زمونږ د سلطنت په ځينو سيمو يی ولکه وکړه او ډيره زياته تباهي او بربادي يی وکړه . کلي او ښارونه يي يو په بل پسې وران کړل ، ځکه چې هغه ته تيمور لنګ دخپل روزل شوي لښکر يوه برخه ورکړي و ه .

د روسانو او اروپايانو دلښکرو د تباهی او د دينس د بحري بيړۍ دخپلی بيړۍ سره د شامليدو وروسته ، محمد او علی پاشا دکرميان د حاکم په لور ورغلل ، د سخت جنګ وروسته محمد او علي پاشادواړو دکرميان حاکم ته په غرنيو سيمو کې سخته ماته ورکړه ، هغه يي ژوندې ونيو او بيا يی دهغه څټ ور پرې کړ . او په دې ترتيب دکرميان د حاکم له خوا د بغاوت څپه دمحمد او علي پاشا په لاسو له منځه ولاړه .

تردې ځايه دخبرو وروسته موسي لږ څه تم شو او بيا يی په خبرو پيل وکړ. پلار جان ! دا درې واړه خبرې د تبمورلنګ ملازم ر اته کړي دي . دهغه خپل زوې ، خپل لمسی او سترو سترو سالارانو دااحساس کړې ده چې په ترکانو باندې دحملي نه وروسته کوم آند چې مونږ درلود، او داسي مو انګيرلي وه چې د ترکانو ځواک نور ور ختم کړل شو نو دا هسی خبره وه ، دا هسي ځان غولونه ، دوکه او فريب و. د تيمورلنګ زامنو ، لمسيو اوسالارانو دا هم ويلي دي چې د انقري په شاوخوا کې شوي جګړی نه وروسته د ترکانو ځواک او قوت نور هم ډير ښت موندلې دې.

دا اوس يې چې ستاسي او زمونږ په شاوخوا کې ساتونکي زيات کړي دي دا په دې خاطر دي چې د تيمورلنګ په لښکر کې د بغاوت نښي راپيدا شوي دي ، هغه عناصر چي غواړې په اسلامي ا مت کې ګډوډي راپيدا شي نوهغوې د تيمورلنګ څخه دا غواړې چې لښکر بايد بيرته ولاړ شی ، او محمد او علی پاشا ته سزا ورکړي ، دهغوې ټول ځواک ورختم کړي ځکه چې هغوې د تيمور لنګ ټول دوستان له منځه يوړل .

يوه بله ډله چې نيک اومسلمان خلک دي هغوې په تيمورلنګ باندې فشار راوړې دې چې مونږ نه بايد دخپل لښکر سره بيرته و ګرځو . هسي نه چې قدرت مونږ د خپل قهر اوغضب لاندې را نه وړي .او د علي پاشا او محمد په لاسو مونږ هم ماتي و نه خورو . همدا ډله په تيمورلنګ باندې فشار راوړی چې سلطان بايزيد يلدرم ، دهغه ښځه ډسپنا او دهغه زوی موسي ژر تر ژره ازاد کړي

دهمدي خبرو له پاره تيمورلنګ دخپلو زامنو ، لمسو او سالارانو ګډه غونده را غوښتي ده ، په همدې غونډه کي به پريکړه وشی چې کوم ډول قدم پورته کړله شی . دا ټولې خبرې ما ته د غه ښې لور ې ته ناستو پهره دارانو وکړي . هغوې وايی چې تر اوسه پورې ددوې غونډې روانه ده او ګورو چې څه پريکړه به کيږی ، زه بيرته ورځم او دهمغو پهره دارانو سره بيرته کينم . او دهغوې نه به وغواړم چې دتيمورلنګ د غونډی د پريکړي نه ماخبر کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار جانه ! دا ساتونکي له تاسره ، زما دمور ډسپنا سره او له ماسره ډیره همدردي لري .

ددې خبرو سره سم موسي د خپله ځایه پورته شو او دهمغو ساتونکو په لور ورغې او ورسره کيناست .

دموسي د بیرته ستنیدو وروسته ، سلطان بایزید یلدرم ، تر څه وخته پورې د اوسپنیزې پنجري تر شا ناست و او په خلا کې يي کتل او په ډیره عاجزۍ او انکسارۍ سره یی د زړه په ډک اواز ویل :

علي پاشا! د تیمورلنګ د یلغار نه وروسته زه پوهیږم چې ولیعهد محمد ځانته هیڅ نه شو کولې ، دا ته وې چې ددښمن پر خلاف دې دجنګونو کړی یوپه بل پسې پرانستي او بریاوې دې تر لاسه کړې ، علي پاشا ! زه پوهیږم چې دا ټول هر څه ستا دشجاعت ، ستا د زړه ورتیا ، ستا د میړانې او ستا د ځان ځارنې په خاطر دي . علي پاشا ! تا په خپله زړه ورتیا ، خپله میړانه او جرأت د عثماني سلطنت هره ځنډه معطره کړه .تا د سلطنت په خوشحالیو کې نوې رنګ را پیدا کړ . علي پاشازویه ! تا نه یوازی عثماني سلطنت بلکه زما ځان کې نوې نفس را تازه کړ . زما د وینې په هره زره کې دې د خپلو بریاو او خپلو کامرانیو په واسطه نوې قوت پیدا کړ....

تر دې ځایه دخبرو وروسته سلطان بایزید یلدرم په څه فکرونو کې ډوب شو .دهغه ښځې ډسپنا هغه ته په پوره غور سره کتل ، لږه شیبه وروسته موسي يو ځل بیا په منډه راغې . سلطان او ښځې يې هغه ته په سواليه سترګو وکتل . موسي دپنجري تر څنګ کيناست او بیا په ډیر سکون او ارام سره سلطان بایزید یلدرم ته وويل.

پلارجانه! دتیمورلنګ غونډه پاې ته ورسیده ، هغوې پریکړه کړې چې بیرته به نه راګرځي ، بلکه سیده به د سمرقند په لور ځي ، ځکه د تیمورلنګ زامنو او لمسیو دا ویره ښکاره کړی ده چې مونږ ته بیرته تلل نه دي په کار . خو تیمورلنګ د خپل اعلي سالار نورالدین څخه ناراضه دې ، ځکه چې نور الدین ستا د بندیتوب پر خلاف احتجاج کړی دي او دهغه په هغه کار یی هم احتجاج کړی دي چې هغه زمونږ دکورنۍ ښځینه غړی مجبورې کړې وې چې سالارانو ته شراب ورکړي . خوبیا هم تیمور لنګ په دغه غونډه کې نورالدین هم را غوښتي و ، په دې ډله کې نورالدین لمړنی شخص و چې هغه وړاندیز وکړ چې مونږ باید د سمرقند په لور مخه کړو . نورالدین د تیمورلنګ تر مخه هغه ستونزی هم رابرسیره کړي اوویلي دي چې هسې نه د جنګ ډګر ته په ستنیدو سره زمونږ لاس ته راغلي برې هم له لاسه ورکړو.

دتیمورلنګ زامنو او لمسو هم تیمورلنګ ته همدا مشوره ورکړه چې مونږ دجنګ ډګر ته په ورګرځیدو دعلي پاشا او محمد په لاسو د ماتې خوړلو له پاره نه ورستنیږو بلکه د سمرقند په لور باید مخه کړو . دهمدی ویرې په اساس تیمورلنګ پریکړه وکړه چې دخپل پایتخت سمرقند په لور وخوزیږي .

تردې ځایه د خبرو وروسته موسی چپ پاته شو.، ځکه چې څه ساتونکي راغلل ، هغوې د سلطان بایزید پنجره پورته کړه او پر اوښ يې کیښوده ، او په دوه نورو اوښانو یې ډسپنا او موسي سپاره کړل .او تیمورلنګ د خپل لښکر سره یو ځای د سمرقند په لور ولاړ .

پرلپسې لري ......

دقریب الرحمن سعید ژباړه

عثماني امپراطوري او پر خلاف يي ... (۳۲ مه او اخري برخه )

دقریب الرحمن سعید ژباړه
عثماني امپراطوري او پر خلاف يي د صلیبیانو سازشونه (۳۲ مه او اخري برخه )
مکمل غیرسیاسي : يو تاريخي په زړه پورې ناول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د هیواد ګوډ تیمور څوک دې ؟
اوس تاسي ددې تاریخي ناول اخري برخه لولئ :
پرلپسي ۵۸

سریان په منډه خپل کور ته راغله ، ډیره خوشحاله وه ، په ټوپونو ټوپونو هغه ځاې ته راغله چیرې یي چې مور او ورندار ریونا ناستي وې ، دهغې په دغې حال باندې ریونا او مور یي قیرات دواړه حیراني وې ، په رانژدې کیدو سره سریان بیا بیا د خپلې مور قیرات او ورندار ریونا سره تر غاړه شوه ، اویې ویل:

مورجاني ! او خورجاني ! ما تاسي دواړو ته یو زیرې را وړې دې ، او هغه دا چې نن ماښام به علي پاشا او سلطان محمد د بروصې ښار ته را ننوځي ، هغوې دکرمیان دحاکم بغاوت او سرکشي ځپلې ده د کرمیان لښکر یي له منځه وړې او پخپله دکرمیان حاکم یي وژلې دې ، ددې د مخه سلطان محمداو وروړمي علي پاشا د دینس بحري بیړۍ باندې حمله کړې وه او د هغې ملاحان یي له منځه یوړل او بیړۍ د ترکي د بیړیو سره یو ځاې کړه . اوس مي واوریدل چې د ماښام تر مخه سلطان محمد او ورور مي علي پاشا د لښکرو سره یو ځاې د بروصې ښار ته را ننوځي ، مورجاني !د بروصې خلک د سلطان محمد او زما د ورور علي پاشا د ښه راغلاست له پاره ځانونه چمتو کوي . په بازارونو او محلاتو باندې ښایسته محرابونه جوړیږي . مورجاني ! زه تا ته نه شم ویلاې چې زه څومره خوشحاله یم .

علي پاشا د راتلو په زیري باندې ریونا لکه د ګل د غوټۍ په څیر و غوړیده ، د خپله ځایه پورته شوه او خپلې مور قیرات ته یې وکتل او ورته یې وویل :

مورجاني ! مونږته هم دکور کار ژر ختمول په کار دي تر څو د ښه راغلاست کونکو په لیکو کي و دریږو.

قیرات د ریونا وړاندیز و مانه . درې واړو یو ځاې دکور کار ژر ژر خلاص کړ اوبیا هغه لورې ته ولاړې چیرې چې دښار نورې ښځې دخپل لښکر د ښه راغلاست او استقبال له پاره راټولې شوې وې .

ماسپښین نا وخته کله چې سلطان محمد اوعلي پاشا د خپلو لښکرو سره ښارته را ننوتل نو دبروصې ښار د ناوې په شان جوړ شوي و او ښکلي نغمي او تراني په کي غږیدې .داسي بریښیده لکه د بروصې د ښار څخه چې د خوشحالیو یو ستر ابشار را خوټیدلې وي . نجونو ډولکي او دیلارونه و هل اودخپلو لښکریانو استقبال یی کاوه ، لښکر چې دهرې کوڅې او هرې لوې لارې څخه تیریده نو دګلونو پاڼي به پرې را وریدې .

کله چې علي پاشا او سلطان محمد دخپلو لښکرو تر مخه د بازار د سترې کوڅې تر منځه تیریدل نو یو ناڅاپه پرې د ګلونو تیز باران پیل شو ، داسي باران و لکه چا چې ډکې ټوکرۍ راوستي وي او راوروي یي . کله چې علي پاشا او سلطان محمد وکتل چې دګلونو په شیندلو کې د نورو بې شمیره نجونو تر منځ دسلطان محمد ښځه او د علي پاشا ښځّه هم شاملي دي .
هغوې ډیرې زیاتي خوشحاله وې ، دهغوې پر کتلو دعلي پاشا او سلطان محمد په سترګو کې هم دخوشحالۍ نښې راپه ځلیدو شوې . اوبیا هغوې د خپلو لښکرو سره مخته ولاړل . لږه شیبه مخته سلطان محمد خپل لښکر ته د لاس په اشارې سره د دریدو حکم وکړ او پخپله یي خپل آس هم ودراوه ، علي پاشا هم د سلطان محمد په لور د کتلو سره سم خپل آس تم کړ . بیا سلطان محمد علي پاشا ته وویل :

علي پاشا وروره ! د بروصې ښار ته په راننوتلو زه یو ځل بیا دا اقرار کوم چې نه یواځي لښکر بلکه مونږ دواړه وروړنه هم د ډیرې ستړتیا احساس کوو . زه خو وایم چې لښکر ته به اجازه ورکړ و چې خپلو خپلو کورونو ته ولاړ شي . او مونږ دواړه به هم د خپلو کورونو په لور مخه کړو.

علي پاشا د سلطان محمد وړاندیز ومانه ، سلطان لښکر ته دخپلو خپلو کورنو په لور د ورتللو اجازه ورکړه ،او علي پاشا او سلطان محمد هم د خپلو کورونو په لور روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۹ *****

علي پاشا خپل آس په ځغاسته کړ او خپلې حويلۍ ته راغي ، که ګوري چې د حويلۍ په لويه دروازه کې ورته ريونا د استقبال له پاره ولاړه ده . علي پاشا د ريونا د ليدلو سره سم د خپل آس څخه را ښکته شو ، ريونا ورمنډه کړه او مخته ورغله، دهغې پر مخ خوشحالي او په سترګو کې يې خوښۍ نڅا کوله ، د علي پاشا د اس واګې يې و نيولې او په ډيره مينه يې د علي پاشا په لور کتل او بيا يې په ډير محبت سره هغه ته وويل :

اې زما حبيبه ! زه تا ته ستا د برياو ، کامرانيو ، په اړه مبارکي وايم . را ځه دننه را شه ، هلته په انګړ کې مور او خور دواړه ستا په انتظار ولاړ دي . که څه هم هغوې ما ته ويلي و چې دلته به له ماسره يو ځاې ستا استقبال ته دريږي خو بيا هغوې زه ځانته پرېښووم . کيداې شي چې هغوې ما او تاته د لږ څه ويلو له پاره موقع برابره کړې وي ، را ځه چې هغوې هلته په انګړ کې په ډيره بې صبرۍ سره انتظار کوي .

علي پاشا خندان د ريونا سره را روان و . کله چې دوې دواړه انګړ ته را ننوتل هلته يې ورته مور قيرات او خور سريان دواړه منتظرې وې ، هغوې يو ناڅاپه ورمنډې کړې او د علي پاشا سره غاړې وتې ، قيرات د علي پاشا په ښکلولو نه مړيده . تر دې وخته پورې ريونا د علي پاشا اس په اخور تړلې و ، زين يې ترې را ښکته کړې و او واښه او دانه يې ورته اچولې وه .

ددې وروسته څلور واړه هلته ميلمستون ته ورغلل ، او د ريونا ، قيرات و سريان په اصرار باندې علي پاشا هغوې ته د تيرو جنګونو او پيښو تفصيل واوراوه .

۶۰****

سلطان محمداو علي پاشا تر څو اونيو پورې همدلته په بروصه کې پاته شول ، او په خپل فوځ کې يې نوي ځوانان را شامل کړل . دهغوې له پاره يې ښه روزنه ورکړه . په دې وختوکې د نايکوپولس په چار چاپير کې دصليبيانو تازه لښکر ې مخ په راټوليدو وې . او اوس دمناسب وخت له پاره منتظر و چې د عثماني سلطنت په زمکو باندې بريد وکړي . په دې وخت کې سلطان محمد اوعلي پاشا هم خپل لښکر بيرته و غځاوه او شميره يې تر يولک او شل زرو پورې ورسوله ، همغومره چې سلطان بايزيد يلدرم به له ځانه سره لرل.

يوه ورځ سلطان محمد اوعلي پاشا خپل لښکر له ځانه سره واخست ا و د بروصې دښاره ووتل . دهغوې موخې د نايکوپولس ښار ته نزدې د صليبانو سره ټکر کول و . د نايکوپولس ښار وال به په پرلپسې توګه سلطان محمد دصليبيانو د خوزښتونو څخه خبراوه ، هغه اصرار کاوه چې همدا اوس د صليبيانو د ځواکونو سره بايد ټکر وشي او که نه ددوې څخه به بيا داسې ځواک جوړ شي چې بيا به ورسره ټکر کول ناشونې وې ، سلطان محمد اوعلي پاشا ددې پيغام د اوريدو سره سم دنايکوپولس دښار په لور مخه کړه .

کله چې لښکر د ښاره ووت . نو دسلطنت اراکين د سلطان محمد سره يو ځاې و، سلطان محمد اوعلي پاشا دخپلو اسونو د سپريدو په ځاې دهغوې سره همداسې پيدل ر وان و . په دې وخت کې يو ناڅاپه د دې هجوم څخه برهان الدين را ووت . او په اشارې سره يې سلطان محمداو علي پاشا ته د دريدو وويل . هغوې دواړو چې کله د برهان الدين اشاره وکتله سمدستي و دريدل. برهان الدين را مخته شو او په يو لاس يې د سلطان محمد او په بل يې د علي پاشا د اسونو واګې په خپلو لاسو کې واخستې .او بيا يې دواړو ته وويل :

داسلامي امت سترو زامنو! زما دقوم او ولس ځان ځارونکو! په خپلو آسونو کينئ ، دهغې وروسته بيا چې زه تاسې ته څه ويل غواړم و به يې وايم . خو ما ته به په ځواب کې دا نه وايې چې ته زمونږ سره ولې پيدل راون يې. زما زامنو! هغه څه چې زه يې درته وايم په هغې عمل وکړئ ، دخداې د لارې مجاهدينو ! مجاهد پر خپل آس سپور ښه ښکاريږي . زما زامنو! په ياد ساتئ چې الله ته دوه سترګې ډيرې ارزښتناکې دې ، يوهغه سترګې چې د الله د ويرې څخه اوښکې تويوي .او بل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهد سترګي چي د اسلامي مملکت او اسلامي امت د پولو څارنه کوي . زما سترو زامنو! تاسي دواړه زمونږ څخه ډېر ستر او د عزت څښتنان یاست . په خپلو آسونو سپاره شئ، تر څو هغه څه چي زما په زړه دي تاسو ته وویلي شم.

علي پاشا او سلطان محمد ورته په ځواب کي څه و نه شو ویلای ، یوبل ته یي سره وکتل او بیا په خپلو آسونو سپاره شول . برهان الدین دهغوې دواړو د اسونو واګي په خپلو لاسو کي و نیولي ،او بیا یي دواړو ته وویل :

سلطان محمد او علي پاشا زامنو! تاسي دواړو د اسلامي امت زامن ، دهغوې ویاړ او افتخار یاست . ددې تر مخه تاسي دواړو یو ځاي د ولس دشپې تیارې مو د سهار په رڼاو باندي بدلي کړې . زامنو ! لکه څنګه چي تیمور لنګ پر مونږ یرغل وکړ او مونږ ته یي زیان او رسوایي را ورسوله ،او عثماني سلطنت یي ټول سره ولړزاوه ، خو تاسو دواړو په ډېره ښه توګه د عثماني سلطنت عزت پر ځاي کړ . زامنو ! اوس دادي یو ځل بیا د صلیبیانو لخوا د جنګ تنور ګرمیږي ، نو زامنو ! زه او دغه څومره خلک چي دلته ولاړ دي ټول د خداې څخه غواړې چي تاسي دواړه دخوشحالیونه ډکي پهخوانۍ قصي په څیر نوې بریاوې ، خوشحالۍ ، د عظمت او بري داستانونه ، حکایتونه ، مونږ ته را وړئ ، زامنو ! دخپل لښکر سره یو ځاې کوچ وکړئ ، خو کله چي ددښمن سره ټکر کوئ نو زما یوه خبره به په یادلرئ چي دالله نوم به په یاد لرئ او دهمغه څخه کومک وغواړئ ،اوبیا پر دښمن باندې ورپریوځئ ، زه هیله لرم چي که چیرې تاسي همداسي وکړئ نو قدوس خداې به تاسي ته په هغه میدانو کي هم بریاوې در په برخه کړي .

ددې خبرې سره برهان الدین هغوې دواړو ته دهغوې داسونو واګی ورکړې . علي پاشا او سلطان محمد یو بل ته وکتل او بیا یي خپل آسونو و ځغلول اودخپلو لښکرو سره یو ځاې د نایکوپولس په لور روان شول.

کله چي سلطان محمد اوعلي پاشا د نایکوپولس دښار په شاوخوا کي د صلیبیانو د لښکر مخي ته ورغلل اوهملته یی پړاو وکړ نو صلیبیانو علي پاشا او سلطان محمد ته څه نظر و نه کړ او نه یي ورته کوم خاص اهمیت ورکړ . ځکه هغوې فکر کاوه چي د عثمانیانو ځواک د تیمورلنګ سره د ټکر وروسته مفلوج شوي دي او اوس چي دغه لښکر دهغوې مخي ته راغلي دهغوې حوصلې اوولولي بلکل مړاوې شوې دي نو په ډېره اسانۍ سره به ورته ماتي ورکړي . کیداې شي د صلیبیانو لښکر ته به تر اوسه پورې دا څرګنده شوي نه وه چي همدي علي پاشا او سلطان محمد د دینس بحري بیړۍ باندي ولکه کړي ، روسی او اروپایی متحده لښکر یی له منځه وړې ، او بیا یي دکرمیان بغاوت ځپلي او دکرمیان حاکم یی هم وژلي دې . او که هغوې ته دا خبر رسیدلې هم وي نوبیا به یي هم د خپلې زیاتي شمیرې په غرور سره سلطان محمد او علي پاشا ته دومره اهمیت نه وی ورکړې . نو په دې اساس کله چي سلطان محمد اوعلي پاشا هلته ورسیدل اوخپل پړاو یی درست کړنو صلیبیانود جنګ ډول وواهه.

څرنګه چي ددښمن په صفونو کي دجنګ ډول وهل پیل شونو سلطان محمداو علي پاشا هم دخپلو صفونو منظم کول پیل کړل . او بیا دخپلو خپلو فوځونو تر مخ و دریدل ، هغوې ددې جنګ له پاره پلان په لاره کي جوړ کړي و . کله چي د جنګ ډول وهل کیده نو علي پاشا دخپل فوځ تر مخه ولاړ د اسمان په لور یي سر پورته کړ ، په دې وخت کي دهغه په سترګو کي اوښکي راټولیدې اولاندې لکه د لعلو ددانو په څیر را غورزیږی. هغه په ډېره انکسارۍ او عاجزۍ سره خپل رب ته لاس پورته کړ او ویي ویل :

اې دکائیناتو د هر شي پیداکونکییه! یواځي ستا ذات ددې وړ دې چي کومک او بسپنه ترې وغوښتل شي . یواځي ستا ذات ددې وړ دي چي بندګي یی وشی او د اړتیاو به وخت کي ورڅخه مرسته و غوښتل شی . اې زمونږ پالونکیه ! زه اوزما ملګرې دواړه ستا ډېر عاجز بندګان یو ، او یواځي ستا د ذات په مرسته به ستا د مقدس نوم د تقدیس په خاطر ستا څخه د کومک او نصرت هیله کوم .

تر دې ځایه د ویلو وروسته علي پاشا لږ څه ځند شو او مخته یی وکتل . ځکه چي صلیبیانو خپل لښکر دلارو دتوروالي پورې او دتورو وریځو په څیر را خپور کړې و او مخکي را روان و . د سترګو په لید سره سم صلیبیان د سلطان محمد او علي پاشا په لښکر باندې لکه د مچ او میږیو په څیر را توې شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په دې اړخ کې سلطا ن محمد او علي پاشا هم درنګ و نه کړ ، هغه وخت چې ددښمن لښکر ددوی لورې ته را روان و دوی هم د تکبير د غږ نغمی پيل کړې او پر دښمن باندې و ر غورځيدل . او ډير ژر يي ددښمن ټولي ولولي او جوش له منځه يوړه . د لږشيبه جنګ وروسته علي پاشا او سلطان محمد دصليبيانو لمړي صفونه مات کړي او ددښمن په لاشونو باندې په تيريدو سره ددويمو صفونو او مرکزي برخي ته ورسيدل.

صليبيان چې د جنګ دپيلامي څخه دمخه ډير په جوش او ولولي کې و او په دې ډاډمن وول چې دسلطان بايزيديلدرم د نيولو وروسته او د تيمورلنګ په لاسو دعثماني ترکانو د ماتې وروسته به اوس عثماني لښکر ته ماتی ورکوي او دخپلو تيرو ماتو او تيښتو بدل به اخلي ، خو اوس ټوله معامله بل منګه شوه ، دهغوې د لمړيو صفونو د ماتولو وروسته ، سلطان محمد او علي پاشا دهغوې په وروستيو صفونو باندی ورغلي و او دا داسي زهري او له منځه وړونکي ځپونکي حمله وه چې د صليبيانو هيڅ يوې برخي ددې توان نه درلود چې د ځان نه يي دفع کړي ، په پايلو کې د نائکوپولس دښاره بيرون د سلطان محمد او علي پاشا په لاسو صليبيانو يو ځل بيا ډيره سخته او ذليله ماته وخوړه او دجنګ د ډګر څخه په تيښته شول. سلطان او علي پاشا دهغوې په تعقيب پسې روان شول . همدا راز د نايکوپولس ښاروال ته هم سلطان محمد ځواب ور وليږه چې د خپلې برخي د فوځ سره يو ځاې دې د ښاره را ووځي او ددښمن په پړاو دې ولکه وکړی .

سلطان محمد او علي پاشا تر ډيره پورې د هغوې پسې وروسته ولاړل خوکله چې هغوې دا احساس کړه چې دښمن دومره ځپل شوی دي چې د څو راتلونکو کلونو پورې بيا د راپاڅيدو توان نه لري ، نو بيرته راستانه شول اوهغه ځاې ته راغلل چې جنګ په کې شوي و. تر دې وخته پورې د نايکوپولس ښاروال د دښمن دپړاو ټول شيان راټول کړي و او هر شي يي جدا جدا ايښي و ،کله چې سلطان بيرته را ورسيد نو د نايکوپولس ښاروال ورته تعظيم وکړ او دهغي په دغه ستر ه فتحه يي ورته مبارکي ورکړه او دخپله اړخه يي ورته د فرمانبرداری ډاډ ورکړ. تر اوسه پورې لا دا خبرې رواني وې چې د لرې څخه يو څو آسپ سواره په داسي حال کې را څرګند شول چې خپل آسونه يي ددوې لورې ته را ځغلول . سلطان ، علي پاشا او دنايکوپولس ښاروال ټول حيران شول ، سپاره را لنډ شول ، دخپلو آسونو څخه را ښکته شول ، سلطان او علي پاشا پوه شول چې دا دهغوې مخبران دي ، هغوې مخته را وړاندی شول ، سلطان محمد اوعلي پاشا ته يی تعظيم وکړ او ورته يي وويل:

درونده سلطانه ! يو ډير بد خبر مو درته راوړي دي . او هغه داچې ستا محترم پلار ددې دنيا څخه ولاړ . ستا ورور موسي اوستا ميرنۍ مور ډسپنا دهغه لاش را خستي او د سمرقند څخه يي بروصې ته ر اوړي

دا خبر د سلطان او علي پاشا دواړو له پاره لکه د برق د جټکې په څير را وغورزيد. ددرې واړو سرونه ښکته و ، د ټولو په سترګو کې اوښکې وې ، په دې وخت کې علي پاشا ښاروال ته وويل :

درونده ! هغه څه چې ددښمن د پړاو څخه تر لاسه شوي دي هغه درې برخې کړه يوه برخه يي ته د خپل لښکر له پاره چې هلته په ښار کې دي يوسه او پاته دوه برخې يې ما او سلطان محمد ته حواله کړه ، مونږ همدا اوس د بروصې په لور کوچ کوو .

د سلطان محمد حالت ډير خراب و ، علي پاشا د ښاروال سره يوځاي شو او د غنيمت د مالونوڅخه يې يوه برخه هغه ته اودهغه لښکر ته ور حواله کړه اوپاته يی دخپل او سلطان د لښکر سره يو ځاې راواخسته او دبروصې په لور يي حرکت وکړ.

دا اتفاقي خبره وه چې کله چې سلطان اوعلي پاشا د بروصې ښار ته را نژدې شوي و نو دهمغه ورځې په سهار دسلطان بايزيد يلدرم مړې دهغه زوې موسي او ښځې ډسپنا هم بروصې ته راورساوه . او کله چې د ماښام په وخت کې سلطان او علي پاشا د بروصې ښار ته څيرمه را غلل نو په هماغه وخت کې د سلطان بايزيديلدرم جنازه د ښخولو له پاره د بروصې د ښاره بيرون را وړل کيده . سلطان محمد او علي پاشا چې په کوم ځاې کې غوښتل سلطان بايزيد خاورو ته وسپارې نو خپل لښکر يی دهماغه ځايه لږ څه شاته پريښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلطان بایزید دجنازی پسې یو عالم خلک را روان وو، ژړا او انګولاوی وي ، ښځو په کوکو کوکو او چیغو ژړل ،داسې بریښیده لکه ټوله بروصه چې د سلطان دجنازي پسې وروسته راغلي وي ،

سلطان محمد او علي پاشا د خپل لښکر دتم کولو نه وروسته د جنازي په تدفین او تکفین کې شامل شول.. کله چې د جنازی لمونځ ادا کیده نو سلطا ن چې په لمړی صف کې ولاړ و تر شاوکتل چې تر هغه ځایه چې یې د سترګو دید کیده د خلکو سرونه ښکاریدل . کله چې د جنازی لمونځ ادا کړل شو او دتدفین کار پای ته ورسید، نو محترم برهان الدین دسلطان محمد خواته راغې ، اود سلطان سره غاړی وت. اودکوچنیانو په څیر دواړو وژړل . دبرهان الدین دسترګو څخه دومره اوبه ولاړې چې ږیره یې پرې لمده شوه . او بیا یې د سلطان محمد په شا لاس راښکود او ورته یې وویل:

محمد زویه ! دا څومره خلک چې دلته راټول شوي دوې ته او خپل لښکر ته دې خپلو کورنو ته د تګ اجازه ورکړه . دهغه په دې خبره باندې سلطان سمدستي عمل وکړ او خلکو ته یې خپلو خپلو کورنو ته دتللو اجازه ورکړه . دسلطان محمد اوعلي پاشا د لښکر یانو پرته نور ټول خلک خپلو کورنو ته ولاړل . خوبیا هم د قبر تر څنګ څوکسه ښځې ولاړې وې . په دې ښځو کې ډسپینا ، د ولیعهد محمد ښځه ، اودعلي پاشا ښځه ریونا شاملې وې .

ددې وروسته برهان الدین د سلطان بایزیدیلدرم د قبر خواته کیناست ، سلطان محمد او علي پاشا یې شاته ولاړ و ، برهان الدین تر یوه وخت پورې په ډیره عجیبه توګه په قبر باندې لاس راښکود ، شاته ولاړو هر یو علي پاشا او سلطان محمد دا درک کړه چې برهان الدین په سلګیو سلګیو ژاړي ، په خپله سلطان محمد اوعلي پاشا هم ژړل ،او خپلې اوښکې یې په خپلو لمنو پاکولې ، په دې وخت کې برهان الدین د قبر دپاسه لاس راښکود ، ژړل یی او ویل یې :

بایزیده ! زما زویه ! ته دخپل قوم ددښمنانو له پاره دشګو او صرصر سیلاب وې ، تر هغو چې ته ژوندې وې نو زه د افسانو دښار په څیر هوډمن وم ،... برهان الدین په سلګیو سلګیو ژړل او یو ناڅابه دقبر دپاسه ور و غوړید. علي پاشا ور مخته شو ، هغه یې د لاسو او مټانو څخه و نیو ، را پورته یې کړ او په ژړانده اواز یې ورته وویل :

زه پوهیږم چې بایزید ستا څومره عزت کاوه او څومره مینه یی درسره کوله . خو بیا هم زمونږ درونده مشره ! زه او سلطان محمد به تا دژوند په دې ډګر کې یوائې پرینږدو .

کله چې علي پاشا چپ شو نو سلطان محمد را مخته شو د برهان الدین تر مخه و درید ، او دهغه سره داسې ور غاړیوت لکه دپیریو پیریو راهیسی یې چې یوبل نه وي کتلي ، بیا سلطان محمد دبرهاالدین په اوږه باندې لکه د کوچنیانو په څیر خپل سر کینښود او په ژړا یی پیل وکړ.

برهان الدین صیب ! که چیرې زما پلار ستا زوې و نو زه خو ستا لمسي یم ، زه به دومره بدبخته انسان نه یم چې تا په تکلیف او ستونزوکې پریږدم .لکه څنګه چې د قدوس خداې وروسته زما پلار، ستا ملاتړي و نو په همدې توګه به که خداې کول زه هم ستا له پاره ثابت شم .

دسلطان محمد او علي پاشا په خبرو باندې برهان الدین تر یوه حده پورې را جوړ شو ،خپلې سترګې یې وچې کړې اوبیا یې سلطان محمد اوعلي پاشا ته وکتل او ورته یې وویل :

زما ځواني د بایزیدیلدرم کوچنیتوب ، اوزما زړښت د بایزید د ځوانۍ سره یو ځاې ولاړ ، په ښکاره توګه خوما باید دهغه دمخه د نړۍ څخه سترګې پټی کړې واې خو مقدر داسې راغې چې بایزید زما څخه د مخه ولاړ شي . خداې دې هغه په اخرت کې هم بریالي او سر لوړې کړې .

بیا درې واړو دد عا له پاره لاسونه پورته کړل ، تر ډیره پورې یې دعاوی وکړی اوبیا برهان الدین علي پاشا او سلطان محمد ته وویل :

زما زامنو! راځئ چې اوس دښار په لور ولاړ شو. هلته به خلک زمونږ انتظار کوي . په دې خبره ټول د ښار په لور را

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان شول ، لږ څه مخته برهان الدين ودريد ځکه چې د بروصې دښار په لور په لاره د لارې په غاړه ملکه ډسپنا ، د سلطان محمد ښځه او دعلي پاشا ښځه ريونا ولاړې وې . درې واړو په سلګيو سلګيو ژړل . لپې لپې اوښکي يې د سترګو را رواني وې . برهان الدين راغې او بيا بيا يې ددرې واړو په سرونو لاس را ښکود، تسلي يې ورکړه ، اوبيا يې ټول له ځانه سره د بروصې دښار په لور را روان کړل. لمر هم خپله هغه اخري ساه اخسته او د غروب او ډوبيدو په لور راوان و . تياره هر ه شيبه فضا په خپله غيږ کې را نغښتله ، دماښام تور رنګي لاسو په فضا کې دتيارو سيورو دخپرولو کار پيل کړي و .د بروصې دښار دجوماتونو نه د ماښام اذانونه را پورته شول او د ستر خداې دنوم په اخستلو سره يې ټوله فضا او چاپيريال په خپله غيږه کې را نيولي و.

د سلطان بايزيد يلدرم د مړيني په اساس د بروصې ښار ته د رانوتونکو ټولو لويو لارو په سر ژړيدونکي سترګي ، غم وهلي او په درد ککړ حال هرې لورې ته خپور و او ټول ښار په غم او وير کې ډوب شوي و.

دژباړې پاې . د(۱۳۸۸ شمسي کال دعقرب مياشت )

قريب الرحمن سعيد

د استاد قريب الرحمن سعيد نورې ليکنې او پښتو ژباړې:

اسلامي سيات .(مولانا ګوهر الرحمن«رح» ) (چاپ شوی)
اسلامي رياست .( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح»)(د چاپ لاندې)
خلافت او ملوکيت . .( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح»)(چاپ شوی)
پرده . .( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح»)(چاپ شوی)
د حديثو د انکار نه د قران تر انکاره پورې . (مولانا عبدالسلام رستمي «رح»)(چاپ شوی)
دنبوت پاځ. (مولانا عبدالسلام رستمي «رح»)(د چاپ لاندې)
دصلاح الدين يوبي رېښتنې پېښې (دايمان پلورونکو داستان ) ( التمش ) (د چاپ لاندې)
د رسول الله (ص) د انقلاب حکمت .(سيد اسعد ګيلاني «رح»)(چاپ شوی)
يو شمير نورې کوچنۍ رسالې (په اردو او پښتوژبو) چې نومونه يې زما په ليکنو کې کتلاۍ شئ.
د بايزيد يلدرم تاريخي په زړه پورې ناول .
دسلطان علاو الدين خلجي په زړه پورې ناول .
دسولې کاروان (همدا اوس دلاس لاندې دې )...
زيات شمير پښتو مضامين او دانګليسي او د اردو ژبو څخه ژباړل شوې او هم په انګليسي ژبه سياسي شننې ، مقالې او ليکنې چې په پښتو او نګليسي ژبو ورځپاڼو او يو شمير اونيزو او مياشتنيزو کې خپاره شوې دي.( په خواشينی سره چې ريکارډ يې له ژباړن سره نشته .)

قريب الرحمن سعيد

د ۱۳۸۸ لمريز هجري کال د عقرب مياشت .

۲۰۰۹ زيږديز کال دنومبر مياشت .

دقريب الرحمن سعيد ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**